تاريخي ناول

میرویس خان نیکه

ليکوال: محمد زبیر شفیقي

میرویس خان نیکه

تاریخي ناول

لیکوال: **محمد زبیر شفیقي**

[illegible]
[illegible] لودین کتابتون
[illegible]

بسم الله الرحمن الرحیم

یف الدین لودین کتابتون
کتاب پر پیسې شمیر

میرویس خان نیکه

لیکوال: محمد زبیر شفیقي
خپرندوی: اکسوس کتابپلورنځی
ډیزاین: حسیب‌الرحمن ساحل
چاپځی: وایگل چاپ
چاپ کال: ۱۴۰۰ / ۲۰۲۱

بیه: ۲۵۰ ؋

پته: کابل ښار، دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
ISBN: 978-9936-653-55-9

☎ 0202 504 652, 0798 98 96 96
✉ aksosbookstore@gmail.com
aksos book store aksosbookstore
www. aksosbookstore.af

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له لیکوال سره خوندي دي.

لیکلړ

د دې اثر په باب څو یادونې ۵
لومړی فصل ۱۰
یرغلونه او تیارې ۱۰
بلخ (۱۰۵٦ لمریز، ۱٦۷۷ز کال) ۱۰
کابل «۱۰۵۷ لمریز، ۱٦۷۸ز کال» ۸۳
دویم فصل ۱۰۸
لمر ځرک ۱۰۸
(لوی کندهار ۱۰۸۲ لمریز، ۱۷۰۴ ز کال) ۱۰۸
د فساد ځاله ۱۳۵
(اصفهان ۱۷۰۴زیږدیز) ۱۳۵
کندهار «۱۷۰۴زیږدیزکال» ۱۵٦
درېیم فصل ۲٦۵
د اصفهان بندي «۱۷۰۷ زکال» ۲٦۵
کندهارته ستنېدل «۱۷۰۹ ز کال» ۳۱۸
صلیب نسکور شو ۳۳۹
(۱۱۱۹ هجري سپوږمیز، ۱۷۰۹ز کال) ۳۳۹
د لیکوال یو شمېر ادبي اثار ٤٤۷

سیف الدین لودین کتابتون
د کتاب پر لېسې سمبر

اهدآ

هغوی ته چې د کاذبو اتلانو غومبر یې غوړونه خوري؛
د میرویس خان نیکه په خېر د رېښتیني او صادق مشر ارمان کوي.
هغوی ته چې له لسیزو را هیسې قربانۍ ورکوي خو په قربانیو او
سربښندنو یې ذلیل او خودساخته کرکټرونه معاملې کوي.
او هغوی ته چې له خدای پرته بل چا ته د سر ټیټولو ذلت نه مني.

د دې اثر په باب څو یادونې

د هېواد د وياړمن، ريښتيني ملي مشر، د تورې او تدبيراتل، ميرويس خان نيکه پر ژوند او مبارزو د تاريخي ناول ليکل ماته يو خوب و چې نن د لوی الله په ځانګړې لورېينه زما دغه ارمان تر سره شو او دغه تاريخي ناول د درنو لوستونکيو په لاس کې دی.

د شپاړسمې زېږدېز پېړۍ له پيله تر نژدې دوو نيمو پېړيو پورې زموږ هېواد د نن په څېر د لرې او نژدې لويو ځواکونو د خونړيو سياليو او نامردانه تاړاکونو پر ډګر بدل و، هېواد عملاً په څو برخو وېشل شوی و، پر هره برخه پردي او د هغوی لاسپوڅي او اردليان واکمن وو، کټ مټ د نن په څېر عام ولس اړ و چې د پرديو او د هغو د ځيره خورو د خرمستيو او وحشتونو درنه بيه ادا کړي.

شمال له ميمنې تر بدخشانه، د چنګيز له نبېرې د را ولاړ شوي محمدخان شيباني او وروسته له امو پورې غاړې نورو يرغلګرو تر يرغل لاندې و، له بدخشان تر بلخ او ان کندهاره د بابر د اولادې د واکمنۍ او لښکر کشيو او لوټمار بازار تود و، له هرات تر کندهاره د ايران د صفوي ټولواکۍ د حاکميت بيرغ رپېده.

په دې اوږده موده کې زموږ هېواد د همدې ځواکونو د سياليو او جګړو شاهد و چې اصلي قرباني يې د وروستيو څلورو لسيزو په څېر زموږ ولس ورکوله.

په ولس کې د پرديو پر خلاف د مبارزې او له هېواده د دفاع روحيه پياوړې وه، ګڼ مبارزين را پورته شول، روښاني غورځنګ پيل شو او ستر روحاني شخصيت پير روښان د پښتونخواه د ازادۍ او سرلوړۍ لپاره د سر، مال او کورنۍ تر قربانۍ پورې ثابت پاتې شو، زامنو يې د پلار اوچت کړی غږ ژوندی وساته، خو د پرديو اردليانو هغوی پرېنښودل چې دغه ستر ارمان تر سره کړي، خوشال بابا، ايمل خان او نور مبارزين را اوچت شول، د هغوی خودۍ او غرور د پرديو تر سيوري لاندې ژوند ننګ باله، خو د

لستوني مارانو او د پردیو سترو ناتارونو دغه غورځنگونه په نیمه لاره کې ناکام کړل، دغو یادو درنو مبارزینو د ولس د یووالي او خپلواکۍ ارمانونه گورته ور سره یووړل.

ستر مبارز خوشال بابا په یوه بیت کې خپله نهیلي او د هغو اصلي لامل داسې بیانوي:

اتفاق په پښتانه کې پیدا نه شو
که نه ما به د مغل گرېوان پاره کړ

تر دې چې له دوو پېړیو تورتم وروسته په لوی کندهار کې د نازو انا په غېږه کې میرویس خان را پورته شو. میرویس خان د صفوي ټولواکۍ پر خلاف مبارزه پیل کړه، خو د خپلو اسلافو د مبارزې د لوړو او ژورو له دقیقې مطالعې وروسته یې داسې گامونه واخیستل چې د تورې او تدبیر انډول پکې ساتل شوی و، د خپل صف او ملگریو په انتخاب کې یې موُمنانه فراصت، له ولس سره رېښتینی خلوص او له شخصي هوسونو نه پاک ژوند، هغه ته په ولس کې د سپیڅلي مشرتابه مقام ورپه برخه کړ. د پردو اردلیان په ولس کې پخپله سپک او بې اعتباره شول. د میرویس خان غږ د ژغورنې او خلاصون نغمه شو، هرگام یې د رڼا په لور و، هر ملگری یې د هېواد د غیرت شمله او د عزت تاج شو. بالاخره زموږ د ولس ژوند چې د تندر نیولي لمر په څېر سپېره له رنگ ، خوند او وقاره تش و، بېرته له تیارو او بدرنگیو راووت.

دغه تاریخي ناول زموږ د هېواد د همدغو دوونیمو پېړیو د ژوند یو تصویر دی، د ډیلي او اصفهان په دربارونو کې زموږ د ولس پر خلاف څه ډول دسیسې جوړېدې، د دغو دربارونو اخلاقي او عقیدوي وضعیت پر کوم برید ولاړ و، ددې ټولواکیو پوځونو زموږ په هېواد کې کوم وحشتونه تر سره کړل.... بالاخره ملي اتل میرویس خان نیکه او صادقو ملگریو یې په کوم تدبیر له هېواده د پردیو شوم سیوری لرې کړ او افغانستان بېرته د هویت او خپلواک ژوند څښتن شو. په دې تاریخي ناول کې یې لوستلای شئ.

زه په څغرده وایم چې کله ما ددې ناول لیکلو ته عملاً ملا وتړله پر یوه ترخه حقیقت وپوهېدم، د وضاحت لپاره غواړم په لنډو ټکیو کې په دې تړاو خپل یادونه در سره شریک کړم:

درې نیم ـ څلور کاله پخوا یو سهار زنګ راغی، له سلام کلام وروسته یوه تن راته وویل چې غواړو یو دوه کسان در سره وګورو، ما ورته کړل چې په سترګو، په کور کې درته انتظار یم. نیم ساعت وروسته درې تنه منور ځوانان راغلل، چې د چایو پیالې مې یې مخې ته کېښودې ځانونه یې راته معرفي کړل، دوی د (شوب شرکت) په نوم د یوې غیر دولتي ادارې مسسولین وو. دوه تنه یې د مشر جهادي شخصیت قاضي محمد امین وقاد لمسیان وو، بلال وقاد او شوب صاحب، یو بل ځوان د دوی د شرکت غړی و.

د لوړو زده کړو خاوندانو دغو ځوانانو چې خبرې پیل کړې، لویې ارادې او ارمانونه یې درلودل، غوښتل یې د هالیووډ په کچه تاریخي فلم جوړ کړي. د دوی د نیک نظر له مخې باید د فلم داستان ما ورته لیکلی وای، داستان د هېواد د نومیالي شخصیت میرویس خان نیکه په باب و.

دوی ماته وویل چې تاریخي مواد به استاد حبیب الله رفیع درته برابروي او تاریخي داستان به ته لیکې، په څو دلایلو ما ځان ددې ستر کار لپاره ور نه باله. یو دا چې ما عملاً یوه ورځپاڼه چلوله، په دغسې سیاسي وضعیت کې له ورځپاڼې بل لورته پام اړول راته ناشوني ښکارېدل، دا دواړه چارې ضمني ممکنې نه وې، دوهم ما اوږده موده له ادبي او داستاني لیکنو سره د مجبورۍ له مخې مخه ښه کړې وه، د دې ځوانانو تودو احساساتو او ټینګار بالاخره دې ته اړکړم چې ور سره هو وکړم، له استاذ رفیع سره کیناستو، هغه یو څو تاریخي مهم اثار چې زیاته برخه یې دده خپل وو را وسپارل، ما په کار پیل وکړ، د هغو اثارو په رڼا کې مې یوه برخه ولیکله، یو دوه ځله مې له هغو ځوانانو سره بیا ولیدل، دوی ته مې لیکلې برخه ور وسپارله، دوی د لیکنې په ښه قانع وو خو د تاریخي معلوماتو په تړاو یې ویل چې نیمګړې دي. زموږ په تاریخي اثارو کې په ریښتیا هم دغه نیمګړتیا وه، مطلب مې دلته د خپلو درنو پخوانیو استاذانو هڅې او نامتو اثار کم ګڼل نه دي، لوی استاذ عبدالحی حبیبي، مُورخ غلام محمد غبار، استاذ رفیع، استاذ بینوا او نورو ارزښتمن اثار لیکلي چې د هر چا د توان خبره نه ده، د میرویس نیکه په باب د ارواښاد الحاج امان الله هوتک (د خپلواکۍ لمر څرک) پخپله ډېر مستند مواد

لري، خو په اړونده موضوع داسې بشپړ اثار نه وو چې د میرویس نیکه په څېر تاریخي شخصیت او د هغه پېر په باب د یوه هنري اثر مواد شي.

لنډه دا چې ما خپل عذر درلود، هغو ځوانانو خپل. پر دې مو توافق وشو چې سملاسي دغه کار ودروو، خبره ختمه شوه، کار ودرېد.

ما دغه لیکلې برخه چې د یوه تاریخي ناول د لومړنۍ خاکې په اصطلاح د لارې نقشه وه د کمپیوتر په مغز کې یو ځای وغورځوله، خو له ځانه سره مې یو هوډ وکړ چې په مناسب فرصت به مواد را ټولوم او کار ته به دوام ورکوم.

کله چې د کرونا وبا پر نړۍ را خپره شوه، د سلګونو ملیونه انسانانو په لړ کې یې زه هم په کور وزګار کښېنولم.

بس همدغه یو فرصت شو، د ورځپاڼې دروند مسوولیت مې له اوږو لرې شو، نور نو د خپل ذوق لوستلو او لیکلو ته وزګار شوم. د نورو ژباړو او لیکنو تر څنګ مې د میرویس خان نیکه په باب د اثارو په راټولولو او لوستلو پیل وکړ، په دې کار کې د خپل ګران مشر زوی محمد هارون جان هڅې او همکارۍ تر ټولو ډېرې راته ارځښتمنې وې، هارون ماته د هغو اثارو بشپړ لیست چمتو کړ چې د میرویس خان نیکه، ګرګین، صفویانو او د هند د مغلي ټولواکۍ په باب لیکل شوي وو.

د فارسي اثارو د چمتو کولو په باب د تهران راډیو د پښتو څانګې د مشر ښاغلي دوراني منندوی یم، نوموړي ددې اثارو په را استولو کې را سره مخلصانه همکاري وکړه چې مننه ترې کوم. پر دې سربېره هارون جان له لندنه د هغو انګلیسي اثارو څخه ډېر مستند او مهم ټکي د موضوع په تړاو را واستول چې د نا سمو او تحریف شویو پېښو په پېژندلو کې هغه خپل ارځښت لري. زما دویم زوی محمدمعصوم شفیقي د اړوندو اثارو په راټولولو او نورو تخنیکي برخو کې را سره ډېرې ستومانۍ وګاللې، په ځوانۍ یې برکت شه. د شوب شرکت له ځوانانو، چې زه یې دې کار ته وهڅولم، استاذ رفیع او نورو ښاغلیو چې ما یې له اثارو ګټه واخیسته، د ځوان لیکوال نورالحق حیدر، فضل الله احدي او نورو ټولو هغو دوستانو ډېر منندوی یم، چې له ما سره یې ددې او نورو اثارو

په برخه کې په یو ډول مرسته کړې ده. د ډېرو دوستانو د ګډې همکارۍ په پایله کې بالاخره دغه اثر را منځته شو چې د درنو لوستونکیو په مخکې دی. د اکسوس له ادارې مننه چې تل یې زما د اثارو په غوره چاپ کې خپل اخلاص ښودلی.

یو بل ټکي ته اشاره لازمه بولم، کوم تآثر چې د را ټولو شویو اثارو له لوستو وروسته ما واخیست دادی چې میرویس خان نیکه د افغانستان په تاریخ کې داسې مشر او مبارز تېر شوی دی چې سیال او ساری یې لږ موندلای شو. هغه د تورې، تدبیر، عقل، له ولس سره د خلوص او غیرت یوه داسې بیلګه ده چې ان نړۍ یې په ملي او سیاسي مشرانو کې لږ مثالونه لري.

د دغه نومیالي مېړه په برکت له دوونیمو پېړیو وروسته افغانستان د نړۍ پر مخ بیا وځلېد. ښایي دا د تاریخ یوازینۍ بېلګه وي. نن چې زموږ ولس له کوم ستر ناورین سره مخ دی، یو لامل یې همدغه دی چې تر هره ډېره لاندې یوه خودساخته مشر ډډه وهلې، هر یو یې خپلې او پردۍ رسنۍ لري او له هغوی یې بوتان جوړ کړي دي، وطن مو د کاذبو مشرانو او اتلانو په ټس کې د پردیو تر شوم سیوري لاندې دی، زموږ د ولس د مشرۍ زیاتره دعوه داران د یوه خونړي بهرني ځواک لاسپوڅي او اردلیان دي. د لوی هېواد پر ځای ټول د خېل او لورې له خول نه دي راوتلي، د دوی نړۍ تر دې هم وړوکې ده، د ولس د وینو په زیبښلو بوخت د پردیو پېشمرګان، ځکه خو زموږ ولس نن په وینو او ماتمونو کې پروت دی.

موږ د تاریخ په دې نازک پړاو کې یوه میرویس خان ته اړتیا لرو چې د لوی هېواد د ژغورنې غم وخوري، تیت او پرک ولس پرې راټول او ددې وړوکیو بوتانو او د هغوی د اردلیانو ټغر ور ټول کړي، زموږ د مظلوم ولس له منځه د یوه ریښتیني، با ایمانه او غیرتي مشر د ظهور په هیله، دا تاسو او دا د ملي مشر میرویس خان نیکه تاریخي ناول.

درنښت

محمد زبیر شفیقي

هند، پونه ښار ۱۴۰۰ لمریز ورې

وېښدين لودين کتابتون

لومړی فصل

یرغلونه او تیارې

بلخ (۱۰۵٦ لمریز، ۱٦۷۷ز کال)

(۱)

د پخوا په څېر لمرینه ورځ وه، د کاریز پر غاړه ولاړو چینارونو پاڼې د سهارني نرم شمال څپو ته په نڅا وې، ښځې او نارینه په خپلو کروندو کې بوخت وو، د فصلونو په منځ کې لویه لاره تېره وه، لږ ځنډ وروسته به یو سپور په تراټ پرې تېر شو، د پټیو له منځه به د پخوا پر خلاف سرونه را اوچت شول، سپور به یې تر هغو څاره چې د وړاندې کلي تر خړو دیوالونو به واوښت او د اس د پښو گردونه به یې ورک شول. د پرېشانه خیالونو په څېر د اسمان پر ختیځو څنډو د سپینو وریځو کنډکونه را واوښتل خو د لمر تر زرین ټیکلي پورې تیت او پرک شول، بادامو او زردالوگل ځنډلی و، خو د مڼو ونې لا پر گلانو پټې وې، چینارونو او نورو ونو شنې جامې اغوستې وې، سیمه له ورږمو ډکه وه، ورځ د پرون په څېر وه خو د پرون ارامي ور سره نه وه، له ورایه په خلکو کې د یوې ویرې احساس کېدو، د توپان او سیلاب د راتلو په څېر وېره چې هرڅه به ور سره تالا والا کړي.

په یوه ورځ کې له بدخشانه تر میمنې د ځنگله د اور په څېر دغه خبر خپور شو چې د ډیلي پوځونه پر بلخ د برید لپاره را روان دي. په خلکو کې له پخوا دا اوازه خپره وه چې شاهجهان د هند ستر ټولواک پر کابل او بامیانو د بلخ د حاکم یرغل په غوسه کړی دی او اوس به بلخ لوټه لوټه کړي، دوی خبر وو چې د ډیلي په پوځ کې پیلان هم وي چې پر کوم لوري مخه کړي، کورونه او فصلونه ټول ور سره تر پښو لاندې کوي، توپونه لري چې کلاگانې پر بل مخ اړوي. پر دې ولسونو پخوا له امو پورې غاړې یرغلگر را

اوښتي وو، وژنې او مرگونه، د کورونو او فصلونو سوځېدل، بې کوره کیدل او له یوه سره د هرڅه لوڅېره کیدل یې لیدلي وو، په عمر پخو خلکو یې ترخه یادونه لا نه وو هیر کړي، ځکه خو ددغه خبر له خپرېدو سره په خلکو کې زیاته ویره او اندېښنه خپره وه.

د بلخ سهیل لوري ته د لویې لارې تر څنگ کاریز شاوخوا خلکو ته د ابادۍ او وچکالۍ درک ور ښود، سږ کال نیمه ژرنده اوبه ترې راوتلې چې له برکته یې لاندې څلوېښت پنځوس جریبه ځمکه په شنو ونواو تازه کښتونو سمسوره وه. د کارېز پر غاړه لویې لویې هوارې ډبرې ایښودل شوې وې دواړو لوریو ته یې لوی لوی چینارونه ولاړ وو، دوبی د چینارونو تر یخ سیوري لاندې ډبرې د شاوخوا ځوانانو او بزگرانو بنډار ځای او دمه ځای و.

درې تنه ځوانان پر همدې ډبرو ناست وو او په څه خبره یې په کړس کړس خندل، بیا یې یوه تن بل ته پر اوږه ټپ ورکړ وې ویل:

اشرفه! خبرېې چې د شاهجهان پوځونه راروان دي؟

هغه ځواب ورکړ:

هوکې! په همدې د نذري لینگي ریږدي، فرمان یې ورکړی چې ولس به پر کور یو سړی ورکوي چې د مغلو د لښکر مخه ونیسي.

دویم د اعتراض په دود وویل:

له خولې سره دې پام کوه، که اعلیحضرت نشې ویلای نوم خو یې په درناوي یاد کړه!

اشرف په خندا ورته وویل:

سیفو بچو ځان ورته ټینگوه، زه دې نه د نذري په کیسه کې یم نه د شاهجهان، ته یې اعلیحضرت نذرمحمدخان بوله، چې پلار دې د ولجو په تمه پر کابل یرغل ته ورسره تللی و، د ژیړې غوا پی درته حلالې کړه، چې پلار دې غوربند نه د غنیمت په نوم را وستلې وه.

هغو دوو په کړس کړس وخندل یوه بیا وویل:

ښه وايي، هغوی چې له کابل او باميانو ولجې راوړې، اوس دې ورته ټينگ شي پر
مال غاښ لري، يا به يې پردې دنيا حساب ورکوي او يا په اخرت کې.

سيف الدين چې په کلي کور کې په سيفو مشهور و، لږ خجالت شو وې ويل:

که د شاهجهان لښکر پر وطن يرغل راوړي، دا خو ډېره بې غيرتي ده چې مخه يې
نيسو او ناموسونه رانه بوځي.

رحيم جان ورته کړل:

سيفو! له پلار نه دې کله پوښتنه کړې چې په باميان او کابل کې د يهودو پر کور
ورختلي وو چې مالونه يې ترې راوړل؟

د سيفو مخ تک تور واوښت، له غوسې يې شونډې رېږدېدلې وې ويل:

رحيم جانه نور بس دی، که دې يوه بله خبره له خولې ووته بيا به گيله نه کوې!

همځولي يې بيا له خندا شنه شول، اشرف وويل:

سيفو گله ته خو مو يار يې، په سپينه خبره خپه کيږه مه. ډم چې ډول وهي زور يې لر

دوی په همدې خبرو کې وو چې يو کليوال يې يوم پر اوږه ور نږدې شو، رحمت اک
پنځوسو کلونو په شاوخوا کې خوارنجوکی سړی و، د هغه په کوسه وچ مخ کې تر کي
سترگې لاندې يو ژور داغ و، رحمت اکا هم د نذرمحمدخان له پوځ سره د رضاکارو
ډله کې کابل ته تللی و، هلته په جگړه کې له چا سره لاس او گريوان شوی و چې پر
يې د لاره گوزار خوړلی و، ويل يې بخت يې ور سره ياري کړې وه چې تيغ يې
سترگه نه و برابر شوی، د سيف الدين چې سترگې پرې ولگېدې، خوښ شو چې
پلوی يې را پيدا شو، غږ يې وکړ:

رحمت اکا! راشه چې دغه سپين سترگي اوس درپورې ملنډې وهي.

رحيم جان په حيرانی وويل:

رحمت اکا دې ولې پکې را گډ کړ؟

رحمت اکا راغی، يوم يې له اوږې کېښود د کارېز پرغاړه کيناست، مخ ته يې سر په س
درې لپې اوبه واچولې، خيرنه له دوړو ډکه لمن يې پرې تېره کړه، وې وويل:

هلکانو څه خبره ده؟

سیفو وویل:

کاکا! دوی وایي چې د اعلیحضرت نذرمحمد خان له پوځونو سره ځوک د کابل جگړو ته تللي هغوی دې اوس د مغلو مخې ته ور ووزي!

رحمت اکا پر مخ لاسونه راتېر کړل، پر وچو شونډو یې پیکه موسکا وځغلېده وې ویل:

نو ته څه ورته وایې؟

ــ زه ورته وایم چې د پاچا امر منل پر هرچا واجب دی.

هغه د کارېز له اوبو لپه ډکه کړه وې ښنبلې پر خوله یې لستوڼی را تېر کړ، وې ویل:

د کابل برید خو د سړیتوب کار نه و، درېغه نذرمحمدخان د ارباب صیب خبره منلې وای، موږ خدای خبر په کومه نشه کې وو، چې پر خبره مو سر نه خلاصېدو، پرکابل برید خو پر خپل کور برید و. زما چې هغه ننداره سترگو ته راشي، پر ځان مې توف کوم، کلي او باغونه وسوځېدل، خپل وطنداران مو لوټ کړل، موږ هم پکې کنډ او کپر شوو، دا نو کوم د سړیتوب کار و!

اوس چې د مغلو د یرغل خبر راغلی له زړه مې وینې څاڅي ....بیا یې شاوخوا شنو ونو او کښتونو ته لاس ونیول زیاته یې کړه:

که خدای مه کړه د شاهجهان پوځونه راشي په خدای که دغه شاوخوا ښایسته فصلونه، باغونه او کلي روغ ووینئ، جگړه به ډېرې ځوانۍ وخوري، ډېرې ککرې به تر خاورو لاندې شي. ډېر کلي به په کنډوالو بدل شي، ژوند به ډېر بدرنگه شي.

درېغه په هغوی کې ځوک د ارباب مراد په څېر د عقل او سړیتوب خاوند پیدا شي او له یرغله یې را وگرځوي.

رحمت اکا درېواړو همځولو ته وکتل بیا یې په خندا وویل:

زما د ژوند ترټولو ترخه خاطره او لویه غلطي همدغه د کابل د یرغل پېښه ده، موږ ډېر پاتې نه شوو، د شاهجهان پوځي سالار مهابت خان زموږ د پوځونو مقابلې لپاره را وخوځېد، نذر محمدخان چې خبرشو دوې پښې مو خپلې وې دوې مو پورکړې په

تراټ ترې را وتښتېدو، خو په هغو څو ورځو کې چې موږ کوم کلي د اورلنبو ته وسپارل چې رایاد شي اوس مې هم خوب وتښتوي، د ارباب مرادخان خبرې مې یوه یوه را یاده شي ویل یې، تاسو پر خپلو خلکو یرغل کوئ، اخر گناه یې څه ده؟

بیایې سیفو ته وکتل:

وراره! موږ چې بېرته راتلو تردې ځایه مو پر ځانونو لاړې توف کولې. دریغه د ارباب مراد پر خبرو مو پر وخت سر خلاص شوی وای.

موږ باید د لوی وطن غم خوړلی وای، اوس هم سر وخت دی!

رحمت اکا دا وویل جگ شو یوم یې پر اوږه کړ او د وړاندې فصل پر لور روان شو. اشرف، رحیم او سیف الدین درې واړو سرونه ځوړند واچول.

*****

د بلخ د شاهي ماڼۍ د لوی تالار سهیل پلو له لویو کړکیو نه پردې ور ټولې وې، تالار د رڼا په وړانگو کې لمبېدلی و، په رڼا کې د تالار پر ختیځ دیوال را ځړېدلې وریښمنې غالۍ ډېرې ښکلې ښکارېدلې، څلورغالۍ په مناسبه فاصله را ځړېدلې وې چې د رنگونو او گلکارۍ شهکار بلل کېدې، پر یوه یې ښکلې هوسۍ انځور شوې وه، پر بله د یوې خیالي شهزادگۍ انځور و، غټې تورې سترگې چې د بڼو تور څپر پرې ولاړ و، جگه غاړه، او شاهانه جامې، د یوې چینې پر غاړه ناسته.

دریېم تصویر د یوه طاووس و چې ښکلو بڼکو یې سترگې برېښولې، او څلورم یې بیا د وزلوبې ننداره ښودله، مست اسونه چې چنگ ونگ برېتونه ملا تړلي چاپ اندازان پرې سپاره؛ په گردونو کې پټ.

د بلخ حاکم نذرمحمد خان د خوارزم د واکمنې کورنۍ څخه و، پلار یې تمیم سلطان نومېدو چې د خپلو کاکا زامنو له ناوړه سلوک نه یې له خوارزم نه بخارا ته کډه وکړه، د نوموړي دوه زامن وو، مشر یې امام قلي خان او کشر یې نذر محمد خان وو، دواړه ورونه د واک په سیالیو او لوبو کې ډېر ستومانه وو، په دې لړ کې امام قلي خان لومړی

د توران والي شو، وروسته يې د خوارزم واکمني هم ترلاسه کړه او نذرمحمد خان ته يې تر خپل نيابت لاندې د بدخشان او بلخ حکومت وسپاره، نذرمحمد خان وروسته خپل ورور له واکه وغورځاوه او د ماورا النهر او بلخ ټوله واکمني يې خپله کړه، خو په توران او خوارزم کې ازبکان د نذرمحمدخان پر خلاف را پورته شول ، د هغه زوی عبداالعزيز خان يې خپل حاکم غوره کړ، له يو لړ جګړو وروسته بيا د پلار او زوی تر منځ پردې توافق وشو چې د توران والي به عبدالعزيز خان وي او دې اړخ ته به د بدخشان او بلخ حاکم نذرمحمدخان وي. وروسته نذرمحمدخان غوښتل چې د بخارا او توران پر ځای د هرات او کابل په لور پښې وغځوي، پر باميان او کابل يې بريدونه وکړل، کابل او ضحاک يې تر يوې مودې کلابند کړل، خو د هند مغلي ټولواکۍ د نذرمحمد خان دغه ګستاخي ونه زغمله او پر بلخ او بدخشان يې د لوی يرغل لپاره پوځونه را واستول.

خان په خپل دربار کې زرينې تکيې ته ډډه وهلې وه، پر چاپېريال غمجنه غونډې چوپتيا حاکمه وه، د شاهي ماڼۍ په دغه ځانګړې تالار کې شاوخواته څو تنه درباريان ناست وو، د ټولو شونډې بړوسې او ځړېدلې وې، يو تن چې د مغلي پوځ ځانګړې جامې يې پر تن وې، د نذرمحمدخان په مخکې ځوړند سر ولاړ و، خان پرخپله ګڼه کونډۍ ږيره لاس تيرکړ، ترنريو وروځو لاندې وړوکې سترګې يې ښې او کيڼ اړخ ته واړولې، بيا يې د مخامخ ولاړ ايلچي څېرې ته ځيرشو دروند غږ يې د لوی دربار په ديوالونو کې غبرګ شو:

ښه اوس د کابل والي سعدالله خان ماته دوکه راکوي!

د ډيلي د پاچا له خولې د سولې پيغام راليږي.

ارباب باتوره، شهزاده سبحان قله ... عجيبه نده؟

يوه اړخ ته يې پوځ تر هندوکش را اوړي او بل لور ته يې د سولې پيغام تر بلخه را ورسېد.

ارباب باتور چې ترکمني ببره خولۍ يې پرسر اوپاس شونډه يې په پلنو بريتو پټه وه لنډ ځواب ورکړ:

هوکې اعليحضرته! همداسې ده.

خان بیا ایلچي ته چې د دربار وضعې پرې اغیزه کړې وه وکتل وې ویل:

موږ خو بي خبره نه یو پر بلخ او بدخشان د برید لپاره له څومیاشتو راهیسې په ک
لاهور او ډیلي کي شاهجهان لښکرې سنبالولې او د جګړې تیارى یې نیوو. زمو
دوکه کولو لپاره یې اوازه واچوله چې پر کندهار یرغل ته تیارى نیسي، بیا یې لږ په ج
لهجه وویل:

شهزاده مراد بخش د څه لپاره ګومارل شوى دى؟

ایلچي وا رخطا شو، پښې یې لړزېدلې، په نښتې ژبه یې وویل:

اعلیحضرته ...ما یوازې د خپل حاکم امر پرځاى کړى دى.

د بلخ د تا جدار زوى سبحان قلي ورته وویل:

ته دلته زموږ میلمه یې بېغمه اوسه خو پلار ته مې ځواب ورکړه!

ـ جنابه! شهزاده مرادبخش له پوځ سره د بلخ په لور را روان دى، تولواک له پنځ
زره سپرو او لس زره پلیو پوځونو سره پر بدخشان او بلخ د یرغل حکم ورته کړى
خو ....

نذرمحمدخان یې خبره ور غوڅه کړه:

خو څه؟

ـ د کابل د والي پیغام دادى چې که اعلیحضرت د بخارا پر ځاى د ډیلي حاکمیت
غاړه کیږدي، نو هرڅه به سم شى.

د نذرمحمد خان غرور لږ را وپارېد خو بېرته غلى شو هېڅ یې ونه ویل.

ایلچي په نرمه وپوښتل:

اعلیحضرته! ماته څه حکم کوئ؟

د لوى خان پرشونډو پیکه موسکا تیره شوه، بیا یې د دربار له دروازې سره دوو تن
چې د ایلچې تر شا برچه پک ولاړ وو په نرمه لهجه وویل:

میلمه مو کاروانسراى ته ورسوئ، میلمه پالنه یې وکړئ بیا یې ایلچي ته وویل:

د پیغام ځواب به دې سهار درته وسپارو، ورځه شپه دې په خیر.

د ایلچي او وسله والو ساتونکیو تر وتلو وروسته نذرمحمد خان خپل زوی ته مخ ور واړاوه:

شا وخوا لنډو مشرانو ته احوال ورکړه، د شپې ډوډۍ ته یې را وغواړه، پردې یوه مشوره په کار ده!

پینځه تنه د مجلس حاضرین جګ شول لاس په نامه ودریدل احترام یې پر ځای کړ او بیا ووتل.

د خان بل زوی بهرام خان په ادب لاس په نامه ونیول، په موسکا یې وویل:

پلاره د ارباب مراد اندیښنه ریښتیا شوه.

هوکې! پر کابل او بامیان برېد ډېره لویه غلطي وه، موږ هسې بلا را ویښه کړه.

ارباب باتور وویل:

اعلیحضرته اوس یې پیغام ته څه ځواب ورکوې؟

ـ یو مناسب ځواب به ورکړو، خوخپل کار به کوو، نن شپه به پرهمدې مشوره کوو. بیا یې بهرام ته مخ ور واړوه:

زویه! ارباب مراد به خامخا را پیدا کوې. خدای دې وکړي چې پرځای وي چیرته تللی نه وي. ډېرې ورځې وشوې چې نه مې دی لیدلی.

ارباب باتور وویل په جُمه بازار کې مې له لرې ولید شته دی، که په دې دوو ورځوکې چیرته تللی نه وي. بهرام جګ شو، نذرمحمد خان وویل:

ارباب مراد د خبرې او مشورې سړی دی.

ـ هوکې هوکې ، دروند سړی دی. د درنې کورنۍ ... د شهزاده بهرام تندی وغوړېد، نوموړی د هغه له نظر او فکر سره ډېر جوړ و.

ارباب مراد د بلخ له یوې لویې کورنۍ څخه ؤ، زرګونه جریبه جایداد یې له پلار او نیکه نه ورته په میراث پاتې ؤ، نیکه یې د محمد خان شیباني په لښکر کې د هرات او نیشاپور د نیولو په نیت تللی ؤ. ارباب جمعه خان د پینځوسوو وسله والو مشر ؤ. خو د مروې په جګړه کې له محمدخان شیباني سره یوځای هغوی ټول ووژل شول، له پینځو سوو تنو یې یوازې اوه کسان شپږ میاشتې وروسته بلخ ته ګوډ مات راستانه شول چې د یوه لاس

په مټ کې غوځ و، دوو نورو یې پر ملا او گېډه د تورو گوزارونه خوړلي وو، هغو نورو یې د صفویانو داسې ظلمونه لیدلي وو چې هره شیبه سل مرگونه پرې تېر شوي وو، نور نو هسې په نامه دوی په ژوندو کې حساب وو، له هر راز رنځونو کړېدل. هغوی د صفویانو د زور او ظلم ډېرې کیسې راوړې. په ژوندیو را ستنو شویو کې یو سیدعلي ؤ، سید علي د ارباب جمعه خان د یوه ناظر زوی ؤ. د مروې د خونړۍ جگړې داستانونه هغوی تر بلخ او بدخشانه را ورسول، ویل یې صفویانو سني مذهبه ټول کافران او واجب القتل بلل، په مروه کې د شیباني لښکر ټول یا ووژل شول اویا یې ژوندي ونیول چې له شاقه درنو کارونو او بیگار وروسته هغوی هم ووژل شول. د صفویانو بل دود دا ؤ چې د چنگیزپه څیر یې د مړیو له ککرو څلي درول، د قوماندانانو ترمنځ یې د ککرو د لوی څلي جوړولو پر سر سیالۍ وې.

سیدعلي دغه خبر هم راوړ چې د ارباب جمعه خان مړی یې په خپلو لاسو په داسې حال کې خاورو ته وسپاره چې سر یې ترې غوڅ او ورک و. د دې معنا دا وه چې سر به یې د ککرو کوم څلي ته د ښښتې کار ورکړی وي. محمد خان شیباني د هرات او نیشاپور د نیولو په هوس تللی و خو خپل سر او لښکر دواړه یې بایلودل او د صفویانو د تیرې او وحشت توره خپه یې تر بدخشانه را وغځوله.

*****

د ماښې په لویه خونه کې نذرمحمدخان او د پوځي مشرانو په شمول پنځوس شپیتو تنو پر بالښتونو ډډې اچولې وې. ددې بنډار زیاترو برخوالو ته دا یوه میله وه چې پکې راټول وو، نذرمحمد خان او څو نورو ته دا یو بوج و چې وخت پر غاړه ور اچولی و، د هغه په تندي کې له ورایه د اندېښنو سیوري گرځېدل، یوازې ارباب مرادخان ته دې غونډې یو خاص مفهوم درلود، د ټولو سترگې د خان تر څنگ همغه دنگ د پاخ عمرخاوند ته ور اوښتې وې چې لویه مشهدۍ لونگۍ یې پرسروه. لنډۍ مۍ وریژې ږیرې یې څیرې ته خاص رعب ور ښښلی ؤ. غوړیدلی تندی، پر اوږو یوه شتري رنگ

چپنه اوپه سترگو کې عجیبه رڼا یې پر زړونو لویده...هغه لاس وموښل د خپلو خبرو په دوام یې وویل:

....نور اوبه تر ورخ تیرې دي، ډیره ناوخته ده بس خدای راوستې د خپلو لټیو کفاره به ادا کوو....

نذرمحمدخان په درانه غږ وویل:

اربابه ! وار مه خطا کوه، که خدای کول شاهجهان ته به داسې درس ورکړو چې تر مرگه به یې بیا هېر نه کړي!

د ارباب مراد پر شونډو ترخه موسکا وغوړېده، د نذرمحمدخان په لهجه کې یې د بې وسۍ او ناتوانۍ تالونه له ورایه لیدل، خان ته یې لږ مخ ور واړاوه وې ویل:

دا د بامیان او کابل جگړه نه ده چې ولس دې ور مارش کړ، راځي سر یې د سرکار مال یې ستاسو!

اوس مغلو له ډیلي تر کابله په زرگونو لښکر درته را ټول کړی، هغوی ته یې ویلي چې سر یې زموږ مال یې ستاسو! ساده خبره نه ده، د نړۍ په کچه د لویې ټولواکۍ خونړۍ پوځ را روان دی. له کابله تر بنگاله پرته نیمه نړۍ یې تر حکم لاندې ده.

نذرمحمد خان وویل:

موږ هم سیلاب نه یو راوړي، نه مو لاسونه تر شا تړلي دي.

ارباب وویل:

تابه د شاهجهان د پیلانو او توپونو یوازې کیسې اورېدلې وي، ما پخپلو سترگو لیدلي او د هغوی د بربادیو ننداري مې لیدلې دي، وړم کال یې پر دکن یرغل ور ووړ د قیامت ننداري خلکو ولیدې.

بیا یې لاس و پړکول د بلخ لوی واکدار ته یې وویل:

کلونه پخوا مې درته ویل چې د لوی کورغم باید وخورو، د خپل ولس پر خلاف جگړې بې گټې دي، درته ویل مې چې پر بامیان او کابل بریدونه مه کوه، د هغوی له مشرانو سره د شریک کورخبره وکړه، درته ومې ویل چې د شاهجهان پوځ ویدې بلار

ته ورته دی، مه یې را ویښوه، پلمې په لاس مه ورکوه. د ټولواکی یوه بدمرغي دا د
لوی پوځونه ساتي بیا هغوی لوټمار ته هڅوي. اوس به بلخ او بدخشان د مغلي او
پوځیانو د مال غنیمت په څېر د هغوی تر پښو لاندې شي.

... د نذرمحمد خان سترګې له غوسې ککرې ته لاړې، لږ په لوړ غږ یې وویل:

اربابه بس دي، نور مې پر زخمونو مالګې مه دوړوه!

اوس به پردې خبره کوو چې د مغلو سره څه وکړو؟ موږ غلطی کړې خو دا یې د یا
وخت نه دی!

ارباب مراد بیا هم پرخپل نظر و درید:

زه مې د خپل نیکه غلطي هم نه بښم چې د شیباني په لښکر کې هرات ته تللی ؤ ا
یې وبایله، زه به پر هغو څه وویاړم د یوه ظالم په لښکرکې تللی ؤ بل ظالم وژلی
که غلطی یادې نه کړو پردې پیښمانه نشو باور مو دی چې بیا به یې تکرار کړو.

تا چې پر بامیان او کابل بریدونه کول، خلک دې ووژل، کورونه دې میرات کړل،
به له مغلو سره د هغوی اولاده هم د خپل کسات په نیت را روان وي. یو ورور به
ورور په وینو لاسونه رنګ کړی، زه بس همدومره وایم چې موږ څه کرلي هغه به

یوه اوبل اړخ ته ګونګوسي شول، په لوړ غږ چا څه نه ویل، خو سرونه یې په ت
خوځول، معنا دا چې د ارباب مراد خبرې یې تا ئیدولې.

نذرمحمد خان جام را اوچت کړ دوه غوړپه اوبه یې وخښلې، غاړه یې تازه ک
مجلس پرټولو خلکویې یو نظر واچاوه او دروند له رعبه ډک غږیې اوچت شو:

د ارباب مرادخان خبرې پر ځای دي، که ترخې دي هم د اخلاص خبرې دي، د ز
مالک الله تعالی دی، له ما سره هم د لوی هیواد غم دی، خیراوس تیر په هیر که خ
فرصت راکړ خپلې دغه غلطی او لټی به هم جبران کړو، خو اوس سمد ستي څه و
د مغلو لښکر را روان دی.

د روضې امام چې له دربار سره یې خاص روابط لرل، غاړه تازه کړه، وې ویل:

اعلیحضرته! د خپل کور او وطن دفاع فرض ده. که مغل دي که هندیان دي چې پرکور مو راځي جګړه ور سره روا ده!

ځوتنو نورو له یوه اوبل لوري چیغې کړې:

د سر په کاسه کې به اوبه ورکوو... په ړنا ورځ به پرې د اسمان ستوري وشمیرو...څه ټیکري خو مو نه دي پرسر کړي...

چې لاپې ډیرې شوې ارباب مراد خان له ورایه ور سره نا آرامه شو، له ځانه سره یې وویل:

کور خو خپل تعریف لري. چې د بل کور ته ډبرې ور غورځوي د هغو کور به په څه خوندي شي.

نذرمحمد خان ته هم خبره له زغمه ووته، لاس یې اوچت کړ. خلک چوپ شول، تر څو شیبو د چا له خولې سوڼ نه خوت، بیا د بلخ واکمن په شمیرلیو الفاظو وویل:

د جنګ کیسې خوږې ساعت یې تریخ دی. ارباب مرادخان ډېره د حکمت خبره وکړه، ټوکې نه دي، جګړه مو کور ته را روانه ده، له یوه لوی او ځواکمن دښمن سره مخ یو، وخت په هسې غورو دربو مه تیروئ، سم تدبیر ته اړتیا ده، څه وکړو...بیا ګونګوسي اوچت شول:

اعلیحضرت ښه وایي، تدبیر په کار دی!

سبحان قلي خان لاس په ټټر کینښود:

زما درې نیم زره سپاره خو هر ډول مقابلې ته چمتو دي، ستاسو حکم ته انتظار یو!

یوه مامره بوډا له یوه کونجه غږ وکړ:

خبره د ناموس ساتنه ده، ښځې او ماشومان خو په کورونوکې یرغلګرو ته نشوپریښودلای. یوه بل سپین ږیري چې بریتونه یې چټ خرېیلي وو او یوه خړه لونګۍ یې پر سروه پرې ورغبرګه کړه:

زما د زړه خبره دې وکړه حاجي صیب! حاجي سلیم یوازې سر وخوځاوه.

ارباب مراد غاړه تازه کړه:

زه خو وایم چې که د جګړې مخه نیول کېدای شي باید ونیول شي سره له دې
اوس ناوخته ده، خو که د سولې او روغې جوړې کومه لاره وي او مغلي سالار پر
قانع کولای شو چې له یرغل نه تېر شي دا د خیر خبره ده. تاسو وایې چې شاهجها
سولې پیغام را استولی، پیغام ته مناسب ځواب ورکړئ، که جګړه ټال شي، ښه تر
خو که خبره د جګړې شي ولس مو پکې وځپل شي او بیا وروسته سوله کوو دا ب
له ولس سره جفاوي.

نذرمحمد خان وویل:
اربابه ستا مقصد څه دی؟

ـ زما خبره داده چې جګړه باید وروستی انتخاب وي لومړی نه، که د مغلو انتخا
وي چې خامخا به یرغل کوي دښمن ته خو به خامخا مخې ته ور وزو د لږو
مري د ډیرو ډیر. بیا به نو تر پایه جګړه کوو. بیا به مو پر همدې امین وی، چې یا م
یا بری.

ارباب مراد لږ چوپ شو، بیا یې وویل:
که مو پردې امین وی، بیا نو دوې لارې لرو!
خان د سرپه اشاره د هغه خبرو ته غوږ شو. ارباب وویل:

یا دا چې کډې له یوې مخې میمنې لورې ته وکوچوو او چې وسله پورته کولای
هغوی به ټول له خپلو سیمو د ساتنې په مورچلونو کې پرېوزي او یا خپل بال
څوځایه په غرونو کې په مناسبو ځایونو کې ځای پر ځای کړو.
له یوه کونجه غږ اوچت شو:
کډې ولې تر امو پورې غاړې ته وانه ړوو؟
ارباب مراد په لوړ غږ وویل:

موږ همدې تباه کړي یو، چې نه د خپل او پردي په معنا وپوهېدو او نه د وطن او

وروسته پرېکړه په دې شوه چې که په اسانه شرایطو شاه جهان له جګړې مخ واړاوه نو ښه ده، که نه نو د بخارا له حاکم د نذر محمد خان له زوی عبدالعزیزخان او د اصفهان له صفوي واکمنو نه به مرسته غواړي چې خپل وسله وال مرستې ته را واستوي، خو ارباب مراد پوهېدو چې نذرمحمدخان ته یوازې د بلخ واکمني مهمه ده که دا د ډیلي تر سیوري لا ندې وي او که د بخارا او یا اصفهان.

*****

د هندوکش خړ ګړنګونه ولاړ وو نن یې له پېړیو وروسته بیا د یوه ستر پوځ ننداره کوله، لاندې په کږه وږه دره کې د پوځیانو کتار د تور ښامار په څېر ښکارېدو چې پورته روان و، زغرې اغوستې، خولونه پر سر، اوږدې نېزې او ټوپکونه په لاسو کې پوځیان، د اوسپنیز زنځیر په څېر، اسونه سیلېږي، سپین ځګونه یې له خولو بادیږي. پیلان او سنډاګان چې عرابې پرې تړلې تورې خولې توپونه کشوي، له هر ګام سره یې ځمکه لړزیږی، د ډیلي ځوان شهزاده مرادبخش د شاهجهان تر ټولو کشر زوی، د پینځلس زریز پلي او اتو زرو سپرو پوځ مشر، نن د اویا زره پلي او سپاره پوځ د مشر په توګه؛ پر اس سپور تر مخ روان و. شاته یې د هندي او راجپوتو د پوځ قوماندانان، امیرالامرا علیمردان خان، نجابت خان، مبارز خان، راجه بیټهل داس او راو سترسال، پر اسونو سپاره له ځانګړي غرور سره روان وو، د همدغه پوځ بله برخه د راجه رای سنګ او خلیل الله خان په قومانده د غوربند پر لاره کُهمرد او غوري ته رسیدلي وو. د پنجشېر درې په منځ کې د هندوکش ناوونه له واورو ډک وو، چې پر هغو لارو یې له درنو توپونو سره وړاندې تلل ډېر ګران کړي وو، مرادبخش ته د شاه جهان حکم و چې د هندوکش پر اوږو واوړي او د امو تر څنډو د مغولي ټولواکۍ د حاکمیت بیرغ ورپوي.

....چې د پوځ مخکنۍ ډلې تر یوه کنډو واوښتې کلی را ښکاره شو، د ټوپکو دوه ډزونه په ګړنګونو کې داسې را غبرګ شول لکه په لسګونو ټوپک چې په یوه قومانده ډزې وکړي، دا د هندي پوځیانو تر منځ ځانګړې اشاره وه، له ډزو سره په سلګونو سپاره او پلي پوځیان د وږیو لېوانو په څېر پر کلي ورننوتل:

هلی دښمن دی، سر او مال یې غنیمت دی!

د سترګو په رپ کې د کلي په کوڅو کې د ډزو غړونه او د کلیوالو کریږې او فریادونه ګډ اوچت شول، ښه ساعت وروسته له کورونو لوخړې او لنبې پورته شوې او د ډیلي ټولواکۍ وسله وال هسکې غاړې له څارویو او غنیمتونو سره د دودونو او لمبو له منځه راستانه شول، شا ته یې، کریږې، لوګي، لمبې، ټپیان او مړي پرېښودل.

دغه کیسه د هندوکش د دې کږو وږو درو په منځ کې پرتو ټولو وړوکیو کلیو کې تکرار شوه چې په تېرو درې نیمو اونیو کې دغه لوی پوځ پرې تېر شوی و...د مرادبخش او امیرالامرا علیمردان خان پر شونډو فاتحانه موسکا بیا وغوړېده، د دوی په اند د ټولواکۍ معنا همدغه ده، چې پوځونه یې وینې تویې نه کړي، کلي تر پښو لاندې نه کړي، نو ټولواکي په څه شوه؟

د پسرلي موسم را رسېدلی و، خود هندوکش لمنې، ناوونه او څوکې لا هم په وارو پټ وو، ځوان شهزاده چې له ډیلي نه د کبر او غرور له کوم احساس سره راوتلی و د هندوکش په دې کږلیچونو کې یې یو څه سد سرته ورغلل، دوه ځله واوره پرې را وښوئېدله چې تر دېرښو تنو زیات پوځیان دوولس اوښام او ترپینځه دېرشو سره اسونه او سنډاګان یې تر واورو لاندې شول، په لویو کنډوونو او له واورو او خټو په ډکو لارو کې د درنو توپونو کشول د دې پوځ په ژوند کې بله ترخه تجربه وه، د راجپوتو قوماندان راجه بیټهل داس او د هغه تر لاس لاندې نور واړه قوماندانان اوس په راتلو پښېمانه وو، دوی چې د کومو غنیمتونو په تلوسه راوتلي وو د هغو نښه هم نه وه. د هندي راجه ګانو او نوابانو د ماڼیو په لوټ اوتالان کې چې دوی کوم سره او سپین لاسته راوړل، په دې غرنیو جونګړو کې یې د هغو تصور هم نشو کولای. یوازې څاروي وو چې دوی یې په غوښو ماړه ول.

امیر الامراعلیمردان خان هم خوشاله نه و، د هغه هم همدغه ستونزه وه، د دوی د جګړو موخې همدغه وې چې څه به یې لاسته ورتلل هغه د دوی غنیمت وو، له ټولواک نه به

یې د بریا امتیاز ځانګړی تر لاسه کاوه چې ډېر ځله به تر لکونو هندي کلدارو پورې رسیدو، که به د ټولواک موډ برابر و زرګونه جرېبه ځمکه به یې پر یوه فرمان ور بخښله.

دوی د لویو غنیمتونو په تلوسه راوتلي وو، دلته په سختو ګړنګونو او توندو پیچومو واوښتل چې درانه توپونه او ګاډي باید پرې واړوي .

د هندوکش د درو وروستی کلی هم لوټ شو، د لوی پوځ شا ته دودونه او لنبې پا ته شوې چې د کلیوالو له ژړا او فریاد سره اسمان ته پورته کېدل.

شهزاده خپل پوځي قوماندانان را ټول کړل، پاس کنډو ته یې وکتل، بیا یې په هیله من نظر لاندې کږې وږې درې ته سترګې واړولې، د سترګو تر ځاره د ښامار په څېر په اوږده لیکه پوځ را روان و، د غرور موسکا یې پرشونډو وزغلېده، په لوړ غږ یې وویل:
توریا لیو! همدا وروستی کوتل پاتې دی، نور نو کوتلونه او پیچومي نشته، پراخ او سمسور کلي دي، غنیمتونه او شتمنۍ دي!
زموږ د بابا بابرشاه ارمان به پوره شي، له بنګاله تر آمو به یوه ټولواکي وي!
سریې د سرکار مال یې ستاسو غنیمت، مارش مارش!
د هندي پوځ سالار بیتهل داس پر خپلو چنګ بریتونو ګوتې ووهلې، پاس د ګړنګونو په منځ کې تېرې لارې ته یې وکتل، هغه د ژوند د خوږو ترخو ډېرې تجربې لېدلې وې،
ځوان شهزاده ته یې وویل:
والا حضرته! شپه را روانه ده، د کوتل تر سره لاره زیاته ده، همدلته به واړوو، سهار ته به پر کوتل واوړو چې د نا لیدلیو لارو له خطره خوندي وو.
ځوان شهزاده د خپل با تجربه قوماندان مشوره ومنله. فرمان یې ورکړ:
همدلته واړوئ!

پوځ د هندوکش په غېږه د کوتل په بیخ کې په اوږده لیکه واړول. ټول له اخ اوټوخه لویدلي وو، لاندې په کږه وږه دره کې اوس هم ځای ځای د اور تتې لنبې او شنې لوخړې ښکا رېدلې، له لمر لوېدو سره ساړه بادونه را والوتل چې پاس په ګړنګونو کې یې د وږیو لیوانو په څېر انګولا کوله، یخنۍ د هند د تودو سیمو پوځیان پر خپلو خیمو

ور ننه ویستل، ورو ورو تیارې راخپرې شوې او کاینات ټول د تیارو تر پردو
شول.

نیمه شپه د پوځ له خیمو غوغاوې پورته شوې، د ټوپکو ډزونه وشول، چیغې شو
لېوان دي، ځک اوسئ!

د شپې په زړه کې اورونه بل شول، وروسته معلومه شوه چې د یوې خیمې تر خ
اسونو او سنډاګانو پر شېرازه لیوان ور ننوتلي وو، څو تنو چې خیمې یې هلته نږد
ویل یو دوه نه وو، بس یوه رمه لیوان وو، پینځه اسونه او دوه سنډاګان یې داړلي
درې اسونو او یوه سنډا خېټې څېرې وې، دوه یې لږ ټپي وو. شهزاده وپوهېدو چ
دم او قدم دواړه په حساب دي. امیر الامرا یې احضارکړ، ترې وې پوښتل چې و
پهرې نه وې درولې، دوی چې تر اوسه په خپل زور او شمېر غره وو، پهرې یې
درولې، د لیوانو له چپاو وروسته یې کلکې پهرې ودرولې او بیا ویده شول.

شپه تېره شوه، د هند د نرمې هوا او هوارو ډاګونو زامن د هندوکش په ځېږه هو
شخ پخ شوي وو، په دې درې نیمو اونیو کې د درې میاشتو مزله په اندازه ستومانه
وو، لمر ښه راتود شو، د پوځیانو هډونه وغوړېدل، خېمې ټولې شوې، د پیلانو، او
او سنډاګانو کتارونه جوړ شول او پوځ پر مخامخ کوتل ور وخوځېد.

ماسپښین ؤ چې ایله د مخې سپاره د کوتل سرته وختل، لاندې د شاړو ناوونو
غځېدلې وه، د آبادۍ او کلیو نښه هم نه ښکارېدله، د ډیلي د ټولواکۍ پوځ پخه ش
یوه ناو داسې ځای ته ورسېد چې پکې واړوي او پاتې شپه تېره کړي.

اورونه بل شول، له لوټل شویو کلیو راوړل شوي څاروي د غنیمت او ولجې په نوم ـ
شول، دیګونه باندې او کبابونه وریت شول، د شهزاده مراد بخش د شاهي خیمې
شمول په خیمو کې د شراب او شباب محفلونه تاوده شول، په شاړو ناوونو کې
ګورګاني امپراتورۍ د عیش او نوش ننداري تر نیمو شپو په اوج کې روانې وې.

دوې ورځې وروسته د بغلان د ولس لوټ او تالان پیل شو.

د شهزاده مراد بخش تر قوماندې لاندې پوځ د سیلاب په څېر پر آبا دیو تېرېدو او شاته یې کنډواله کلي او سوځېدلي فصلونه پرېښودل.

مغلي لښکرې له څو لارو نهرین او سیغان ته ورسیدې، د نذرمحمد خان تر اټکل د هغوی شمیر ډېر زیات ؤ، د توپخانې په شمول یې هر راز وسلې درلودې. زیات پوځیان یې سپاره وو، د پیلانو ځانګړی کنډک یې و چې کرېږو به یې د انسانانو او ځارویو زړونه لړزول.

د نذر محمد خان زامنو او د اربابانو رضاکارو سرتېرو ګام پر ګام له هغوی سره جګړې پیل کړې، د بغلان په تخت غوري کې د خلیل الله خان او راجه رای سنګ پوځونه هم ور سره یو ځای شول. په بغلان او کندز کې څو ځایه د مراد بخش پوځ ته درنه مرګ ژوبله واوښته، په څو جګړو کې د ډیلي پوځونه پرشا لاړل څو توپونه یې هم بهرام خان ونیول، مړي ترې پاتې شول، خو د مغلو پوځ خاص نظم درلود، د یرغل ډله به ماته شوه، له ښي یا کیڼ لوري به سمدستي د خوندي پوځ بل تازه دم ټولی را مخکې شو، مړی او ټپیان به یې ټول کړل، مورچل به یېونیول.

نذرمحمد خان په بلخ کې و، له لرې یې د جګړې وضعه څارله، څلور میاشتې وشوې چې جګړې دوام درلود، اوس یې د جګړې په باب د نهیلی خبرونه ډېراوریدل. ګولی او باروت یې مخ پر خلاصید وو، له بخارا نه یې چې د څومره مرستې تمه درلوده هغه پوره نه شوه، خپل سکه زوی سترګې ترې واړولې، دغه مهال یو عجیب وضعیت شو ، سهار به یې واوریدل چې د شاهجهان د قومندانانو تر منځ جنجال راغلی، ماښام به خبر شو چې خپلو پوځیانو یې مورچلونه پرېښي دي او تښتېدلي دي. هغه پر خپلو کړو پښېمانه و خو اوس دې پښېمانۍ درنه بیه ترې غوښته. نذرمحمدخان اصفهان ته هم د تمې سترګې ور اړولې، خو له هغو یې هم ورو ورو تمه شکېدله.

*****

ریاب مراد پر یوې جگې غونډۍ ولاړ ؤ او د جگړې وضعه یې څارله، د جگړې
ومړۍ کرښه شنې لوخړې ولاړې وې، د ټوپکو ډزې پرلپسې رواني وې، خال خال
توپ ډزو ان د دوی تر پښو لاندې ځمکه خوځوله، جگړه له کنټروله وتلې وه.
پارېدلیو پیلانو هیبتناکې کریږې د جگړې له ډگره تر لرې لرې پورې اورېدل کدې
گورگاني پوځونه د بلخ ښنډو ته را رسېدلي وو، د گولیو او باروتو کمی یې نه درلو
شاته د کابل لارې پرانیستې وې، ارباب مراد د راتلونکې په باب په چورتونو کې ډو
ؤ، شاوخوا سیمې ته یې سترگې واړولې، غموونکې ننداره وه، لرې او نژدې له ډېرو ک
لنبې او دودونه اوچتېدل، په دې کې دوی ته د سراو مال زیان رسېدو، د مغلي پوځی
یوازې باروت او گولۍ وې خو د دوی کورونه او ککرې. ارباب مراد له ځانه سره
محاسبه کوله، سر یې په حسرت وخوځاوه.

د نذرمحمدخان پیغام پرون ورته رسېدلی ؤ چې نور د جگړې توان نه لري، اربا
پوهېدو چې د دښمن لاس ته د بلخ د ورلوېدو خبره که د ساعتونو نه وي نو د څو ش
خامخا ده. نذرمحمد خان ته یوازې د بلخ واکمني مهمه وه د وطن او ولس د برخلی
پروا یې نه درلوده، ارباب مراد پردې هم پوهېدو چې د پاچاهانو تر منځ دښمني تل
وي، هر لوري ته خپلې گټې ارځښت لري، د عام ولس پر سر هر وخت معامله کولا
شي. د شاهجهان او نذرمحمد خان تر منځ پخوا هم اړیکې وې او اوس هم هره ش
د دې امکان و چې تر منځ یې څه جوړ جاړی وشی. همدې ټکي ارباب مراد
ځوراوه، هغه نه له نذرمحمد خان سره دښمني کولای شوای او نه یې پر دوستی باو
و، پردې خپه و چې ولس یې په پردی جگړه کې قرباني ورکوي.

ارباب مراد ټکان وخوړ او له اوږدو چورتونو را ووت، خپل یوه تن ته یې غږ وکړ:

رمضانه! په احتیاط لومړۍ کرښې ته ور تېر شه، عمرخان او د جبهې نورو رضاک
قوماندانانو ته احوال ورکړه چې ډزې کرارې شوې دلته راشي، لومړۍ کرښه تر غون
شاوخوا یو نیم زر متره لرې وه، په منځ کې باغونه او کښتونه وو. د جگړې لومړۍ کر

ته پیغام ورسېد، ماښام په یوه کلا کې چې له اوسېدونکیو تشه وه د رضا کارو ډلو دوولس تنه قوماندانان د ارباب له زوی عمرخان سره د ارباب مخې ته ناست وو .

ارباب چې د دوی د مشر حیثیت یې درلود ورته وویل:

نذرمحمدخان د جګړې د دوام زغم نه لري، کارتوس او باروت هم ورسره نشته، هغه یې پر زوی عبدالعزیز خان نازېدو، خو له بخارا نه هم لازمه مرسته ورسره ونه شوه، بیا څه شېبه چوپ شو، د چراغ په رڼا کې یې هڅه کوله د هغوی په څېرو کې د خپلو خبرو اغیز وګوري له لږ چوپتیا وروسته یې په ګیله وویل:

نذرمحمدخان پر خپله ژبه هم ونه درېد، زه داسې نښې وینم چې هغه د ډیلي له ټولواکۍ سره د جوړ جاړي په هیله دی، په دې ډول جګړې ته موږ دوام نه شو ورکولای، خو دوام به په بله بڼه ورکوو.

ټولو په پوښتونکي نظر ارباب مراد ته کتل، نوموړي زیاته کړه:

ګومان کوم چې د شهزاده مراد بخش او نذرمحمدخان تر منځ به څه جوړجاړی وشي، بلخ به شهزاده ته تسلیم کړي ...خو موږ به د خپل ولس د خپلواکۍ او عزت د دفاع په لار کې جګړې ته دوام ورکوو.

د قطغن (فرخار) د رضا کارو مشر صادق خان وویل:

ارباب صاحب، تاسو حکم کوی موږ هرې قربانۍ ته حاضر یو. حاضرو کسانو په یوه غږ د هغه خبره ورسره تائید کړه

ارباب مراد وویل:

موږ دومره توان او وسایل نه لرو، خو سمه او غر راته د لاس د ورغوو په څېر معلوم دي.

په مطلب مې وپوهېدئ؟

هغوی په پوښتونکي نظر ورته وکتل.

ارباب زیاته کړه:

له نذرمحمدخان سره د بلخ د تخت او تاج غم دی، هغه پوه شه خپلې معاملې یې پوه شه، له موږ سره خو د خپل ولس د ژوند او عزت اندېښنه ده، موږ ته دغه جګړه د مرګ

او ژوند په معنا ده. همدا نن شپه به خپل ټول جنګیالي وشمیرو، ټول به په وړوکیو ګروپونو کې خپلو خپلو سیمو ته لاړ شي، یو له بله به احوال اخلو، د شاهجهان پر پوځ به له هر ناو، پټي او لښتي نه ګوزار کوو او د خرپ او ترپ جګړه به ورسره کوو.

د بغلان دوه ګروپه رضا کارلرو، عمرخان به له شلو تنو سره له هغوی سره لاړ شي، دوی به هڅه وکړي چې د مراد بخش او کابل تر منځ لارې یې بندې کړي، دښمن ته د هر ګړنګ او ناو ساتل او د هر وړوکې ګروپ ځپل ناممکن دي، تاسو به وګورئ چې ان شا الله له بدخشان تر مزاره به دښمن تر سختو ګوزارونو لاندې د تیښتې لاره ورکه کړي.

د ارباب مراد او رضارکارو قوماندانانو تر پرېکړې وروسته قوماندانان لومړی کرښې ته ستانه شول، سبا ته ځای ځای لږ جګړې او خورې ورې ډزې وې، ماښام عمرخان پلار ته خبر راوړ چې د بهرام خان او سبحان قلي خان ترمنځ لانجه راغله.

پلار یې په اشاره وویل چې څه خبره وه؟

عمرخان وویل:

نذرمحمدخان خپلو زامنو ته پیغام را استولی و چې له شهزاده مرادبخش سره اړیکه ونیسي، او نور جګړه ګټه نه لري.

بهرام خان د سولې او تسلیمۍ سره مخالفت وکړ، سبحان قلي له مغلو سره اړیکه ونیوه نږدې وه لویه لانجه پیښه شي، خو بیا بهرام خان خدای خبر پر کوم لوري لاړ خبره بېرته سړه شوه، تېر ماسختن له بلخه احوال راغی چې نذرمحمدخان د میمنې په لور وخوځېد.

ارباب مراد خپل زوی او خاص نوکر رمضان ته یو لړ سپاښتنې وکړې اوله خپلو پنځوسو تنو وسله والو سره د البرز غره په لور روان شو .

*****

عمرخان له دیرشو تنو ملګریو سره د هندوکش (ګردنه کوتل) سر ته ورسېد، دا د کابل او بلخ تر منځ له څو لارو څخه یوه وه چې پلیو او سپرو به پرې تګ راتګ کاوه

عمرخان چې د کوتل سرته ورسېد، اوږده ساه يې واخيسته، اسونه يې ستومانه او په خولو کې لانده خيشته وو، د کوتل پر سر د شمال سړي څپې دوی اړ کړل چې د لارې تر څنګ د يوه لوی کمره مخې ته لمر ته ايسار شي. هرلوري ته چې څومره سترگې کار کولای شي گړنگونه دي، تورو کمرونو يو د بل پر اوږو سر ايښی او پسې غځېدلي دي، اوږه اوږه غر او تر منځ يې ناوونه دي چې شمار يې گران دی، دلته د ابادۍ نښه هم نشته، د اسونو او پليو له گڼو پلونو ښکارېدله چې د ډيلي پوځ پر همدې لاره تگ راتگ کوي. عمرخان له لږ دمې وروسته ملگروته وويل:

اسونو ته مناسب ځای وگورئ! بيا يې شمال لوري ته لاس ونيو زياته يې کړه:

هغه لوري ته مناسب ځای وگورئ، که شاتگ ته اړ شو نو بايد بغلان لوري ته ځانونه وباسو، بيا يې يوه په عمر پوخ سړي ته چې د افسانوي پهلوانانو په شان څېره او بدن يې ۀ وويل:

رسول خان اکا ته راشه وگوره کوم ځای راته مناسب دی؟

هغه په درانه غږ ځواب ورکړ:

وراره ! د دې گړنگونو هره ډېره مورچل دی، همدغه د کوتل سرڅنگه دی، دواړو لوريو ته هم دښمن څارلای اوهم مناسب گوزار ورکولای شو.

عمرخان چې د لارې پر سر ودرېد دواړو لوريو ته يې وکتل، د رسول خان مشوره يې خوښه شوه، دواړو لوريو ته تر ډېره ځايه لاره د دوی تر سترگو لاندې وه ، د بغلان اړخ ته دوه ځايه وړاندې لاره معلومېده چې دوی د دښمن شمېر هم ښه معلومولای شوای، د پروان پر لور مخ ځوړې لاره تونده وه .

عمر خان وويل:

اکا مشوره دې ډېره پر ځای ده، ته گوره دلته چې دوو تنو مورچل نيولی وي زر تنه نشي پرې ورختلای.

رسول خان د لاندې سيمې اوسيدونکی او د خپلو رضا کارو جنگياليو مشر ۀ، گورگاني پوځ ته يې زړه له غوسې پړسېدلی ۀ، کابو دوې مياشتې وړاندې يې نږور، ميرمن او يو دوه کلن لمسی ور وژلي وو، لويه کلا او فصلونه يې ورته سوځولي وو.

بیا یې عمرخان ته وویل:

وراره ! د اسونو لپاره ډېر مناسب ځای د خړ کمرناو دی!

بیا یې د بغلان لوري ته لاندې کوم پنځه شپږ سوه متره لرې یوې اوږې ته لاس ونیو
هغه اوږه وینې! تر هغو سل دوه سوه متره لاندې چینه ده خوږې اوبه لري، موږ ورته
خړکمر ناو وایو، د پسرلي په موسم کې موږ کورني څاروي دلته راولو. د شپې تېرو
ځایونه هم لري.

عمرخان وویل:

اکا داسې ځای وي چې که د دښمن شمېر زیات وي موږ پکې ایسار نشو!

رسول خان په خندا وویل:

وراره، دې ته مې پام دی، له خړکمرناو نه لاندې سیمې ته څو لارې تللې.

وروسته د رسول خان اکا دغه مشوره هم د ټولو خوښه شوه، دغه ورځ تېره شوه، دو
د کوتل له سره خړکمرناو ته راښکته شول، د شپې تېرولو لپاره یې د سیمې د پووندو
ځایونه صفا کړل شپه تېره شوه، سهار دوی بیا د کوتل سر ته وختل، تنکۍ غرمه یې
بغلان لوري ته یو وړوکې کاروان ولید، کاروان چې د غره تر بله اوږه را واوښت ص
معلومېدل یوولس اسونه وو چې پر دوو یې د سپرو پر ځای بارونه معلومېدل، یو ساعت
وروسته کاروان له وروستي کنډوه را واوښت، چې څومره د کوتل سرته نژدې کېد
دومره د عمرخان او رسول خان دوی زړونه په سینو کې ډېر درزېدل.

اوس له ورایه ښکارېدل چې نهه تنه وسله وال دي، تورې ټوپکونه او پوځي جامې یې
پردې گواه وې چې د شهزاده مراد بخش کسان دي، یو پر سپین اس سپور یې په مخکې
روان ؤ، د هغه پرخړه کورتۍ له ستوریو او پټو ښکارېدل چې د دې کاروان مشر دی.
عمرخان چې له رسول خان نه څو گامه لرې ؤ لږ هغه ته ور نژدې شو وې ویل:

اکا نهه تنه دي مقامت نشي کولای ژوندي به یې ونیسو احوال به ترې واخلو!

هغه چې د کسات په جوش کې ؤ ورته وې ویل:

پرې مې بږده چې زړه مې پرې یخ کړم!

ـ اکا پام کوه، تر وژلو یې ژوندي نیول راته په گټه دي ډېر رازونه ترې اخیستلای شو!

ـ چې ژوندي یې ونیسو بیا یې کله وژلای شو، زما د کورنۍ کسات ؟

عمرخان ورته وویل:

اکا د هغوی کسات به خامخا اخلو، دا خو وروستی کاروان نه دی.

رسول خان اکا په نه زړه راضي شو، بیا عمرخان خپلو ټولو ملګریو ته حکم ورساوه چې هغوی به ژوندي ونیسو.

چې سپین اس د کوتل سر ته تر لس ګامه رانژدې شو عمرخان او رسول خان له ټوپکو سره په مخه کې ورته ودرېدل، غبږ یې پرې وکړ:

وسلې وغورځوئ، که شور وخورئ ټټر به مو غلبېل شي!

سپاره هک پک شول، یوه تن یې له منځه غوښتل د اس مخه بېرته وګرځوي، عمرخان یو ډز پرې وکړ چې ګولۍ یې له غوږ سره تېره شوه، هغه له وارخطا یې د اس له شا ځان را وغورځاوه، ټوپک لرې ترې ولوېد، سپاره وپوهېدل چې په دام کې لوېدلي، له اسونو پلي شول او وسلې یې وغورځولې.

تر ماسپښین پورې دوی ټول د خړ کمر ناو پر چینه را ټول وو، د کاروان قوماندان عثمان بیګ د مرادبخش خاص سړی ؤ، د دوی له خولې یې واورېدل چې یوه اونۍ وړاندې مرادبخش له خپلو پوځي قوماندانانو سره د بلخ شاهي ماڼۍ ته ننوت، عثمان د بلخ د فتحې زیری او د شاهي ماڼۍ وریښمینې غالۍ راوړې وې چې د ډیلي دربار ته یې ورسوي.

په راتلونکې یوه اونۍ کې درې خلې همدغسې وړوکي کاروانونه د دوی لاسو ته ولوېدل. وروستی یې د مراد بخش د پوځ دیارلس کسیز ګروپ د سوات د یوسفزیو پښتانه وو.

هغوی د مراد بخش دهندي پوځ له یوه ګروپ سره لاس او ګریوان شوي وو چې پنځه تنه یې ترمنځ وژل شوي وو، په دې ګروپ کې دوه تنه ټپیان هم وو.

څو ورځې وروسته د ارباب مراد وړاندوېینه رښتیا شوه له بدخشانه تر بلخه د شهزاده مراد بخش پوځیان تر غلچکي بریدونو لاندې راغلل، د یوې میاشتې په تېرېدو د هند

گورګاني پوځ دومره تر ګوزارونو لاندې راغی چې اړشول په بلخ او بدخشان کې دوو ځايونو ته راټول او دفاعي حالت غوره کړي.

دغه مهال نذرمحمد خان له ميمنې او زوی يې عبدالعزيز خان له زرګونوازبکو پوځيانو سره له بخارا نه را واوښت، سره له دې د ډيلي د زرګونو پوځونو او درنو توپونو پر وړاندې د نذرمحمدخان او عبدالعزيز پوځ په نشت شمار وو، خو د ارباب مراد د نامنظمو وړوکيو ډلو غلچکي بريدونوله مغلي پوځونو لاره ورکه کړې وه، د شهزاده مراد بخش غرور مات شوی و، اميرالامرا عليمردان خان، نجابت خان، د راجپوتو قوماندان بيټهل داس، د خوندي ځواکونو قوماندانان خليل الله خان، راجه رای سنګ، او راجه جي رام، ټول له يوه نوي حالت سره مخ شوي وو، دوی د بلخ د فتحې په وياړ له ټولواک شاهجهان نه ډېر لوی انعامونه اخيستي وو، خو اوس له داسې دښمن سره لاس او ګريوان وو چې نه يې په چاره پوهېدل او نه يې د داسې وضعې اټکل کړی و.

*****

څو مياشتې کېدې چې د بلخ په شاهي ماڼۍ کې د نذرمحمدخان پر ځای د ډيلي مغلي شهزاده مراد بخش اوسېدو، د ماڼۍ ظاهري ځل بل له نوي واکمن سره ډېر زيات شوی و، وسله والې منظمې پهرې زياتې شوې وې، د دکن او راجستان د مشهورو سندرغاړو او نڅاګرو ډلې پکې پنډې وې، د شراب او شباب لوبې پکې تودې وې، خو چې کله د شهزاده مراد پر پوځونو بريدونه ډېر شول د شاهي ماڼۍ خرمستۍ او مېلې هم ور سره پيکه شوې، شهزاده مرادبخش يوه ورځ خپل قوماندانان را ټول کړل، د شاهي ماڼۍ په لوی ديوان کې د ډيلي د ټولواکۍ نوميالي پوځي مشران راټول شول، دوی هر يوه يو عمر په جګړو کې تېر کړی و، له بنګال او دکن تر کشميره، له کندهار تر بلخه د جهانګير او شاهجهان د پوځ برياوې د همدې قوماندانانو پر مټو ګټل شوې وې، په زرګونو کلي يې له خاورو سره برابر کړي وو، په لسګونو زره عام خلک يې د دښمن په نوم وژلي وو، د لوټ او تالان داسې داستانونه يې پرېښي وو، چې چنګېز به په قبر کې ورته ګوته په غاښ شوی وي. خو دوی چې تر هندوکش دې لوري ته را اوښتي وو، له يوه داسې

ولس سره لاس او گریوان شوي وو چې هر کس یې د خواجه نظام، ایمل خان او پیر روښان په څېر و، د شاهي تالار چوپتیا ښودله چې د پیلانو، درنو توپونو او زرگونو پوځیانو خاوندان د وخت له ستر ازموینښت سره مخ دي.

شهزاده غاړه تازه کړه، قوماندانانو هغه ته وکتل، په درناوي یې سرونه خم کړل، د هغه غږ د تالار په چت او دیوالونو کې را غبرگ شو:

د هند د گورگاني ټولواکۍ ساتونکیو عزتمنو قوماندانانو! په خیر راغلی، نن درسره یوه خاصه مشوره لرم.

شهزاده مرادبخش بیا څو شېبې چوپ و لکه چې د خپلې مدعا د بیان لپاره مناسب الفاظ او توري لټوي، بیایې زیاته کړه:

ما اعلیحضرت ضل الهي ټولواک ته لیک استولی دی او ترې غوښتي مې دي چې نور دلته په بلخ کې ډېر ستومانه شوی یم، زه نور دلته نشم پاتې کېدای.

قوماندانان هک پک شول، امیرالامرا علیمردان خان جرئت وکړ:

والاحضرت شهزاده! تاسو خو په دې باب له موږ سره هېڅ مشوره هم نه ده کړې.

هغه سوړ ځواب ورکړ:

مشورې ته مې اړتیا نه لیده.

نور ټول چوپ شول، راجه بیټهل داس چې د راجپوتو د اوه زره پوځ قوماندان و وویل:

چې مخکې مشورې ته اړتیا نه وه اوس له موږ څه غواړې؟

شهزاده چې د غوسې او پښېمانۍ گډ احساس یې درلود وویل:

ما دا شخصي مساله بلله ځکه مې مشوره لازمه نه بلله، خو اوس چې غواړم مشوره در سره وکړم هغه ستاسو سره اړه لري. زما پر ځای څوک مناسب دي چې دلته راشي؟

خلیل الله خان وویل:

که ستا پرېکړه وروستۍ وي، دا بیا هم د ضل الهي اعلیحضرت خوښه ده چې څوک لازم بولي، زه خو داسې فکر کوم چې اعلیحضرت به په دغه وضعه کې مناسبه ونه بولي چې تاسو له دې ځایه لاړ شئ. په هېڅ صورت به اجازه در نه کړي، نور نو ستا خوښه.

غونډه له څه خاصې پایلې پرته پای ته ورسېده، د خلیل الله خان خبره ریښتیا شوه سب
د ټولواک شاهجهان استازی له شاهي پیغام سره را ورسید، ټولواک د شهزاده په د
غوښتنه سخت په غوسه شوی و، شهزاده ته یې لیکلي وو چې ته باید تر امو واوړې
که توران فتحه کړې نو له هندوکش تر امو د ټولې سیمې والي به دې وټاکم.

شهزاده مراد له دې حکم او ژمنې سره بیا هم له خپل پلار څخه وغوښتل چې په ه
صورت هم نور په بلخ کې نه پاتې کیږم، پردې سربېره هغه د امو او میمنې له لوري خ
قوماندانان بهادرخان او اصالت خان هم را وغوښتل. شهزاده مراد د حکومتولی وړتیا
شهامت نه درلود، واک او سیمه یې پخپل سر خلیل الله خان ته وسپارل او کابل ته ستو
شو.

د شهزاده مرادبخش له دې کار سره د مغلي پوځ مورال سخت ولوېد، د ارباب مراد
نذرمحمدخان ځواکونو بریدونو ته زور ورکړ، د ډیلي مغلي پوځ له بلخ او ځینو نو
مهمو برخو نه په شا شو، شاهجهان د شهزاده مراد پر ځای خپل بل زوی شهزا
اورنګزېب چې د ګجرات والي و را وغوښت او د بلخ او بدخشان د والي په توګه ی
وګوماره. له شهزاده مراد نه یې هغه ټول القاب او امتیازات واخیستل چې د شهزاده
توګه یې تر اوسه درلودل، احوال یې ورکړ چې مخې ته یې رانشي.

اورنګزیب د پروان له لارې له خپلو دوه زره خاصو پوځیانو سره په نهرین کې له پو
سره یو ځای شو.

اورنګزېب د شاهجهان درېیم زوی او تر ټولو زړه ور او جنګیالی شهزاده و، هغه
تنکی ځوانی کې یو ځل له بهکر نومي مست پیل سره هم ډغره وهلې وه چې
شاهجهان د بهادر لقب ور کړ.

نذرمحمد خان بلخ ته راغی، ارباب مراد له بدخشانه تر بلخه په ولس را وګرځېد او
بلخ ته راستون شو.

جګړه بیا د بلخ څنډوته راورسېدله، د اورنګزیب توپچي ځواکونو به له سهاره تر تیاره ماښامه پر کلیو او درو د توپونو اور بل کړی ؤ. پراخه سیمه په دودونو او د باروتو په تریخ بوی کې ډوبه وه. له مازدیګر وروسته به د غونډیو په لمنو کې هره ورځ نوي قبرونه کیندل کیدل او له کلیو او مورچلونو د هدیرو په لور د جنازو بهیر روان و.

اورنګزېب خپل پوځ له سره منظم کړ، د پوځ د زړه قومانده یې په خپل لاس کې واخیسته، امیرالامرا علیمردان خان یې د ښي اړخ او سعیدخان ظفرجنګ یې د کیڼ اړخ لپاره وګومارل، د مخې پوځ مشري یې دلاور خان ته وسپارله.

نذرمحمدخان بیا له بلخه د میمنې په لور لاړ یوازې د ارباب مرادخان د وړوکو ډلو غلچکي بریدونو دوام وموند.

*****

....لمر د لوېدیځو غرونوشاته ډوب شو، لکه د دې ولس د برخلیک ژوندی تصویر د اسمان څنډو دوینو رنګ غوره کړ، ورو ورو هر څه د تیارو تر پردو لاندې پټ شول، د اورنګزېب پوځ په لوی ډاګ کې دومره غځېدلی و چې څومره سترګو څار کولای شو، له شاو خوا څو کلیو نه بیا هم لنبې او لوخړې اوچتې وې، د پوځ له پړاوه د پوځیانو د مستیو او خوښیو غړونه اوچت وو، هغوی ته هره ورځ بریا وه هره شپه یې د میلو او مستیو په بدرګه نماځله.... خو د لوی پوځي پړاو په یوه ګوښه کې د کابلي پوځیانو په خیمو کې بیا درنه چوپتیا وه.

د کابلي پوځیانو یو قوماندان ځوان امام الدین و چې د پینځو سوو تنو قومانده یې پر غاړه وه، هغه په خپله خیمه کې یوازې په چورتونو کې ډوب ناست و چې د خیمې پرده پورته شوه، عرفان چې اوږد کوټ یې اغوستی و ور ننوت، امام الدین مخې ته ورغی:

راځه انډیواله، په خیر راشې. دواړو لاسونه سره ور کړل، تر لنډ جوړ په خیر وروسته.
یو بل ته مخامخ کیناستل، امام الدین وویل:
ډوډی دې خوړلې ده؟

ـ هوکې!

امام جگ شو وې ويل:

لږ مېوه به را واخلم.

ځوان وويل:

راځه اشنا وروسته به ور سره گورو شپه خو پر سر ولاړه ده.

امام الدين د خيمې له يوه کونج نه ممېز او مات کړي بادام را واخيستل، راغی په م
کې يې کېښودل، په موسکا يې وويل:

دا مې د مور سوغات دی، خدای يې دې مل شي.

عرفان(امين) وويل، د خيمې پر منځ ډيرک يو د تيلو چراغ را ځړېدو، په تته رڼا ک
يې دواړو يو بل ليدای شول. د هندي او کابلي پوځيانو ترمنځ خره ښه نه ځړېدل، يو ب
ته به په ښنگ وو، خو د عرفان او امام الدين ترمنځ سلام کلام سوکه سوکه په تو
يارانه بدل شو، عرفان د هند د هريانې اوسيدونکی او د هندي پوځ د سپرو په ډله کې
چې قوماندان يې د خانجهان خان په نوم يو کشميری و، د عرفان نيکه له غزني نه
سلطان محمود غزنوي له پوځ سره هند ته تللی و، چې بيا همالته پاتې شوی و، بابا ي
له دوو ورونو سره د شېر شاه سوري په پوځ کې شامل وو. امام الدين د کابل د بين
حصار اوسيدونکی او د ملک گلاب الدين زوی و، پلار يې د پکتيا او کابل له مخور
او بانفوذه کسانو څخه و.

د خيمې پر ډيرک د راځړېدلي څراغ په تته رڼا کې دواړه يو بل ته نږدې ناست و
عرفان چوپ و، چوپتيا يې امام الدين ته مرموزه ښکاره شوه، پر اوږه يې ټپ ورکړ:

اشنا وايه کنه! ولې چوپ يې.

ـ نن يوه بده پېښه شوه!

ـ څه پېښه؟

ـ د نثاري ډله پر يوه کلي ور ننوتل، لوټ او تالان يې پيل کړ....

امام الدين سر وخوځاوه:

ياره دا خو ستاسو د پوځونو ورځنی چاره ده .

- نه، ته غوږ شه، نن بله بده پېښه وشوه.

امام الدين لږ هغه ته ور نږدې شو:

وايه نو څه وشول؟

.... نثاري او څو کسان يې يوه انگړ ته ور ننوتل، هلته يوه پيغله وه، دوی بد نيت ورته درلود، هغې له خپلې مور سره ځان کوهي ته ور وغورځاوه.

- مړې شوې.

- هوکې دواړې مړې شوې، بيا يې د هغوی ورور او پلار د کلي په منځ کې پر برچو ووهل او په ډېره بې دردۍ يې ووژل. دوو تنو چيغې کړې، هغوی يې هم ځای پر ځای په گوليو غلبيل کړل.

دا ټول تا پخپلو سترگو وليدل؟

ومې ليدل خو د ليدو توان مې يې نه درلود. امامه! په والله چې ځان د همدغو ځناورو قاتلانو په څېر راته ښکاره شو. دا موږ په څه مرداريو اوښتي يو. زما خو نور زغم ختم دی.

امام الدين په چورتونو کې ډوب شو، تر ډېره يې د خپل هندي انډيوال خبرې نه اورېدې او له دې ځايه ډېر لرې تللی و. ....گوره بچيه! تا زه د ولجو لپاره نه لېږم، يو دروند مسووليت در سپارم، ته د قام د يوه مشر زوی يې، د يوه داسې پاچا له لښکر سره روان يې چې ستا هېواد او ولس ته د دښمن په نظر گوري، ته او نور ملگري به دې د دې پاچا د لښکر له شره خپل ولس خوندي ساتی.

ما والي سعدالله خان ته هم سپين ويلي چې ستاسو کار د بلخ له واکمنو سره دی، پر ولس به کار نه لرئ.

ځوان امام الدين هغه مهال د خپل پلار ملک گلاب الدين د خبرو پر مفهوم نه پوهېدو، خو اوس يې هغه دروند بار احساساوه چې پورته کول يې د هرچا په توان کې نه دي.

د امام سترګو ته د ختېنو دیوالونو تر منځ په انګړ کې د پلار مور، لور او زوی د مړیو
ننداره ولاړه وه، چې کلیوال پرې ور ټول دي. ټول همدغه یوه پوښتنه کوي چې په کومه
ګناه یې ووژل؟

د امام پام شو چې عرفان یې پر اوږه لاس ایښی او خوځوي یې.

هغه سوړ اسوېلی وکړ، عرفان وویل:

نور خو دې نثاري ته زما حوصله ختمه ده، وابه وریې!

امام الدین وویل:

نثاری څوک دی؟

نثار بټ په ختټه کشمیری د هندي سپرو څواکونو د زر کسیزې ډلې مشر دی، د ټولو سپرو قوماندان بیا خانجهان خان دی، اورنګزېب ډېر حساب پرې کوي، په هېڅ بې ناموسۍ بند او واز نه دی، ښځو ته لاس اچول، وژل او لوټل یې میراثي دنده ده. له پښتنو سره ډېره بده عقده لري. یو بل تر لاس لاندې ملګری هم لري چې کټ مټ دده په خوی او بوی دی، مشتاق نومېږی. بیا یې سر وخوځاوه...امامه وروره! ما په تیرا کې د دې بې ناموسو داسې جنایتونه لیدلي چې پر خوله مې نه راځي.

امام الدین وویل:

هغه ورځ یې چې له کلي نه یوه میرمن را تښتولې وه او بیا په لاره کې د هغو پر سر لویه شخړه پېښه شوه.....

عرفان یې خبره ور غوڅه کړه، هغه هم همدغه بې دینه و، همدغه نثاري بدنام ښځه را تښتولې وه خلک پسې راغلل او په نیمه لار کې یې سره و ډزول، نثاری ترې بچ شو خو دوه تنه یې ور ووژل، کلیوال یې د ښځې په شمول ټول شهیان کړل.
اورنګزېب پردې پېښو نه خبرېږي؟

خبرېږي خو د پردی خور او لور څه پروا لري هغه ته هم خپل پوځي قوماندانان مهم دي، که یې د خلکو په وینو لاسونه سره وي او که یې د عزت لوټماران.

....انډیواله زما خو چې پر نثاري او مشتاق هرچېرته لاس بر شو درته وبه یې غځوم.

ـ اشنا ته به یې کوم یو غځوې!

ـ رېښتیا وایې یوازې نثاربټ حرامي خو نه دی. بیا یې امام ته وکتل وې ویل:

وروره زه چې کومې خبرې درته کوم په زړه کې خو به دا نه درتیرېږي چې دروغ وایم؟

ـ نه اشنا ما په خپل وطن کې د دې پوځیانو جنایتونو دومره کیسې اورېدلې چې اوس هېڅ خبره راته مبالغه او دروغ نه ښکاري.

عرفان وویل:

ما چې څومره لوستي او اوریدلي د لویو پاچهیو تاداو د بې وزلو انسانانو په وینو او غوښو ایښی دی، خو د بابرشاه د نبیرې دغه منافقت مې ډېر ځوروي چې ځانونه د پیغمبر امتیان او د انسانیت خواخوږي معرفي کوي.

امام خپل انډیوال ته په ځیر وکتل خو څه یې ونه ویل. هغه زیاته کړه:

له بنګال تر بلخ او له کشمیر تر کندهاره دغه پراخ وطن نن د دوی د شهزادګانو او پنځوس شپېتو پوځي وفادارو قوماندانانو مال غنیمت دی.

امام ته د خپل انډیوال خبرو خوند ورکړ. لږ نور هم ور نږدې شو. په موسکا یې ترې وپوښتل:

مال غنیمت څه معنا!

ـ ګوره اشنا! ټولواک هر کال دوه ځله خپل تخت ناستی نمانځي. یو خل د سپوږمي په حساب بل ځل د لمریز حسابه. هرکال د خپلو زامنو او لوڼو چې تر لس دوولسو اوړې همدغسې غبرګې زوکړې نمانځي. د نوروزاو اخترونو نمانځنه پرې د پاسه. نمانځنه څه ده په شپو شپو خرمستی او مېلې. خپلو پوځي مشرانو او اردلیانو ته په جګړو او لوټماریو او باج کې راټولې کړې په لکونو روپۍ او لوی جایدادونه وربخښل. دا له همدغه بې وزله ولس نه پوره کیږي چې مخکې مې درته یاد کړ.

همدغسې شاهجهان خپله د زوکړې کلیزه د تلادان جشن په نوم په لمریز او سپور
حساب دوه ځله نمانځي چې په هغو کې د تولواک د وزن په اندازه سره او سپین بیا
خپلو خلکو ویشي.

امام وویل:

عرفان خانه انډیواله! دا نورې ناروا وې خو پر خپل ځای پر بې وزلو د سرو او سپ
وېشل خو یې ښه کار دی.

ـ دا خو دوی له خپله جیبه نه ورکوي، له سلگونو زرو بې وزلو د خولې مړی اخلي
زر دوه زرو یې یوه برخه وویشي، بیا دا ډنډورې وهي چې تولواک پر خپل رعیت ډ
مهربانه دی. دا څه مهرباني ده سل لوټ کړه، یو ونازوه!

بیا یې وروځې کش کړې زیاته یې کړه:

اشنا دا ټول د ریا کارونه دي، بس شاهي کورنۍ ته د نږدې کسانو او د هغوی د اردلیا
پینځه واړه گوتې په غوړو کې دي، نور ټول ولس له مرگ او لوږې سره لاس او گریو
وي.

ددې ابلیسي واکمنۍ له دایرې نه چې څوک د ځان ژغورلو هڅه کوي، پر هغوی
باغي او واجب القتل فتوا ورکړي. د ایمل خان او پیر روښان گناه خو همدغه وه کنه!

ته دا په یاد لره که دواړه ژوندي وو په خپلو سترگو به د اورنگزیب او شاهجهان اسلا
ووینې. په ایمان یې وایه دوی ته خپل تاج او تخت گران دی او که د سپېځلي پیغم
لار ښوونې او احکام؟

ورونه او وریرونه وژنه، عام خلک لوټ کړه چې ستا تخت او بخت او ستا د اردلیانو
خرمستیو سامان پوره شي. ایا د اسلام احکام همدغه دي؟ ... عام خلک هم دومره
عقله پلي دي چې د زرگونو تنو وژل او بربادي نه ویني، یو چاپلوس اردلي چې پا
نازولی وي، هغه ویني.

امام الدین په لاس اشاره ورته وکړه چې لږ کرار.

عرفان سر وخانده په بېزاره لهجه يې وويل:
په والله چې نور ژوند را باندې بوج دی. بس دغه مې ارمان دی چې دغه نثاري ډاکو خو جهنم ته واستوم.
امام هغه ته پر اوږه ټپ ورکړ:
عرفانه! ورور دې په دې کې در سره دی. هغه ته يې قول ورکړ، زياته يې کړه.
دا د مېړه قول دی، که مې سر درومي هم درسره ولاړ يم.

د پړاو له منځه لا د مستو نغمو او سندرو غږونه راتلل، دغو دوو ځوانانو چې پر وينه سربېره يې دنياوې هم تر ډېره سره شريکې وې، له يوبل سره نوې ژمنې او لوظونه وکړل.

*****

په درې اونيو کې د عرفان او امام ډله تر اتو تنو پورې رسېدلې وه، په دوی کې دوه تنه د عرفان دوی د سپروله پوځ څخه وو، نور يې د امام ملګري وو، دوی پر قران لاسونه کېښودل چې د اورنګزېب د لوټمارانو او قاتلانو مخه به نيسي او خپل ملګري به نه افشا کوي.

يوه اونې وروسته اورنګزېب له پړاوه کوچ وکړ، د امام او عرفان ګروپ د همدې ورځې په انتظار وو، قضا ماسپښين د پوځي کاروان د لارې تر څنګ په يوه کلي کې د ټوپکو سختې ډزې پيل شوې، چې تر څه وخت وروسته بېرته کرارې شوې. يو ساعت وروسته اتلس جنازې د اورنګزېب پوځيانو پر اوږو کړې وې، پر کلي يې د توپونو خولې ور واړولې لوړ مازديګر چې پوځ په يوه دښته کې واړول او خيمې يې درولې، دغه خبر خوله پر خوله ګرځېدو چې د پوځ د سپرو پر ډله په بريد کې د نثاريټ پوځيانو ته مرګ ژوبله اوښتې، خو بريدګر په کلي کې ورک شول، وړاندې د هماغه کلي پر سر توره لوخړه ولاړه وه.

دوې ورځې وروسته نيمه شپه د پوځي پړاو په منځ کې څلورو خيمو اور واخيست، لويه غوغا پورته شوه، عجيبه دا وه چې د شاوخوا خيمو د اوبو منګي او لوښي ټول تش

وو او اوبه یې تویې شوې وې څو یې اوبه راوړې او اور یې واژه، اته تنه پکې لولپه شول. لس تنه نور هم څوک ډېر څوک سرسري سوځېدلي وو، په سوځېدلیو خیمو کې یوه د نثاربېټ د نژدې ملګري او مرستیال مشتاق وه، نوموړی هم چې په دې شپه سخت نشه و پکې سوځېدلی و خو ژوندی پاتې شو. د نثار بېټ خیمه د اورنګزېب خیمې ته نژدې وه هلته به شپه او ورځ پهرې درېدلې وې.

اورنګزېب ته دغه پېښې ناځایې او عادي نه ښکارېدې، سهار یې په خپله خیمه کې قدم واهه، یوازې خاص نوکر نذربیګ د تخت تر څنګ ولاړ و او د شهزاده ګامونه یې شمېرل چې په لویه خیمه کې له یوه سره تر بل پورې څوړند سر په چورتونو کې ډوب روان و.

لږ خنډ وروسته قوماندانان او سلاکاران یو پر بل پسې راغلل، له فرشي سلام وروسته ټول پر خپلو خپلو ځایونو کیناستل، اورنګزېب په غوسه هغوی ته وویل:

د ډیلي ټولواکي مو وشرموله، اتلس جنازې مو پورته کړې قاتل یې ورک دی، اوس مو د خیمو په منځ کې اورونه بلیږي، سبا ته به په خوب کې د ټولو پر مریو چاړه تېره وي، د نذرمحمدخان پوځیانو ته حاجت نشته په تاسو کې د ننه خپل دښمن درته بس دی.

بیا یې امیرالامرا علیمردان خان، د پوځ د مخکنۍ ډلې قوماندان بهادرخان، د راجپوتو قوماندان راجه بیتهل داس، راجه رای سنګ او نورو ته وکتل، وې ویل:

بیا داسې پېښې تکرار نشي که وشوې تاسو په دار ځړوم. همدا مې وروستۍ خبره ده.

اورنګزېب دا وویل او هغوی ته یې د لاس په اشاره د وتلو حکم وکړ، څو شیبې وروسته په لویه خیمه کې اورنګزېب او خاص نوکر یې یوازې پاتې شول.

تر دې وروسته د پړاو د ننه پهرې او ګزمې ډېرې او سختې شوې، د شپې نوم حتمي شو، له ماښام وروسته د بیلابیلو کنډکونو تر منځ خپلمنځي اړیکې هم کمې شوې، تر یوې میاشتې بیا کومه پېښه ونه شوه.

په دې موده کې د بلخ له ځواکونو سره نښتې ورځنۍ معمول و، د بلخ ځواکونه ورځ تر بلې کمزوري کېدل، هغوی په شا تلل، څو ورځې وروسته به اورنګزیب هم خپل پړاو بدلاوه، د بلخ په لور به وړاندې لاړل او په نوي ځای کې به یې واړول.

میاشت وروسته یو ماښام د توپچي په کنډک کې باروتو اور واخیست، د سترګو په رپ کې شاوخوا خیمو ته د باروتو لنبې او سپرغۍ ورسیدې، اوه خیمې بشپړې وسوځېدلې، درې توپونه او په سوځېدلیو خیمو کې وسلې او نور توکي د لنبو خوراک شول.

یوه اونۍ وروسته د نثاربېګ یوه ډله پوځیان یوه کلي ته ښکته شول، تر ماښامه را ستانه نه شول، سبا ته یې د هغه کلي په شمول شاوخوا کښتونه او د غونډیو ناوونه ولټول، خلک داسې ترې تم شول، لکه په ځمکه چې ننوتلي وي.

اورنګزېب داځل نه شورا را وغوښته او نه یې قوماندانان ملامت کړل. هغه له سهاره تر پخې غرمې په خپله خیمه کې یوازې و، غرمه مهال یې خپل خاص نوکر نذربیګ ور وغوښت، هغه ورغی له فرشي سلام وروسته په ادب لاس په نامه ودرېد، په عجز یې وویل:

حکم کوه باداره!

اورنګزېب خپل نوکر ته سر تر پایه وکتل، پر شونډو یې نرۍ موسکا تېره شوه وې ویل:

بیګه! دغه د پوځیانو د ورکېدو ماشوره به راته حل کوې. لاړ شه د پوځیانو خولې بوی کړه، دا خو ډېره عجیبه ده چې پوځیان ورکیږي، په پړاو کې اورونه بلیږي او هیڅ درک یې نه لګیږي.

نذربېګ د لسو وزیرانو عقل درلود اورنګزېب هسې خوشې د خاص غلام ویاړ نه و ور بخښلی، د شاه جهان د دربار له وزیرانو ډېر هوښیار و هغه شهزاده ته لاس په نامه ودرېد، پر ملا خم شو:

په سترګو صاحب! بیا په خپل ماموریت پسې ووت.

دوې ورځې وروسته نذربيگ د اورنگزېب په مخکې ولاړ و له فرشي سلام وروس
وويل:

والاحضرته! که اجازه وي خپل راپور په حضور کې وړاندې کړم!

شهزاده اورنگزېب په غرور ورته وويل:

ووايه نذربېگه څه دې راوړي!

ـ باداره نور مې هېڅ معلوم نکړای شول، يوازې دومره چې کوم پوځيان ورک دي، د ښه کردار خاوندان نه وو. نشه يان او لوټماران وو ناموسونو ته په لاس اچو نور په سل چټليو کې ښکېل وو....

اورنگزېب يې خبره ور غوڅه کړه:

نذربه! ځان دې راته مفتي او قاضي جوړ کړ. کردار يې پرېږده، څه شول ځ ژوندي نه ويستل که اسمان ته وختل؟

ـ په دې اړه مې له چا څه نه دي اورېدلي. خو شک مې پر کابلي پوځيانو دی.

د پړاو د ننه پهرې نورې هم سختې او څارنې زياتې شوې، تر څومياشتو بيا کومه ونه شوه. ددې مرموزو پېښو يوه پايله دا شوه چې پر کليو د مغلو د پوځ چاپې هم شوې.

*****

دوې مياشتې وروسته يو سهار چې لمر د هندوکش پرڅوکو لومړۍ وړانگې شيندل مغلو په لوی پوځي پړاو کې چې څلورو لوريو ته تر لرې لرې پورې غځېدلی و پو و څومبيدل. امام الدين په خپله خيمه کې د خپلو بوټانو د تسمو په تړلو توبښ ؤ چې سرتيری يې په بېړه خيمې ته ورننوت ور نژدې شو په ټيټ غږيې ورته وويل:

عرفان احوال راکړ.

-څه وايي؟

ـ تورمخې د کلي په لور لاړل!

امام الدین څک شو دا د هغوی تر منځ شفر و، تورمخي د نثار بټ کسان وو، امام وپوښتل:

څو کسان وو؟

ـ نه پوهېږم یوازې دومره یې وویل چې تورمخي ښکته شول.

ـ سلام جانه! ورشه هلکانو ته ووایه سمدستي تیار شئ.

امام له خیمې را ووت، د خپلو لسو تنو نومونه یې واخیستل ورته وې ویل چې راځئ. نورو ته یې وویل چې همدلته د احوال نتظارکوئ.

پوځي پړاو د سمنګانو او مزار په منځ لاره کې ؤ، لمر لویدو لوري ته د شنو کښتونو په منځ کې د وړاندې کلي سپیره دیوالونه ښکاریدل، سلام جان د پړاو په مخ کې ورته ولاړ ؤ، دوی ته یې وویل چې اوه تنه نور هم کلي ته ولاړل.

دغه مهال په کلي د ټوپکو ډزې وشوې، امام پښه ونیوه، ډزې زر بېرته کرارې شوې هغه پر خپلو ملګریو غږ وکړ:

لږ بیړه کوی هسې نه چې کار تر کار تېر وي.

بیا یې د څو تنو نومونه واخیستل سلام جانه! صبوره، رشیده! که دې بې ناموسو څه بې عزتي کوله مه پرې ګورئ، وسلې ترې واخلئ که یې زور کاوه یو ژوندی پرېنږدئ بس زما حکم ته به ګورئ!

څوتنو په یوه غږ وویل:

جنابه ته حکم کوه نوریې موږ ته پریږده!

چې کلي ته نژدې شول ژړاوې او چیغې یې واوریدې، چې د یوې څلور برجه کلا د دیواله تر څنګ د کلي مخې ته ور واوښتل وې لیدل چې اته ـ لس تنه بېرته را روان دي. یوه تن یوه اته ـ نهه کلنه ما شومه تر لاس نیولې، هغه چیغې وهي، څو تنو صندوقونه او پنډې پراوړو کړې دي. له شانه د کلیوالو ګڼه ګونه جوړه ده، ژړاګانې او کریږې اوچتې دي، ... د خدای پار دی، ورور مې، یا الله د پلار مې څه ګناه وه، وای کور مو لوټ او میرات شو....

امام الدین چې دغه ننداره ولیده پر سترگو یې تیاره راغله، هغه کس چې ما شومه یې ورسره کشوله د دوی مشر نثاربټ و، چې امام الدین یې له خپلو وسله والو کسانو سره په مخکې ولید خوله یې په خندا جینگه شوه، ژیړې داړې یې ښکاره شوې وې ویل:

کنیز... غنیمت!!
امام الدین نور پر ځان ونه پوهید، چیغه یې ترخوله ووتله:
بې ناموسه دا ستا غنیمت دی؟

څو شیبې وروسته یې پام شو چې نثاربټ یې تر گونډو لاندې جټکې وهي، د ده برچې بې پر ټټر څو سوري کړي چې وینې ترې خوټیږي. ملگرو یې څلور پنځه تنه نور را چپه کړي، د سترگو په رپ کې د نثاربټ نور پوځیان سره له دې چې وسله وال وو وتښتیدل او خپل ملگري یې د کابلي پوځونو په منگولو کې پرېښودل.

ښه شېبه وروسته د کلي ښځې او بوډاگان را ووتل، یو شور جوړ شو. هغه ما شومه نجلۍ د یوه بوډا غېږې ته ورغله سلگۍ یې وهلې، د بوډا سر پر یوه خیرن دسمال تړلی و، پر مخ او جامو یې د وینو خاپونه وو، کلیوال سخت پارېدلي او په ویر ډوب وو، څلور جنازې له کورونو راووتې چې مغلي پوځیانو په کورونو کې وژلي وو. خلکو له سوټیو سره پر هغو پوځیانو زړونه یخ کړل چې د اما م الدین ملگرو وسلې ترې اخیستې وې او له اخ او ټوخه یې غورځولي وو. هغوی یې تر سوټیو لاندې ووژل. دوی امام الدین او ملگرو ته یې دعاوې کولې، خو د امام الدین چې حواس پر ځای شول. د پېښې د راتلونکې په باب یې فکر کاوه، پردې پوهېدو چې اورنگزېب د خپلو پوځیانو وژل داسې په اسانه نشي زغملای. د ډزو له اورېدو سره له پړاوه په تراټ نور هندي پوځیان را ورسېدل، کابلي پوځیانو چې ولیدل دوی هم د خپلو ملگرو د مرستې لپاره د کلي پر لور راغلل.

دواړو لوریو یو بل ته مورچلونه ونیول، ډزې هم وشوې، خو امیر الامرا علیمردان خان راغی، دواړه لوري یې له مورچلونو پاڅول او وسلې یې ترې واخیستې.

د کابلي پوځیانو په لاس د مغلي پوځیانو د وژل کېدو خبر په ټول پوځ کې د ځنگله د اور په څېر خپورشو، ټول ټال یویشت تنه وژل شوي وو اوولس د مغلو او څلور تنه د امام الدین ملگري وو، د مغلي زر کسیز سپاره پوځ قوماندان نثار بټ هم په وژل شویو کې و.

*****

قضا ماسپښین ؤ، اورنگزیب په خپله خیمه کې چې په ښکلیو غالیو فرش وه د تخت د پاسه ناست ؤ، تر شا یې یو نوکر په زرینه ځانگړې جامه کې لاس د توري پر موټي کلک نیولی ولاړ و، د خېمې دوو اړخونو ته دوه کتاره په زرینو جامو کې خاص پوځیان ولاړ وو، له هغو سره اوږدې اوږدې نېزې وې، چې تر قدونو یې یوه لویشت لوړې وې.

لاندې دوولس تنه پوځي مشران یو بل ته مخامخ ناست وو، امیر الامرا علیمردان خان د خپل مقام سره مناسبه زرینه چپنه اغوستې، له گرانبیه غمیو ډکه پگړۍ پر سر، د مخ تر نرۍ کاسه توره ږیره را تاو، پر شونډو د پاسه د نریو بریتانو کرښه تېره، په کرخته څېره او رڼو د مار په څېر ځلېدونکیو سترگو کې یې له ورایه د خپگان نښې ښکارېدلې او په چورتونو کې ډوب و.

د شهزاده اورنگزیب تندی له غوسې تور اوښتی و، په دربارکې له ناستو کسانو څخه د څو تنو په تندیو کې د غوسې او د دوو درېیو په څېرو کې د اندېښنې لیکې ښکارېدې. شهزاده ته تر ټولو نژدې ښي اړخ ته ناست علیمردان خان غاړه تازه کړه، په درناوي یې سر خم کړ، نرم غږ یې اوچت شو:

والا حضرته! ډېره بده پېښه وشوه، دریغه نه وای شوې، نثاربټ ډېر زړور قوماندان ؤ د خانجهان خان په قوماندانانو کې وتلی سرتیری و، د دکن، کندهار، تیرا، مومندو او خیبر په جگړوکې یې برخه درلوده، دوه ځله ټپي شو، په تیرا کې که دی نه وای زموږ په سوونو پوځیان به د پیر روښان کسانو وژلي او یا ژوندي نیولي وو، د پیر روښان د ملگریو

په ځپلو کې يې ډېره زړورتيا وښوده، اعليحضرت دوه ځله پخپله نازولی ؤ، د زر تن
سپرو قوماندانې او په روهيلکنډ کې يې لوی جايداد ور وباښه ...

كيڼ لوري ته ناست الماس خان د کاپيسا خان او د کابلي درې زره کسيز پوځ قوماندا
چې ساده افغاني جامې يې پر غاړه وې په زړه کې ډېر خوشاله شو، له ځانه سره يې ويل

امام الدينه نوش جان دې چې داسې غټ ابليس دې وژلی.

په کتار کې يو تن ناست و چې پر لويه ککره يې لونګۍ ډېره عجيبه ښکارېدله، پلن مخ
پېړې شونډې او پرې د پاسه پلن ببر بريتان چې څوکې يې د زنې په لوري ځړېدلې وې
پر کين لوري تور غوړېيجن غومبوري يې يو ژور داغ و چې د کومې جګړې يادګار و
هغه راجه بيټهل داس د راجپوتو د اوه زرېز پوځ قوماندان و لږ پر خپل ځای وځوميد
ژړا ته ورته غږ يې اوچت شو:

اعليحضرته! عجيبه ده څه موده وړاندې د نثار بټ صاحب ملګری او قوماندان مشتاق
هم په خپله خيمه کې وسوځېد، ماته خو داسې ښکاري چې دغه پېښې يو له بل سر
تړلې دي.
اورنګزيب په ږيره لاس تېرکړ، بيا يې لاسونه وموښل وې ويل:
د ياغيانو مشر او قاتل مې راغوښتی، خامخا به سزا مومي!
د راجپوتو قوماندان راجه بيټهل داس بيا وويل:
والاحضرته! څو مياشتې وړاندې زموږ پوځيان چې ورک شول، خيمو ته اورونه واچول
شول، ددې ټولو پوښتنه په کار ده، دا دهمدغه کابلي پوځ کار دی، که سزا ونه ويني
صاحب زموږ توريالي به ټول يو پر بل پسې ووژل شي؛ بايد د لښکر په مخ کې پا نسي
شي!
الماس خان وويل:
والا حضرته! څو مياشتې وړاندې چې کوم کسان وژل کيدل او ورکيدل يوازې
راجپوت او هنديان نه وو، زموږ هم اتلس تنه همدغسې ورک شول، د دوو تنو مړي
پيدا شول، نور همداسې ترې تم شول.

علیمردان خان خپلې رنې سترګې الماس خان ته ور واړولې وې ویل:

هغوی به یې کورونو ته تللي وي، کېدای شي چې همدغه کسان زموږ د پوځیانو قاتلان وي او د سزا له وېرې تښتېدلي وي.

الماس خان بیا اورنګزېب ته مخ ور واړاوه په هیله منه لهجه یې وویل:

والامقامه ستاسو بخت دې اوچت وي! زما عرض دادی چې په تشو تورونو جرم نشي ثابتېدای، که اجازه وي زه یوې بلې مسالې ته ستاسو پام غواړم.

شهزاده د لاس په اشاره اجازه ورکړه، الماس خان وویل:

والامقامه! تاسو خبر یاست چې پر کلیو بریدونه کیږي مالونه لوټیږي، کښتونه له منځه ځي، د مال او جایداد پروا نشته خو د خلکو ناموسونه خوندي نه دي، ښځو ته لاس اچول کیږي، ځو ورځې وړاندې همدغه نثاربټ له یوه کلي نه یوه میرمن راوستلې وه چې بیا په لاره کې پرې برید وشو هغه میرمن او ځو تنه نور کلیوال ووژل شول د نثار بټ دوه تنه سرتیري هم ووژل شول، نن هم د کلي شپږ تنه وژل شوي دي. دلته د ناموس خبره ده، دومره ساده نه ده، ډېر فکر پرې په کار دی!

د هغه د خبرې هر توری د مجلس د ګډونوالو پر غوږونو د مارتول د ګوزار په څېر دروند لګېدو د اورنګزیب پر څېره د سترګو په رپ کې ځو رنګونه راغلل، یو ځل یې مخ تک سور شو لاس یې اوچت کړ چیغه یې کړه:

بس دی الماس خانه! ته د چا په مخکې داسې ګستاخي کوې؟ دلته د ننګ او ناموس خبره له کومه شوه، دا شاوخوا کلي ټول د دښمنانو دي، د ډیلي د سترې ټولواکۍ پرخلاف ولاړ دي، سر او مال یې ټول غنیمت دی.

امام الدین زما له قوماندې بغاوت کړی، د ډیلي د ټولواکۍ وفادار پوځیان یې وژلي دي، خامخا به سزا ګالي، همدا نن یې له خپلو ټولو پوځیانو سره په دار راځړوم چې بیا بل ځوک د هند د ټولواکۍ سپکاوی ونه کړي. ځوک بیا دا جرئت ونه کړي چې زموږ پرکوم پوځي لاس پورته کړي.

د اورنګزېب خاص نوکر نذربېګ یې خوله غوږ ته ور نږدې کړه په ټيټ غږ یې وویل:

باداره! لږ پام په کار دی، موږ د دښمن سره لاس او ګریوان یو، بیړنۍ پرېکړه مه کوه.

د نذربیګ خبرو د شهزاده اورنګزیب پر غوسه او احساساتو سړې اوبه ور تویې کړې
تر ښه ځنډه چوپ و، بیا یې د ضربه قوې قوماندان ته مخ ور واړاوه:

بهادرخان به ماته د نن پېښې بشپړ راپور راکړي، تر هغو وروسته به مجرمانو ته س
ورکوم! اورنګزېب دا وویل بیا یې د لاس په اشاره مجلس رخصت کړ.

*****

د خیمې پرده اوچته شوه خاص نوکر د ننه راغی لاس په نامه ودرید بیا په ملاخم ش
احترام یې پر ځای کړ ویې ویل:
عالیمقامه! که اجازه وي مجرم حاضر شي.

رایې ولئ!
نوکر ووت، څو شیبې وروسته د څلورو وسلوالو کسانو په منځ کې امام الدین چې لاسون
یې تر شا تړل شوي وو، دربارته را وستل شو.

هسکه غاړه، په غرور داسې ولاړ ؤ لکه مشورې ته چې راغلی وي. د ویرې پر ځای یې
په سترګوکې د غوسې داسې سپرغۍ وې چې له ورایه احساسېدلې. پر مخ او تندي یې
شنه داغونه جامې څو ځایه شلېدلې او وېښتان یې ګډوډ وو، له ورایه ښکارېدل چې
مغلو زړونه پرې یخ کړي دي..

پر دومره عذابولو سربېره یې د دربار زیاتره حاضرینو ته دغه غرور او بې پروایي د زغم
وړ نه وه، دوو درې تنو د خوا خوږۍ او نورو د سختې کرکې په نظر ورته کتل،
اورنګزیب په خبره کې خاص تا ثر نه ښکاریدو ډډه یې ووهله په غرور یې هغه ت
وویل:

ځوانه! زما یو توریالی منصبدار دې له څو کسانو سره یو ځای وژلی دی، پوهیږې چې
د دې سزا څه ده؟

امام الدین له اوږدې ساه اخیستو وروسته وویل:

والامقامه! ما د ډیلي د ټولواک او د والامقام شهزاده د عدالت او له اسلام سره د مینې په باب ډېرې خبرې اورېدلې دي، په همدې ډاډه یم چې تاسو به عدالت پلی او حق به حقدار ته وسپارئ. امام الدین دا وویل لږ چوپ شو بیا یې زیاته کړه....والامقامه! ما د ډیلي د پوځ د یوه وفادارسرتیري په توګه د یوه مظلوم دفاع کړې او عزت مې یې ساتلی دی. اوس قضاوت ستاسو په لاس چې د هغه ظالم ملاتړ کوئ او که د مظلومانو د سر سیوری کیږئ.

ـ تاخو زما یو توریالی قوماندان وژلی!

ـ عالیمقامه توریالي ذلیل کارونه نه کوي، د چا پر کاله نه ورننوزي. د مال او ناموس غل نه وي!!

د شهزاده د پوځ قوماندانان له غوسې تاو را تاو شول، امیر الامرا غوښتل څه ووایې خو د اورنګزیب غږ اوچت شو:

تا به یې قوماندان خانجهان خان پرې خبر کړی ؤ، موږ خو قانون لرو د سزا او جزا نظام لرو، نثار بټ یو زړور جنګیالی ؤ، ټولواکۍ ته وفادار ؤ، د داسې مهم سړي وژل خو وړوکې خبره نه ده!

امام الدین بیا هم په ډ اډمنه لهجه ځواب ورکړ:

عالي مقامه! د ننګ او ناموس خبره وه، زما نه به هم تیری شوی وي! خو دغه قوماندان هغه بله ورځ هم یوه میرمن له یوه کلي را وستله....

اورنګزیب بیا جلالي چیغه وکړه:

چوپ ګستاخه، ته څوک یې چې د کلیو د ساتنې او دفاع خبرې کوې، ته خو نه قاضي یې نه کوتوال چې ددې خلکو د ساتنې مسوولیت در په غاړه وي.

یوه بل قوماندان سردار قلیج خان په سپړمو کې وویل:

دا نو سم بغاوت دی، د باغي سزا مرګ دی.

یوه بل غږ وکړ:

د مست پیل پښو ته یې واچوئ!

الماس خان لږ په لوړ غږ وویل:

والا حضرته! ستا سو زیاتره پوځي مشران زموږ د خلکو له مزاج سره نا اشنا ښکاري، ولې خبره په لوی لاس جنجالي کوئ! اورنګزیب وسله والو ساتونکیو ته اشاره وکړه:

مجرم زندان ته واچوئ سزا به د شرعې په حکم ورته وټاکل شي.

امام الدین یې هماغسې د برچه پکو وسله والو په منځ کې ویوست.

اورنګزیب لږ را سېده شو په غرور یې پر کونډۍ ږیره لاس را تېر کړ، بیا یې وویل:

د بلخ تر نیولو وروسته به مجرم د بلخ د شاهي ماڼۍ په مخ کې په دار وځړول شي.

د هندي او راجپوتو قوماندانانو شونډې وځړېدې، له اورنګزېب نه یې د داسې پرېکړې تمه نه درلوده هغوی په دې تمه وو چې همدا اوس به هغه د شهزاده د خیمې په مخه کې په دار وځړوي.

الماس خان پردې خوښ شو چې امام ته سمدستي سزا ورنه کړای شوه، وې ویل:

والاحضرته! یو وړاندیز لرم. دغه کلي څو څو ځلې لوټ شوي دي، پوځ دې نور ور سره غرض نه لري چې بیا داسې کومه ناوړه پیښه ونه شي. خانجهان خان چې غومبوري یې له غوسې تور اوښتې وو وویل:

موږ د دښمن په خاوره کې یو، په جګړه کې داسې محدودیت نشته!

الماس خان چې تر ډېره حده اوس پر ځان باوري شوی و ویې ویل:

دښمن مو د بلخ حاکم دی، عام ولس د هیچا دښمن نه دی، دا زموږ خپل هډ او وجود دی زموږ ولس دی، کابل او بلخ د یوه هیواد ښارونه دي، هندوستان خو نه دی چې د کوڅې یوه اړخ ته جومات وي، بل ته یې درمسال او مندر، زموږ دین، مذهب، قوم ټول یو دي....

اورنګزیب له غوسې په مخه کې وړوکی میز په زوره وواهه، یوه شیبه چوپتیا شوه بیا یې وویل:

الماس خانه پښې دې تر لمځې ډېرې ووتلې، نور بحث ته اړتیا نشته، موږ د دښمن په سیمه کې یو، څو نذرمحمدخان ډیلي ته سلامي نشي، د یاغیانو په حکم کې راځي، د

دې خلکو سر او مال د شرعې په حکم زموږ پوځ ته روادی، که له کوم کلي زموږ پر پوځ ډزې وشي یا کوم پوځي ته زیان واوړي، بیا کلي پر بل مخ واړوئ.

الماس خان نور څه ونه ویل، د اورنگزیب د دې حکم په اوریدو یې ویښتان زیږه شول. پوهېدو چې پوځ ته یې پر کلیو د ناتار اجازه ورکړه، خونړۍ پېښې به تکرار شي.

چې له درباره قوماندانان او د پوځ مشران ووتل اورنگزېب خپل ځانگړي غلام نذر بیگ ته چې تر شایې ولاړ ؤ اشاره وکړه، غلام یې مخې ته راغی پر ملا خم شو، بیا یې لاس په نامه ونیول.

شهزاده ورته وویل:

څه دې ولیدل؟

هغه ځواب ورکړ:

با داره! په سترگو کې مې یې د کرکې او بغاوت بڅري ولیدل.

اورنگزیب سر په تائید وخوځاوه:

ریښتیا دې وویل. همداسې وه، دا ټول قوم همدغسې دی، هیڅ اهل او خپل نه شو.

نذربیگ چې تر یوه وفادار غلام اورنگزیب ته ډېر ور نژدې ؤ، ورته وویل:

با داره موږ هم نه د خپلو په سترگه ورته کتلي اونه موهڅه کړې چې خپل یې کړو.

د اورنگزیب پرشونډو پیکه موسکا تېره شوه:

دا هم ریښتیا ده، خو اوس کار تر کار تېردی.

- نو همدا وژل او ځپل به دوام لري؟

-بله چاره نشته، همدغه یوه لاره لرو، چې په دوی کې بل پیر روښان او زوی یې جلال الدین را پیدا نشي که راپیدا شو او دغه قام پرې راټول شو بیا خو بلخ، کابل او کندهار څه پر ډیلي او لاهور د واکمنۍ خوبونه اوبو وړي دي، شیرشاه سوري در یاد کړه زموږ بابا همایون ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې.

نذربیگ وخندل:

با داره! ماته خو د دې قام هر سړی پیر روښان او شېرشاه سوري ښکاري.

اورنگزيب ځواب ورکړ:

نذريه! ته ريښتيا وايې، عجيب قام دی، راجپوت د زړورتيا او وفادارۍ لاپې کوي د دوی په گرد پسې نشي رسيدلای.

نذربيگ ورته وويل:

اوس له امام الدين سره څه کوې؟

بندي به وي، چې وخت يې راغی د پيل پښو ته يې غورځوم!

غلام سر ښکته واچاوه او نور يې څه ونه ويل.

امام الدين د هندي سپرو پوځونو د قوماندان د وژلو په تور بندي و، د هغه خيمه د او توپچي ځواکونو د خيمو تر منځ وه او د خانجهان خان د سپرو وسله والو پهرې دربدلې وې. چا اجازه نه درلوده چې خيمې ته يې ورشي، يوازې دوه تنه وسله وا د خيمې د ننه او څلور تنه نور تر خيمه د باندې په پهره ولاړ وو، هلته مرغه پر نه وهلای.

يو سهار د هندي پوځ په خيمو کې د خانجهان خان د سپرو پوځونو د څو تنو ببد کېدو خبرونه خوله پر خوله شول، يوه اونۍ تېره شوه د دې پوځيانو د مړي او ژون درک ونه لگېدو، شهزاده اورنگزېب ته خبر ورسېد، هغه سمدستي خانجهان خا وغوښت او په توونده لهجه يې ورته وويل چې ستا کسان ورک شوي دي، تر يوه ورځو يې د مړي ژوندي احوال درنه غواړم. خانجهان خان ډاډ ورکړ چې خامخا به په يوه دوو ورځو کې احوال درکړم.

څو ورځې وروسته يوه غرمه اورنگزېب له اميرالامرا عليمردان خان، بهادرخان، را رای سنگ، راجه بيتهل داس او څو تنو نورو قوماندانانو سره ناست و چې يو پهره بې خيمې ته ور ننوت او له سلامي وروسته يې وويل:

والامقامه! خانجهان خان ستاسو د ليدو اجازه غواړي.

اورنگزېب ورته وويل:

رابې وله!

پهره دار ووت څو شېبې وروسته خانجهان خان ور ننوت، تندی یې غوړېدلی و، له سلام وروسته یې وویل:

دا خو ډېره ښه شوه چې د پوځ درانه مشران هم تشریف لري.

اورنگزېب په موسکا ورته وویل:

لکه چې کوم ښه زېری دې راوړی، خوله دې له خندا نه در ټولیږي.

ـ والامقامه! زما شک پرځای و، زموږ د وروستیو بدمرغیو اصلي سړی مې پیدا کړ.

اورنگزېب په یوه ساه څو پوښتنې وکړې:

څوک دی، چېرته دی رایې وله؟

ـ خانجهان خان سر وښوراوه وې ویل:

هغه پخپله نور د راتلو لوېدلی خو انډیوالان یې شته دي.

څوک دي؟

غم مو پخپلو کې دی، د نثاربېټ د ټولي یو پوځي عرفان خان، او دوه تنه انډیوالان یې.

عرفان خان له څلورو کلونو راهیسې زموږ په پوځ کې و، دلته یې د نثاربېټ له قاتل سره له څه مودې را هیسې توده یارانه او راشه درشه پیل کړې وه.

په کومه ورځ چې والا مقام د امام الدین د سزا حکم وکړ، زه چې خپلې خیمې ته لاړم یوه پوځي له دې رازه خبر کړم چې عرفان له امام الدین سره ډېره توده انډیوالي درلوده ښايي ډېر رازونه یې سره شریک وي. سړي مې پسې واچول، عرفان مو دزد با پشتاره په داسې حال کې ونیو چې د امام الدین د ژغورلو او تښتولو هڅه یې کوله.

بیا مو عرفان او د هغه دوه تنه وفادار ملگري ونیول، پلټنې مو ترې پیل کړې، د بلا زوی و، حال یې نه وایه، یوازې دغه اعتراف مو ترې واخیست چې غوښتل یې امام له زندانه خوشې کړي، ځکه چې دده په قول هغه بېگناه دی، بس د ډبولو پر مهال یې ساه وخته.

اورنگزېب له ډېرې غوسې په لړزه شو وې ویل:

خان جهانه! تا خو د راز سړی بې وخته وژلی، بیا یې غاښ وچیچل وې ویل:

پخوا تردې چې دغه خبرې نورې ډنډورې را پورته کړي، د امام کیسه ختمه کړئ! همدا نن یې د پړاو په مخه کې په دار وځړوئ!

ماسپښین مهال د مغلي پوځ د پړاو په دروازه کې یو ځوان چې سپینې جامې یې پر غاړه وې پر دار را ځړېده، د هغه تورې څڼې باد رپولې او پر شونډو یې پیکه موسکا غوړېدلې وه. لږ وروسته څو تنه ورغلل، ځوان یې د دار له سره را ښکته کړ، یو سپین ټوکر یې پرې وغوړاوه او په کټ کې یې اوچت کړ. سباته پوځ له دې ځایه وکوچېد، سپېره دښته پر ځای پاتې وه، یوازې د یوې ټیټې غونډۍ پر سر یو قبر ښکارېدو چې پر یوه خاده سپین بیرغ پرې رپېده. د شناختې پر پرښه یې په کږو وږو توریو لیکل شوي وو (د ناموس شهید، امام الدین).

یوه میاشت وروسته نور د اورنګزېب زغم ختم شو، یوه ورځ یې خپل قوماندانان را وغوښتل ورته وې ویل:

له کابله تر دې پړاوه مو تر کال ډېره موده واوښته. له ډیلي نه ډېر لرې راغلي یو، بلخ مو مخې ته پروت دی، خوکه نور ډېرځنډ وکړو د جګړې لګښتونه مو په ګونډو کوي. تر اوسه مو تر دوه کروړه روپیو زیات لګښت شوی دی، له شهزاده مرادبخش سره شپیته زره پلي او سپاره پوځونه راغلي وو، وروسته نور څو زره راغلل، اوس د هغو تر نیمایي لږ راته پاتې دي، په زرګونو اسونه او نور څاروي پرې د پاسه ټول د ازبکو او ارباب مراد د کسانو په لاس وژل شوي دي، موږ به تر څو دومره درنې قرباني زغمو!
امیرالامرا علیمردان خان وویل:
والاحضرته! تاسو حکم کوئ څه وکړو؟

-وروستي یرغل ته ځانونه تیار کړئ! زه له ضل الهي محبوب سبحاني ستر ټولواک نه د خپل لیک د ځواب په انتظار یم وروستی حکم به وروسته درته کوم.

-په سترګو صاحب، هغه بیا نورو قوماندانانو ته اشاره وکړه، ټول جګ شول، اورنګزېب په راز دارانه لهجه زیاته کړه:

له کابلي پوځیانو سره به ډېرپام کوئ، هر یو یې د لنډي شوي مار په څېر وګڼئ، د امام پانسي پرې بده لګېدلې، خپل کسان مو را قابو کړئ ګورئ دا سپند او پنجاب نه دی، افغانان د دروازې او ټیکري د بېعزتی زغم نه لري، بس همدومره وایم چې بیا تېرې پېښې تکرار نشي.

*****

شهزاده اورنګزېب دغه مهال د سمنګانو له تخت رستم سره پړاو اچولی ؤ. د وخت په تېرېدویې د پوځ روحیه کمزورې کیده، زیاتره پوځیان یې د غنیمتونو او تالان په تمه راغلي وو خو چې د خپل پوځ په ډلو کې یې د کلیو د لوټمار پر خلاف ډلې را پورته شوې د جګړې عام وضعیت ډېر ورسره بدل شو.

د لمرینې ورځې یوه تنکۍ غرمه وه، اورنګزېب په خپله خیمه کې دربار لګولی و دربار یې له پوځي قوماندانانو او سلاکارانو ډک و، د جګړې پر وضعه یې له هغوی سره سلا کوله چې د باندې شور ماشور اوچت شو، لږ وروسته یو پهره دار خیمې ته ورننوت، له فرشي سلام وروسته یې وویل:

والاحضرته! له کابله دوه زره کسیز تازه دمه پوځ را ورسېد، قوماندان یې وایي چې د اعلیحضرت ټولواک له لوري یې مهم پیغام راوړی دی.

اورنګزېب په خوښۍ وویل:

د ننه یې راوله زه د اعلیحضرت د هدایت په انتظار وم.

پهره دار ووت لږ وروسته د پاچا استازی ورننوت او له سلام وروسته ورغی د اورنګزېب لاسونه یې ښکل کړل، بیا یې یو نغښتی لیک په دواړو لاسونو ورته ونیو.

دا د شهزاده د لیک ځواب ؤ چې پاچاته ورته را استولی ؤ.

شهزاده چې لیک پرانیست یو نظر یې پرې تېر کړ، کومه خاصه اشاره وه چې لیک باید یوازې شهزاده ولولي، د لاس په اشاره یې دربار رخصت کړ، قوماندانان ټول له شاهي

خیمې یو پربل پسې ووتل. یوازې څانګړی نوکر نذربیګ او پیغام راوړونکی پات
شول، اورنګزیب د خپل پلار د لیک په لوستلو پیل وکړ:

...ګران شهزاده ! جګړې یوازې په توپونو او ټوپکو نه ګټل کیږي. ما بیا بیا درته ویل
چې د جګړو ګټلو نور هنرونه هم زده کړه، یوازې پرپوځ او وسله حساب مه کوه.

تاچې په لیک کې د نذرمحمدخان او د هغه د زامنو پرځای د ارباب مراد په نوم له یو
قومي مشرنه شکایت کړی او هغه دې خطرناک بللی دی، که له هوښیاری کار واخل
په اسانه یې چاره کولای شې .

له ارباب مراد سره اړیکه پیدا کړه هغه ته د بلخ د واکمنۍ تمه ورکړه، که لور او زو
لرې د دوستۍ او خپلوۍ خبرې ورسره را واخله، لور ترې وغواړه، بابرشاه بابا دې همدغ
کار وکړ، د سوات ځوانان یې څومره په هوښیارۍ له خپل لښکر سره ملګري کړل او
ډیلي د لودي پښتنو واکمني یې د همدوی په مرسته را نسکوره کړه. ته ارباب مراد ته د
بلخ د واکمنۍ تمه ورکړه. دا دې اتلس زره طلایي سکې در استوم له دې نه کار واخله

ګران شهزاده! که ارباب مرادخان د دوستۍ او تمې سړی نه وي نورې لارې هم شته
چې د هغه له خطره ځان خوندي کړې. کوم تربور یې پیدا کړه، د سرو او سپینو او نورو
ژمنو په زور یې قانع کړه چې له مراده دې بیغمه کړي، له نذرمحمدخان او د هغه له زامنو
سره لاره یوسه ارباب مراد پرې له منځه یوسه. چېرته له زور او چېرته له زر کار واخله .

د دغه وطن خلک د اسلام او مسلمانۍ په نوم سر ورکوي په ارباب پسې خلک واچوه
چې تبلیغ پسې وکړي ... ستا بابا، پیرروښان په خپل ولس کې په پیرتاریک مشهور کړ
او بیایې په اسانه له مخې لرې کړ. ته د یوه ارباب چاره نشې کولای؟

شهزاده اورنګزیبه! ته مې چې د بلخ او بدخشان والې ټاکلې ډېرې هیلې درنه لرم، ته به
بلخ راته اېل کوې، ته به کندهار راته ګټې، خو یوازې په توپ اوټوپک هیڅ وخت
حساب مه کوه، له نورو کمالونو کار واخله.

مه پرېږده چې دښمن دې تر یوه قومانده لاندې راټول شي، ما دوه زره پوځیان در واستول، پر هغو حساب نه دی په کار، خو یو څو تنه خوله ور خطیبان مې ورسره یو ځای در استولي دي. که په هوښیاری کار ترې واخلې مراد به دې پوره شي. زه دې د داسې احوال په انتظاریم چې له کوم ارباب نه د شکایت پرځای د بشپړې فتحې زیری را ته واوروي. زویه سرلوړی اوسې. ستا پلار.
(ضل الهي، محبوب سبحاني د هند او خراسان ستر ټولواک شاهجهان)

هغه د لیک له لوستلو وروسته په چورتونو کې ډوب شو، تر ډېره یې د پلار پر لیک سترگې ښخې وې بیا یې پر شونډو خوږه موسکا وغوړیده، له ځانه سره یې وویل:

اعلیحضرته! د واکمنۍ وړانگې دې پر ټول جهان خپرې شه. مزاج یې بېرته وغوړېد، استازي ته یې وویل:
ضل الهي چې کوم عالمان د خدمت لپاره رااستولي دي رایې وله.

هغه خم شو او بیا له خیمې ووت، څوشیبې وروسته قوماندان له څو تنو سره چې ښکلې ږیرې او منظمې چپنې او لونگۍ یې درلودې راغی، شاهي سلام او احترام یې پر ځای کړل او بیا یې خاص مجلس پیل شو .

*****

ارباب مراد له خپل ځانگړي نوکر رمضان سره د غونډۍ له سره چې کری ورځ یې پکې تېره کړې وه نوی راکوز شوی ؤ، د غونډۍ په بېخ کې د یوې چینې پر غاړه تر ونو لاندې د دوی د ارام ځای ؤ، هغه اودس تازه کړ، پر لمانځه ودرېد چې زوی یې عمرخان له دوو تنو نورو سره پراسونو سپاره ور ورسېدل.

هغوی هم په لمانځه ودرېدل، تر لمانځه او دعا وروسته ارباب مراد د زوی په لیدو خوښ شو تر درې اونیو زیاته موده یې نه ؤ لیدلی، ارباب له زوی نه د دوی د جبهې او ملگریو په باب پوښتنې وکړې .

عمر خان ورته وویل چې وضعه ښه نه ده، هره ورځ څوتنه د جګړې قرباني کیږي زیاته اندېښنه یې د وسلو او ګولیو د کمبود په باب وه، اورنګزیب ان له ډیلي نه توپو را وړی وو، دوی د خپلې سیمې د ساتنې لپاره توپونه نه درلودل، له لنډو خبرو وروس عمرخان خپل پلار ته وویل یو خاص پیغام مې راوړی دی، یوازې تاسو ته یې بای ورسوم!

ارباب د زوی په اشاره وپوهېد، له ځایه راجګ شو له چینې نه ښکته نری لښتی روا ؤ. پلار او زوی د ماښام په خړه کې وړاندې لاړل د یوه پټي پر پوله کیناستل.

عمرخان وویل:

پلارجانه! د اورنګزیب پلاوی غواړي درسره وګوري!

ـــ له بهرام خان او سبحان قلي سره ولې نه ګوري؟

نه پوهیږم ولې نه ګوري، هغوی نن مازدیګر یو تن راولیږه، زما نوم یې واخیست او ی یې همدغه لنډ پیغام راکړ.

ارباب وویل:

چې ستا نوم یې اخیستی دی، معنا دا چې هغوی زموږ په منځ کې څوک لري، په هرڅ خبریږي.

عمرخان وویل:

پلاره څوک به له هغوی سره لاس لري او د خپل ولس پرخلاف به دریږي؟

هغه ځواب ورکړ:

بچیه که په موږ کې ذلیل او د پردیو لاسپوځي نه وای، داسې اوږده کلونه به له بربادیو سره نه مخ کیدو.

ارباب مراد د پیغام پر موخه ښه پوهېدو، خو اندېښنه یې وه چې په دام کې ونه لویږي ښه شیبه پلار او زوی چوپ وو، ارباب تر ډېره ځمکې ته کتل، بیا یې سر را پورته کړ زوی ته یې وویل:

ځواب ورکړه چې ورسره گورم خو شرط مې دا دی چې یوه اونۍ به خامخا اوربند کوئ! داسې نه کېږي چې تاسو زموږ کلیو ته د توپونو خولې ور اړولې وي او زه له تا سره په خبرو ناست یم!

لږ ځنډ وروسته عمرخان له خپلو دوو ملگریو سره بېرته د جبهې لومړۍ لیکې ته روان شو چې د درې پربله غاړه وه.

سبا ته ما سپښین مهال د اورنگزیب د توپونو ډزې کرارې شوې، په سیمه کې د ډېرو کلیو پر سر تورې لوخړې ولاړې وې، ځای ځای له کورونو لنبې اوچتې وې، خو ډزې ودرېدې، مازدیگر عمرخان له بل پیغام سره راغی، هغوی د اوربند وړاندیز منلی ؤ. اوس یې د لیدو د وخت او ځای په باب د ځواب انتظار یوست .

ارباب مراد یوځل غوښتل چې د بلخ له واکمن نذرمحمد خان او یا د هغو له زامنو سره سلا وکړي بیا یې د عمرخان خبره ورپه یاد شوه چې هغوی یوازې له ده سره د خبرو غوښتنه کړې وه، له لږ فکر وروسته پرېکړه پردې شوه چې سهار ته به د جگړې لومړۍ کرښې ته نژدې په یوه کلا کې ورسره گوري. خو د اورنگزېب قوماندان ته به د ځای په باب سهار احوال ورکوي.

ارباب او زوی یې په شپه شپه کې لازم امنیتي تد بیرونه ونیول، په دې تد بیرونو کې دا هم شامل وو چې سمدستي د بلخ د واکمن کسانو ته د دغه لیدو خبره افشا نه شي.

سهار چې لمر یوه نیزه له غرونو راپورته شو د حاجي عیسی خان کلا ته د اورنگزیب استازي ورسېدل. د کلا پر بامونو او شا و خواته وسله وال خلک ولاړ وو.

دېرش تنه پراسونو سپاره راغلل، عمرخان او دوه تنه نور بدرگه ورسره راغلي وو، ارباب مراد د کلا په لویه دروازه کې هر کلي ته ولاړ ؤ، له تاوده روغبړ وروسته درې تنه د کلا د ننه په وړوکې باغچه کې پر غالیو کیناستل، نورکسان چې ساتونکي وو تر کلا د باندې انتظار شول.

یو د پنځوس کلونو په شا وخوا کې متور سړی چې پر زرینه چپنه د پاسه یې له ملا سره توره او خنجر ځړېدل، د دوی مشر ؤ، دهغه پر کرخته څېره جبري موسکا عجیبه ښکارېدله، له ورایه یې په تندي کې داسې کرښې وې لکه چې ځانونه د بلخ فاتحان بولي. هغه ځان معرفي کړ:

د والاحضرت اورنګزېب د مخکنی ضربتي قطعې قوماندان بهادرخان، خپل بل ملګري ته د لاس اشاره وکړه چې اوږده توره چپنه، اوږده ږیره او خوار وچوړی بدن یې ؤ:

مولوی صاحب الیاس، مولوی صاحب د شهزاده اورنګزیب د حضر او سفر ځانګړی امام دی. د هغه تر څنګ بل تن ته یې چې د پنځه دیرشو کلونو شا وخوا عمر یې درلود او په تور بخن پلن مخ کې یې سترګې ډېرې وړوکې ښکارېدلې، د سر له اشارې سره وویل:

د والا حضرت شهزاده ځانګړی خادم نذربیګ!

نذربیګ یوه غوټه پرانیستله یوه زرینه چپنه او په ښکلي طلایي پوښ کې توره او یو د لرګیو ښکلی صندوق یې را واخیستل، د ارباب مخې ته یې چې کېښودل د صندوق سر یې پرانیست، له طلایي سکو ډک و. پر شونډو یې موسکا راغله وې ویل:

والا حضرت تاسو ته دا ډالۍ را استولې!

ارباب مراد پر ډالیو سرسري نظر واچاوه وې ویل:

له والاحضرت شهزاده نه مننه، موږ ته به تر ټولو لویه ډالۍ دا وي چې زموږ پر کلیو ستاسو د توپونو اوربند شي!

بهادرخان په موسکا وویل:

هغه به هم وشي، که خیر ؤ هغه به هم وشي ... چې جوړجاړی راشي بیا جګړې ته څه حاجت دی!

له تشریفاتي پوښتنو او روغبړ وروسته د اورنګزیب د مخکني ضربتي ځواک قوماندان وویل:

والا حضرت اورنګزیب په دې باور دی چې د بلخ د تاج او تخت اصلي حقدار او وارث تاسو یاست، ځکه غواړي له تاسو سره د سولې او دوستۍ خبرې وکړي!

ارباب د اورنگزیب پر اصلي موخه وپوهېد چې څه غواړي، استازي ته یې وویل:

نو ستاسو په زرگونو پوځونو راتلل او دومره مرگ ژوبله او بربادي په همدې موخه وه چې ماته د بلخ تخت وگټئ ؟ زه د دومره درنې بیې تاج او تخت حقدار نه یم .

قوماندان د داسې ځواب تمه نه درلوده، سمدستي بې ځوابه غوندې شو د الفاظو جوړولو په چورتونو کې شو، نذربیگ پر خبرو ورگډ شو:

د ظل الهي ټولواک دغه پوځي اقدام خو د د فاعي مجبوریت له مخې ؤ. د بلخ پوځونو پر کابل بریدونه وکړل، کابل یې کلابند کړی ؤ.

د قوماندان بهادرخان سترگې وغړېدې، د نذربیگ د خبرو په دوام یې وویل:

د جگړې او بد مرغیو اصلي لامل نذرمحمد خان او د هغه کورنۍ ده، زموږ د شهزاده پیغام دا دی چې هغوی تورانیان دي، د بلخ او شمال د ولسونو پروا نه لري، هغوی د امو له هغه لوري راغلي خوا خوږي یې هم له هماغه لوري سره ده. د دې ولسونو اصلي وارث خوپه ریښتیا تاسو یاست.

نذربیگ وویل:

که دغه کورنۍ له واکه لرې شي، تاسو یې پر ځای کښېنئ، له ډیلي سره به مو دوستانه اړیکې وي او د جگړو پر ځای به زموږ ولسونه ټول په سوله کې ارام ژوند وکړي.

ارباب مراد د اورنگزیب د پیغام پر بېلا بیلو اړخونو په فکر کې ډوب ؤ، بیا یې سر راپورته کړوې ویل:

هرڅه یوه بیه لري، شهزاده ددې په بدل کې له مانه څه غواړي؟

هغوی یو بل ته وکتل، بیا بهادرخان وویل:

یوازې همدومره چې چارې به دې له ډیلي سره په سلا او مشوره تر سره کوې، ټولواک به د کال په لکونو سپینې روپۍ انعامونه هم درکوي!

ارباب مراد په موسکا وویل:

معنا دا چې د مړې خېټې غلامي!

نذربیگ او ملگریو یې داسې ښودله چې هېڅ یې نه دي اورېدلي، بیا یې وویل:

والا حضرت شهزاده تا سو ته د خپل خلوص او صداقت د اثبات لپاره بل یو خاص وړاندیز لري.

ارباب مراد په طنزیه موسکا وپوښتل:

د بلخ تر تاج او تخت خاص بل وړاندیز یې څه دی؟

هغوی د ارباب طنز احساس کړ، خو ځانونه یې بیا هم ناګاره واچول ندربیګ وویل:

والا حضرت حا ضر دی چې ستاسو له کورنۍ سره خپلوي او خپښي وکړي.

ارباب مراد ځواب ورکړ:

زه د شهزاده اورنګزیب له وړاندیزونو مننه کوم، دومره به ووایم چې دا ټول هغه وخت ممکن دي چې جګړه ختمه شي او ستاسو ځواکونه بېرته تر هندوکش واوړي. زما په باب د شهزاده له نیک نظره ممنون یم، زه د بلخ پاچا هي نه غواړم خو د ولس آرامي غواړم.

تاسو وفرمایل چې د جګړې او شر سرچینه د نذرمحمد خان کورنۍ ده، زه د هغه ضمانت کوم، تاسو تشریف یوسی زه د بلخ د واکمنو ضمانت کوم چې بیا به پر کابل او بامیان د یرغل هڅه نه کوي او له ډیلي سره به دوستانه اړیکي لري ...

مولوي الیاس چې تراوسه پورې چوپ ؤ، غاړه یې تازه کړه، له حمد او درود وروسته یې وویل:

الله تعالی په قرانکریم کې فرمایلي دي چې د الله او د هغه د رسول او ستاسو د آمر او پاچا اطاعت وکړئ، ضل الهي شهاب الدین محمد شاهجهان عادل پاچا دی، اطاعت یې پر ټولو مسلمانانو فرض دی، تاسو ته چې اوس د سولې او دوستۍ لاس در غځوي لازمه ده چې لبیک ورته ووایې، د دنیا او آخرت نېکمرغی به مو په برخه شي!

ارباب مراد په موسکا مولوي صاحب ته مخ ور واړاوه وې ویل:

مولوي صاحب! د ډ یلي او بلخ پاچاهان دواړه د مسلمانۍ دعوه دار دي، بیا یې جنوب لورته اوچتو لوخړو ته اشاره وکړه زیاته یې کړه:

جنابه! ستاسو د پاچا توپونو چې پردې پراخو سیمو اورونه بل کړل، کلي مو په کنډوالو بدل کړل په دې کې ټول مسلمانان اوسېدل، په دې کې یو هندو او یهود نه و، دلته په زرګونو کسان ستاسو په وسلو وژل شوي دي ....

په دې څومیاشتو کې داسې ډېرې ورځې راغلې چې موږ د یوې ورځې جنازې ایله په درې ورځو کې خاوروته سپارلې، چې زیات یې ماشومان او ښځې وي .

بیا یې زیاته کړه، ستاسو د پوځ تر درېیمې برخې زیات هندوان او سیکان دي، یو ځل یې په زړه کې ورتېره شوه چې ورته ووایي چې د شاهجهان سکه ورونه لکه چې مرتد شوي وو چې ویې وژل، بیا یې ځان را قابو کړ.

مولوي صاحب الیاس له دې خبرو سره نور هم غونج او وړوکی شو.

ارباب مراد بیا وویل:

که مې خبرې توندې وي بښنه غواړم، ما نذرمحمدخان هم پردې ملامت کړی چې ولې یې پر بامیانو او کابل بریدونه وکړل، زه وایم که د اسلام له نظره دې جګړې ته جواز لټوو هسې ځانونه بې اوماچه خولې کوو، دغه جګړې د اسلام په تعریف کې نه راځي، هو موږ ته اسلام اجازه راکړې چې د خپل کلي او ولس دفاع وکړو که په دې دفاع کې بریالي شوو اوکه قرباني ورکړو الله ته به هسک سر ورځو. په اسلام کې پر مسلمانانو یرغل ستره ګناه ده، د ځان دفاع پکې فرض ده. موږ ملي فریضه ادا کوو.

قوماندان بهادرخان له ارباب نه د داسې خبرو او دلایلو تمه نه درلوده، شونډې یې وخوړېدې، وې ویل:
که سوله ونشي، ډېرې وینې به توېې شي.
ارباب یوازې دومره وویل:
د دې پړه پر موږ نه ده، خیر دی د ننګ او ناموس په لار کې موږ تل وینې ورکړې دي، د لږو به لږ مري دډېرو ډېر. نور چوپ شو، خبرې ختمې شوې.

تنکی غرمه وه د اورنگزیب استازي پاځېدل چې بېرته خپل پړاو ته لاړشي، خو ارباب مراد پرینښودل، د غرمې ساده ډودی یې راوړه، تر ډوډۍ وروسته ارباب اورنگزیب ته یوه ښایسته موری غالی او درې واړو ته وریښمینې مزاری چپنې ورکړې رخصت یې کړل او تر لومړی کرښې عمرخان له خپلو کسانو سره بدرگه ورسره لاړ.

ماښام مهال د شهزاده په خیمه کې بهادرخان، مولوي الیاس او نذر بیگ د مغرور شهزاده په مخکې ناست وو.

اورنگزیب خپل ټول قوماندانان او د مشورې کسان هم را بللي وو، بهادرخان ټوله کیسه په تفصیل ورته تېره کړه، ښه ځنډ هغوی ټول چوپ وو، بیا اورنگزیب وویل:

د دې معنا دا ده چې ارباب مراد جوړ جاړي ته حاضر نه دی، زموږ وړاندیز یې ونه مانه!

د دربار حاضرو کسانو ټولو د شهزاده خبره تائید کړه، بیا پردې اوږدې خبرې وشوې چې اوس څه وکړي، اوربند ته دوام ورکړي او که جگړه له سره پیل کړي، تر اوږدو بحثونو وروسته دربار رخصت شو، قوماندانان او نورسلا کاران ووتل، یوازې نذربیگ د شهزاده خاص نوکر پاتې شو .

اورنگزیب ترې وپوښتل:

نذریه ووایه څه دې ولیدل ؟

هغه پر ملا خم شو ، وې ویل:

با داره! د دې ولس اصلي حاکم په ریښتیا ارباب مرادخان دی. زموږ ملا او دغه جرار قوماندان یې په مخ کې گونگیان وو.

با داره! ارباب د تمې اولالچ سړی نه دی، خودي او غرور یې تر هغه غره چې پرې را واوښتو ډېر اوچت ؤ، د بلخ له واکمن سره خبره کوه، د ارباب همدغه کوټلی ځواب ؤ.

د نذربیگ خبرې پر اورنگزیب بدې ولگېدې، په غوسه یې ورته وویل:

وه نذریه ته خو یې سم تر اغیز لاندې راغلی یې، له یوه ساده اربابگي نه دې چنگیزخان راته وترا شه، هغه څه لري؟ یو توپ نه لري، جنگیالي مې ور ووژل، فصلونه او کورونه مې ور وسوځول، له سلامي کېدو پرته بله څه لاره لري؟

شرط درسره یږدم چې په لنډو شپو ورځو کې به مې پر پښو پروت وي او د سر امن به غواړي.

نذربیگ سر خم کړ:

د والا حضرت ستوری دې اوچت وي. خدای دې وکړي چې همداسې شي، خو ما ته داسې ښکاري چې د ارباب مرادخان سر غوڅېدای شي خو ټیټ به نشي.

*****

اوربند تر دریېمې ورځې پورې دوام وموند، د ارباب مراد لږ تمه پیدا شوه چې اورنگزیب د ده پر وړاندیز سلاوې کوي یا به له شاهجهان نه د حکم په انتظار وی، خو په همدې ماښام عمرخان بیا راغی، له سلام وروسته د پلار پر لاسو ور ټیټ شو ښکل یې کړل، بیا یې وویل:

پلار جانه ستاسو اټکل ریښتیا و، مغل سوله نه غواړي هسې منافقت کوي!

ارباب مراد سوړ اسویلی وکیښ وې ویل:

د تاج او تخت له لیونیانو بله تمه نشي کیدای، څه خبره ده عمرجانه !

-پلاره نن د اورنگزیب پلاوي له بهرام او سبحان قلي خان سره وکتل، بهرام خان له لیدو وروسته ماته همدومره وویل چې هغوی د نورو تمو او ژمنو تر څنگ ستاسو په باب هم څه ورته ویلي وو.

ارباب ورته وویل:

ورته ویلي به یې وي چې د ارباب مراد چاره وکړی چې د بلخ د پاچاهۍ نیولو خیال لري!

پلار او زوی دواړو وخندل، بیا یې له عمرخان نه وپوښتل:

د نذرمحمدخان زامن په څه هوا کې دي؟

-په ښکاره تاسو ته ډېر درناوی لري، په زړونو یې یوازې الله پوهیږي، خو پلاره که یې مجبورۍ او بې وسۍ نه وي د واکمنۍ مینه د عقل سترگې ړند وي.

ارباب مراد وویل:

ریښتیا وایې بچیه، خودې ته به یې نه پرېږدو چې د ولس پر برخلیک لوبې وکړي
ډېره هڅه وکړه چې نذرمحمدخان د هېواد د راتلونکې په اړه د مسوولیت احس
وکړي، پر لوی وطن باوري شي، خو د دوی دنیا ډېره وړوکې ده یوازې د آمو د د
غاړو تر شاو خوا پورې ده او بس. بهرام زوی یې یو څه غیرت لري په نورو زامنو
حساب نه دی په کار، بیایې زیاته کړه:

داسې ښکاري چې اورنګزېب زموږ پر ځواکونو وروستي ګوزار ته تیاری نیسي.

اورنګزیب له نذرمحمدخان سره اړیکه لري تر منځ یې استازي تګ راتګ ک
شهزاده د بلخ کیسه ختمه بولي غواړي بلخ پر ځای پرېږدي او وړاندې اقچې لورې
یرغل وکړي.

عمرخان د خپل پلار په خبرو کې د نهیلۍ څرکونه احساس کړل، ورته ویې ویل:

پلار جانه! ته ډېر غم مه کوه، بنده په وس پړ دی، ستا چې څه په توان کې وو دریغ د
نه کړل، نور به یې پایلې الله ته سپارو.

د ارباب پر شونډو ترخه موسکا راغله وې ویل:

پر ځوانۍ دې برکت زویه، زه یوازې پردې خپه یم چې موږ داسې یو مشر ونه موند چ
د ټول هېواد د برخلیک په باب فکر وکړي او د هېواد د ژغورنې یو غورځنګ پیل ش
الله پرې ګواه دی چې موږ څه کولای شول صرفه مو ونه کړه، خو له یوه ملي مشره پر
قربانۍ هم پایلې نه لري، موږ سرونه ورکوو سبا ته به نذرمحمدخان پرې معامله کوي
بیا را جګ شو چپنه یې پر اوږه برابره کړه:

عمرجانه! جبهې ته ستون شه، صادق خان او نورو مشرانو ته ووایه چې وضعه ډېره نازک
ده، دوی باید شپه او ورځ هره شېبه پر کوم لوري د کوچ لپاره تیار وي.

عمرخان د لومړۍ کرښې پر لور روان شو او ارباب مراد د غونډۍ سر ته وخوت. وړاندې د درې پر بل اړخ د اورنگزېب د پوځ پړاو ښکارېدو، چې تر لرې لرې پورې غځېدلی و.

بېرته راښکته شو، د لښتي پرغاړه یې اودس تازه کړ، لاړ تر ونو لاندې پر سوپه پر لمانځه ودرېد.

تیاره ماښام و ارباب مراد لا پر مصلي ناست و او لاسونه یې الله ته په دعا لپه نیولي وو، د هغه خاص نوکر رمضان او یو بل مول وهلی خونې ته ور ننوتل. ارباب مخ ور واړاوه، دعایې پرېښوده لاس یې پر مخ را تېر کړل، وې ویل:
اکرم خانه ته یې!
هغه د لونگۍ شمله له مخ نه لرې کړه، غنم رنگه پر توره کونډۍ ږیره پټ یو گردی مخ را ښکاره شو وې ویل:
هوکې ارباب صاحب زه یم.
ده ترې وپوښتل:
څه خبردې راوړي؟
- پوځ خیمې را ټولې کړې کوچ کوي.
-پر کوم لوري؟
- دومره مې واورېدل چې پر دوو لوریو درومي. پیلان یې هم تیار دي اورنگزېب او نور لوی قوماندانان یې هم روان دي.
ارباب مراد جگ شو، وې ویل:
اکرم خانه ته لږ دمه جوړه کړه، رمضانه په منډه لومړې کرښې ته لاړ شه او عمرجان او صادق خان دوی ته ووایه چې سمدستي را روان شي، هله بیړه کوه!

رمضان په منډه ووت او پر اس یې پښه واړوله د باد په څېر په تیارو کې ورک شو. ارباب د غونډۍ ډډې ته وخوت له هغه ځایه یې د مغلو پوځي پړاو ته په ځیر وکتل، تیاره وه

خاص څه یې ونه لیدل، بېرته را کوز شو، پر اس یې زین کېښود، لږ ځنډ وروس
عمرخان او صادق خان دوی را ورسېدل، ارباب مراد غږ وکړ:
اکرم خان ته غږ وکړئ بیړه کوئ! دا یې وویل پر اس یې پښه واړوله او د شمال لوري
یې پونده ورکړه.
صادق خان په لاره کې ور نږدې شو:

پلي کسان مو شاته پاتې دي چېرته را پسې راشي؟
ورته ووایه د تیموراباد لوري تنګي ته دې راځي.

صادق خان خپل یو تن همالته پرېښود، نور د پینځو سوو تنو په شاوخوا کې سپار
ګړندي روان شول، د اسونو د پښو ترپهار یې تر لرې ځایه رسېدو خو د شپې په تیار
کې تر سترګو لاندې ځمکه نه ښکارېدله.

*****

اورنګزېب د ورځې خپلو قوماندانانو ته د کوچ حکم کړی و، له ماښام سره سم خپ او
چوپ خیمې ټولې شوې او پوځ د اورنګزېب وروستۍ قوماندې ته انتظار و، د شهزاد
او څو تنو قوماندانانو پیلان هم یوه اړخ ته ولاړ وو، کجاوې پرې ټړلې وې، ددې معن
دا وه چې دوی پړاو پرېښود او بل ځای ته روان وو.

شهزاده له امیرالامرا علیمردان خان، بهادر خان، سعیدخان ظفرجنګ، راجه بیټهل داس
راجه رای سنګ او نورو سره د مشالونو تر رڼا لاندې ولاړ و، هغوی ته یې وروستۍ
لارښوونې کولې:

راجه رای سنګ او سعیدخان ظفرجنګ به له خپلو سپرو ځواکونو سره د دلاورخان تر
مشرۍ لاندې د تیموراباد پر لور درومي، په تیمور اباد کې د عبدالعزیز خان او ارباب
مراد قوماندانان غونډه لري، نن شپه نور باید د هغوی کیسه ختمه شي! یو یې هم باید
په روغو پښو ونه وزي.
علیمردان خان، بیټهل داس او نور ځواکونه به زما سره د اقچې پر لور لاړ شي.

علیمردان خان وپوښتل:
بلخ پرڅای پرېږدو؟
د اورنګزېب پر شونډو فاتحانه موسکا وغوړېده وې ویل:
پر بلخ د شاهجهاني ټولواکۍ بیرغ رپېدلی دی. بیا یې زیاته کړه:
نور ځنډ نه دی په کار هلی له خیره حرکت دی!

لوی پوځي کاروان روان شو چې د شپې چوپتیا یې ور سره ماته کړه، ځمکه له هیبته لړزېدله، یو ځل په زرګونو اسونه، پیلان، سنډاګان وخوځېدل، لویې عرابې واوښتې چې درانه توپونه پسې تړلي وو، لږ وړاندې دغه لوی پوځ دوې برخې شو، د سپرو درې زره کسیزه ډله د بلخ شمال لوري ته او نور پوځ د لویدیز په لور خپل سفر ته دوام ورکړ...

د شپې په تیاره کې د اسونو د پښو ترپهار ډېر وهمناک اورېدل کېدو. دلاورخان، سعیدخان ظفرجنګ او راجه رای سنګ تر ټولو مخکې او نور قوماندانان او پوځیان یې ور پسې وو، اسونه سیېلېدل، د تودو ساګانو غږ یې د پښو له ترپهار سره ګډ اورېدل کېدو. سیند یې مخې ته راغی، د سیند پر څنډه تر لږ مزله وروسته پر پله تیر شول، د سیند او غره تر منځ لاره تېره وه پر همغو یې سفر ته دوام ورکړ.

دلاور خان تر اوسه د بلخ په جګړو کې دوه ځله له ټولواک شاهجهان نه رتبې او انعامونه اخیستي وو، پوهېدو چې د بلخ جګړې وروستي پړاو ته نژدې شوې دي، له ځانه سره یې ویل چې نن ښایي وروستی فرصت وي چې له ټولواک نه لوی جایداد او پوځي مقام په انعام کې واخلم. راجه رای سنګ، سعیدخان ظفرجنګ او نور تر لاس لاندې پوځي قوماندانان یې وپوهول چې نن د دوی لپاره برخلیک ټاکونکې ورځ ده، په همدې چورتونو کې دلاورخان له درې زره پوځ سره د تیارو په زړه کې وړاندې روان و.

د دوی په خیال کې هم نه ور تېرېدل چې له کوم خطر سره به مخ شي، ناڅاپه د تیارو چوپتیا د ټوپکو کړسهار ماته کړه، د تکبیر نارې اوچتې شوې، پر سپرو د غره له اړخه د ګولیو، غشیو، او ډبرو باران پیل شو، تر نیم ساعته دغه ډزو او ګوزارونو دوام وموند،

دلاورخان او یوه ډله سپاره یې له درې څلورو قوماندانانو سره د برید له دم نه خوندي ووتل، د نورو څو حواس پر ځای کېدل تر دوو سوو تنو یې مړه او ټپیان پاتې شول او نور یا پر سیند ور ګډ شول او یا یوه او بل لورته ووتل. په دې ناڅاپي برید کې د راجه رای سنګ څلویښت کسان له جې رام او سردار پټیل دوو قوماندانانو سره وژل شوي وو، نور کسان د دلاورخان وو خو کوم مهم قوماندان یې په وژل شویو کسانو کې نه و، یوازې د نظام په نوم د یوه قوماندان اس مرمۍ خوړلې وه چې له لوېدو سره یې نوموړی پر ډبره ور غورځولی و.

د سهارپه خړه کې بریدګر تښتېدلي وو، دوی بېرته را وګرځېدل، مړي او ټپیان یې راټول کړل، هندوان یې د سیند پر غاړه وسوځول او نور یې هماته تر خاورو لاندې کړل.

دوی ته راپور ورغلی و چې په تیموراباد کې د ارباب مراد او عبدالعزیزخان د قوماندانانو لویه او مهمه غونډه ده، خو راپور غلط و، په کلي کې یو وسله وال هم نه و، مغلي پوځ غوښتل د تېرې شپې کسات له همدې کلي واخلي، سهار چې خلک را ویښ شول، د ډېلي پوځیان یې د مرګ د سیوري په څېر پر سرونو ولاړ وو، پر کلي قیامت را ټیټ شو، تورې او نیزې وچلېدې، ګولۍ واورېدې، د وسلو خاوندانو د واړه او زاړه توپیر نه کاوه، چې ژوندي په مخه ورتلل له یوې مخې یې سرونه ترې رېبل، ټټر یې ور غلبیل کول، اورونه بل شول، د وړو او زړو کریکې اوچتې شوې، ماسپښین مهال د دلاورخان سپاره په داسې فاتحانه انداز له کلي ووتل لکه د دین د ښمن لوی پوځ یې چې تاراو مار کړی وي، شاته یې په لنبو او لوخړو کې پټې جونګړې پرېښودې، کوڅې د انسانانو په ټوک ټوک بدنونو ډکې وې، له څو نیم ژواندو بوډاګانو نارینه او مېرمنو پرته دومره څوک نه وو چې مړي خاورو ته وسپاري.

*****

د یوې ټیټې غونډۍ له سره ارباب مراد وړاندې په لوخړو او لنبو کې پټ کلي ته کتل، پوهېدو چې هلته به اوس د عرصات ورځ وي، داسې وحشتونه به تر سره شوي وي چې

د چنګېز اروا به په قبر کې بوګنېدلې وي، په سترګو کې یې اوښکې ډنډ شوې سر یې وخوځاوه:

ډېره غلطي مو وکړه، کلی مو لنډیو مارانو ته پرېښود. لاسونه یې مروړل، ناڅاپه یې لاسونه سترګو ته څپېر کړل او په ځیر یې کلي ته وکتل، وې ویل:

صادق خانه، عمرجانه تاسو وګورئ ماته خو ښکاري چې مغلي پوځیان له کلي په همدې لوري را ووتل.

هغوی هم وکتل بیا یې وویل:

هوکې همدې لوري ته را روان دي.

ارباب لاندې کړو وړو ناوونو ته وکتل، سر یې وخوځاوه وې ویل:

انشا الله چې دوی د خپلو کړو وړو د سزا په لور را درومي، مخ یې خپلو ملګریو ته را واړاوه، هلی بیړه کوئ! عمرجانه یو پنځوس شپېته تنه زلمي در سره کړه، مخې ته ورشئ، ډزې پرې وکړئ، هڅه وکړئ چې تر خوړ را تیر شي او دلته راشي. دلته به یې که خدای کول عزرائیل پر سر ولاړ وي.

عمرخان له پنځوسو تنو سره پر اسونو پښې واړولې په تراټ وخوځېدل، ارباب او څو تنو نورو تر لږ ځنډه د مغلو پوځ څاره، صادق خان وویل:

ارباب صاحب شمېر یې ډېر دی.

-چې ډېر دی نو ترې وتښتو؟

-نه مطلب مې دا نه دی.

-چې هرڅه دي موږ د خپل وطن دفاع کوو، دوی یرغلګر او قاتلان دي، صادق خانه په جګړه کې اخلاقي برلاسي تر شمېر ډېر ارځښت لري. زړه مه اچوه بیا دې داسې خبره له خولې وا نه ورم.

بیا یې وویل:

راځه چې ملګري په مناسبو مورچلونو کې ځای پر ځای کړو.

وړاندې د ټوپکو ډزې پیل شوې، له ډزو سره په هواره سیمه کې د دښمن سپاره تیت شول، خو همداسې وړاندې راغلل.

ډزې د اوږده ناو په منځ کې د ارباب دوې مورچلونو ته نږدې کېدې. تردې چ
عمرخان او ملګري یې راغلل، هغوی هم اسونه په ناو کې وړاندې دغره په لور وشړ
مورچلونو ته وختل.

لږ وروسته د دښمن په سوونو سپاره را ورسېدل، هغوی بېدرېغه ډزې کولې، دې ته ي
هم نه کتل چې د دوی ګولۍ چېرته لګیږي، پینځه شپږ سوه کسان د ارباب مراد
جنګیالیو د ټوپکو تر دم لاندې راغلل، چې د هغه له خولې چیغه ووتله:

اور!

له هرلوري د ټوپکو له خولو اورونه ووتل او د مغلي سرتیرو پر ټټرونو ور ننوتل، تر نی
ساعت زیات ډزو دوام وکړ، نور پر میدان د ډیلي د پوځ یو څو اسونه وو چې ترهېدلې
یوه او بله خوا زغلېدل، ارباب له مورچل را پورته شو، غږ یې وکړ:
بس دی اوربند!

ډزې ودرېدې له برید سره چې کوم سپاره تر خوړ نه وو را پورې وتلي دلاورخان د ت
کیدو قومانده ورکړه او بېرته په شا لاړل، دوی وپوهېدل چې وړاندې تللي پوځیان یې
په دام کې ولوېدل.

مازدیګر دلاورخان تر خوړ پورې ووت، د بلخ وسله والو خپل کار کړی و او تللي وو
د اورنګزېب د پوځ تر پینځو سوو زیات سپاره وژل شوي وو چې خانجهان خان، صادق
بیګ بخشي او رامداس ګجراتي او څو نور مهم قوماندانان پکې شامل وو.

*****

د بلخ په کوڅوکې جار وهل کیدو:
د دیوبند یو لوی عالم نن د جمعې د لمانځه خطبه اوروي.
ماسپښین په جومات کې د پښې ایښودو ځای نه ؤ، د جومات امام منبر ته وخوت له
لندې وینا وروسته یې وویل:

موږ ډېر بختور یو چې د دیوبند دارالعلوم یو ستر عالم دلته تشریف لري او موږ ته خپله عالمانه خطبه اوروي.

خلکو فکر کاوه چې اوس به یو بوډا د اوږدې ږیرې خاوند ملا راشي، خو یو ځوان د تورې ږیرې خاوند چې توره پګړۍ یې پر سروه منبر ته وخوت، ټولو سترګې د هغه په څېره خښې کړې، ځوان په لوی جومات کې پر حاضرینو یو نظر تېر کړ، بیایې له ثنا او درود وروسته د اسلامي نړۍ، په تېره د هند او افغانستان پر وضعیت خبرې پیل کړې.

په جومات کې حاضر کسان ورو ورو د نوموړي د خبرو تر اغیز لاندې راتلل. مولوي نوراغا د خیبر درې اوسیدونکی و چې د دیوبند په لوی دیني مرکز کې یې د فضیلت پګړۍ تړلې وه، نوموړي د هند د واکمنې تیموري کورنۍ پاچاهانو نا کردو ته ګوته ونیوه وې ویل:

دې کورنۍ د تاج او تخت لپاره هم مسلمان ولسونه وژلي اوهم یې په خپلو کې یو بل وژلي او ړانده کړي دي، درنو مسلمانو ورونو! د محشر په ورځ تاسو ګواه اوسئ چې ما خپله غاړه خلاصه کړه، زه وینم چې اورنګزیب د بري په حالت کې دی خو د بلخ ولس دې زما دغه خبره په غوږ کې ساتي. هیڅکله هم پر مغلو زړه ونه تړئ. دوی له خپل تاج او تخت پرته، د هیچا په غم کې نه دي... دوی تش په خوله د مسلمانۍ دعوه کوي، لاسونه یې د زرګونو مسلمانانو په وینو سره دي. دا ستاسو ولس ګناه څه ده؟ ولې وژل کیږئ، ولې مو کورونه په توپونو الوزي. او کښتونه مو د پیلانو او اسونو تر پښو لاندې پایمال دي. مولوي دیوبندي اوږده وینا وکړه. د خطبې په پای کې په ژړا شو سترګې یې د اسمان په لور ونیوې لاسونه یې په دعا لپه کړل وې ویل:

لویه خدایه ! زموږ لوی ولس ته یو غیرتي، مسلمان شمله ور مشر ورکړه چې پرې را ټول شي. باداره داسې مشر درنه غواړو چې له بلخه تر کابل او کندهاره ټول خور وور ولس پرې راټول شي.

دغه دعا د سلگونو کسانو په ژړا او آمین آمین بدرگه شوه. مولوي نور اغا له هغو اوږ خطیبانو څخه یو و چې شهجهان شهزاده اورنگزېب ته را استولي وو، له هغو نه درې تنه بېرته د اورنگزیب پړاو ته و تښتیدل د نورو یې مړی او ژوندی ورک شول.

*****

د اورنگزیب هېڅ تدبیر کار ور نه کړ، لا یې له بدخشانه تر میمنې ولسونه د ډیلي پر خلاف سره متحد کړل. شهزاده د خپل نیکه بابرشاه وروستۍ وسلې ته لاس واچاوه، یو سهار یې خپل قوماندانان راټول کړل حکم یې ورته وکړ:

مال یې ستاسو سریې د سرکار! نور مه پرې گورئ !

په دوو اونیو کې له بغلانه تر تخار او مزاره کلي یو ځل بیا د توپونو په لمبو او لوخړو کې ډوب شول.مغلي پوځ د تېر یوه کال ټول حسرتونه پوره کړل، که څه هم کلي له خلکو تر ډېره تش شوي وو، خو کوم کسان چې پاتې وو او کلهې یې نه وې ایستلې مرگ ژوبله یې درنه وه، له یوې میاشتې راهسې دغه جگړه د بلخ په ښځو کې ډېره توده روانه وه، توپونه غړمبېدل اوله کلیو تورې لوخړې اوچتې وې.

په دغو جگړو کې تر ټولو سخته جگړه د بلخ په خلم کې پېښه شوه چې اته شواروزه روانه وه، په نهمه ورځ دواړو لوریو پر لنډ اوربند هوکړه وکړه چې خپل مړي او ټپیان پر ځای کړي، له دواړو لوریو په دې جگړه کې تر دوولس زرو ډېر کسان ووژل شول، د دواړو د مرگ ژوبلې کچه یو شان وه.

د نذرمحمدخان منظم پوځ نور شړېدلی و، اوس یې یوازینۍ تمه د شاوخوا سیمو د قومي مشرانو او اربابانو په رضا کارو جنگیالیو وه چې مشر یې ارباب مراد و، خو د رضاکارو او ارباب مراد نور له نذرمحدخان نه تمه شکېدلې وه، دوی پوهېدل چې هغه د میدان مېړه نه دی، دغه جنگیالي هم اوس هره ورځ کمېدل، کومو کلیو ته چې د اورنگزیب ځواکونه نږدې کیدل د بلخ د ځواکونو یوه ډله به ترې بېلېدله چې عام کلیوال د جگړې او توپونو له دم نه وباسي او خوندي ځای ته یې ورسوي.

پر کلیو د اورنگزیب پوځونه نه ورننوتل، خو له لرې یې د توپونو زړونه ښه پرې تش کړل. د یوه ولس او یوې ټولواکۍ د منظم پوځ تر منځ جګړه وه چې د عام ولس سراو مال ته پکې درووند زیان اوښت.

یو ماښام نذرمحمدخان په خپله ماڼۍ کې مشران رابللي وو، د هغه پرڅېره د خواشینۍ او اندېښنې کرښې له ورایه ښکارېدې، په دې درې دری نیمو میاشتو کې د څوکلونو په اندازه بوډا ښکارېدو، لاس به یې سره وموښل، سر به یې وخوځاوه، خو تر خوله یې خبره نه وتله، داسې ښکارېدله چې له ځانه سره لګیا ؤ، نور چاهم د څه ویلو جرئت نشو کولای، شپه د پخېدو په لور روانه وه، بالاخره له یوه اړخه غږ اوچت شو:

ښاغلیه! موږ دې مشورې ته را بللي یو او که یوازې خپل تصمیم را ته اعلانوې؟

ټولو د غږ په لور وکتل، ارباب مراد و چې خړه چپنه یې پر اوږه وه او شمله یې پر لونګۍ ور اړولې وه.

د بلخ حاکم په داسې نظر هغه ته وکتل چې عذر او بې وسې پکې له ورایه ښکارېدله، یوازې دومره یې وویل:

اربابه نور مو جګړه بایللې اوس ستاسو مشوره غواړم چې څه وکړو؟

ارباب وویل:

له مغلو سره تړون او جوړ جاړی مه کوه، هغوی دلته ډېر نشي پاتې کېدای. سیمې به لاندې کړي، وژنې او لوټمار به وکړي بلخ به هم ونیسي، خو ساتلای یې نشي. بیا یې شاوخواته ناستو کسانو ته وکتل، زیاته یې کړه:

د بلخ واکمنه! زه غاړه درباندې خلاصوم، له اورنګزیب سره تړون ستاسو دی، ولس پرې مکلف نه دی چې ویې مني. ولس خپله لاره لري او لاره یې داده چې د ټول هېواد د خپلواکۍ او یو والي لپاره تر وروستۍ سلګۍ هلې ځلې کوي.

له هرلوري د ارباب مرادخان د خبرو په تایید غږونه اوچت شول.

د بلخ واکمن داسې وخندل چې تر ژړا ډېره غموونکې وه، وې ویل:

موږ نورجګړه بایللې ده مات شوي یو، مات شوي به بل څه انتخاب ولري.

د ارباب غږ اوچت شو:

اعلیحضرته! داسې خبرې مه کوه، اصلي ماته هغه وي چې ولس دې مات شي، وا دې ماته ومني او دښمن ته غاړه کیږدي. زموږ ولس د سراو مال زیانونه وګالل، الحمد لله ژوندی دی. بیا یې زیاته کړه:

مرادبخش مو څه ډول د هندوکش تر لمنو ور ټول کړ، له اورنګزیب سره هماغه کېدای شي. وطن زموږ دی، یرغلګر به لاره او ګودر پکې ورک کړي، خو لږ کل ایمان او د مېړانې هوډ غواړي.

نذرمحمد خان فکر کاوه چې ارباب مراد هسې تسلې ورکوي، خو د ارباب فکر او د بېله وه، هغه دانه منله چې دوی مات شوي دي، سره له دې چې د تاج او تخت ظاهر حالت بل ډول و.

نذرمحمد خان لیدل چې پوځ یې له منځه تللی دی، خو ارباب مراد بیا پر ولس حساب کاوه چې له هغه سره تر مرګه ولاړ و.

سبا ته نذرمحمد خان له یو نیم سل وسله والو کسانو او ځوتنو مخورو سره د میمنې پ لور وخوځېد. درې ورځې وروسته د اورنګزیب په پوځي پړاو کې د خوښیو نغارې اوچتې وې. د بلخ د پوځونو جبهه ماته شوې وه، دوې ورځې وروسته اورنګزیب پر یو سپین اس سپور له خپل پوځ سره مزار ته ننوت شهزاده اور نګزیب د خپل نیکه یو ارمان پوره کړی ؤ. له لوی پوځ او شاهي تشریفاتو سره ښارته ننوت، د شهزاده د اټکل پر خلاف د ښار کوڅې تشې وې، هرکلي ته یې هیڅوک هم نه وو راوتلي، د مغلي پوځ پر سردارانو پسې څو تنه د بلخ پخواني پوځي مشران ځوړند سرونه روان وو نور هیڅوک هم نه وو چې مغرور شهزاده ته د لویې بریا مبارکي ورکړي، د واکمن د ماڼۍ پر برج د ډیلي د ټولواکۍ بیرغ بیا ورپول شو. اورنګزیب په روضه کې د بریا په ویاړ دوه رکعته لمونځ ادا کړ، د مغلو پاچهي یو ځل بیا له حیدرآباد او دکن نه تر آمو پورې پراخه شوه د بلخ د واکمن خزانې د مغلو لاس ته ولوېدې سره اوسپین یې لوټ کړل، بلخ فتح شو،

دوې ورځې وروسته یې په جوماتونوکې دشاهجهان په نوم خطبې وویل شوې، په ښکاره د تخت او تاج دغه خونړي داستان پای و موند. خو دغه داستان لا دوام وموند.

*****

له بدخشان تر مزاره خلک د خپلو سوځېدلیو او کنډواله جونګړو پربیا رغولو بوخت شول، ژمې را روان ؤ. ټول په دې بېړه کې وو چې د ژمې تر راتلو یو د سر سیوری تیار کړي.

د یوه ړنګ او سوځېدلي کلي په لمنه کې ډله سپاره روان وو، پر یوه سپین اس سپور یو تن په ژورو چورتونو کې ډوب و، د خیالونو نا پایه مزل یې د بوډۍ په ژړه غوني غږ وشلېد:

اربابه زماکور خو بیا میرات شو!

ارباب مراد لکه له خوبه چې را ویښ شوی وي، د غږ په لور یې وکتل، پربوډۍ یې سترګې ولګېدې، په سترګو کې یې اوښکې را ډنډ شوې، بوډۍ ته یې وکتل ترورې! جمال جان دې د جنتونو سردار شه، له اس نه پلی شو په ستومانه ګامونو د بوډۍ مخې ته ورغی، زلیخا ترورې! د زوی شهادت دې خدای قبول کړه، داسې فکر ونه کړې چې ته نور څوک نه لرې.

بوډۍ غریو ونیوله په ژړا یې وویل:

زه نو نور څوک لرم! له خدای پرته نور زما اسره په څه ده؟

ارباب مرادخان د شملې په څنډه خپلې اوښکې پاکې کړې:

ترورې! زه دې زوی یم. زه به دې د جمال جان په څېر خدمت کوم. بیا یې له اسونو پلیو شویو کسانو ته مخ ور واړاوه:

عمرجانه! راشه زلیخا مور دې په اس سپره کړه او کورته یې ورسوه، بیا یې هغې ته وویل:

تروري زما کور نور ستا کور هم دی، عمرخان راغی بوډۍ يې پر اس سپره ک
جلب ونيو او پر راغلې لاره بېرته ستون شو. ارباب مراد او نورو ملګريو يې
پښې واړولې، شاوخوا ته يې نظر را وګرځاوه په حسرت يې سر وخوځاوه له
يې وويل:

په دې ويجاړو کليو کې به څومره ميندې د زليخا ترور په څېر بورې وي، څ
سرپرسته يتيمان به وي. چې لوی کور ويجاړ پروت وي واړه کورونه به ه
ميراتيږي.

خپلو ملګريو ته يې وکتل، وې ويل:

نذرمحمدخانه! دريغه زما مشورې دې پر وخت منلې وای. نه به ولس دوم
درکېدو او نه به ته دومره سپک شوی وې چې واک په خيرات او سوال غواړې

کابل «۱۰۵۷المریز، ۱٦۷۸ز کال»

(۲)

شاهجهان د بابر بڼ په منځ کې په شاهانه خیمه کې پر تخت ډډه اچولې وه، درې اونۍ کېدې چې له خپل پوځ سره بیا کابل ته راغلی و، دا یې معمول و چې په اونۍ کې به یوه دوې ورځې سهار له بالاحصاره را ووت بابر بڼ ته به راغی د خپل نیکه بابرشاه او د هغه د مېرمنې رقیې بیگم مزار ته به ودرېد دعا به یې وکړه، دعا به یې تر ډېره خپل بابا ته له خدایه د بښنې پر ځای د هغه د نیمگړیو هوسونو د پوره کیدو په باب وه، نذرونه او خیراتونه به یې ووېشل، وروسته به شاهي خیمې ته ستون شو او تر ماښامه به یې دلته دربار لگولی و.

د مني لومړۍ شپې ورځې وې، د نري شمال څپې پر مخ یخې لگېدلې، وړاندې د پغمان د غره پر سر خړې ورېځې گرځېدلې او کابلیانو ته یې د ژمي د راتلو پیغام ورکاوه.د پاچا موډ برابر او په ژورو چورتونو کې ډوب و، څه باندې یوه پېړۍ وړاندې د (۱۵۲۵ زېږدیز کال د نومبر ۱۷مه) د همدې کابل له (ده یعقوب) نه د بابرشاه لوی پوځ د هند پر لور روان شو او د هند تاریخ یې بدل کړ، اوس یې لمسي پوځونه د کابل، بلخ او کندهار په لور را مارش کړي او غواړي د افغانستان تاریخ بدل کړي، پاچا له ژورو چورتونو سر راپورته کړ پر شونډو یې پیکه موسکا غوړېدلې وه، یوه لورته یې په دربار کې ناست یوه تن ته وکتل چې ژېړه لونگۍ یې پر وړوکي سر ډېره لویه ښکارېدله، له کوسه گیرې سره به یې خوله تل جینگه وه، د مخې دوه غاښونه یې هم نه وو، چې وازه خوله به یې ډېره عجیبه ښکارېدله. پردیپ سنگ درباري ټوکمار د پاچا د کتو په معنا وپوهېدو، هغه د پاچا په مزاج برابرې څو ټوکې وکړې، چې د شاهجهان به په خندا لږ غاښونه ښکاره شول شاوخوا درباریانو به یې بړچ وهل او له مصنوعي خندا سره به پر ملا مات شول.

پردیپ د شهزاده اورنگزیب د میړانې کیسې پیل کړې، له بهکر مست پیل سره د جګړې ځانګړې یادونه به په کې حتمي وه، د اعلیحضرت پر مزاج دغه کیسې ډېرې خوږې لګېدلې او د خیالونو یوې نوې نړۍ ته به یې ورسره والوزاوه.

له ښه ځنډ وروسته پاچا د لاس په اوچتولو د ټوکو محفل ختم اعلان کړ. د لاس په اشاره یې پردیپ سنګ له درباره ووت. ده له جیبه بیا یو کاغذ راویوست درباري میرزا ته یې ونیو:

ملا صالح! ته یې یو ځل، بیا راته ولوله!

دا د اورنګزیب لیک ؤ چې درې اونۍ وړاندې ورته رسېدلی ؤ. په تېرو درې اونیو کې یې تر لس ځلو ډېرورته اورولی ؤ.

منشي خوله جینګه کړه په دواړو لاسویې لیک راواخیست پر سترګو یې وموښه!

اعلیحضرت او شهزاده دواړه دې خدای زموږ له سره نه کموي!

بیایې سترګې چوغې شوې په لوستلو یې پیل وکړ:

داعلیحضرت ټولواک سیوری دې پر درست جهان خپور وي! ستاسو په برکت خدای موږ ته لوی بری را برخه کړ، تر امو ستاسو د پاچهۍ وړانګې وغوړېدې. د بلخ په جوماتونو کې ستاسو اعلیحضرت په نوم خطبې له سره جاري شوې، زما مهربان پلاره لوی ټولواکه! ژمنه درکوم چې د کندهار د فتحې لوی ارمان به دې هم تر سره کوم. دا دي د بلخ شاهي خزانه چې په ملیونونو نغدې روپۍ دي له نورو غنیمتونو سره ستاسو حضورته در استوم، که دلته په کوم ګوټ کې چا د بغاوت ګستاخي وکړه سر به یې پرې والوزوم، له لرې دې لاسونه ښکلوم، په مناسب فرصت به دې په حضور مشرف شم .

ستاسو تا بعدار غلام، محی الدین محمد (اورنګزیب) .

د شاهجهان تندی د لیک د هر توري په اورېدو غوړېده، د شاهي خیمې پېځول ور ټول وو، شاو خوا غرونه او یوه برخه شین اسمان ترې ښکارېدو، هغه ته د کابل هوا ډېره

خوږه ورلگېدله وړاندی د پغمان پر غره یې سترگې وگنډلې، بیا یې یوه ژوره ساه واخیستله ، په غرور یې درباریانو ته وکتل:

شهزاده اورنگزیب به مې ډېر ارمانونه پوره کړي!

ځو غږونه یو ځای اوچت شول:

ان شا الله ، ان شا الله ، حتماً به یې پوره کړي. ...شهزاده دې ژوندی وي ....

د شاهجهان پر شونډو خوږه موسکا وغوړېده، تنکۍ غرمه وه، هغه لاسونه وغځول شخي یې وایستله، پر درباریانو یې یو نظر راوگرځاوه:

دا د کابل هوا خو جادو کوي، زموږ نیکه ارواښاد بابرشاه خو ملامت نه ؤ، که یې په ژوند په کابل کې ډېر نصیب نه ؤ هډوکي خو به یې پکې ارام وي.

غرمه شوه، وریت شوي پسونه، چرگان او ډول ډول خوراکونه کتار شول، د مڼو، انگورو، انارو او نورو مېوو ډک، زرین پتنوسونه راغلل، د شاهجهان د خوښې خاصو شربتو ډکې پیالې راغلې.

شاه جهان د انگورو یو وږی راواخیست، مخ ته یې واړاوه، راواړاوه ، وې ویل:

په ټول هند کې داسي انگور نشته!

درباریانو یې په جینگو خولو خبره ورسره تا ئید کړه. د اگرې د نجم الدین شونډې وځړېدې په خپ غږ یې وویل:

اعلیحضرته د پنجاب او دکن امونه دې هېر شول؟

شاهجهان په تائېد سر و خوځاوه:

ام خو د میوو پاچا دی!

یوه درباري له پتنوس نه یو لوی انار راواخیست:

اعلیحضرته! دا د کندهار انار دي! چې والاحضرت شهزاده کندهار فتحه کړي بیا به د ډیلي بازارونه له انارو ډک شي!

شاهجهان درباري منشي محمدصالح ته مخ واړاوه:

صالح! ته د شېملې ډېر صفتونه کوې، رېښتیا ووایه کابل ښایسته دی که شېمله؟

د نجم الدین خوله په خندا جینګه شوه، ځان یې څه ویلو ته جوړاوه چې د صالح نری
غبږ اوچت شو:
اعلیحضرته کابل ! کابل ښکلی دی ... خوږې میوې لري !
پاچا د خیالونو پر اس پښه واړوله خو زر یې پر څېره د غم سیوري پرېوتل له ساړه
اسویلي سره یې وویل:

اوف...ارمان چې ممتازمحل ژوندی وای، خامخا مې په کابل کې یوه ماڼۍ ورته جوړوله
) د ګرانې ملکې یاد یې پر څېره د خپګان درنه څپه تېره کړه، کابل ته دا ځل په ناڅاپي
سفر راوتلی و نجومیانو ورته ویلي وو چې که کابل ته لاړ نشي نو لوی تاوان به وګالي،
له بلخ نه د شهزاده مرادبخش له راتلو وروسته ده ځان اړ لیده چې کابل ته راشي او
وضعه له نېږدې وڅاري. د بلخ د فتحې خبر او د کندهار خیالونو هغه بېرته د اندېښنې له
کوځو راویوست (... چې لوی کندهار ونیسم نو پر کابل به مې د تخت او بخت سیوری
دایمي شي ... اورنګزیب به د کندهار والي وټاکم، له صفویانو سره د هرات او نېشاپور
په باب چنې وهم، دوی به ننواتې راځي، اصفهان به راته په ګونډو وي....)
شاهجهان د جهان لاندې کولو په خیالونو کې ډېر وړاندې ولاړ، یو ځل یې په ځیر د
دربار پر حاضرو کسانو نظر راوګرځاوه وې پوښتل:
ډوني رام چېرته دی؟
د شاهي پوځ یوه مشر نامدار خان په موسکا ځواب ورکړ:
اعلیحضرته! هغه د بڼ په بر کونج کې لوڅ لغړ په ډبره ناست دی، لکه چې خپل جوګ
(منتر) پخوي.
پاچا د لاس له اشارې سره وویل:
رایې ولئ، اوس به یې جوګ پوخ شوی وي!

نامدارخان دوو تنو ساتونکیو ته اشاره وکړه، هغوی له خیمې ووتل او د بڼ جنوب لورته
لاړل. څو دقیقې وروسته یو په ویښتانو او خیرو کې پټ بنیادم دربار ته ور ننوت، هغه
یوازې له ګونډو تر نامه پورې په یوه ټوکر کې چې اصلي رنګ یې په خیرو کې ورک

و ځان نغښتی و، راغی له دوه لاسي سلام سره د شاهجهان په مخکې په گونډو شو، په پټو سترگو یې څو نامانوسې جملې له خولې ووتلې، ورو یې سترگې وغړولې، سترگې یې لکه په وینو کې چې غوپه شوې وي، په سړه هوا کې خولې خولې و، په خندا یې ژیړ غاښ را ښکاره شول، په درانه غږ یې وویل:

د بگوان سیوری دې در باندې تل وي، اعلیحضرته حکم!

شاهجهان چې د عقیدت په خاص نظر هغه ته کتل وې ویل:

ډوني رامه ! پرکندهار به مې کله د واک دایمي جنډې ور پېړي؟

ډوني رام بېرته سترگې پټې کړې، ښه ځنډ دربار په چوپتیا کې ډوب شو، بیا یې سرې سترگې بېرته پرانیستې وبړېد:

تور سیوري، جگې شملې، اوږده کمیسونه، ټولې لارې یې نیولې دي.

بیا یې له یوې کړسندې خندا سره وویل:

اعلیحضرته چې سیوري ورک شي، بگوان به ستا د اقبال ستوری وځلوي!

دربار بېرته په چوپتیا کې ډوب شو، د بڼ له دروازې یو پوځي راښکاره شو په گړندیو گامونو راغی د پاچا په مخکې له فرشي سلام وروسته لاس په نامه ودرېد وې ویل:

اعلیحضرته ! صوبه دار صاحب غواړي په حضور مشرف شي.

شاهجهان د لاس په اشاره حکم وکړ:

راېې وله !

بیا یې خپلو درباریانو ته مخ واړاوه وې ویل:

چې ذولفقار خان به له ملک گلاب الدین سره څه کړي وي.

د راجه جسونت سنگ پر تندي د غوسې کرښې جوړې شوې:

اعلیحضرته ! باغیان باید اعدام شي!

لږ ځنډ وروسته یو په عمر پوخ سړی چې توربالا پوش یې اغوستی و او قره قلي گرانبیه خولۍ یې تر غوږو رسېده د اعلیحضرت شاهجهان په مخکې ودرېد، تر سلام وروسته ور نژدې شو لاسونه یې پر دواړو سترگو وموښل او ښکل یې کړل. بېرته دوه درې گامه په شا ولاړ او لاس په نامه ودرېد.

شاهجهان چې تکیې ته ډډه وهلې وه په جدي لهجه ورته وویل:
ذولفقار خانه! له ملک گلاب الدین او د هغه له زامنو سره دې څه وکړل؟
هغه په عاجزۍ وویل :
اعلیحضرته ستاسو د اقبال ستوری دې اوچت وي، هغه یې له زامنو او نژدې پلویانو سره پکتیا ته تللی دی، سړي مې پسې اچولي دي خامخا یې چاره کوم!
د پاچا پر تندي پیکه وریځې راغلې او تېرې شوې:
ستا خدمتونه مې سترگو ته ولاړ دي، که نه دومره بې غوري مې دې نشوای زغملای! که سعدالله خان وای اوس به یې د وخته له دې لانجې نه بېغمه کړی وم.
ته ښه پوهېږې چې له هندوستانه تر آمو د سترې ټولواکۍ له باغي سره باید څه سلوک وشي.

– پوهیږم جلالتمابه ، پوهیږم!

– چې پوهیږې د یوه ساده ملک به څه زور وي چې ته یې نشې حاضرولای.

– اعلیحضرته له کابله تللی، هغه په پکتیا کې لوی قام لري، قام یې پرې ولاړ هم دی...
شاهجهان له غوسې لاس پر ورانه ووهل:
د شاهجهان تر پاچهۍ یې هم زور ډېر دی!

– صاحبه خوله مې دې له خاورو ډکه شي چې داسې به وایم ! ستاسو د خادم ناتواني یادوم، موږ دومره ځواک نه لرو چې پکتیا ته یې پسې واستوو!
پاچا د دربار یوه افسر ته چې غټ تندی، ببر بریتونه یې وو او د پنجابي پهلوانانوپه څېر یې خیټه پر ځمکه لگېدله مخ ور واړاوه:
نامدار خانه، کنور رام سنگه! صوبه دار چې څومره کسان غواړي زر یې ورته تیار کړئ! درې زره تنه ، پینځه زره هر څومره چې غواړي! بیا یې والي ته په جدي لهجه وویل:
نور دې کومه پلمه وانه ورم.
ذولفقار خان لاس په نامه ونیول او سر یې ټیټ کړ، له عجز په ډکه لهجه یې وویل:
اعلیحضرته ! که اجازه وي زه یو بل عرض لرم!

– وایه !

– اعلیحضرته! په بلخ او بدخشان کې زموږ د پوځیانو وضعه ښه نه ده.

شاهجهان وخندل، د درباري اردلیانو د خندا غږ د بڼ په لرې دیوالونو کې را غبرګ شو. پاچا ته خپل منشي د شهزاده اورنګزېب لیک څو شیبې وړاندې ځووم ځل اورولی و، چې هغه ته یې د بلخ د بشپړې بریا او د کندهار د نیولو هیلې بیانولې.

ذولفقارخان وار خطا شو، خو بیا یې ځان را قابو کړ وې ویل:

پرون له بلخ او تخار نه څه کسان راغلل...عالیمقامه! که یې دروغ ویلي وو سرونه به یې والوزم هغوی ویل چې په ټول شمال کې د اعلیحضرت پر پوځونو غلچکي بریدونه پیل شوي دي، ان چې د ځینو پوځیانو مړی، ژوندی ورک شي!

شاهجهان د کابل والي ذولفقار خان ته له غرورنه په ډکه لهجه وویل:

صوبه داره! کسان دې وژنه مه، خو خامخا دا نصیحت ورته وکړه چې دروغ اوازې مه خپروئ. مور داسې بچې نه دی راوړی چې د شهزاده اورنګزیب پر پوځ د برید جرئت وکړي. ورځه ته دې خپل کار کوه، داخل تش لاس رانشې، ملک ګلاب او پلویان یې لاس تړلي راوله! دلته یې ځاره یا پکتیا ته پسې ورشه په لوی لاس موږ ته د بایزید او جلال الدین په څېر نور یاغیان مه پاله. یو یاغي را پیداشي او څو کاله زما پوځونه له هغو سره بوخت شي، نور دا نخرې نشم زغملای.

د ذولفقار خان شونډې پرې وخړېدې، لاس یې په نامه ونیول پر ملا خم شو، بیا درې څلور ګامه په شا ولاړ او له خیمې ووت، د بڼ د لویې دروازې په لوریې پښې څپولې. په خیال کې یې د ملک ګلاب الدین څېره سترګو ته ولاړه چې د زوی امام الدین له شهادت وروسته یې ور سره لیدلي وو، نوموړي ذولفقار خان ته ویلي وو چې زه به له مغلي پوځ نه د دوی د ټولو ناکردو او بربادیو کسات خامخا اخلم. هغه پوهېدو چې ملک ګلاب الدین ریښتیا ویل، هغه د لاپو او دروغو سړی نه و، په تېرو دوو میاشتو کې پر مغلي پوځ څلور ځلې بریدونه شوي وو، او تر دېرشو زیات هندي پوځیان په دې بریدونو کې وژل شوي وو. ذولفقارخان ځان د پاڼ او پړانګ تر منځ احساس کړ، نه یې د شاهجهان حکم بابیزه ګڼلای شوی او نه یې تر سره کولای شوی، پوهېدو چې د ملک ګلاب الدین او د هغه د ځوان زوی عظم الدین پر خلاف هېڅ نشي کولای ځکه چې ولس یې تر څنګ ولاړ دی، هغه پر دې هم پوهېدو چې په ټول وطن کې د

اورنگزېب او شاهجهان پر خلاف سخته کرکه را پورته شوې ده. چې د بڼ تر دروازې رسېدو له ځانه سره یې پرېکړه کړې وه چې له ولایت او مقامه تېرېدل ورته د ابرو لاره ده.

شاهجهان لږ شېبه وروسته خپل خاص اردلي ته اشاره وکړه، هغه له فرشي سلام وروسته ووت لږ ځنډ وروسته چاپېریال بدل شو، په شاهي خیمه کې د طبلې او رباب سُر او تال ته د ښکلو د نڅا محفل تود شو، دا د پاچا د یوه خاص اردلي دلیپ سنگ کمال ؤ چې د هند له هر گوټ نه یې د ښکلا اوشباب بېساري څېرې را ټولې کړې وې، چې د مغلو پخوانیو دربارونو په خوب هم نه وې لېدلې، دغه د شرنگ او تر نگ محفل تر ډېره دوام درلود چې شنه او سره جامونه هم پکې کړنگېدل.

*****

شاهجهان په بالا حصار کې دربار جوړ کړی ؤ ، مخې ته یې د کابل نقشه پرته وه هغه ځایونه پکې په بیل رنگ نښه شوي وو چې د دوی نیکه بابرشاه ودانۍ پکې جوړې کړې وې .
بابر بڼ، تاجبیک ماڼۍ ، فاضل بیگ او څونورې وړوکې ودانۍ.
د شاهجهان له ودانیو سره ډېره مینه وه، په ډیلي کې یې د شاهجهان آباد په نوم د نوي ښار په جوړولو پیل کړی ؤ، په اگره کې یې د یوې ودانۍ نقشه په ماغزو کې گرځېده، د خپلې گرانې ملکې ممتاز محل یادگار، تاج محل پرې جوړ شو، له لاهوره تر اگرې او دکن دوی بېشمېره ودانۍ جوړې کړې چې د هند د مغلي پاچاهانو شان او دبدبه نړیوالو ته وښیي.
شاهجهان پر نقشه پر یوه ځای گوته کېښوده، په خاصه لهجه یې وویل:
شهزادگۍ جهان آرا داځل راسره راولم، دلته به یوه ماڼۍ جوړوم، شهزادگۍ به یې د نقشې او ودانۍ د چارو څارنه کوي.

جهان آرا د شاهجهان مشره لور وه چې د پلار په څېر یې د شاندارو ماڼیو جوړولو سره مینه وه، د شاهجهان آباد په نوې نقشه کې چاندني چوک د جهان آرا د خیال عملي

تصویر دی. هغه له شاهجهان سره دوه ځله کابل ته راغلې وه او دغه ښاریې ډېر خوښ شوی ؤ.

غازي بیگ د بالاحصار د شاهي ماڼۍ رغولو معمار د پاچا مخې ته ناست ؤ. نوموړي د مرمر او رخامو په پیژندلو او توږلو کې ډېر مهارت درلود. هغه ته یې وویل:

بیگه ! ذولفقار خان به سړي درسره کړي، په شاوخوا غرونو کې د سپینو مرمرو زېرمې وگوره.

هغه لاس په ټټر کیښود سر یې په درناوي خم کړ:

په سترگو اعلیحضرته!

د راجپوتو د لوی قوماندان راجه جسونت سنگ، وروځې ببرې شوې، شونډې یې ورپیدې:

دا پټانان به درته فرصت درکړي اعلیحضرته!

پاچا پر ږیره لاس را تېر کړ:

مطلب دې څه دی ؟

هغه ورمېږ وگراوه:

اعلیحضرته ! دغه خلک تر اوسه موږ ته د دښمن په سترگه گوري ...

دوی په همدې خبرو کې وو چې خاص خادم ورننوت تر سلامي وروسته یې وویل:

د شاهي قطعې قوماندان نظام الدین غواړي په حضور مشرف شي. شاهجهان دلاس په اشاره ورته وویل:

را دې شي!

لږ شیبه وروسته د نامدارخان د زرکسیزې ډلې قوماندان نظام ور ننوت چې په خولو کې لوند خیشت و او ساه یې سخته سوځېدله، پر ملا مات شو د درناوي مراتب یې پر ځای کړل بیله دې چې ترې وپوښتل شي، وې ویل:

اعلیحضرته! زموږ یوه تن چې د ملک گلاب الدین پر ځارلو گومارل شوی و خبر راکړ چې ملک تېره شپه کلي ته راغلی او تر اوسه بېرته نه دی وتلی.

شاهجهان راجه جسونت سنګ او نامدارخان ته وکتل، وې ویل:
بیره کوځ چې درنه ونه وزي، همدغه یې ځای دی. له چچ پوچ سره یې راولی کلا نه یې اور واچوځ!
بیا یې د نامدارخان له قوماندان وپوښتل:
نظامه کلی تر ځارنې لاندې دی؟
هغه چې سخت ستومانه و وویل:
هوکې اعلیحضرته!

ـ د شاهجهان پر شونډو پیکه موسکا راغله، جسونت سنګ او نامدارخان ووتل، نظام په پوښتونکي نظر ټولواک ته وکتل، هغه ورته وویل:
نظامه ته دې دمه جوړه کړه، ډوډۍ دې وخوره وړۍ به یې، ته د ګلاب الدین د نیولو له ماموریت نه معاف یې.

نظام جګ شو او لکه لوی انعام یې چې ورکړی وي، په خوښی له شاهي خېمې ووت. نظام د ټولواک د ځانګړیو ځواکونو یو منصبدار و، په خوراک کې په څلورو تنو شمار و، دغه خبره به یې ډېره تکراروله چې زه په خوراک ستړی شوی یم خو موړ شوی نه یم.

ټولواک ته وفادار او په هرډول شرایطو کې خدمت ته ملاتړلی ولاړ و، یو کمال یې دا و چې په مورچل کې به پرېووت سلو کسانو نشوای جګولای، ملګریو یې دلته هم یوه ټوکه پسې جوړه کړې وه ور پسې ویل یې چې تښتېدای نشي مجبور دی چې په مورچل کې پریوزي.

نظام د پوځي قوماندان پر ځای د ګجرانوالې هغو خېټورو پهلوانانو ته ورته و چې یو پسه یې په ځانښت کې د ژبې ټرک نه و. هغه نېغ شاهي پخلنځي ته لاړ لږ ځنډ وروسته یې، د شپیللیو هډوکو انبار مخې ته پروت و.

ټولواک حرم ته ننوت، د ملک گلاب الدین د سزا په باب یې فکر کاوه، هغه ډېره گستاخي کړې وه، زوی یې د لویې ټولواکۍ پوځیان وژلي وو اوملک بیا د ټولواک کورنۍ ته سپکې سپورې ویلې وې او پوځیان یې وژلي وو، له ځانه سره یې وویل:

گلاب الدین به د پیل پښو ته واچوم، دغه لنډۍ شوی مار که پاتې شي د خپل زوی کسات به خامخا اخلي. داسې سزا به ورکوم چې کابلیان داسې پند ترې واخلي چې بیا به د شاهجهان سپیانو ته هم سلام کوي. که دا کار ونه کړم، بل یاغي به راته پیدا شي.

اعلیحضرت په حرم کې ډېر پاتې نه شو، بېرته خپل دربارر ته راغی، په څېره کې یې د نا ارامۍ نښې له ورایه ښکارېدلې، اردلیان یې ورته ټیټ او پاس کېدل، د څو چاودنو درانه غږونه یې واورېدل، پر شونډو یې د موسکا سپکه څپه تېره شوه، و پوهېدو چې د ملک گلاب الدین کلا یې والوزوله، تر اوږده ستومانوونکي انتظار وروسته راجه جسونت سنگ او نامدار خان غبرگ دربار ته ور ننوتل، دواړه پر ملا مات شول، له سلام وروسته چوپ ودرېدل. شاه جهان ترې وپوښتل:

یاغیان راولئ!

هغو دواړو یو بل ته وکتل بیا راجه جسونت سنگ وویل:

د ظل الهي د اقبال ستوری دې اوچت وي، کلا مو والوزوله، یاغیان مو ووژل، خو .....

شاهجهان ناڅاپه پر خپل ځای ودرېد، وې پوښتل:

خو څه؟...گلاب الدین او زوی یې چېرته دي؟

دا ځل نامدار خان ځواب ورکړ:

اعلیحضرته! ملک گلاب الدین تر برید مخکې خبر شوی و، هغه له خپل زوی او ډلې سره له کلا وتلی و، زموږ پر پوځ یې ډزې وکړې څلور تنه یې را ووژل، دوه یې ټپیان کړل، بیا هغوی وتښتېدل.

ټولواک په غوسه وپوښتل:

نو په کلا کې مو نور کوم یاغیان ووژل؟

نامدارخان سترگې ښکته واچولې، راجه جسونت سنگ وویل:

اعلیحضرته! هلته د گلاب الدین ماشومان او ښځې وې....

ـله مخې مې لرې شئ؛ مخونه مو ورک کړئ! بیا جگ شو او په گړندیو گامونو حرم ته ننوت.

*****

د منې ورځې وې ساړه بادونه را الوتل او د ونو له پاڼو سره یې لوبې کولې. پاڼې ژېړې شوې او ونو زرینې جامې اغوستې وې چې شمال سوکه سوکه ترې ځنډولې. د کابل سړه هوا نوره د شاهجهان پر مزاج ښه نه لگېده.

د یوې خړې ورځې په ماسپښین شاهجهان په بابر بڼ کې په خپله شاهي خیمه کې دربارلگولی ؤ، ډوني رام یې په مخکې لنگ وهلی په گونډو ؤ، په یوه نغري کې یې پر سکروټو تېل ورشیندل او خپل منترونه یې تکرارول.
شاهجهان له خپلو درباریانو سره هغه ته ځیر ځیر کتل، مولوي اسماعیل تر شونډو لاندې په ټیټ غږ ویل:
ټول کفریات دي! د جوگي به څه وړاندوینې وي!

رام نات راجپوت په غوسه سترگې ور واړولې خو څه یې ونه ویل. د نظام په پېړو شونډو موسکا وغوړېده او د سترگو له کونجو یې مولوي اسماعیل او رام نات ته وکتل، ډوني رام سوکه سوکه په جذبه راغی د نا مانوس منترغږ یې لوړېدو، سترگې یې پټې وې، ناڅاپه یې سترگې وغړولې یوه پیمانه تېل یې په سکروټو ورتویې کړل چې لمبې او لوخړې یې د خیمې تر چته پورته شوې .

بیا چوپ شو سترگې یې پټې کړې ځای پر ځای بې حرکته کیناست. چوپتیا داسې حاکمه شوه چې د زړونو درزا پکې له ورایه اورېدل کېده، شاهجهان هم خدای خبر چې د جوگي د منتر تر اغیز لاندې ؤ که په نورو چورتونوکې ډوب ؤ. سترگې یې په ډوني رام او د نغري په سکروټو نښتې وې .

غه مهال دوه تنه سرتیري د بڼ له دروازې په بیړه شاهي خیمې ته ورغلل، له ساتونکیو ره تر لنډو خبرو وروسته یوتن شاهي نوکر خیمې ته ورننوت له یوځي سلامي سره یې خیمې چوپتیا ماته کړه، پاچا په پوښتونکي نظر ور وکتل، ساتونکي له دویم ځلي سلام روسته وویل:

جناب شهزاده استازي راغلي دي غواړي د اعلیحضرت حضورته خپل پیغام ورسوي.

اچا په درانه غږ وویل:

اوله، زه دهمدوی په انتظاروم! بیایې ډوني رام ته وویل:

ادو! دوکان دې نور در ټولوه! هغه سرې سترګې وغړولې، وځومبېده جګ شو، د وسپنې نغری یې له سکروټو سره ورسره واخیست.

شهزاده اورنګزیب استازي راغلل له فرشي سلام وروسته یې یوه تن نغښتی کاغذ اهجهان ته ونیو. پاچا ملا محمد صالح ته اشاره وکړه ،هغه لیک پرانیست خوله یې جینګه شوه ژیړغاښونه یې راښکاره شول:

د اعلیحضرت د اقبال ستوری دی اوچت وي، د شهزاده لیک دی، پاچایې د لوستلو شاره وکړه. صالح لیک پیل کړ:

د اعلیحضرت د بخت ستوری دې اوچت وي... له بدخشانه تر میمنې زموږ بیرغونه پیږي .

خو له څو ورځو راهیسې زموږ پرپوځونو ناڅاپې بریدونه زیات شوي دي. د بلخ تر سلیمی وروسته په دې بریدونو کې تر اوسه زموږ تر څلور زروتنو پوځیان یا وژل شوي ویا بېدرکه دي...

صلي دښمن ارباب مراد دی، خو داسې ښکاري چې نذرمحمد خان او زامنو یې هم ه موږ سره دوکه کړې ... دغه ولسونه هم موږ ته د دښمن په سترګه ګوري، ارباب مراد موږ د نیکونو پر خلاف ډېر تبلیغ کوي او خلک پاروي، له هغه سره مولوي نوراغا یوبندي چې تاسو را استولی ؤ هم ملګری شوی دی.

والامقام اعليحضرته! ستاسو تخت اوبخت دې برقراروي، تاسو د بلخ او بدخشان د پوځي لگښتونواو د پوځ د مرگ ـژوبلې په باب معلومات غوښتي وو، د هغو تفصيل دا دی:

شهزاده مرادبخش له شپېته زرو پليو او سپرو سره پر بلخ او بدخشان بريد وکړ، دوه زره زما ځانگړي پوځيان وو، دوه زره تاسو را استولي وو، اوس د هغو ټولو تر نيمايي لږ پوځيان ژوندي پاتې دي. دلته څوک حاضر نه شول چې زموږ په پوځ کې شامل شي، ارباب مراد لوی خنډ دی.

پوځي لگښتونه مو د بلخ د خزانې او نورو غنيمتونو نه دوه چنده زيات دي، خلک تر اوسه ياغي دي، د باج ټولولو لپاره شرايط برابر نه دي. نور نو چې څنگه لازمه گڼئ ستاسو د حکم په انتظار يم.

(ستاسو خادم شهزاده اورنگزيب.)

د ليک له لوستلو سره د شاهجهان د خيالونو هغه مانۍ چې له ډيلي تر کابل او کندهاره يې درولې وې، ناڅاپه راپريوتې او لوټه لوټه شوې.

سترگې يې تر څنډه پرغوړېدلې غالۍ نښتې، په ژورو چورتو کې ډوب شو، چا سوڼ نشو وهلی، يوځل بيا داسې چوپتيا شوه چې د باندې د ونو پر څانگو د شمال نری غږ پکې اورېدل کېدو ... بيا شاهجهان لکه چې له خوبه راويښ شوی وي، سر يې وخوځاوه:

په مياشتو مياشتو تياری، په سلگونو زره لگښتونه، زرگونه پوځونه مړه او ژوبل، يوازې څو اونۍ د فتحې او بريا زيري اوبيا هيڅ !

سر يې خوځاوه، د شاهي پوځ مشر نامدارخان ته يې مخ واړاوه:

کوچ ته تياری ونيسی، په څو ورځوکې بېرته ډيلي ته کوچ دی! بيا يې زياته کړه:

نجومي ته ووايی چې د سفر نېټه معلومه کړي.

منشي ملا محمد صالح ته يې اشاره وکړه چې پاتې شي، نور دربار رخصت شو، شاهجهان تر څنډه په چورتونو کې ډوب ؤ ، بيا يې سر راپورته کړ ، منشي ته يې وويل:

شهزاده ته ولیکه، د دې لیک له در رسېدو سره سعدالله خان را واستوه چې د بهار ولایت والي مې ټاکلی دی، خلیل الله خان له میمنې را وغواړه، له بلخه د بشپړ را وتلو تیاری ونیسه.
له نذر محمدخان سره اړیکه ونیسه بلخ او بخشان نور هغه ته وسپاره.

بل لیک یې د نذرمحمدخان په نوم ولیکه، په هغو کې یې لیکلي وو چې له بدخشانه تر میمنې به د ډیلي تر سیوري لاندې ستا حکومت وي، ستاسو دښمن به زموږ دښمن وي. او زموږ دښمن به ستا سو، ارباب مراد زموږ د دوستۍ مخالف دی، د هغو سترګې د بلخ پر تخت خښې دي، که یې پر وخت چاره ونه کړې پښېمانه به شې. موږ د دې لپاره در سره خاصې اړیکې غواړو چې وینه مو شریکه ده، تاسو له ځانه بیل نه بولو. بیا په ستومانه انداز له تخته جګ شو او د استراحت په نیت د خپل حرم په لور لاړ.

*****

د بګرامیو په حسین خیلو کې د یوې برجورې کلا په یوه برج کې څو تنه ولاړ ؤ او شاوخوا یې څارل، دهمدې کلا په یوه لویه خونه کې دیرش ـ پنځه دیرش تنه سپین ږیري او ځوانان را ټول وو.

د ټولو سترګې پر یوه مامره مشر خښې وې، د هغه پلن تندی می وریژې لویه ږیره، ملتانۍ لونګۍ پر سر او یوه وریښمینه چپنه پر اوږو وه، پر تندي یې د ژور غم او ویر نښې وې، شاوخوا ته نور د پاخه عمر خاوندان او یوه لورته لس پنځلس تنه ځوانان ناست وو.
د خونې له وره سره یو بوډا ناست ؤ، یوه مشرغاړه تازه کړه هغه ته یې لاس ونیو:
د حاجی صیب سردار خان کور دې آباد وي، بچې یې دې لوی او دېره یې دې درنه وي چې موږ ته یې په دې خطر ناکه وضعه کې بیا هم بلنه راکړه او دلته راټول شوو.
بیا یې مخامخ هماغه مامره مشرته مخ واړاوه خبروته یې دوام ورکړ:

ملک صاحب! د زلمي زوی شهادت دې الله قبول کړه، مټ دې و، غم يې لوی دی ځوان و غيرتي و، خو شکر دی چې ښه نوم يې درته پرېښود، د کلا دې پروا نشته، چې مېړونه وي کلاوې به بيا جوړې شي. خو د ماشومانو او مېرمنو په شهادت دې خدای شاهد دی چې ډېر وځورېدو. الله دې هغوی ستاسو شفيع وګرځوي.

ملک گلاب الدين غريو ونيو، شمله يې سترګو ته ونيوه، تر ځنډه چوپ و اوږې يې خوځېدلې، ښه ځنډ وروسته يې په زحمت وويل:

ستاسو ټولو کور اباد خدای مو له غمه وساته، دا زموږ شريک غم دی، زما کور، ماشومان، او مېرمنې ددې هېواد تر هېڅا زيات نه وو، دا زموږ شريک وير دی، چې څوک لاړل دعا به ورته کوو، نور دې خدای موږ ته دا همت راکړي چې د ظالمانو شوم قدمونه له خپل وطن نه لرې کړو. چې له ټولواکيو سره ډغرې وهو نو دې مصيبتونو ته به هم ځانونه ټينګوو. بيا يې پر مخ لاس را تير کړ زياته يې کړه:

له حاجي صيب او نورو درنو مشرانو مننه چې دلته راغلل، موږ يوې مشورې ته اړتيا درلوده چې بايد راټول شوي وای.

له يوه اړخه يوه تن چې خړ پکول يې تر غوږو پورې رسېدلی ؤ وويل:

ملک صيب ! تاسو زموږ مشران ياست مشورې ته څه اړتيا ده حکم وکړئ موږ به يې سر په سترګو منو!

له هر لوري غږونه اوچت شول:

ښه وايې ، په پير دې برکت ، بس حکم وکړئ موږ حاضريو!

ملک گلاب الدين بيا په خبرو پيل وکړ:

تاسو دې خدای راته لري، دا د ټول قام او ولس خبره ده، د ټول هيواد غم دی، مشوره د خدای حکم دی. جرګه زموږ دود دی. زه يو څو خبرې کوم بيا تاسو درانه مشران په خپل نوبت خبره وکړئ، بيا به په ګډه داسې خبره سره غوټه کړو چې د الله او رسول رضا او زموږ خير پکې وي. بيا د خونې له هرلوري غږونه اوچت شول:

ملک صیب مهرباني وکړه:

نو موړي وویل:

درنو مشرانو! په یو دوو وړوکیو پېښو به قضاوت نه کوو، له بلخه احوالونه راځي چې د اورنګزیب پر پوځونو بریدونه زیات شوي دي، موږ نن له یوه نه بلکې څولویو پاچاهیو سره لاس او ګریوان یو، یوازې د ډیلي مغلي حکومت په لکونو پوځیان لري، په دې پوځونو کې یې هندوان هم شته مسلمانان هم، د ډیلي او هندوستان خلک هم شته او زموږ د پښتنو په شمول د کابل او پښتونخواه خلک هم .

موږ له داسې دښمن سره لاس اوګریوان یو چې په نوم مسلمان دی. له موږ غواړي چې په خطبو کې یې د پاچا نوم یاد شي. خو همدغه مسلمانان دومره بې رحمه دي. چې همایون یې خپل یو ورور هندیال وژني او محمود بل ورور یې ړندوي .

همدغه شاهجهان چې نن په کابل کې ناست دی، لاسونه یې د خپلو سکه ورونو خسرو او شهریار په وینو سره دي. د دې خبرو په اورېدو د حاضرو کسانو خولې له حیرته وازې پاتې شوې، ملک ګلاب الدین غاړه تازه کړه خبرو ته یې دوام ورکړ:

مغل له تخت او تاج پرته نه خپلوي پېژني، نه دین. څوک چې په ورور او زوی رحم نه کوي زموږ پر شهید پیر روښان او د هغو په اولاده به یې ولې کوي، زموږ پر ماشومانو او ښځو به یې ولې کوي.

زه به داسې څوک درته راولم چې اتلس کاله یې د جهانګیر او شاهجهان په حرم او دربارکې تېرکړي دي. د مغلو د شاهي حرم کومې کیسې چې هغه کوي نه زما په خوله راځي نه مې حیا دا اجازه راکوي، خپلې مېرمنې او لونې یې په ستر دي، خو د ننه د دوی په حرم کې بیا د خرمستیو بل حالت دی. دا اوس د شاهجهان د دوو زامنو داراشکوه او اورنګزیب ترمنځ د تخت پر سر سیالي روانه ده. که ژوندي وو وابه ورې یوبل به پرې و وژني.

مغل په حیدرآباد، او دکن کې د هندوانو د پلوی ډنډورې وهي، پر تندیو سندور وهي، حرم یې د هندي راجه گانو له لوڼو او وینځو ډک دی، په کابل، پېښور او کندهار کې بیا د اسلام د پیروی دعوه کوي.

درنو مشرانو! موږ د یوه مکار او چلباز دښمن سره لاس او گریوان یو، خو تردې بل لوی او تریخ حقیقت دادی چې موږ نن ډېر بې وسه او ځپل شوي یو.

د ځوانانو له ډلې یوه تن وویل:

له موږ سره د الله تعالی مرسته ده، موږ پرحقه یو! موږ ایمان لرو ولې به کمزوري یو!

د ملک گلاب الدین پر شونډو پیکه موسکا تېره شوه وې ویل:

د ځوانانو احساسات او غیرت د ستایلودي، دوی دې خدای راته لري ... خو ماچې وویل موږ نن ډېر بې وزله اوبې وسه یو، دوې لویې تشې لرو. یو داچې موږ مشر نه لرو، دوهم ټوټه ټوټه یو اتفاق نه لرو، لوی کورمو په وړوکیو کورگیو وېشل شوی. کابل، بلخ، هرات، کندهار، پېښور ټول د یوه لوی کور بیلابیل ښارونه دي، خو مشر نه لرو نظام نه لرو. ولس لرو، ځوانان لرو، غیرت لرو، خوله لویو پاچاهیو سره ډغرې تر یوه بیرغ لاندې راټول ځواک ته اړتیا لري چې موږ یې نه لرو .... دا ډېر د افسوس ځای دی....

هغه لږ چوپ شو، اوږده ساه یې واخیسته، بیا یې خبرو ته دوام ورکړ:

دا راته شرم دی له کشمیره تر هرات او کندهاره، له وزیرستان تر آمو ډېر ستر قام پروت دی، دلته سترې واکمنی تېرې دي، غزنوي او خلجیان مو ترهندوستانه ورسېدل، اوس تر یوې پېړي زیات موږ یوازې پردې ویاړو چې مغلو اوصفویانو ته مو سر ټیټ نه دی!

که موږ خپلې دغه کمزوری او ناخوالې لرې نه کړو، همدغسې به خواروزار وو. یا به د مغلو نوکري کوو، یا د صفویانو او یا د نورو.

درنو مشرانو اوځوانانو!

زما خبره د زړه په غوږونو واورئ، ترڅو چې موږ یو ملي مشر نه وي موندلی له لویو ځواکونوسره ډغرې وهل مو زور اوبه کوي.

مشرانو ! زموږ د قام پخوانی پرېکړه همدغه ده چې د خپلو کورونو او نوامیسو دفاع به کوو، نور به له مغلو سره پام کوو، په لوی لاس یې باید ونه پاروو چې په دې کې موږ ځپل کېږو، موږ د پیر روښان په څېر یوه مشر او لارښود ته اړتیا لرو، یوه ملي مشر ته چې د ټول هیواد ولسونه پرې راټول شي. ترڅو داسې مشر پیدا نه کړو په حکمت به له ظالمانو سره شپې تېروو او گوزاره به کوو.

یوه ځوان وویل:

ملک صاحب له ظالم سره گوزاره گرانه ده.

هغه یې خبره تایید کړه وې ویل:

گوزاره په دې معنا نه چې چوپ به ناست وو او د مغلو ظلمونو ته به مو سر ټیټ کړی وي. معنا دا چې پلمه به په لاس نه ورکوو، خو که مو چېرته وار ورته برابر شو صرفه نه پرې کوو.

بیا یې پر مجلس یو نظر را تېر کړ وې ویل:

ان شا الله دلته ټول د راز خلک دي، زه یو زېری درکوم خو پام چې راز مو افشا نشي.

ټول غوږ غوږ شول، ملک گلاب الدین وویل:

شاهجهان د نجومي حکم ته انتظار دی، نیت یې کړی چې بېرته اگرې ته ستون شي. اورنگزېب ته یې حکم کړی چې له بلخ او بدخشانه بشپړ را ووزي او هند ته لاړ شي. انشا الله د هندوکش گړنگونه به د اورنگي د پوځیانو ادیره شي. غیرتي زلمي تیار کړئ چې د وطن حق اداکړي.

درې ورځې وروسته د بتخاک پر لاره شاهجهان له خپل شاهي پوځ سره د لاهور په لور وخوځېد، دویم زوی شهزاده شجاع یې په کابل کې پرېښود او حکم یې ورته وکړ چې اورنگزېب ته انتظار شه او بیا دواړه د ډیلي او اگرې په لور راځئ.

اورنگزېب چې له بلخه د کابل پر لور را وخوځېد د لارې په پېچومیو او گړنگونو کې د ارباب مراد کسانو بریدونه پرې پیل کړل، د هندوکش په ناوونو کې د ملک گلاب الدین کسانو په رڼا ورځ ستوري پرې وشمېرل.

چې کابل ته راغی، له بلخه تر پر پروان پورې یې درې نیم زره اسونه او سنډاگان، تر پینځه نیم زره زیات پوځیان یې له وسلو او نورو لوټ کړیو مالونو سره له منځه تللي وو. اورنگزیب داسې ډک زړه د ډیلي په لور وخوځېد په بلخ ، بغلان او هندوکش کې یې چې پر زړه کوم داغونه لگېدلي وو تر ډېره پورې تازه وو.

*****

شاهجهان اباد نوی بشپړ شوی و، د ډیلي په منځ کې دغه شاهانه ښارگوټی او د هغو په منځ کې چاندني چوک د شاهجهان او جهان ارا د فکر او ذوق انځور و، پراخ واټونه، دواړو لوریو ته د ونو او گلانو کتارونه، ویالې او نهرونه، په داسې ترتیب رغېدلي وو چې شاهجهان اباد ته یې بېساري ښکلا ور بښله، ټولواک پر خپل نوي (زرین تخت روان) ډېره وهلې وه، دغه دوه نیم گزه اوږد او یونیم گز سورور میناکاري شوی زرین تخت ډېرو ماهرو کارگرو په نهو میاشتو کې تیار کړی و. تخت مټوروغلامانو پر اوږه کړی و او ټولواک د خپل نوي شاهانه شهکار په سمسورگلبڼ کې په سیل را وتلی و، هغه د گلبوټو په ننداره بوخت و خود خیال مارغه یې له دې ښکلي چاپیریال نه ډېر لرې په الوت و، د شاهجهان تر ټولو ستر ارمان له بلخه تر کندهاره پر ټول افغان زمین واکمني وه چې تر اوسه نه و تر سره شوی. دغه مهال هم په همدې چورتونو کې دوب و.

د بلخ حاکم نذرمحمدخان سر په اطاعت ور ته ټیټ کړی و خو هغه پر ولس واک نه درلود، ولس خپلواک ژوند درلود، کندهار څو ځله د دوی او صفوي واکمنو تر منځ لاس په لاس شوی و خو د بابري میراث خورو ارمان لا نه و تر سره شوی.

د ډیلي ستر ټولواک پر تخت روان ناست و خو خیالونه یې د هماغه افسانوي کندهار په دیوالونو او برجونو کې گرځېدل چې هر واکمن ته یې یو بیل تعریف درلود. شاهجهان له ځانه سره بوخت و چې کندهار ونیسي، نو د ډیلي د سرې کلا په څېر به نوی لوی دیوال ترې را گرځوي چې بیا صفوي پوځ تر هغو د تېرېدو توان ونه لري. څو ځله یې ستر لښکر او نامتو قوماندانان ددې ښار د نیولو لپاره واستول، خپل مشر زوی شهزاده داراشکوه یې وگوماره خو ټول ناکام را ستانه شول. ټولواک ته ناځاپه د یوه سادو

ډوني رام خبره سترګو ته ودرېده، هغه اشاره ورکړې وه چې شهزاده اورنګزېب د بخت او تورې مېړه دی. سمدستي يې پرېکړه وکړه چې همدغه شهزاده ته ماموريت سپارم چې دغه ارمان مې پوره کړي. ټولواک چاندني چوک ته نږدې له تخته را کوز شو، خاص نوکر ته يې حکم وکړ:

نجوميان راته حاضر کړه!

هغه لاس په نامه سر ښکته واچاوه، څو ګامه په شا ولاړ او بيا په تراټ يوه لور ته روان شو، نيم ساعت وروسته دوه تنه راغلل چې ژېړ لنګونه يې وهلي وو، سرونه يې نور خرېلي خو د ککرې کوځې کړي وېښتان يې په خولو کې خيشتو ورمېږونو ټالونه خوړل، ډوني رام او انند نات درباري نجوميان وو، هغوی لاس په نامه ودرېدل، بيا دواړه په ګونډو شول، سترګې يې پټې کړې، يو څو نامانوسې کليمې يې له خولې ووتلې، بېرته را جګ شول، ټولواک ته يې سلام ادا کړ يوه يې وويل:

اعليحضرته! حکم کوه.

-غواړم بيا کابل ته تشريف يوسم، ماته د خوندي او امن سفر وخت معلوم کړئ!

هغوی د وينو د پيالو په څېر سرې سترګې شاوخواته واړولې، يو بل ته يې وکتل، بيا يې له پيکه موسکا سره سرونه د حکم په تاييد وخوځول، دواړو بيا زنګنونه پر ځمکه کېښودل، شاهجان د عقيدت په نظر هغوی ته کتل، سادوګانو سترګې پټې کړې، زنګېدل او له شونډو يې نامانوس غږونه را وتل، کوم نيم ساعت وروسته دواړو سترګې وغړولې، پر شونډو يې مرموزې موسکاوې غوړېدلې وې بيا ډوني رام وويل:

د ۱۰۶۲هجري د ربيع الاول پر اتمه بايد له لمر لويدو پينځه ساعته وروسته د کابل په لور وخوځېږې.

لنډکی دربار ړنګ شو، شاهجهان غلامانو ته اشاره وکړه، هغوی راغلل، تخت روان ته يې اوږې ورکړې، د ټولواک پر خوله خوږه موسکا غوړېدلې وه.

اعلیحضرت په همدې ورځ شهزاده اورنګزېب او خپل یوه پیاوړي قوماندان سعدالله خان ته حکم وکړ چې په هماغه نېټه له ملتان نه د کندهار د فتحې لپاره وخوځېږي. پاچا خپل خاص منشي ملا صالح ته وویل:

شهزاده اورنګزېب ته ولیکه:

پنځوس زره تنه سپاره، لس زره ټوپک ویشتونکي، د امیرانو پر پیلانو سربېره له شاهي پیل خانې نه لس لوی لوی پیلان، اته لوی کلا ړنګوونکي توپونه، او له شاهي خزانې چې څومره سره او سپین غواړې در سره وایې خله، خو د کندهار کلا به خامخا فتحه کوې.

اورنګزېب پر پاس یادو شویو شیانو سربېره درې زره اوښان چې پر پینځو سوو یې یوازې خزانه، پر پینځو سوو یې وسلې او پر پینځو سوو یې جبه خانه بار وه ور سره واخیستل. یو ځل بیا د کندهار په لور د یوې لویې ټولواکی ستر پوځ خوځېدو ته تیار شو، د اسونو، پیلانو، سنډاګانو لوی کتار ځمکه رېږدوله، له لاهوره د لوټ او تالان لښکر وخوځېد، د لارې پر ولسونو یو ځل بیا قیامتونه را ټېټ شول، کښتونه یې تالا او هستی یې لوخړه شوې.

اورنګزېب خپل پوځ پر دوولس برخو ووېشه، سعدالله خان، راجه جې سنګ، رستم خان، راو سترسال، افتخارخان، مهابت خان، راجه انرودسنګ او راجه روپ ته چې هر یو یې د څو زریز پوځ مشران وو دندې او لورې ور وسپارل.
سعدالله خان د شهزاده حضور ته ورغی سلامي یې ووهله:
والامقامه! یو عرض لرم.
شهزاده په خاص غرور ورته وویل:
ووایه!

- والامقامه! پوځ په لوی ماموریت روان دی، نازولو ته اړتیا لري.
شهزاده ځواب ورکړ:
سعدالله خانه! ټولوته د درې میاشتو تنخواه مخکې ورکړه!

د شهزاده حکم پر ځای شو، په پوځ کې نوې ولولې را پیدا شوې، د غنیمتونو تلوسه ورسره زیاته شوه، یوه میاشت وروسته د شهزاده په مشرۍ پوځ د کندهار ښار کلابند کړ، د اور او اوسپنو باران پیل شو، برجونه او دیوالونه ونړېدل، د کندهار په کوڅو کې مرگونه په نڅا شول، ډېرو میندو د خپلو بچیانو پر جنازو اوښکې تویې کړې، ښځې، واړه او ځوانان د جگړې لنبو وخوړل، مغرور شهزاده د ښار واکمنو ته پیغام واستاوه چې که تسلیم نشي، نو ژوندي به یې د ښار تر دیوالونو لاندې کړي، خو د ښار واکمن په دې باور وو چې که د دوی واکمني درومي نو ښار دې ړنگ شي. کلابندي اوږده شوه، تر دې چې اورنگزېب ته یې قوماندانان راغلل،عرض یې وکړ:
باروت او گولۍ خلاص شول څه وکړو؟

دغه احوال تر کابله شاهجهان ته ورسېد، د مغل شهزاده پر زړه د کندهار د نیولو ارمان نیمگړی پاتې شو، د پوځ د قوماندانانو تر منځ یې اختلافونه زیات شول بالاخره د شاهجهان حکم ور ورسید چې د ښار کلابندي پرېږدی بېرته رادرومئ.

د تالان لښکر تنده ماته نه شوه، په بېرته را ستنېدو کې یې د خپلې ناکامۍ بړاس بیا له هغه ولس یوست چې پر مخه ورتلل.

شاهجهان دغه مهال په کابل کې په بالاحصار شاهي ماڼۍ کې ناست و، د اورنگزېب پر ناکامۍ یې طبعه خته وه، د کندهار د نیولو ارمان یې لا په زړه منگولې ښخې کړې وې، په ژورو چورتونو کې ډوب و، چې یو نرم غږ یې د خیالونو تنابونه وشلول:
ضل الهي محبوب سبحاني د اقبال ستورې دې تر اسمان اوچت اوسه!
پاچا سر پورته کړ پر شونډو یې موسکا وغوړېده، مشر زوی یې په مخکې په ادب ولاړ و چې ده ته تر ټولو ډېر گران و:
دارا شکوه! راځه دلته کښېنه! په تخت یې تر څنگ لږ ځای پرېښود.
-اعلیحضرته! په څه دې خاطر درونند غونډې دی؟
شاهجهان سوړ اسوېلی وکړ:
شهزاده له تا څه پټه د کندهار د فتحې ارمان مې پوره نه شو.

شهزاده د پلار پر لاسو ور پرېوت، ورته وې ویل:

اعلیحضرته! که د کابل ولایت ماته راکړې، دغه ارمان به دې زه درته پوره کوم.

شاهجهان پردې هېڅ فکر نه کاوه چې داراشکوه خو یو ځل د کندهار د نیولو په ماموریت کې ناکام شوی هم دی، وې ویل:

د کابل ولایت دې تر تا قربان شي، بیا یې سمدستي منشي را وغوښت، فرمان یې ولیکه: د ملتان ولایت چې د اورنگزېب جایداد و د شهزاده دارا شکوه د زوی سلطان سلیمان شکوه په نوم شو. شهزاده ته یې د دېرش زریز پوځ مشري سمدستي ورکړه، د ملتان د ولایت پر ځای یې اورنگزېب ته د دکن څلور واړه ولایتونه ورکړل.

شهزاده داراشکوه ته یې د کندهار د نیولو ماموریت وسپاره، ورته وې ویل:

شهزاده! نوی تازه دمه پوځ تیار کړه، چې څومره وسلو، پوځیانو او خزانې ته دې اړتیا وي، راته ووایه! چې بریمن را ستون شوې د کابل ولایت به ستا وي.

پر پخوانیو د پاسه اوه لوی توپونه چمتو شول، دېرش زره لویې او وړوکې گولۍ، اتیا خرواره باروت او په زرگونو منه سرپ او اوسپنه د توپونو او ټوپکو د گولیو لپاره تیار شول. یو ځل بیا له ډیلي نه د کندهار په لور اویا زره کسیز پوځ له زرگونو اسونو او نورو څاروو سره وخوځېد. د کندهار حاکم چې د مغلي پوځ له راتلو خبر شو، ښار یې بیا صفوي پوځیانو ته وسپاره، له ښار نه د دفاع ترتیبات ونیول شول. بالاخره د ۱۶۵۳ زېږدیز د اپریل پر ۳۰مه داراشکوه د کندهار د خواجه خضر دروازې مخې ته ورسېد او د ښار کلابندي پیل شوه.

دغه کلابندي پینځه میاشتې اوږده شوه، په دې موده کې خونړۍ جگړې وشوې او په زرگونو کسان له دواړو لوریو ووژل شول. پر ښار د لویو او وړوکو توپونو اوه ویشت زره گولۍ ور وویشتل شوې، د شهزاده باروت او گولۍ ختمې شوې، خو ښار تسلیم نشو. تردې چې د شاهجهان فرمان ورته راو رسېد چې له کلابندۍ تېر شي او بېرته لاهور ته راستون شي. د شاهجهان درېیم لوی برید هم ناکام شو او د ډیلي د ټولواک دغه ستر ارمان بیا هم پر زړه پاتې شو.

د شهزاده پوځ بېرته د لاهور پر لور وخوځېد، شاته د ښار له منځه دودونه اوچتېدل، ډېر ځایه کنډوالې له مړیو ډکې وې، د ښار په کوځو کې یو ملنګ گرځېدو، هرې کوځې نه به تم شو، سترګې به یې سرې شوې، بیا به یې په کړس کړس وخندل، پر ملا به مات را مات شو. چیغه به یې کړه:

دا کوځې او پکې پراته مړي د چادي؟

دې پوښتنې ځواب نه درلود. درنه چوپتیا حاکمه وه، ملنګ به چې ځواب وانه ورېد، په کړس کړس به یې بیا وخندل بیا به چوپ شو، او درانه ګامونه به یې وړاندې ځپول. په چوپتیا کې یې یو فریاد و چې بې سره او بې شملې ولس به خود د هر زورور تر پښو لاندې وي.

دیوه ټولواک سپېره ارمان او هوس تر سره نه شو، خو یو ولس په ویر ډوب شو، دېرې بې په ادیرو او کنډوالو بدلې شوې. پر خپل زور مغرور پوځ لاړ خو په ویر ډوب ولس په کنډواله جونګړو کې له خپلو مړیو او ماتمونو سره پاتې شو.

د کندهار فضا یو ځل بیا د توپونو او ټوپکو باروتو له زهرو ډکه کړه، خو دغه لوی ناتار د دوو لویو(د هند مغلي او د اصفهان د صفوي) ټولواکیو تر منځ و، د بریا خوښي یوازې د هغوی وې، وینې پکې د افغانانو بهېدې، کورونه او جونګړې هم د دوی ورانېدل، ویر یې ټول ددې ولس و، خو ویاړ یې یا د ډیلي د کوم شهزاده او یا د اصفهان په خرمستیو کې د ډوب دربار و. ځکه دې ولس سر نه درلود، مشر یې نه و چې د خپل وطن د برخلیک او د ویر او ویاړ دعوه دار شي. د ولس د ژوند لمر تندر نیولی و. رنګ او خوند یې نه و یوازې ویر، ذلت او ماتم ورپاته و.

دویم فصل

لمر څرک

(لوی کندهار ۱۰۸۲ المریز، ۱۷۰۴ ز کال)

(۱)

سپیره دښته او دواړو لوریو ته د وړو غونډیو کتارونه د سترګو تر څاره غځېدلي وو، د غونډیو شاته بیا لرې خړغرونه ولاړوو. د اوښانو، اسونواو یابو ګانو کاروان په شګو کې روان و، له پښو سرع یې خړ ګردونه اوچتېدل، د کاروان مشر شمروز خان و چې نوې یې د ځوانۍ پر سرشاره موسم پښه اېښې وه، شمروزخان د کندهار د مشهور سوداګر نوروزخان یکه نازولی زوی و، د ډیلي او اصفهان تر منځ یې د سوداګرۍ کاروانونه چلیدل، دی لا زلمی شوی نه و چې له پلار سره به په اوږدو سفرونو کې ملګری و. هغه وړاندې غرونو ته په ځیر وکتل بیا یې وویل:

ان شا الله دوه مزله لاره پاتې ده.

ناظر یې سترګو ته لاسونه ونیول په ځیر یې دښتې ته وکتل، بیا یې وویل:

خان صښب سترګې مې کار نه کوي. زړېودي راغله.

شمروز خان په خندا ورته وویل:

وه پیرګله په سپیره دښته کې څه شی لټوې، چې سترګې دې کار نه کوي؟

ـ خان صیب دلته خو داسې نښه نشته چې پړاو را معلوم کړي، تا ته څه معلومه شوه چې دوه مزله لاره پاتې ده؟

ـ هغه کیڼ لاسته وړاندې دو شاخ غره ته وګوره!

پیرګل ناظر وخندل:

ـ خانه غر خو ډېر لرې دی، په هغو نو څه حساب کوې.

شمروزخان سر وخوځاوه:

زه نه وایم چې غر نږدې دی، همدومره وایم چې نور د مغلو له شره خوندي یو، د کلات حدودو ته ننوتلي یو، ستا خو دا لومړی ځل دی خو سوداګرو ته معلومه ده چې کله د هغه غره دواړه څوکې را ښکاره شي بیا نوایله دوه مزله لاره پاتې کیږي... دا سلیمان غر دی. ما ته یې حد را معلوم دی.

ناظر ورته وویل:

ـ خانه له یوه ظالم نه راوتلي یو، د بل ظالم ګروت ته ور لوېږو. صفوي ظالمان دې هېر دي!

ـ په کلات کې صفویان نشته، کله کله چپاو راوړي.

ـ کندهار خو پرې ډک دی.

ـ چې کله کندهار ته نږدې شوو، کاروان به تیت کړو، که یې پر کوم بار کړي اوښ او یابو سترګې ولګېدې، یوازې د هغو مالیه به ورکړو. چاره څه ده!

بیا یې له خان سره وویل:

د پردو تر واک لاندې وطن د تندر نیولي سپوږمي په څېر وي، بې رنګه او بې خونده، زړه به دې پکې تر خولې راغلی وي. دا مې ارمان دی چې په خپل وطن کې آزاد وګرځم. اسمان ته یې وکتل:

خدایه هغه ورځ را ووینې چې پر هېواد مې نه د مغلو اسونه ځغلي او نه د صفویانو د باج غم وي.

ډېر کلونه وشول چې تر غزني پر وطن د ډیلي د مغلو راج و او تر کندهار کوز د صفوي ظالمانو.

شمروز خان ویړې دښتې ته وکتل. له ځانه سره یې وویل:

کال او سر په مسافریو او مزلونو. له کور او کلي ورك یو، ګټه وټه مو د بې رحمو ظالمانو باج شي.

پیرګل ناظر سم د خبرو ګوډی و، شمروزخان ته یې وویل:

خانه! دا د ډیلي د پاچا له پښتنو سره ولې ورانه ده؟

شمروزخان ناظر ته په ځیر وکتل بیا یې ترې وپوښتل:

ته څه وپوهېدې چې له پښتنو سره یې ورانه ده؟

- هلته په سرای کې د پېښور او اشنغر ځو تنه سوداګر وو ما یې پټې خبرې واورېدې.

- هغوی څه ویل؟

ناظر ځواب ورکړ:

د ډیلي له ړانده کوتوال نه یې خوله وهله چې له پښتنو سوداګرو سره ډېر ناوړه چلن کوي.

شمروزخان وویل:

د نظام کوتوال یوه سترګه له پښتنو سره په جګړه کې ړنده شوې ده. ځکه یې ور سره ورانه ده.

د ناظر له خولې اووو ووتل، یوه شېبه چوپ شو د شمال سپکه څپه راغله ددوی شملې یې پر مخ ور وغوړولې، پیرګل شمله تر غاړې شاته واړوله بیا یې وپوښتل:

هغو سوداګرو پر ړانده کوتوال سربېره له نورو چارواکیو هم خوله وهله. ویل یې یو هم د سړي زوی نه دی، له موږ سره داسې چلن کوي ته به وایې پلار مو یې ور وژلی دی.

شمروزخان په همدې تنکۍ ځوانۍ جهاندیده او په ډېرو خبرو خبر سړی و. د مغلو او پښتنو د اوږدو جګړو او دښمنیو ډېرې کیسې ورته معلومې وې، خو هرځای او هروخت یې د هغو یادول لازم نه بلل. ناظر ته یې لنډ ځواب ورکړ:

اوس مې مازغه مه خوره بیا به کیسې په کراره سره کوو. د ډیلي واکمن زموږ قام د خپلې ټولواکۍ لپاره تر ټولو ستر ګواښ ګڼي.

پیرګل ناظر په کړس کړس وخندل، د خندا غږ یې د ویرې دښتې په ریګونو کې ورک شو، وې ویل:

هغه زموږ پر دې بده ورځ نه دی خبر!

شمروز وویل:

پیرگله ته خپل قام نه پېژنې، دا اوږدې کیسې دې، پښتانه نن مشر نه لري ، که یو ځل پر چا راټول شول بیا یې دا بده ورځ نشته.

ناظر چوپ شو، په زړه ککې یې ور وگرځېدل چې ولې پر کوم چا نه را ټولیږي چې له دې بدمرغیو بېغمه شي. خو خبره یې په زړه پاتې شوه، شاوخوا ته یې سترگې واړولې شمله یې پر تندي را تېره کړه، په پراخه دښته کې کاروان مزله ته دوام ورکړ، زلمي خانس کیڼ لوري ته د سلیمان غره یوه برخه پېژندله چې ډېر له لرې ښکارېدله. کیڼ لوري ته د غره په لمن کې کلي او باغونه د یوې توروزمې کرښې په څېر ښکارېدل، نور نو سپېره دښته او ټیټې خړې غونډۍ غځېدلې وې، د غونډیو په منځ کې به ناڅاپه کوم سمسور کلی را شین شو. کلی به څه و، پر وړوکې چینه څلور- پینځه کورونه، د کورونو په مخه کې یو دوه ډېرانونه چې څو چرگان او لغړ لنگي خیرن ماشومان پکې گرځي، څو پټي، یو څو ونې او بوټي، یو جومات او تر څنگ وړوکې حجره. په دې شاوخوا دښتو او غونډیو کې په سلگونو داسې کلي پراته دي، هماغه زاړه دیوالونه او ډېرانونه له پېړیو راسې په یوه بڼه دي، خو لږ ترې بېرته د غونډیو په لمنو کې هدیرې یې کال پر کال لوییږي، ځکه چې ژوند یې پر یوه ځای ولاړ دی خو مرگونه یې ورته بڼې بدلوي، او له هرلوري چپاو پرې راوړي، دوی د طبیعي بوټیو او ونو په څېر ژوند لري، واکمن یوازې باج ترې ټولوي، نور یې د ژوند په ستونزو خبر هم نه دي.

شمروزخان د دښتې یوې او بلې خواته ستومانه سترگې واړولې وې ویل:

- کرۍ شپه مو مزل کړی، کاروان ستومانه دی، اوس باید مناسب ځای پیدا کړو.

ناظر چې دا یې په ژوند کې لومړی سفر و او ښه له پښو لوېدلی و، وویل:
- خان صېب له هغه لوی کلي هسې راغلو.
- له کوم کلي ؟

- هغه تر لمر ځرك مخکې چې ترې را تېر شوو.

خان ورته وویل:

- مه وارخطا کېږه، کلي په مخه راځي، خو که د نازو بي بي کلا ته ورسېږو، ډېر

وي.

ناظر له خان سره تکرار کړه، نازو بي بي! نور يې هېڅ و نه ويل.

يو ځل د ناظر تندی وغوړېد، سترګې يې چوغې کړې:

خان صاحب! هغه شپون!

په سپېره دښته کې له يوه وړوکي ناو نه له شپانه سره د مېږو او وريو رمه را ښکاره

چې ورو ورو لوېېدله او را نږدې کېدله. له رمې سره يو لوی خړ سپی روان و چې د

ته را نږدې شول، سپی ځك شو.

د شپانه لوی ډانګ په لاس کې و او د يوه چرمه يي واسکټ له جيبه يې تولی نی

لوېشت لوړه راوتلې وه، سپی کاروان ته وغورېد. شپانه کوتې کړ. پر دوی يې س

واچاوه. شمروز خان وويل:

- ځوانه شپه مو مزل کړی، ستومانه يو، د دمې ځای را ښيه!

- نږدې کلي ته نيمه ګړنته مزل دی، خو د بي بي تر کلا پورې به يو ساعت لاره پا

وي!

لودين کتابتون
کتاب پر پيسې سپېر.

ناظر له شمروز خان نه په تلوسه وپوښتل:
خان صاحب دا بي بي څوك ده؟
ځواب یې ورکړ:

ولې درته ومې نه ویل؟ نازو بي بي، د دې شاوخوا پراخې سیمې خان او مشر سلطان ملخی نومېده، د غلجیو لوی خان و، له غزني تر کندهاره د ټولې سیمې واکمن و. مشري یې د مغلو واکمنو هم منلې وه. اوس یې ځایناستې د هغه لور ده. نازو بي بي، د دوی کلا د مسافرو د کاروانونو دمه ځای دی، دسترخوان یې دومره پراخه دی چې ټوله پښتونخوا پرې راټولیږي. بیا یې ناظر ته وکتل زیاته یې کړه:

پوهېږې! په دې وطن کې یوازې د نازو بي بي قام د پردیو له باج او مالیې بېغمه دی!

د پیرگل ناظر په سترگو کې د ډیلي او لاهور شاهي کلاگانې را وگرځېدې، لوړ دیوالونه، لوی لوی برجونه چې خولۍ له سره ورته لوېدله، لویې دروازې، چې له نیزو سره کتار پهره داران یې دواړو لوریو ته ولاړ وو، داسې یې گڼله چې اوس به تر یوې غونډۍ واوړي او د سمسورو بڼونو په منځ کې به یې هماغسې یوه لویه کلا مخې ته راشي، زړه نا زړه یې وپوښتل:
خان صېب! د بي بي کلا هغه د لاهور او ډیلي تر کلاگانو هم لویه ده؟
هغه لنډ ځواب ورکړ:
کلا ډېره لویه نه ده، خو د خاوندانو زړونه یې ډېر لوی دي.

یو وخت یې کیڼ اړخ ته له لارې څلور پینځه سوه گامه وړاندې یو وړوکی کلی مخې ته راغی. کاروان کلي ته ور و نه گرځېد، مزله ته یې دوام ورکړ. کوم یو ساعت وروسته چې ښه له پښو لوېدلي وو، دوی د لارې تر څنگ بل کلی ولید، لاره د کلي ښي اړخ ته د یوې لویې کلا تر څنگ تېره وه. دغه کلا د ډیلي د سرې کلا او د لاهور د شاهي کلا په څېر لویه نه وه، خو هغه «نازو» پکې اوسېدله چې وروسته یې عظمت ته ډېرو شاهي دربارونو سرونه ټیټ کړل.

د کلا تر څنگ د چینارونو په منځ کې بڼ و، کاروان چې ور ورسېد دوه تنه یې مخې ته را ووتل:

راځئ خدای مو راوله، لکه چې ډېر ستومانه یاست!
راځئ سیوري ته واړوئ، موږ به درته ډوډۍ تیاره کړو...

شمروز خان، ناظر یې او د کاروان نور ۲۵ تنه نوکران یې راغلل، اوښان او اسونه یې د ونو سیوري ته چو کړل. بارونه یې ترې واړول. له کلا نه نور کسان راغلل، اوښانو او اسونو ته یې پروړه او اوبه راوړل.

لږ وړاندې د ونو تر گڼ سیوري لاندې شمروز خان دوی پر توشکونو غځېدلي وو. پیر گل ناظر چې ډېره واچوله ویده شو. له ستوني یې د بې سُره سرنۍ په څېر غږونه راوتل. څو دقیقې نه وې وتلې چې چلمچي او کوزه راغلل. خان ناظر وخوځاوه، د لاسو له مینځلو سره شمروز خان وپوښتل:

د بي بي بخت دې لوړ او دسترخوان دې آباد وي. په کور کې خو یې خیریت دی!

نوکر چې له کوزې د خان پر لاسو اوبه ور اچولې، په حسرت یې غاړه کږه کړه:

بي بي دې الله مل شي د خپل بخت کور ته لاړه!

څه څه! هغه لاسونه په حیرانۍ راپورته کړل او نېغ یې نوکر ته وکتل.

- بي بي واده شوه! پر ښالم خان واده شوه!

شمروز خان بیا لاسونه وخنډل په خوښۍ یې وویل:

الله یې دې پرده وساتي. د سیال له کوره سیال کورته لاړه. ښالم خان د درنې کورنۍ دروند خان دی. بیا یې وپوښتل:

- اوس یې په مېنه څوک پاتې دي؟
- هوکې شکر دی، د بي بي ورور عادل خان دی.
- دا مېنه دې خدای آباده لري.
- آمین آمین.

*****

سهارنۍ وږمه چلېده ، د بوټیو او ونو پر پاڼو د پرخې رڼه غمي یو یو الوتل. پاس د اسمان پر شنه ټټر د سپینو وریځو کنډکونه سرگردانه وو، یوه د پراخ ټټر او ځواکمنو متو خاوند ځوان د شنه فصل په منځ کې قدم واهه. دوه، دوه نیم سوه گامه لرې د کلي خړ دېوالونه په تېره د هغه برجورې کلا برجونه چې تر نورو کورونو جگ وو نن ورته بل شان ښکارېدل. هرڅه ورته ښکلي ښکارېدل، د هغه په سترگو او غوړېدلي تندي کې د خوښیو رڼا له ورایه ښکارېده، خو پر خوښیو به یې کله کله د اندېښنو یوه تته څپه تېره شوه. له ځانه سره به یې په ټیټ غږ څه ووېل.

ځو گامه به یې واخیستل بیا به ودرېد، کلي ته به یې را وکتل او بیا به یې بېرته سر ښکته واچاوه او قدم وهل به یې له سره پیل کړل.

هغه د کوم خبر په انتظار و، شاوخوا ته د پټیو پر پولو او پنځوس، شپېته گامه پاس د ویالې پر غاړه د ولاړو چینارونو او ونو د پاڼو شرشر او د مرغیو شور به له خوښیو په وجد راوست، داسې یې گڼله چې هغه هم د ده په څېر په کومه خوښۍ سندرې وایي. بالاخره د انتظار شېبې پایته ورسېدې. په کلي کې د ډول غږ اوچت شو، د هغه تندی نور هم وغوړېد، پاس اسمان ته یې وکتل:

خدایه شکر!

له کلي نه پر نرۍ راوتلې لاره یو د دېرش، پینځه دیرش کلونو ځوان راښکاره شو چې په گړندیو گامونو را روان دی، په لومړي نظر یې وپېژندو چې خلیفه میرگل دی، زړه یې په سینه کې په ټوپونو شو، خو اراده یې پر احساساتو غالبه شوه، هڅه یې کوله چې ځان عادي او آرام وښیي، خلیفه میرگل لا دوه، درې پولې لرې و چې چیغه یې کړه:

خان صیب! مبارك دې شه!

خدای بچی درکړ، کاله دې بې وارثه مه شه!

بې اختیاره یې بیا له خولې ووتل:

شکر خدایه! لویه خاونده د ولس شمله مې پرې جگه کړې!

میرگل راغی له خندا جینگه خوله یې مخې ته په درناوي ودرېد، ده ورته ووېل:

زیری دې را باندې، بیا یې له جیبه دوې مشهدۍ را وایستې ورته ویې نیولې:

اوس دا واخله، خو زه دې ښه نازوم. اوس ناصرخان لالا ته لاړ شه زيرى پرې وکړه. ورته ووايه چې ماښام زموږ حجرې ته راشي، د کلي نور مشران به هم بيا را وغواړو...
ميرگل په ژړغونې غوندې لهجه ورته وويل:
خان صيب! خان لالا (ناصر خان) ته نذيرى ورغى پر هغه به يې اوس زيرى کړى وي. نذيرگل يې وراره و چې کليوالو نذيرى باله.
ـ ښه نو ته ورشه، خان لالا ته ووايه چې بېگاه ته راشي، پردل اکا، سليم اکا او ملنگ اکا خبر کړه چې بل سبا غرمې ته زموږ مېلمانه دي. درې پسونه له رمې را وگرځوه، ديگونه دې تيار کړه.
ـ خان لالا، داسې يې نه پرېږدم په وړوکي خان مې سيل جوړوم، ډولونه راباسم! نوى مېلمه راغلى چې خپه نشي...
د هغه په تندي کې د غوسې گونځې جوړې شوې، لږ په تونده لهجه يې ورته وويل:
ميرگله، د چا چې پر خاوره پردي پوځيان گرځي، د ښاديو او سيلونو جوړول ورته شرم دى! په ولس کې مې مه شرموه. د ډول غږ دې وا نه ورم! خلك به څه وايي چې ښالم خان په لوى ماتم کې د زوى ښادي نمانځي.
ميرگل غلى شو، خندا يې له شونډو وتښتېده. په نښتې ژبه يې وويل:
خان صيب، پردل اکا او ... نور څوك خبر کړم!

پردل اکا، سليم اکا، ملنگ اکا،... هو رېښتيا مولوي صاحب دې هېر نشي، هغه يې کلي ته تللى احوال ورکړه چې راشي... بيا دواړه د کلي په لور روان شول.

د کلي له لويې کلا نه لا اتيا، سل گامه لرې وو چې له کلا نه يې د دريا غږ او د نجونو سندرې واورېدې.

خان په چورتونو کې ډوب لږ نور هم گړندى شو، برجورې کلا ته لاره د جومات په مخه کې تېره وه، درې تنه کليوال يې مخې ته ور اوچت شول:

خانه!مبارك شه، خداى يې دې درته لوى کړي، سترگې دې پرې خوږې شه...
ـ ښاد شئ. پر خپلو زامنو مو سترگې خوږې شه!

اویا کلنه جماله توړی د ارواښاد سردار خان مېرمن چې د کلي له مشرو مېرمنو څخه وه، چې پر خان یې سترګې ولګېدې سترګې یې چوغې شوې، پر شونډو یې د خوښیو موسکا وغوړېده:

خانه مبارك دې شه! د نازو بي بي غېږ بیا اباده شوه، الله بادار یې در پېروزو کړه!!

خانه چې زما شیریني له یاده و نه باسې!

توړی اباده اوسې! ... ستا شیریني به ولې له یاده باسم، بېغمه شه! جیب ته یې لاس کړو دوې سپینې سکې یې په ورغوي کې ور کېښودې:

اوس دا واخله، نوره دې را باندې پور!

جماله توړی کړوپه ملا د خپلې کوډلې په لور روانه شوه:

خانه آباد اوسې! د سر سیوري دې له موږ کم مه شه! بي بي غېږ دې له بچیانو ډکه...

خان د برجورې کلا پر لویه دروازه ورننوت. میرګل د کلي په منځ کې لمر ختو لور ته په تېره لاره ګړندی شو...

د خان له ورتګ سره په یوه پراخ دالان کې د کلي د نجونو د دریا غږ چوپ شو. د مبارکۍ یو زوږ شو او پر خان را کیوتې. مبارك دې شه! خان کاکا، خان کاکا شیریني...ښالم خان خان یو دوو د کور مېرمنو ته وویل:

نجونو ته شیریني ورکړئ، ښې یې ونازوئ، خو په دې ډنګ ډونګ کې لږ پام کوئ!

نجونې حیرانې وې، یوه یې لږ پېغلوټې هوښیاره وه تندي ته یې شړك ورکړ:

-خان کاکا څوك مړه دي؟!

-نه بچې، خو ډېره ښادي او ډمامې ښه کار نه دی!

د نجونو پر دې سر خلاص نه شو، بس د ماشوم زېږون او د کوم ځوان او پېغلې د واده او کوژدې غږ پر دوی د خوښیو زیری وي. د ژوند هغه خوږ اړخ همدغه دی چې په دې خوښیو کې ټول کلی د خوښیو په ټالونو کې زانګي، په تېره د کلي وړې نجونې، دوی ته د هر کور ښادي خپله ښادي وه... یوازې هغه مهال به دغه ښادي ترې پاتې وه چې کوم مشر به ورته وویل:

دریا مه وهئ مړی شوی دی.

اوس چې يې واورېدل څوك نه دي مړه شوي په يوه غږ يې وويل:

خان کاکا چې مړی نه دی شوی، په خدای که دريا پرېږدو او بېرته يې دالان ته واخيسته.

له يوې خونې يوه د پاخه عمر مېرمن راووته:

ـ خانه بچی دې مبارك شه! د گل په څېر ماشوم دی.

ـ خواره مشې ابی، په خپلو بچيانو او لمسيانو دې زړه خوږ شه!

ښارو ابی چې په کلي کې د دايې په توگه د ماشومان د زېږون پر مهال د هرې مور ته ولاړه وي، خان ته يې وويل:

ـ الله بادار يې در پېرزو کړه د گل په شان ماشوم دی، بي بي هم شکر دی رکه روغه

ـابی ښاده شې! بيا يې يو دوې سپينې روپۍ په لاس کې کېښودې.

په هماغه دروازه دننه ننوت چې ښارو ابی ترې رواتلې وه. د ننه لوی دهليز و، دوه ورو ورته راختلي وو. خان خپلې خونې ته ننوت، څو شېبې وروسته يوه مېرمن په پاك ټوك کې له نغښتي ماشوم سره ور ننوته:

خان لالا مبارك شه! د گل په شان ماشوم دی. بي بي ويل چې په غوږ کې يې اذان دی شوی ور يې وړه چې آذان ورته وکړي.

د خان په سترگو کې د خوښيو اوښکې وځلېدې، بيا يې هم ځان را ټينگ کړ:

ـ صابرې وراره دې مبارک شه! راوړه چې په غوږ کې آذان ورته وکړم.

په سپين ټوکر کې نغښتی ماشوم يې په غېږ کې واخيست، سترگې يې د اسمان په لور اوچتې کړې:

ـ شکر خدايه! د کايناتو خالق او مالکه! ستا د دين او بندگانو خدمتگار ترې جوړ کړې بيا يې په تندي ښکل کړ او په غوږ کې اذان وکړ په ځير ځير يې ورته وکتل، د خان د خور صابرې غږ اوچت شو:

ـ خان لالا نوم دې ورته خوښ کړی دی!

ـ ميرويس! نوم به يې ميرويس خان وي او ان شاءالله د قام خدمتگار به وي.

*****

د کلي نه پاس د توتانو تر لويو ونو لاندې ډولونه غربېدل او ځوانانو ځنې ورته غورځولې، له ميدانه دوړې اوچتې وې، د ډول غږ له وړاندې ناوونو داسې راغبرگېدو لکه سمه او غر چې نن ټول په خوښيو راوتلي وي، لږ بېرته ديگونه بار وو، د غوښاوو ښوروا خواږه بوی ټوله فضا ور سره خوږه کړې وه. لويه ډله لويان او ماشومان د اتڼ ننداري ته ناست وو، په دوی کې يو شمېر د ټوپکو خاوندان وو، چې له کارتوسو ډکې گردنۍ يې اچولې وې، او په غرور به يې پر خپل ټوپک لاس را تېر کړ.

د ښالم خان په کلا کې هم بيروبار جوړ و، د ننه په کاله کې د کلي ښځې او نجونې راټولې وې، د دريا غړونه يې د کلا په ديوالونو کې را غبرگېدل، د لويې دروازې کيڼ اړخ ته په لويه حجره کې د کلي او سيمې مشران را ټول وو.

د حجرې درې لوريو ته لويې لويې کړکۍ را ختلې وې، خوږ بوی پکې خپور و، مشر خان (ناصر خان) وړاندې بالښت ته ډډه وهلې، مخامخ د قبلې پر ديوال د کعبې پر ښکلي تصوير يې سترگې ښخې وې، په گڼه ږيره کې يې سپين ويښتان پر تورو زيات شوي وو چې پر څېره يې رعب او وقار ورسره زيات شوی و.

څلورو لوريو ته دېوالونو ته بالښتونه ايښي او دېرش، پنځه دېرش تنو مشرانو او د پاخه عمر خاوندانو ورته ډډې وهلې وې، د ټولو سترگې د مشر خان په لوري وې، د خان په څېره کې د غرور او وقار نښې داسې ښکاري ته وا کوم افسانوي اتل او يا کوم لوی ټولواک دی چې پر نيمه نړۍ يې حکم چلېږي.

د دروازې له غنگ سره، ټولو ناڅاپي هغه لور ته مخونه ور واړول، يو بل مشر په درنو شمېرليو گامونو حجرې ته راننوت.
سرفراز خانه! خدای دې راوله، د مشر خان دروند غږ اوچت شو.

له دې سره په حجره کې ټول ناست کسان را جگ شول، سرفراز خان له يوه پلوه له ټولو سره ستړي مشي وکړل او بيا د ناصر خان څنگ ته يو تن خپل ځای ورته پرېښود. دی هلته کښېناست، له دروازې سره ښي لوري ته ناست ښالم خان ته يې وويل:

بچی دې خدای درته نامي زلمی کړي، مبارك دې شه، ډېر پرې خوښ یم، خدای یې دې داسې مېړه کړي چې قام پرې راټول شي. زما د یوسف جان همځولی دی، خدای دې دواړه لري.

له هر لوري آمین آمین اوچت شول.

بیا یې په عذرمنه لهجه وویل په خندا مې وبخښئ! وختي راتلم، خو مېلمانه راباندې راغلل، چاره مې نه وه حجرې ته مې بوتلل.

ښالم خان ورته وویل:

ولې دې نه درسره راوستل، څوك وو؟

- په بېړه وو، د شهر صفا ملک زمان خان و. دوه تنه تربرونه ورسره وو. سلام یې کاوه عذر یې کاوه ویل یې بېړه مو ده د ښالم خان مبارکي راباندې پور، بیا به خامخا ورته راځو.

ناصر خان په پوښتونکي نظر هغه ته وکتل:

- خانه زموږ ټولو همدا یو غم دی.

- ملك زمان خان دوی د صفوي ظالمانو په شکایت راغلي وو، ویل یې نور یې نو ژوند راته تر مرگ تریخ کړی.

ناصر خان په تائید سر وخوځاوه:

- پوهېږم، زموږ ټولو همدا یو غم دی، ښه ملك زمان خان څه ویل؟

- ویل یې نورې مالیې غواړي. بې پته خلك دي، ظلم زور ته هسې پلمه غواړي. نور یې نو ژوند را ته تر مرگ تریخ کړی، لس ورځې وړاندې یې بیا چپاو ور وړی و، څلور کلي یې سوځولي او تر دوه سوه تنو ډېر یې وژلي دي. ویل یې، ۳٦ تنه یې له ښادي خیلو نه بیا ورسره راوستي دي، د یوه ملا یې په وهلو لاس او دوې پوښتۍ ور ماتې کړې دي، پلمه یې دا وه چې صفویان دې کافران بللي او هسې په دروغو یې د مسلمانی دعوه کړې.

اصرخان پر شونډو غمجنه موسکا راغله وې ویل:
ړه وړه یې د سره کاپر دي. دومره ظلم مسلمان کولای شي چې دوی یې زموږ له
کو سره کوي؟ په موږ یې ښادۍ هم په غم اړولې، نن په ښادۍ راټول یو خو بیا هم
دې ظالمانو د تېرې او ناروا پر کیسو غږېږو. ښه ملك زمان خان نور څه ویل؟

یل یې چې څه سلا مشوره پکار ده. ما ورته وویل چې راځئ د ښالم خان کره مشران
ټول دي، خو د دوی بېړه وه، ډېر په تادۍ کې وو. د یوې کونډې یکي یو زوی و هغه
ې ورسره راوستی، ویل یې چې مالیه نشئ ورکولای زوی به دې زموږ خدمت کوي!
صرخان تندی پر څېړه وواهه:

ه مو قام او قبیل یو لاس وای، نه به مغلو زموږ پر ژوند لوبې کولې نه صفویانو. دا د
طن غم دی، چاره به یې کوو. بیا یې کوربه ته مخ ور واړاوه:
ن په خوشالۍ راټول یو، دا خبرې به بلې ورځې ته بریږدو.
سالم خان خجالت غوندې شو، وې ویل:
ا د ډول ډنګ مې مازغه خوري، خو ځوانان دي، کله کله د مشرانو خبره هم په ډاګ
رغورځوي.
اصرخان په خبره کې ور ولوېد:
ښالم خانه! هغه متل دی، ناوې په ډول ښه ښکاري مړی په ژړا. هم مو ښادي خپله ده
او هم دا لوی غم. ښادۍ به پالو او د غم او ویر به چاره کوو، بیا یې وویل:
- پر بچي دې نوم ایښی دی؟
- ما خو میرویس ورته خوښ کړی دی.
- دا خو ډېر ښکلی نوم دی، ډېر ښه نوم دی... میرویس خان!
له هر لوري غږونه اوچت شول: ښکلی نوم دی، خدای یې دې نامي زلمی کړي.
ښالم خان د منني په دود لاس په ټټر کېښودل:
درانه اوسئ، سرلوړي اوسئ.
مولوي گلاب الدین له هغه بل کونجه را غبرگه کړه:

- الله یې دې د دین او وطن لوی خدمتګار کړي. نن یې درېیمه ده په غوږ کې یې دې
آذان کړی دی!

- هوکې مولوي صیب، په هماغه اول سهار مې وکړ.

- ډېره ښه ده، ډېره ښه ده، په دیني روایاتو کې راغي چې آذان واوري د ماشوم اروا
آرامه شي. شکر وباسي چې د اسلام په خاوره کې د مسلمان په کاله کې دنیا ته راغلی.
یوه د تورې، مونډی ږیرې خاوند له هغه بل اړخه پرې راغبرګه کړه:
خدای مو دې له دې پردو ظالمانو خلاص کړي، که دوی پر موږ حاکم پاتې شي زموږ
اولاده به خدای خبر دی چې په محمدي دین پاتې شي که نه!
ناصر خان ځواب ورکړ:

رسول جانه ډېره ګل خبره دې وکړه. له دې سپېرو سره شراب او بې پتې ډېر شوي، دا
اوس دوی هره شپه د ښځو او نارینه و د شرابو او نڅاو ګډ مجلسونه جوړوي. زموږ
خلك هم ورغواړي او په لوی لاس یې په فساد اړوي. الله دې موږ ته همت راکړي چې
وطن له دې فتنې زر پاك کړو.

ښالم خان پرې ورغبرګه کړه:

خان لالا، تر ټولو ستر فساد یې په قام کې اختلاف ته لمن وهل دي. دا صفویان زموږ
د یوه قام دوستان نه دي، خو په موږ کې نفاق ته لمن وهي، یو نیم په عقل خام یې د
غوړو لاپو تر اغېز لاندې راشي او د شیطان په لومه کې پرېوزي. غلجي په دوراني وهه
او دوراني پر غلجي. د دوی ستره فتنه همدغه ده!

- غم په موږ کې دی، زه خو د قام مشر او کشر ته همدغه وایم چې پردي، پردي وي.
دوی زموږ لوټلو ته راغلي دي دا تر ټولو ستر ذلت دی چې موږ دوی ته په اطاعت
سرونه ټیټ کړو. تر هغو لا زیات ذلت بیا دا دی چې موږ د دوی له غېږې د خپل قام
او خلکو پر خلاف ودرېږو.
غرمه مهال میرګل دروازه نیم کښته کړه، ښالم خان ته یې په ټیټ غږ وویل:
خان صیب! ډوډۍ تیاره ده!

هغه په لوړ غږ وویل:

خان لالا ډوډۍ به راوړو تیاره ده!

کوزه او چلمچي وکړنگېدل، لږ وروسته اوږد دسترخوان وغوړېد او د وریژو او غوښو ډک پتنوسونه او کاسې پکې کتار شول.

تر ډوډۍ وروسته ښالم خان ته یو ځل بیا ټولو مبارکي وویله، نوي ماشوم ته د خیر دعاگانې وشوې او په گډه ټول له حجرې نه د ماسپښین د لمانځه لپاره د جومات په لور وخوځېدل.

*****

ماشوم د مور په غېږ کې په خواږه خوب ویده و، د مور پر سپین مخ یې د حیا سرخي خپره وه او په غېږ کې ماشوم ته یې له هیلو په ډك نظر کتل. د تېرې شپې خوب یې داسې په یاد و لکه دا څو شېبې مخکې یې چې په رڼو سترگو لیدلی وي.

نوراني څېره، سپینه اوږده ږیره او شمېرلې خبرې یې بیا بیا په غوږو کې کړنگېدلې:

«لورې! دغه زوی دې ښه تربیت کړه، چې لوی شي لوی کارونه به وکا او په زیارت د بیت الله به مشرف شي او له نسله به یې پیدا شي پاچاهان چې دین به روښان کا»

د نیکه شمېرلې خبرې یې بیا بیا په غوږونو کې راغبرگې شوې او بیا په غېږ کې پراته ماشوم ته ځیر شوه. له ځانه سره یې په ټیټ غږ زمزمه کړه:

زه به دې په روزنه کې هېڅ لټي و نه کړم، په اوداسه به شیدې درکوم، خدای ته به زارۍ کوم چې میرویس مې سپېڅلی انسان شي، د قام خدمت وکړي. ماشوم را ویښ شو په غېږه کې یې لاس او پښې غورځول، په سترگو کې یې له مینې ډکه ځلا وه چې نېغه زړونو ته لوېده. مور یې پرې ور ټیټه شوه پر تندي یې ښکل کړو، له ځانه سره یې بیا وویل:

بچیه! له خدایه دې داسې مېړه غواړم چې د هېواد برخلیک بدل کړې. ماشوم خېټې غورځولې، مور ته یې کتل. ژبه یې په خوله کې اړوله، هغې له غېږې را واخیست بیا یې غږ وکړ:

ګلنارې ترورې!

یوه د ځوانۍ پر وروستیو پوړیو ولاړه مېرمن ورته ودرېده:

بي بي جانې څه دي!

هغې په درنه لهجه ورته وویل:

ترورجانې دا ماشوم درسره واخله چې زه اودس تازه کړم، د شپږو وخت یې دی!

- په سترګو بي بي، بیا یې میرویس ترې واخیست یو ځل یې په تندي ښکل کړ او بیا په وړه ژبه ورته په خبرو شوه.

نازو جګه شوه له خونې ووته، لږ ځنډ وروسته یې مخ پر ټیکرې وچاوه بېرته راغله، ماشوم یې له ګلنارې ترور نه واخیست، د خونې په یوه کونج کې یې تر پلو لاندې کړ، بیا یې وویل:

ترورې یو منګی اوبه راوړه، هیلۍ ته ووایه په تناره کې اور بل کړي، زه چې ماشوم ته شیدې ورکړم، ډوډۍ ته به زغالې ورته جوړې کړم.

ګلنارې وویل:

بي بي په سترګو! او بیا په تراټ له خونې ووتله.

لږ شیبه وروسته بیا ور خلاص شو او ښالم خان کوټې ته ورننوت. د نازو بي بي څنګ ته ورغی، هغې ماشوم ده ته ونیو. ښالم خان ترې واخیست، نازو جګه شوه د قرآنکریم د رحیل تر څنګ یې یوه پاڼه را واخیسته او په موسکا یې ښالم خان ته ونیوه. هغه پاڼه واخیسته وې ویل:

دا څه دي؟

بیا یې پاڼې ته وکتل لیکلي وو:

میرویس خان د ښالم خان زوی، د زېږېدو نېټه (۱۰۸۴ هجري قمري) ښالم خان موسکی شو. کاغذ یې بېرته نازو بي بي ته ونیو:

همالته په رحيل کې یې کېږده، هغه د صندوق په دړه هم دغه نېته ولیکه.

*****

لوړ مازدیگر و، د کاریز پرغاړه ولاړ دنگ چینارونه د شمال څپو ته زنگېدل، د چینارونو د پاڼو له شر شر سره د مرغیو غاړو فضا سندریزه کړې وه، شپانه لا رمه نه وه راوستلې د پخوا په څېر د کاریز پر غاړه څو پېغلې او څو تنه د پاخه عمر مېرمنې منگي په لاسو کې په بنډار ناستې وې. دا یې معمول و چې څو لپې اوبه به یې منگي ته ور واچولې، بیا به یې یوه دمه د کلي پر ښه او بده خبرې وې، تر میاشتې زیاته موده اوښتې وه چې د دوی بنډار د ښالم خان د نوي ماشوم او د هغو پر مور تود و.

...ډېر برکتي ماشوم دی، نازو بي بي یې د سر په خیرات د کلي خوار او غریب ټول ماړه کړل. دا د بسو تورۍ خبره وه، گلناره یې په خوله کې ور ولوېده:

وه تورۍ، بي بي خو له اولې ورځې، په خیر او ښېگڼه کې نامې ده. گلناره د کلي د یوه بېوزله کور مېرمن وه چې د خان په کور کې یې کار کاوه. وروځې یې پورته کش کړې:

برکتونه خو له نازو بي بي سره راغلي.

د بازمیر اکا کونډې بیا ورغبرگه کړه:

ریښتیا وایې وه خورې! په خدای که یو لاس پر بل خبرېږي، دې به له خوارانو سره لاس کړی وي. د خپل واده کمیس یې زما لور ته را کړ!

د ملا شمس الدین اخوند پېغله لور هاجره چې لږ لوستې وه په خبرو کې ور ولوېده:

پلار مې ویل چې نازو بي بي په لوی کاله کې ستره شوې، په کاله به یې کرۍ ورځ کاروانونه تېرېدل، څوك وږي نه ترې تلل. په لوی کاله کې ستره شوې په لویه کاسه کې یې خوړلي.

گلنارې بیا وویل:

ما خو د خان لور نه وه لیدلې چې کور جارو کړي. خو بي بي له مور سره د کور په کار کې سمه بوخته وي.

د ملا صاحب لور بیا وویل:

زموږ د خان خولی په غوږو کې ده چې خدای داسې بې بي ورته د کور ډیوه کړه...
د میرو اکا کونډې وویل:
خدای یې دې زموږ له سره نه کموي. آمین آمین!
هاجرې وویل:

ښالم خان په سیمه او ولس کې سرګردانه او بوخت دی، د قام نارینه ټول د پردو دښمنانو په ویر اخته دي. په جرګو مرکو بوخت دي چې له شره یې څه ډول ځانونه بېغمه کړي، د کور او کلي پوښتنه ګرویږونه نازو بي بي ته ور پاتې ده. بي بي په مردم داری پوهېږي، کتابونه یې لوستي، هم په شریعت خبره ده او هم د کور او کلي په دود او دستور.

*****

د خونې په یوه تاخچه کې د تیلو څراغ بلیدو، وړوکې لمبه یې د پرانیستې دریځې نه د شمال نرمې څپې ته په یوه او بله خوا کږېدله، د باندې سوکه سوکه تیارو خپل پېځول ور ټولول، نازو پر مصلي ناسته وه، لاسونه یې ستر څښتن ته په دعا لپه کړي وو. تر اوږدې دعا وروسته یې د خونې په کونج کې پر میرویس ور چوف کړل چې په درانه خوب ویده و. زوی ته یې په مینه وکتل، له ځانه سره یې وویل:

عمر دې تیریږي، لس کاله د سترګو په رپ کې تېر شول، بیا جګه شوه له خونې ووته. لږ ځنډ ورسته له کوزې سره بېرته راغله. له کوزې نری تاو جګېده. د باندې لا تیاره وه. ورغله د ماشوم سرته کېناسته، په مینه یې د هغه پر تندي لاس کېښود، ورو یې وخوځاوه:
میرویس بچیه، جګ شه لمونځ قضا کیږي!
ماشوم له درانه خوبه را ویښ شو، لاسونه یې وغځول. مور یې په مینه ورته تکرار کړه:
بچیه پاځه لمونځ دې قضا کیږي، بیا به سبق ته درومې!
هغه په ماشومانه ناز ورته وویل:
لمونځ کوم خو نن سبق ته نه ځم!
- جومات ته ولې نه ځې بچیه، سبقونه دې قضا کیږي.

-بس نن نه ځم، د خوړ په غاړه له کلیوالو سره توپ ډنډه کوم، ماښام مرجان را ته ویل
چې سهار به لوبې کوو!

مور زوی تر لاسو ونیو له بسترې یې راجګ کړ، په دلاسا یې ورته ویل:
بچیه! سبق دې تر لوبو غوره دی، ته د قام د مشر زوی یې، ستا پر اوږو به د ولس د مشرۍ بوج وي... ماشوم میرویس لا هم پر خپل ضد ولاړ و، چې اودس یې وکړ، راغی د مور په مصلي په لمانځه ودرېد چې لمونځ یې ادا کړ له کړکۍ نه ښکارېدله چې رڼا پر تیارو غالبه شوه. مور پنج کتاب او قدوري غبرګ په لاسو کې نیولي ورته ولاړه ده! د میرویس په سترګو کې د مینې او شرارت رڼا ځلېده. پر شونډو یې موسکا راغله. له مور نه یې کتابونه واخیستل د وره په لور روان شو وې ویل:
نن به لاړ شم خو سبا ته نه ځم. له اوږدې مودې راهیسې هر سهار د مور او زوی ترمنځ دغه خبرې تکرارېدې...

ښالم خان د قام مشر و، د دوی په لویه حجره کې به هره ورځ له شاوخوا کلیو راغلي مېلمانه وو. میرویس به چې له جوماته راستون شو کتابونه به یې په تاخچه کې تر رحیل لاندې کېښودل، له مور او وړوکیو ورونړو سره به یې سباناری کاوه د مور له نصیحت وروسته حجرې ته تلو، د مشرانو خبرو ته به یې غوږ نیولی و او چوپ به ناست و.

یوه ورځ غرمه مهال په حجره کې د قام سپین ږیري ناست وو چې میرګل سیلېدلی او وارخطا ورننوت:

- خان صیب راغلل! هغه د کاپر زامن راغلل. خیرو اکا یې تر لغتو او سوکانو لاندې اچولی.

-صفویان دي؟

-هو... هوکې!

اووه اته تنه ټول د سترګو په رپ کې راجګ شول، ښالم خان ګړندی د دروازې په لور لاړ دوی ته یې د لاس له اشارې سره وویل:

تاسو لږ صبر وکړئ! بیا په بېړه له حجرې ووت. څو شېبې چوپتیا خپره شوه، میرویس له مور او مشرانو د صفویانو د ظلمونو ډېرې کیسې اورېدلې وې، په زړه کې یې د هغوی

د لیدو تلوسه وه، اوس چې میرگل دغه خبر راوړ، میرویس هم په حجره کې ناست و، عجیب احساس یې درلود، هم یې د صفوي پوځیانو لیدو ته تلوسه وه، هم په وېره کې و، ځکه چې د هغوی د ظلمونو ډېرې کیسې یې اورېدلې وې.

هغه ورځ ور په یاد شوه چې د دوی په حجره کې ډېر کسان راټول وو. میرویس د پلار تر څنگ غلی ناست و او په حجره کې راټولو کسانو یو پر بل پسې د پردیو یرغلگرو د ناکردو کیسې کولې، میرویس ته میرو خان د شهباز کلي هغه بوډا ور په یاد شو چې د کیسې له پیل نه وړاندې به یې تر سترگو د اوښکو لښتي پر ږیره را مات شول. د میرو خان اکا کلي ته صفویان ورغلي وو، کیسه یې کوله چې راغلل د کلي تر څنگ په یوه بڼ کې یې څو تنه ښځې ولیدې، دوی یې د بې عزتۍ اراده درلوده. اېمل خان ځوان بچي یې د هغو مېرمنو په دفاع کې پر یوه پوځي د ډبرې گوزار وکړ او د هغه مازغه یې پرې را وایستل، نورو پوځیانو د تورو او نېزو په گوزار زوی ورته د مور او پلار په مخ کې سوری سوری او ځای پر ځای شهید کړ. د اېمل جان په جنازه کې د ښالم خان په شمول د شاوخوا سیمې په سلگونو کسان راټول شول او بیا تر ډېره وخته پردي پوځیان د دوی کلیو ته نه ورتلل.

اېمل نه یوازې د میرو جان اکا د بوډاتوب تکیه او امسا و، په کلي او ولس کې یې د ښو اخلاقو او چټې ځوانۍ غورې کېدې. د ده پر شهادت پر ټوله سیمه د غم ټغر پرېوت، د پارسي یرغلگرو پر خلاف هم د ولس کرکه ډېره زیاته شوه. د میرویس سترگو ته هماغه ورځ ودرېده چې د میرو خان اکا له ژړا سره ډېرو مشرانو سترگو ته د شملو پیڅې نیولې وې. دی چې کور ته راغی مور ته یې کیسه تېره کړه، مور یې هم په ژړا شوه...

د دروازې له کړپ سره میرویس د تېرو وختونو له خیالونو راووت، پلار یې ولید چې له تورو او ټوپکو سره حجرې ته راننوت.

دا درسره واخلئ راځئ چې د دې کاپرو حساب کتاب په لاس کې ورکړو، بېگلر بیگي د قام له مشرانو سره ژمنه کړې وه چې نور به د دوی کسان کلیو ته نه ځي، که څه خبره وه پخپله د سیمې له کسانو به یو څو تنه کلیو ته ځي او له مشرانو سره به په سلا او مشوره

عمل کوي، خو نور نو حوصله پکار نه ده. پر خدای توکل چې هر څه پېښه شوه. بیا یې څو تنه چې تر نورو غښتلي او ځوانان وو په نامه واخیستل، سلیمه، عمرخانه، مارزکه ... راشئ دغه درسره واخلئ، دوه ټوپك او څلور تورې یې په غولي کېښودې...

له یوه اړخه غږ شو:

خان لالا زموږ کره هم دوې تورې او یو ټوپك دی، خو باروت نه لرو.

د هغه تر څنګ یوه خوارنجوکي سړي وویل:

ـ باروت به زه راوړم.

یوه بل غږ وکړ زموږ کره هم شته. درې څلورو نورو هم ویل چې هغه به هم را واخلو!

ـ هلئ څه چې په لاس درځي صرفه مه کوئ!

د سترګو په رپ کې ټول له حجرې ووتل او د لویې دروازې په لور په ښالم خان پسې شول. میرویس د دوی په منځ کې روان و. یوه تن پرې غږ کړ:

وراره ته مه ځه، ژوبل به شې!

میرویس ځواب ورکړ:

یه اکا زه به خامخا درسره ځم، صفویان به ووینم ډېره مې یې لیدو ته تلوسه ده...

تر دروازه لا وتلي نه وو چې د باندې غږ شو:

وتښتېدل!

د برجورې کلا د دروازې په مخه کې یو د ۴۵، ۵۰ کلونو مې وریژې برېرې خاوند په خاورو او وینو ککړ ولاړ و. یو زلموټی یې له جامو خاورې څنډي. د پګړۍ په شمله یې له مخ نه وینې او خاورې پاکوي. لویه ګڼه ګوڼه جوړه ده، د کلي نارینه او ښځې ټول دلته راټول دي. ښالم خان دوی چې پرې ور ووتل، هغه ټپي په حسرت وویل:

لاړل، د بې غیرتو زامن، اوس به تر کمال خېلو تېر وي.

ښالم خان خپل نوکر ته مخ واړاوه:

اس مې زین کړه! بیا یې ټپي ته مخ ور واړاوه وې ویل:

خیرګله ډېر خو به ژوبل نه یې؟

هغه ځواب ورکړ:

خانه بلا وه برکت یې نه، خیر دی، رك روغ یم، بیا یې تر غوږ پاس پر یوه ځای ګوته کېښوده:

دغه ځای لږ ګرېدلی، له بې رحمو او بې دینو به څه د خیر تمه کوو.

یوه بل تن وویل:

خان صیب، ته یوازې ورپسې ورځې! یوازې دې نه پرېږدو، موږ هم درسره ځو!

ښالم خان وویل:

نه! نه، زه په دوی پسې نه ورځم، راګېرولای یې نشو، خو نور باید د دې نامردو سمه چاره وکړو، خان لالا ته ورځم، له هغه سره په سلا د قام مشران راټولوم!

خیر ګل اکا د سترګو په اشاره خان وپوهاوه چې څه ورته وایي، هغه کلیوالو ته وویل: نور لاړ شئ، دلته څه کوئ، درځئ درځئ د قام په مشوره به یو سر مالوم شي، بیا به خبره سره کوو...

راټول نارینه او مېرمنې بېرته څوك د کورونو څوك د سارا په لور سره تیت شول، خان صیب له درې څلورو نوکرانو سره پاتې شو، میرویس هم هلته غلی حیران دریان ولاړ و.

خان خپلو نوکرانو ته اشاره وکړه، خیر ګل اکا ته یې وویل دوی خپل دي، څه دې ویل؟ هغه لږ ورنږدې شو، لږ په ټیټ غږ یې ورته وویل:

ـ له دې کاپرو سره دوه تنه مول وهلي هم وو خانه! یو مې و نه پېژاند، خو په دا بل مې شك راغی چې د کاریز د سدو خان اکا زوی و.

ـ دا څه وایې! سدو اکا خو غیرتي پښتون دی، زوی یې دومره سپکې ته مخه کولای شي؟

ـ خانه په پلار کې یې خبره نشته، خو یو نظر مې د هغه پر څېره ولګېد، هغه ببر ځړېدلي بریتونه مې یې چې ولیدل، ښخي د سدو اکا مشر زوی عمر ته ورته و. زه د دوی تر لغتو او ګوزارونو لاندې په خپل غم کې وم خو یو ځرښند نظر مې پرې ولګید. مول یې وهلی و، خو شمله یې ولوېده.

ښالم خان په چورتونو کې ډوب شو، نوکر یې سورګل له دروازې را ووت چې زین کړی سپین اس یې تر جلب نیولی و.

هغه بیا په ټیټ غږ وویل:

اوس خو نو خبره نوره هم سخته شوه، که د فتنې مخه و نه نیسو، کرار کرار به په چل او دوکه زموږ تر خپلو پرګنو پښې را وغځوي.

اوس یې چاره پکار ده... اوس یې نو چاره پکار ده. بیا یې خیر ګل اکا ته وویل:

لاړ شه ټپونه دې ټکور کړه، لږ آرام وکړه، خدای لوی دی، دا قام به دومره نه بې غیرته کېږي، که د خدای رضا وه د دې ټولو ناکردو غچ به ترې اخلو! بیا دی د ناصر خان د کلا په لور روان شو.

شا ته یې مخ را واړاوه:

میرویسه بچیه! کاله ته لاړ شه! زه لږ لرې ځم!

میرویس د خپلې کلا پر لویه دروازه ورننوت.

ښالم خان لا د ناصر خان کلا ته نه و رسېدلی چې شا ته یې د کلیوالو شور ماشور واورېد، بېرته را وګرځېد. یو کلیوال یې ښی مټ پر کیڼ لاس ټینګ نیولی، وینې یې د ګوتو له چاکونو راوتلې.

یوه بل ځوان د خپل پټکي څنډه وشلوله مټ یې تر ټپ پاس کلک وتاړه. جمعه خان چې له درده به تور او شین شو کیسه کوله:

کمال خېل یې برباد کړل، چې څوک په مخه ورتلل په تورو او نیزو کې یې ټومبل ما ځان له دېواله را وغورځاوه، له شا نه یې ډز را پسې وکړ.

د ښالم خان پر سترګو تیاره راغله، کلیوالو ته یې ویل:

هلئ، بېړه کوئ. په څو شېبو کې دوه دېرش تنه چمتو شول له چا سره توره، له چا سره تبر، څلور پینځه دان پور ټوپکونه چې په لاس ورغلل ورسره وا یې خیستل. څو تنه سپاره او نور پلي د باد په څېر والوتل، شاته یې د پښو ګردونه پاتې شول، خو پر کمال

خېلو قيامت تېر شوی و، له ډېرو کورونو لمبې او دودونه جګېدل، کوڅې پر شهيدانو ډکې وې، د عرصات ورځ وه، د صفوئ پوځيانو هېڅ نښه نه وه.

ځو تنه بوډۍ ښځې په وينو کې پر پرتو ځوانانو ور غوړېدلې وې، ژړاګانو، کريږو او فريادونو د خدای عرش ته لاره ايستله. د دې مړيو په منځ کې يو لس کلن هلك ولاړ و، توره يې پر ځمکه تکيه کړې وه او پر مخ يې د اوښکو سېلاب را روان و. يو وخت يې چا پر اوږه لاس کېښود:
راځه بچيه!

ميرويس شا ته وکتل، د پلار ږيره يې هم په اوښکو لمده وه. کلي د چنګېزي وحشت په څپو کې د کنډواله او برباد شوي بغداد ننداره ښودله.
يو ساعت وروسته ښالم خان د خان لالا «ناصر خان» په حجره کې ناست و. له خپل کلي تر کمال خېلو يې د صفويانو د وحشت کيسه ورته تېره کړه.

*****

وخت ځرخونه خوړل، شپې او ورځې په اونيو او مياشتو کې ډوبې شوې، کلونه يو پر بل پسې واوښتل، د کندهار، بلخ او کابل برخليک د پخوا په څېر د ډيلي او اصفهان د واک په تالارونو پورې غوټه و، يوه بل نسل هم د ازاد ژوندانه ارمان خاورو ته ور سره يووړ، دلوی کندهار د قامونو واګې هم د پلرونو پر ځای زامنو ته ور د غاړې شوې، ځو اونۍ پر سيوري د وير ټغر را غوړېدلی و، يوه اونۍ کېده چې د هوتکو خان ښالم خان وفات شوی و، په لنډه موده کې د زلمي ميرويس خان پر اوږو دوه ځله د غم غرونه را پرېوتل، درې مياشتې وړاندې يې مور وفات شوې وه، او دادي اوس د پلار د ماتم پر ټغر ناست و. کلی ټول په وير ډوب و، سره له دې چې نن دلته د هوتکو تر اويا تنو مشران راټول وو، خو کلی په عجيبه چوپتيا کې ډوب و، د هديرې په څېر چوپتيا چې زړونه پکې ترک چاودېدل، ميرويس خان سپينې جامې اغوستې، يوه خړه پګړۍ پر سر په خپله لويه حجره کې د مشرانو په منځ کې ناست و، د تېرو درې مياشتو درنې تر کال اوږدې او ويرجنې شپې يې يوه يوه سترګو ته درېدې، زړه به يې راډک شو، خو د کوم

مشر د تسلې غږ به را په خود کړ، هغه به بیا بیا له دې چاپېریال نه هماغه ویرمنو شېبو ور سره په اوږه کړ، د حال او لنډې ماضي تر منځ یې ټالونه خوړل.... ویر یې د سیوري تر غره لوی و، خو چې په کومه غېږه کې روزل شوی و، هغو اجازه نه ورکوله چې داسې پېښې یې اراده ماته کړي.

میرویس خان یو ځل بیا د تیرو یادونو له شېبو سره و، چې د مشرانو شور یې د خیالونوتنابونه ور غوڅ کړل....بس زموږ پرې امین دی، تر ده غوره مشر به څوک وي، خان لالا پرېکړه دې پر سر سترګو....

میرویس خان د نازو او ښالم خان د کور نیالګی دی، ان شا الله ټول قام به یې تر سیوري لاندې اسوده شي.

میرویس خان هک پک شو، داسې څه یې اورېدل چې دده په خوا او خاطر کې نه تېرېدل. مشرانو پرېکړه کړې وه چې د قام د مشرۍ پګړۍ پر سر ور کېږدي. ځوان میرویس خان جګ شو، لاس یې اوچت کړل، په لویه حجره کې چوپتیا خپره شوه، دده غوښتل مناسب الفاظ او جملې را ټولې کړي، له لږ ځنډ وروسته یې وویل:

ناصر خان لالا، درنو مشرانو! زه ستاسو له لورېینې او نیک نظر نه مننه کوم. تاسو ماته لوی عزت راکړ، تاسو دې خدای درانه او سرلوړي لري.

خو زه ستاسو کشر یم، ستاسو د اولاد په ځای یم، پلار مې دې الله د جنتونو سردار کړي، هغه د قام مشر و، زه به د خپل قام خدمت خا مخا کوم، د خپل پلار شمله به جګه ساتم دامې در سره ژمنه ده، خو زه د قام د مشرتابه د درانه پیتي له اوچتولو بخښنه غواړم. په کوم قام کې چې د خان لالا په څېر درانه مشران وي، ماته څه حاجت دی چې د قام د مشرتابه پګړۍ پر سر کړم. ماته دا ډېر لوی ویاړ دی چې داسې دروند قام او درانه سپین ږیري لرم. زه ستاسو خدمتګار یم، پر ما حکم وکړئ، خو د مشرتابه له درانه بوج نه مې وبخښئ.

میرویس خان کیناست، څو شیبې چوپتیا خپره شوه، یوازې د حاجي سدوخان د تسپو تق تق پکې اوریدل کېدو، ډېرو د سترګو له کونجو د هغه تسپو ته کتل او تقونه بې شمېرل. بیا د هوتکو بوډا مشر ناصر خان غاړه تازه کړه ټولو د هغه پر لور سترګې ور واړولې، د مشر خان دروند غږ د حجرې په دیوالونو کې را غبرګ شو:

میرویس خانه! الله دې مور او پلار دواړه وبخښه، تاته د دې لوی مصیبت زغم او صبر غواړو. نن چې د قام مشرانو کومه پرېکړه واوروله دا نه کومه عاطفي پرېکړه ده چې تا پرې خوشاله کړو او نه د قام په کچه داسې پرېکړې کیږي چې یوازې د چا د خوشالولو لپاره وي. د قام پرېکړې د قام د لویو ستونزو د حل لپاره وي. ستا د مشرتابه په باب موږ دا څو ورځې سلاوې کړې دي، د قام د مشرتابه لپاره چې کوم څه ته اړتیا ده ان شا الله هغه ټول موږ په تا کې وینو، ته ځوان یې خو عقل دې د مشرانو په څېر پوخ دی، دنیا دې لیدلې، د وخت د پاچاهانو په خوی او بوی خبر یې، په لوی کاله کې را لوی شوی یې، لاس دې ډک دی، د ولس په درد او غم تر هرچا ښه پوهېږې. بچیه! نور د قام خدمت ته ملا وتړه. ناصر خان دا وویل بیا لږ چوپ شو، وروسته یې د حجرې پر حاضرو کسانو نظر را وګرځاوه وې ویل:

ستاسو پرې امین ده؟

له هر لوري غږونه اوچت شول:

هوکې پرې امین مو ده!

میرویس خان غوښتل څه ووایي خو د لوی خان په مخکې یې د نور څه ویل جرئت ونه کړ.

ناصر خان یوه تن ته اشاره وکړه:

یوسف خانه! پګړی را واخله! بیا را جګ شو، څو تنه نور هم د هغه خواته ورغلل، یوه توره پګړی یې راوړه او د ځوان میرویس خان پر سر یې ور کېښوده.

دوې ورځې وروسته په یوه بله غونډه کې له نیمروز تر غزني او ژوبه د پښتني قامونو زیات مشران را ټول شول او د هوتکو د خان پر مشرتابه هغوی هم لاسونه اوچت کړل.

د فساد ځاله

(اصفهان ۱۷۰۴زیږدیز)

(۲)

د زندان خونې ته له پاسنۍ دریڅې نه دومره رڼا راتله چې خړ ډبرین دیوالونه او پر هغو نور بخن د وینو خاپونه روښانه ښکارېدل. د زندان پر دیوالونو دوه درې ځایه داسې ښکارېدل چې کوم بندي څه لیکلي خو بیا وروسته ړنگ شوي چې څوک یې ونه لوستلای شي، پاخه ډبرین دیوالونه او پر هغو خاپونه او نښې د وحشت بې رحمۍ او مظلومیت یادگارونه وو چې په لیدو یې پر بدن ویښتان شخ درېدل. پر دیوالونو د وینو خاپونه او تر دریڅې لاندې د سړي تر قد لوړ دوه اوسپنیز میخونه چې لویې د اوسپنې کړۍ پکې ټینگې وې، پردې گواه وو، چې دلته به ډېرو انسانانو له عذابه د خلاصون په پار له واکمنو د مرگ خواستونه کړي وي. دې دیوالونو به څومره کریږې، زگیروي، سلگۍ او زارۍ اورېدلې وي، خو پر ډبرینو دیوالونو او ډبرینو زړونو به یې څه اغیز کړی وي؟

وړوکې دریڅې ته مخامخ اوسپنیزه کلکه دروازه وه چې په هغو کې هم د دوو سترگو د څار یوه وړوکې دریڅه ښکارېدله چې اوس اوسپنیزه تخته پرې را کش وه. له درشل لاندې دومره تشه وه چې بندي ته له هغو څخه په لوښي کې اوبه او ډوډۍ ورکړي، دروازې ته مخامخ تر پاسنۍ دریڅې لاندې یو تخت و چې یوه د لوړې ونې متهور بندي دیوال ته پکې ډډه وهلې وه، د بندي له جامو او د تخت له وضعې ښکاریدله چې کوم معمولي څوک نه و، پرویښتانو یې یوه خړه خولۍ را غوړولې وه چې تر غوږو پورې رسیدله، ورمېږ یې له خولۍ نه په راوتلیو جړو ویښتانو پټ و، په سره ته مایل اږده مخ کې یې روښانه شین وزمه سترگې له سړو تودو سره د مقابلې ښکارندویې وې. خوله یې د بریتونو او ږیرې په گڼو وېښتانو کې پټه وه.

پر مخامخ دیوال یې سترګې ښخې کړې وې، د وینو خاپونه یې نه شمېرل، داسې ښکارېدله چې د خیال مارغه یې له دې تیاره زندان نه ډېر لرې په الوت دی.

د دروازې غنګ غږ یې د خیالونو مزل را لنډ کړ، له هغه ځانګړي غږ سره دروازه پرانیستل شوه یو جګ سړی چې توره منظمه لونګۍ یې پرسروه او ړنګې څوکدارې بږیرې یې نری مخ تر معمول هم اوږد ښکاراوه، له دوو تنو برچه پک ساتونکیو سره ورننوت، بندي لږ نیغ کیناست، راغلي کس خپلو ساتونکیو ته د وتلو اشاره وکړه، هغوی ووتل، دروازه یې بېرته پورې کړه، راغلي سړي چې اوږده توره چپنه یې ګلکاري شوې وه، په ملا کې یې یو خړ د څرمنې کمربند ؤ، په ښکلي طلایي پوښ کې یو خنجر یې د نامه کین اړخ ته پکې ټومبلی ؤ، دوه درې ځلې یې په وړه خونه کې یوه اوبل لورته قدم وواهه، بیا راغی د تخت پر یوه څنډه کیناست، بندي ته یې په پیکه موسکا څوشیبې وکتل، بیا یې په حسرت سر وخوځاوه وې ویل:

والا مقامه! ستا غوندې مېړونو ځای زندان نه دی!

بندي څک شو، د راغلي سړي په وړو، روښانه سترګو یې خپلې سترګې ورښخې کړې، غوښتل یې د خبرې په اصلي مفهوم یې ځان وپوهوي.

هغه وړوکې سترګې نورې هم چوغې کړې موسکا یې پرشونډو لږ ژوره شوه:

شهزاده! ډېر افسوس دی چې د زندان په دې تیاره ګوټ کې شپې تېروې، هسې له خپل برخلیک سره لوبې کوې!

د بندي شونډې د ببرو ویښتانو له منځه را ښکاره شوې:

که ستا سو هیله هماغه پخوانۍ خبره وي، ځواب مې همدغه دی چې زه مې خپل دین نه پرېږدم.

د نري مخ خاوند لاس وغورځول، سر یې وخوځاوه:

له خپل برخلیک سره لوبې مه کوه، د دین پرېښودو خبره نه ده، بیا لږ ورنژدې شو لاس یې د هغه د ټټر پر کینې اړخ کیښود وې ویل:

د کارتلي واکمنه! دین او عقیده دلته ده... پردې یوازې خدای پوهېږي چې دا د خدای کور دی که د ابلیس! ته که د خپلو احساساتو غلام وې، هډوکي به دې په دې تورو

دیوالونو کې وراسته شي، څوکلونه دلته پروت یې که د احساساتو پر ځای له عقل کار وانخلې بس یو وخت به دې بوین خوسا شوی مړی له دې دیوالونو ووزي، چېرته به په کوم گوټ کې خاورې دربانديې واوړي، بیا به هیڅوک هم خبر نه شي چې دلته د گرجستان یو مغرور واکمن تر خاورو لاندې دی چې هېچا ته یې سر نه ټیټاوه.

بندي بیا شونډې خلاصې کړې سهمجن غوندې غږ یې اوچت شو:

څه غواړې، سپین یې راته ووایه !

غواړم چې له دې تورو دیوالونو ووزې، د آرگاه بارگاه خاوند وې، په زر گونو پوځ دې تر قوماندې لاندې وي، او ...

بندي د هغه خبره ور غوڅه کړه وې ویل:

هېواد به مې د چا تر واک لاندې وي؟

ـ هیواد به دې هم خپل شې، خو په هوښیارۍ او حکمت!

بندي وویل:

نو ستاسو دین به غوره کوم !

د نري مخ خاوند وخندل، دروازې ته یې وکتل بیا یې په ټیټ غږ وویل:

که دې زړه نه غواړي له خپل دین مه اوړه، خو ځان په ښکاره مسلمان د امامانو پیرو وښیه، خپل کار دې وکړه، بیا لږ چوپ شو وروسته یې وویل:

ما د اصفهان په دربار کې ټول د حسن آغا په نوم پیژني، څوک خبر دي چې زما اصلي نوم، دین او مذهب څه شی دی، څه غواړم او لوی ارمانونه مې څه دي، شهزاده! دا د دینداری او خدمت شعارونه خو هسې وسیله ده، پردې چالاکان خپل ژوند جوړوي، او عام ساده گان په خدمت گوماري.

بندي هغه ته په ځیرځیر وکتل، په شنو سترگو کې یې د شک او حیرانۍ نښې را ښکاره شوې بیایې مخ بل لوري ته واړاوه وې ویل :

زه په داسې لوبو نه پوهیږم!

– چې نه پوهېږې په همدې تورو دیوالونو کې د خپل برخلیک انتظار کوه، بیا ي
شونډو مرموزه موسکا تېره شوه زیاته یې کړه:

ته دې خپلو کړو وړوته لږ پام وکړه، چې تر اوسه دې څومره خلک وژلي، څو
کورونه دې برباد کړي دا ستا د دین حکم و؟ ستا د دین حکم همدا دی چې بې گ
خلک ووژنه او وینې توېې کړه!....بیا یې په ټیټ غږ له ځانه سره وویل:

دین څومره مظلوم شو، د دین په نوم څومره جنایتونه کیږي...

حسن آغا دا وویل اوله ځایه جگ شو، تر وتلو مخکې یې یو ځل بیا بندي ته مخ واړا
وې ویل:

واکمني او پاچاهي عقل او هنر غواړي، ته دا هنر لرې هم، هېر دې شول یو وخت دې
گټې له اصفهان سره وې د اصفهان تابع وې، بیا دې عثمانیانو ته مخ واړاوه له هغوی
سره ودرېدې! ورور دې له روسانو سره دی، بل ورور او وراره دې د اصفهان د دربار
سړي دي، د چا چې چېرته ښه هلته یې شپه! ما چې څه درته وویل ستا د برخلیک خبره
ده، ښه فکر پرې وکړه، د پاچاهۍ وضعه پر یوه حالت نه وي. اړتیاوې او لومړیتوبونه
بدلیږي، نن یو چانس لرې، سبا ته بیا نشته، اونۍ وروسته دې احوال اخلم. دا به دې
وروستی چانس وي.
اوبیا هغه د دروازې په لور مخ واړاوه، پخوا تر دې چې ووزي بندي ترې و پوښتل:
ته په دې مساله کې ولې دومره تود یې!
حسن آغا مخ ورته راواړاوه، پر شونډو یې موسکا وغوړېده وې ویل:

بیا به درته ووایم چې زه ولې دا لیوالتیا لرم، یوازې دومره درته وایم چې ترما پورې هر
سړی د خپلو گټو یار دی. زه چې کوم وړاندیز درته کوم ستا سره به زما هم خولی په
غوړوکې وي، تش خدای پاري معامله نه ده نه زه پرهغو باور لرم، ته دې هم خپلې گټې
گوره. دایې وویل او بیا چټک دروازې ته ورغی، غږ یې وکړ:

دروازه خلاصه کړئ! دروازه خلاصه شوه هغه ووت او بندي په تورو دیوالونو کې له خپلو ارمانونو او خیال پلوونو سره یوازې پاتې شو.

د بندي په خیال کې تېر یادونه را وگرځېدل، د گرجستان د پاچا پینځم واختانگ زوی (یوولسم گورگين). پلار یې د اسماعیل صفوي له پوځ سره په جگړه کې ووژل شو، گرجستان د عثماني ټولواکۍ او صفوي پیاوړې پاچهۍ ترمنځ د سیالیو او جگړو ډگر شو، گورگین د شاهي کورنۍ د غړي په توگه د اصفهان تر سیوري لاندې د خپل هیواد والي او واکمن ؤ، اوس کلونه وشول چې د اصفهان په لوی زندان کې کوټه قلفي پروت ؤ، پېښې یو پربل پسې د هغه په ذهن کې راژوندۍ شوې....

گورگين له اصفهان نه بغاوت وکړ، له عثمانیانو سره یې تار ونیو، شاه حسین، شیخ علي خان قاجار له پوځ سره ور واستاوه، گورگين یې له تخته وغورځاوه د کارتلي حکومت یې دده د کاکا زوی شهزاده ایرکلي ته وسپاره چې مسلمان شوی ؤ او نیرعلي خان نوم یې پرځان ایښی ؤ.

هغه ته د شاه سلیمان صفوي د سالار شیخ علي خان وړاندیز سترگو ته ودرېد چې که مسلمان او د امامانو پیرو شي نو د کار تلي حکومت به ده ته وسپاري!

گورگين د خیالونو له نړۍ راووت، دیوال ته یې ور تف کړل:

لعنت پرتاسو! بیا یې خپل د کاکا زوی او وراره ته خو سپورې کنځلې وکړې ... بې غیرتو د صفویانو تالي څټو!

هغه یو ځل بیا پر دیوال سترگې ښخې کړې د تیرو وختنو یادونو یې پر ذهن منگولې ښخې کړې وې، بیا د هغو وختونو د یادونو پرواټ ور ننوت ....

د شاه حسین خواجه سرا محمود اغا ور په یاد شو، هغه ځانگړی فرمان ور یاد شو چې پاچا د یوه گرجي مشر د لور په شمول څو ښایسته پېغلې ترې غوښتې وې، گورگين ته د خواجه سرا محمود اغا څېره سترگوته ودرېده...تورې ځلېدونکې سترگې د مېرمنو په څېر تورې، اوږده نرۍ پزه، پرخوله یوه معناداره موسکا غوړېدلې، له برگې لونگۍ نه

غوړې څنې راوتلې، د زرينې چپنې له بغل جيب نه يې شاهي فرمان را ويوست، په دواړو لاسو يې د کارتلي واکمن ته ونيو:

د اعليحضرت شاه حسين ځانګړی خادم د مقام فرمان درته وړاندې کوي ...

ګورګي نغښتی فرمان پرانيست، په لوستلو يې پيل وکړي (.... خبر شوی يم چې د کارتلي واکمن له اصفهان نه د بغا وت خيال لري، زموږ مخبرانو د حاکم په شمول څلور تنه مخور او د کارتلي مشران شکمن بللي دي، تا سو ته د خپلې وفادارۍ د اثبات لپاره حکم کيږي چې د کارتلي د مخور واسليوس د لور په شمول د ګرجستان څلور ښايسته پيغلې شاهي حرم ته د خدمت لپاره را واستوې، که د کارتلي حاکم د شاهي حکم له منلو سر وغړوي سالار شيخ علي خان ته حکم شوی چې لاس تړلی دې اصفهان ته را واستوي ....!

ګورګي بيا د خيالونو له نړۍ راووت، لاسونه يې وموښل، له تخت نه را ښکته شو په تياره خونه کې يې يوې اوبلې خواته قدم واهه، د حسن اغا خبرې ور يادې شوې:

هسې له خپل برخليک سره لوبې کوې!... ځان د امامانو پيرو وښيه، خپل کار دې وکړه ...وروستۍ خبره يې څوځله په غوږو کې وکړنګېده، پردې يې فکر کاوه چې ريښتيا دی خپل مذهب ته څومره وفادار او پابند دی. راغی پر تخت کيناست سر يې په دواړو لاسونو کې ونيو، له ښه څنډ وروسته را جګ شو، پر وېښتانو پټې شونډې يې لومړی ځل په موسکا وغوړېدې، وروسته يې د ليونۍ خندا غږ د زندان په تيارو ګوټونو کې را غبرګ شو، داسې ښکارېده چې نوی تصميم يې نيولی ؤ.

*****

صفوي دربار د هند تر مغلي او د استانبول تر عثماني دربارونو په ځل بل او ظاهري ښکلا کې کم نه وو، ظاهري تشريفات يې تر هغو هم زيات وو، د پاچا د زرين تخت شاته په زرينو جامو کې کتار غلامان تورې او نېزې په لاسو کې چوپ ولاړ وو، پر غولي ګرانبيه وريښمينې غالۍ غوړېدلې، پر ديوالونو د وريښمو او زرتارو ښکلې پردې چې د

هنر او کمال بېساري بېلګې وې. په دې دربارونو کې په یوه وخت کې دومره زر او جواهر په جامو کې ځلېدل چې د دوی تر حکم لاندې ټول رعیت به نه درلودل.

شاه حسین له همدغسې کش او فش او له خپل ځانګړي غرور سره په شاهي تخت ناست ؤ، پړسېدلیو سترګو او خوبوړي حالت یې ښودله چې شپه یې د ارمني نجونو او سرو جامونو په بدرګه تېره کړې وه، دا یې یو معمول ګرځېدلی ؤ. لاندې د تخت دواړو لوریو ته د ټولواکۍ زیات پوځي او ملکي چارواکي په دوو کتارونو کې ناست وو.

پخوا تردې چې شاهي دربارته راشي ملاباشي، مستوفي الممالک او دیوان بیګي یوه خبره سره جوړه کړې وه، مستوفي الممالک له ځایه جګ شو، په ملاخم شو، بیا یې لاسونه په نامه ونیول وې ویل:

داعلیحضرت ستوری دې اوچت وي، دا په یوه کال کې څلورم ځل دی چې له کندهاره بد خبرونه راځي، خلک مالیه او باج نه ورکوي، ټولواکۍ ته درناوی نه لري، والا مقامه! که یې چاره ونشي کندهار مو له لاسه وزي ....

شاه حسین یې خبره ورغوڅه کړه:

څه اوتې بوتې وایې! څوک دا جرئت کولای شي چې د صفوي ټولواکۍ دښمني واخلي! دا وړوکي بغاوتونه خو هر ځای وي، یو دوه بد مغزه په هر قام کې شته.

دیوان بیګي (قاضي القضات) په ادب ودرېد ، له فرشي سلام وروسته یې په نرمه لهجه وویل:

داعلیحضرت ستوری دې اوچت وي ، د جناب مستوفي الممالک اندېښنه پرځای ده، افغانان له یوې مخې بد مغزه او یاغیان دي، پردوی دیني تبلیغ هم هیڅ اغیزه نه لري، ټول زندیقیان دي، شیخ الاسلام جعفري ډېرې بدې خاطرې ترې لري.

د شاه حسین د څېرې له کرښوښکارېدله چې دغه خبرې یې پر غوږو ښې نه لګېږي وې پوښتل:

څه خاطرې؟

-ویل یې د کندهار خلک زموږ له مذهب سره جوړ نه دي، د هرات خلک د هغو ککرو د څلیو له برکته نرم دي چې د لومړي یرغل پر مهال جوړشول.

د پوځ سالار په څنګ کې د ټومبلي خنجر سپین موټی په ښي لاس ټینګ کړ بېر بریتونه یې وخوځېدل:

اجازه راکړئ اعلیحضرته چې په کندهار کې یې هم د ککرو څلي ودروم!

شاه حسین ملاباشي او قورچي باشي ته مخ واړاوه سترګې یې کش کړې:

ستا سو هم همدغه نظر دی!

ملاباشي په پرېکنده لهجه وویل:

اعلیحضرته! د یاغیانو سرونه وهل د اسلام حکم دی.

قورچي باشي په ملاخم شو وې ویل:

اعلیحضرته! چې تاسو څنګه لازمه ګڼۍ، زما عرض دادی چې حالت هلته باید بدل شي.

اعتماد الدوله چې په ښي کتار کې پاچاته تر ټولو نژدې ناست ؤ غاړه تازه کړه پردربار چوپتیا حاکمه شوه، ټولوسترګې هغه ته ور واړولې، هغه په شمېرلیو جملو وویل:

اعلیحضرته! ستاسو سیوری دې تل وي، په دې کې شک نشته چې د کندهار په باب د خواشینۍ خبرونه راځي، خو چې څه وکړو پردې ډېر فکر په کار دی، که وړوکې غلطي وشي بیا نو کار ترکار تېر دی.

ملاباشي بیا وویل:

شیخ الاسلام جعفري مې ولید، ددې خلکو له جهالت نه یې ډېرشکایت کاوه ویل یې چې ډېر پر خپل مذهب ټینګ دي، د امام علي علیه السلام او حسنینو دښمنانو ته بد نه وایې، تشیع مذهب نه مني، باج نه ورکوي....

پاچا ورته وویل:

جنابه ! ستاسو په نظر څه ورسره وکړو؟

هغه په ړنګۍ توره ږیره کې ګوتې راتیرې کړې، موسکی غوندې شو وې ویل:

غوره لاره خو هماغه وه چې اروابناد اعليحضرت شاه اسمعيل په مروه او هرات کې ورسره وکړل، د ککرو منارونه! اوس هم ماته ناوخته نه ښکاري، البته که موږ دا اراده او توان ولرو.

د ملا مير محمدحسين وروستۍ خبره د صفوي دربار حالت ته اشاره وه، ټول پرې پوه شول او په تائيد يې سرونه وخوځول .

اعتماد الدوله پر خپل مخ او مۍ وريژې ډيره لاس راتېرکړ، وې ويل:

اماميه مذهب د ټولواکۍ په مزبوتولو کې اساسي رول درلود، ټولواکي جوړه شوه، خو په ساتلو کې يې لانجې راغلې، يوه لورته عثمانيان بل لوري ته د گرجستان ياغي شهزادگان، دې اړخ ته هم افغانان اوهم د ډيلی پاچاهان د دې ټولو سره پر يوه وخت مقابله کول اسانه نه وو ... ملاباشي روحاني پېشوا لږ په ستوغه لهجه خبره ورغوڅه کړه:

اصلي ستونزه داوه چې موږ د اعليحضرت اسماعيل صفوي اصول تر پښو لاندې کړل. په هرات کې ولې ډېر جنجال نشته، ځکه چې هلته د دوولس امامه مذهب اصول رسمي پلي شول، د مخالفينو له ککريو څلي ودرېدل، حافظ زين الدين هراتي چې په جومات کې ووژل شو، گناه يې همدغه وه چې د امام علي عليه السلام پر مخالفينو يې له بد ويلو ډډه وکړه.

که په کندهار او کلات کې همدغه کار شوی وای اوس به هلته هيڅ ستونزه نه وه ...هغه بيا شاه حسين ته وکتل لاس يې پر ټټر کېښود زياته يې کړه :

د اعليحضرت کورنۍ ته درناوی چې دوی د مذهب ډېر خدمت کړی دی. خو اروابناد اعليحضرت شاه عباس ثاني بيا د خپل پلار او نيکه له مذهبه مخ واړاوه، زموږ ټولواکي همدغه مهال له بد مرغيو سره مخ شوه، عثمانيانو لاسونه را اوږده کړل، پاچامو چې له امامانو مخ واړاوه بد مرغيو ورته رامخه کړه ...

د شاه حسين پر تندي گونځې راغلې، د ملاباشي خبره ښه پرې ونه لگېده، خو پردې هم پوهېده چې پر ايران د پردې تر شاه اصلي حکومت او واکمني د همدې تورو چپنو

د خاوندانو ده، چوپ پاتې شو، تر ښه ځنډه چوپتیا حاکمه وه، بیا شاه حس دربارحاضرین یو یو تر نظر تېر کړل، وې ویل:

اوس د کندهار چاره څه ده ؟ کال په کال په مالیې او باج کې کمبود راځي، اوس زموږ پر پوځونو غلچکي بریدونه هم ډېر شوي دي ...

د مستوفي الممالک پر ځای ملاباشي غاړه تازه کړه په هنر یې اصلي خبره وکړه:

د اعلیحضرت د اقبال سیوری دې تل وي، د صفوي عالیشانې ټولواکۍ ځواکمنې درېیو ستنو ولاړه ده، امامیه مذهب، ځواکمن پوځ او له دښمن سره په تدبیر چلن. کندهار کې زموږ د مذهب تبلیغ کار ورنه کړ، د ابدالیو او غلجیو قومي مشرانو ترمنځ اختلاف تدبیر تر یوه وخته بریالی و دافغانانو یوه ځانګړتیا همدغه ده چې دوی یو ب ته سرنه ټیټوي، خو زموږ د بېګلربیګي له لاسه دغه چاره هم نا کامه شوه، پاچا ته ور ورو خبرو خوند ورکړ وې ویل:

ــ د بیګلربیګي غلطي څه وه ؟

مستوفي الممالک ځواب ورکړ:

اعلیحضرته! د ابدالیو د قام ځواکمن مشر شېرخان چې دغه قوم ټول پرې راټول ؤ صفوي ټولواکۍ ته وفادار ؤ، زموږ بېګلربیګي په لوی لاس هغه له ځانه لرې او دښمن کړ، دهغه د کاکا زوی بل قامي مشر شاه حسین خان ملاتړ یې وکړ، شاه حسین ظاهراً د صفوي ټولواکۍ وفادار ؤ خو په پټه یې د خپل کاکا له زوی شېرخان سره دوستي وساتله، شېرخان د صفوي ټولواکۍ پرځای د هند ګورګاني واکمنو ته مخه کړه، زموږ حکومت له شاه حسین خان سره هم وفا ونه کړه، دهغه ملګری جلیل خان علي زی یې ورته وپاراوه چې شاه حسین خان پرې پوه شو په خنجر یې وواهه او ویې واژه، موږ په دې لوبه کې څه تر لاسه کړل ؟ ....هیڅ !

ابدالیان ټول سره یو شول، اوس په غلجیو کې یو ځوان را پورته شوی دی، غلجي او ابدالي ټول پرې را ټول دي، هغه زموږ صفوي ټولواکۍ ته تر ټولو لوی خطر دی.

دیوان بیګی (قاضي القضات) د هغه د خبرو په تائید وویل:

هوکې میرویس خان ، میرویس خان هوتک !!
قورچي باشي سترګې چوغې کړې:
هغه د غلجیو خان؟
ځواب یې ورکړ:
یوازې د غلجیو نه؛ د ابدالیو، کاکړو او ټولو بلوڅو او پښتنو مشردی!
قورچي باشي شونډې بوڅې کړې، له خولې یې هووووو ... غږ ووت نور چوپ شو.
اعتمادالدوله پاچا ته وکتل لاس یې په نامه ونیول وې ویل:

اعلیحضرته! زموږ د خاصو کسانو راپور دادی چې میرویس خان ډېر په بیړه خپل قام سره متحد کوي، هغه ډېر هوښیار دی، واده یې د ابدالیانو له یوې مخورې کورنۍ څخه کړی دی، په پښتنو کې دغه خپښي او دوستي خپل ځانګړی ارزښت لري .... د شاه حسین زغم ختم شو، لاس یې اوچت کړ په تونده لهجه یې وویل :
بس دی، له میرویس خان نه مو اسمان جوړ کړ. دا راته ووایی چاره یې څه ده ؟
د پوځ لوی سالار خپلې برګې سترګې رډې کړې. لاس یې بیا د خنجر پر موټې ټینګ کړ:
اعلیحضرته حکم وکړه چې سرېې درته په مخکې کښېږدم!
ملاباشي هم وویل:
اوس نو یوازې د زور لاره پاتې ده، خو اعلیحضرته بېګلربیګي .... !
د پاچا په شمول د دربار ټولو حاضرو کسانو ملاباشي ته وکتل، هغه وویل:
اعلیحضرته په کندهار کې زموږ بېګلربیګي هیڅ نشي کولای. قورچي باشي (دقزلباشو د ځانګړې ځواک مشر) چې د بیګلربیګي له خپلوانو څخه ؤ غونج شو، خو د څه ویلو جرئت یې ونه کړ، پاچا وپوښتل:
نو بېګلربیګي را وغواړو. کندهارته بل څوک واستوو؟
د ملاباشي، مستوفي الممالک او دیوان بیګي څېرې وغوړېدې په یوه غږ یې وویل:
بله چاره نشته. بیا ملاباشي وویل:
اعلیحضرته! ما مناسب سړی هم پیداکړی دی.

پاچا سترګې کش کړې وې ویل:

څوک دی؟

ـ اعلیحضرته وروسته به یې درته ووایم !

د دربار پر ځینو حاضرینو دغه خبره ډېره بده ولګېده، خو نوره خبره ونه شاربل شوه پاچا دربار رنګ کړ، جګ شو کیڼ لاس ته د وربښمو تر پردې شاته په یوه وره ورننوت، په دربار کې حاضرو کسانو شور جوړ کړ:

څوک دی، نوی بېګلر بیګي به څوک وي ؟

قورچې باشي په ټیټ غږ وویل:

لکه چې د ملاباشي خپل وراره په پام کې دی!

لږ څه وروسته ټول یو پر بل پسې له دربار ه ووتل .

*****

الدین لودین کتابتون

د شاهي ماڼۍ د لوی تالار تر څنګ په نسبتاً وړوکي خونه کې، د جنوب له لویو کړکیو د لمر وړانګو غولی تر نیمایي زیات نیولی ؤ، پاچا له خپلو خاصو ندیمانوسره ناست ؤ، په دوی کې اعتمادالدوله، مذهبي پېشوا د ملا باقر مجلسي لمسی او ځایناستی میرمحمدحسین، حکیم باشي (رحیم خان) او د شاه حسین خاص خادم (خوجه سرا محمود اغا) چې لاس په نامه د هغه تر شا ولاړ ؤ، شامل وو. ملاباشي د اعتمادالدوله په شتون خوښ نه و، خو هغه تر پاچا وروسته تر ټولو لوړ مقام او د پاچا باوري سړی و، برالا مخالفت یې ور سره نشو کولای.

شاه حسین ملاباشي ته وکتل، اوس خو ټول د راز شریکان یو، خبره دې کوه!

هغه پر خپل ګردي مخ او ږنګې ږیره لاس را تیرکړ:

اعلیحضرته! تیره تیره ماتوي، ما یو څوک موندلی چې د کندهار فتنې به درته په یوه - دوومیاشتو کې کرارې کړي، اصفهان ته به دغلو دانو د باج کاروانونه پیل شي.

پاچا روحاني مشر ملا میرمحمد حسین ته چې نن یې یوه ګلکاري شوې چپنه اغوستې وه او توره لونګۍ یې په سلیقه تړلې وه، په ځیر وکتل:

دا څوک دی چې ته دومره لویه تمه ترې لرې!

ـ د گرجستان د پاچا پینځم واختانګ زوی ګورګي! پاچا او د دربار نورو کسانو داسې ټکان وخوړ لکه چې د کومې ټکې د رالوېدو خبرېږي اورېدلی وي، د ملاباشي پر نريو شونډو معناداره موسکا وغوړېده، بیا یې خپله خبره تکرار کړه:

اعلیحضرته! مادرته وويل چې تیره تیره ماتوي! د یاغي افغانانو چاره همدغه گرجی درته کولای شي.

پاچا د نه په دود سر وخوځاوه وې ویل:

ته هسې هوا گزوې! ...ښاغلیه په خپلو مذهبي چارو کې بوخت اوسه د حکومت په چارو کې ډېر کارمه لره چې درنه خرابېږي. ته وګوره پر یوه یاغي نور یاغیان ماتوې، دا امکان نه لري، دا هیڅ امکان نه لري!

اعتماد الدوله فتحعلي خان پرې ورغبرګه کړه:

په ټول ایران کې دومره څوک نشته چې کندهار ته یې د بیګلربیګي په توګه واستوو چې اوس یوه یاغي، تونډ لاري عیسوي ته هیله کوو، داسې څوک چې پخپله د بغاوت او سرکشی په جرم بندي دی، له صفوي ټولواکی سره د دښمنۍ اوږد تاریخ لري او ... د امامانو د سلګونو ریښتینو پیروانو په وینو یې لاسونه سره دي ....

د شاه حسین خاص خادم محمود اغا وویل:

ګورګي ته خو په زندان کې هر څومره تبلیغ شوی اوهرڅومره د جوړجاړي وړاندیزونه ورته شوي دي هغه نه دي منلي، اوس دومره لوی اختیار ولې ورکړای شي؟

ټولو ملاباشي ته کتل، د هغه پرشونډو لا هم ډاډمنه موسکا غوړېدلې وه ، بیا یې غاړه تازه کړه وې ویل:

زه پردې ښه پوهېږم چې هغه یو یاغي انسان ؤ، د ګرجستان د پاچا زوی او د خپلې خاورې واکمن و، له عثمانیانو سره یې لاس یو کړ او زموږ د ټولواکی پر خلاف ودرېد، یو ورورېي اوس هم له روسانو سره دی، خو اوس که هغه د اصفهان د یوه وفادار سالار په توګه د کندهار لویه لانجه درته ختمه کړي په دې کې څه بدي ده؟

له ټولې پخوانۍ دښمنۍ سره که هغه اوس د علي علیه السلام دریښتیني پیرو په توګ
مسلمان شي، اعلیحضرت ته وفادارشي، زموږ به څه کم شي؟

پاچا سروخوځاوه:

جناب ملاباشي! زه دغه کورنۍ پیژنم، په خته کې یې سرکشي اوبغاوت اخښلی، صفوي ټولواکۍ ته یې څوځله له شانه د خنجر ګوزار ورکړی، زه دامنم چې د واختانګ زوی زړور پوځي دی، خو توندلاری عیسوی اوګرجی دی، اصفهان ته سر نه ټیټوي د ایران سخت دښمن دی، د کارتلي واکمن مو ومانه، له عثمانیانو سره یې پټه لاره جوړه کړه، د کرمان والي مو وټاکه، خو د هغه ټولې هڅې همدغه دي چې ګرجستان ونیسي او د صفوي ټولواکۍ نه خپلواکي واخلي، مجبورشوو چې زندان ته یې واستوو او د کاکا زوی ته یې د ګرجستان ولایت وسپارو.

ملاباشي په بیړه وویل:

اعلیحضرته! د واختانګ د زوی سد سرته ورغلي دي، هم د اسلام په مبارک دین مشرف شوی اوهم صفوي ټولواکۍ ته د وفادارۍ لوړې ته تیار دی! هغه له لږ چوپتیا وروسته زیاته کړه:

وراره یې (دیوان بیګي) هم ضمانت کوي، هغه خو اصفهان ته ښه وفادار دی.
اعتمادالدوله سترګې د ملاباشي پر سترګو ښخې کړې وې ویل:
په تا پسې ویل کېدل چې غواړې خپل وراره د کندهار بېګلربیګي وټاکل شي!
هغه ته د داسې پوښتنو ځواب ور معلوم ؤ وې ویل:
دا د پخواني قورچي باشي پروپاګند دی، هغوی غواړي د قزلباشو د شړلو کسات له موږ ټولو واخلي او یو پربل مو بد ګومانه کړي .... پاچا وویل:
اوسنی رکن الدوله هم په تا پسې همدغه خبرې کوي!
ـ اعلیحضرته! هغه به هم له نورو اورېدلي وي، اوس خو خبره روښانه شوه ...
اعلیحضرته زه یوبل وړاندیز هم لرم، که ګورګي کندهار ته واستوو یو وفادار کس یې

باید تر ځنگ وي چې هغه وځاري، که یې د خرابۍ نیت وي چې مخه یې ونیسي احتیاط بیا هم ورسره په کار دی.....

اعتمادالدوله فتحعلی خان په مرموزه موسکا وویل:

هغه وفادار باید ستا وراره سیدعلي وي!

پاچا شاه حسین چې نور یې په زحمت سترگې غړولې د ملاباشي له دې خبرې سره راځک شو، ملاباشي دوی ته په رډ نظرکتل بیا یې وویل:

که سیدعلي ته دغه دنده وسپارل شي، زه به د کندهار او گورگي دواړو ضامن وم!

*****

ماښام ؤ، پاچا د حرم په ځانگړې خونه کې پر لوی تخت چې په بخملو پوښل شوی ؤ یوې تکیې ته ډډه وهلې وه، پر ایراني غالیو یې مخې ته ارمني نیم بربنډې نڅا گرې د ساز نرمو څپو ته په نڅا گډې وې، هغه چې درېیم جام پرسر واړاوه بیا یې یوې د جگې غاړې شنو سترگو او سرو وینښتانو خاوندې نجلۍ ته چې صراحي یې په لاس کي وه، تش جام ونیو، هغې جام ډکولو ته خان جوړاوه خو د پاچا تر څنگ ناستې ځوانې ملکې (نازنین) چې پرغاړه لاس وراچولی ؤ په اشاره هغه ایساره کړه، په نرمه لهجه یې وویل:

گران ټولواکه !نور بس دي، اوس دې هم لاس او پښې له واکه وتلي، پاچا سرې سترگې هغې ته ور واړولې، خوله یې په خندا وړینگه شوه، له ورایه ښکارېدله چې د صفوي ټولواکۍ اصلي واک په دې خونه کې دده نه دی، په عذر ته ورته لهجه یې وویل:

پرې مې ږدی چې څو شېبې د دنیا له غمونو بېغمه شم.

ملکه نازنین د کارتلي د واکمن شهنوازخان لور وه چې د ډېرو وینځو او مېرمنو په منځ کې د حرم اصلي واکمنه وه، د صفوي واکمنۍ زیاتره لویې پرېکړې د همدې په خوښه کېدلې، د ټولواک غوږته یې خوله ور نژدې کړه:

گرانه! غمونه دې خدای لرې لري، ته مو ټولواک يې، پر اووسمندرونو دې حکم چليږي، د خدای ټول نعمتونه دې په مخکې انبار دي !!

د پاچا خوله نوره هم وړينگه شوه، بيا يې نيمکښې سترگې بېرته پټې کړې او پر وريښمينه تکيه ور وغوړېد، ملکه يې له غېږې راپورته شوه، داسې ښکارېدله چې ددې خاص محفل سرکښه هم همدا وي، د لاس په اشاره يې نڅاگرې او سازندې رخصت کړې، پاچا نور له ځان او جهانه ناخبره ؤ، جگه شوه په چټکو گامونو مخامخ لويې کړکۍ ته ورغله، پرده يې اوچته کړه، شپې پر کايناتو پلو غوړولی ؤ، د شاهي ماڼۍ د دوهم پوړ د حرم له ځانگړې خونې د ښار منظره ښکلې ښکارېده، لاندې د بڼ د لويو ونو له منځه د اصفهان د ښار رڼاگانې ويړې غوړېدلې وې، په چوپه چوپتيا کې د پاچا خرهار اوچت شو، دې يو ځل په داسې نظر ورته وکتل چې له ورايه کرکه پکې احساسېدله .

کلونه کېدل چې د شاه اسمعيل لمسی او د هغه د پراخې ټولواکۍ وارث به له ماښام سره د شرابو په نشه کې ډوب ؤ، تر شونډو لاندې يې هغه ته څو سپورې کنځلې وکړې، غوښتل يې د لويې دروازې په لور لاړه شي چې دروازه پرانيستل شوه د ملکې ځانگړې خدمتگاره د سرو ويښتانو خاونده نجلۍ چې نيم بربنډه وه رانوته، په ملا ماته شوه، سلام يې وکړ بيا يې وويل:
شهبانو صاحبې! والاحضرت اعتمادالدوله، او قورچي باشي غواړي د اعليحضرت په حضور مشرف شي .
د شهبانو (نازنين) پر شونډو طنزيه موسکا وغوړېده وې ويل:
اعتمادالدوله خبر نه دی چې له ماښامه تر غرمې اعليحضرت له دنيا او مافيها ناخبره وي !...

–والامقامې! هغوی وايي که له اعليحضرت سره ليدل ناشوني وي له ولاحضرتې ملکې سره غواړو وگورو!

د شهبانو (نازنين) په سترگو کې د خوښۍ او غرور رڼا وځلېده، وې ويل:
د څنگ ديوان خانې ته يې راوله!
نوکره بيا په ملا ماته شوه، له سلام وروسته په شا ولاړه اوله لويې دروازې ووتله .

شهبانو لاس وپړکول، دوې وینځې په هغه ځانګړې شپنی جامه کې ور ننوتې، ملکې شاه حسین ته اشاره وکړه:

اعلیحضرت سنبال کړئ! بیا د باندې را ووتله وینځې او د حرم خواجه سرایان کتار ګډ ولاړوو، ملکې د دوی مشرته چې له طلایي جامو او زرینې خولی یې رتبه لوړه ښکارېده اشاره وکړه مهتره! راځه !

هغه په وړینګه خوله په ملامات شو، په داسې غږ یې لکه له پزې چې راوزي وویل:

په سترګو صاحبې! اوبیا یو دوه ګامه وروسته له شا ورپسې روان شو. ملکه د حرم د خاصې خونې کېڼ اړخ ته ځانګړې دیوان ته ننوته، دا تر خاص حرم لږ لویه خونه وه چې پاچا او ملکې به ډېرې خصوصي غونډې پکې جوړولې. دیوان خانه په ګرانبیه غالیو پوښلې وه یوه دیوال ته لوی تخت و چې زرین بخمل پرې غوړېدلې او لویې تکیې ورته پرتې وې، دوو لوریو ته په دیوال کې لویې کړکۍ وې، چې وریښمینو پردو یې ښکلا نوره هم زیاته کړې وه. لاندې دوو اړخونه ته توشکونه غوړېدلي وو چې هغو ته هم ښکلې تکیې پرتې وې .

ملکه تخت ته ورنژدې شوه، پښه یې ونیوه مخ یې راواړاوه مهتر(د شاهي نوکرانو مشر) ته یې وویل:

شهزادګان (طهماسب ، عباس ، حسین میرزا...) خو پخپلو خونو کې دي!

هغه په جینګه خوله ځواب ورکړ:

والامقامې بلکل هر یو پر خپل حرم کې بوخت دی، بېغمه شه!

ملکې بیا په راز دارانه لهجه ورته وویل:

د دربار له فتنه ګرو یې خاره، که چا ور سره د لیدو هڅه کوله ماته ووایه، اعلیحضرت پردې ډېر خپه کیږي، شهزادګان باید له درباري فتنه ګرونه خوندي اوپه امان کې وي، نور یې چې څه زړه غوښتل ورته تیار یې کړئ!

ـ د والاحضرتې عمردې ډېر وي. ستاسو خادم ستاسو په خدمت کې دی، ملاباشي یودوه ځله هڅه کوله له شهزاده طهماسب میرزا سره وګوري، خو ما ځواب ورکړ چې

د اعلیحضرت له اجازې پرته نشي کولای ... ملکې هغه ته د تلو اشاره وکړه او لاړه پر تخت یې زرینې تکیې ته ډډه ووهله، د دیوان خانې پر دیوالونو او چتونو لوی لوی فانوسونه را ځړېدلي وو چې رڼایې د شاهي دیوان غولي او دیوالونو ته شاعرانه ښکلا وربښله .

دروازه پرانیستل شوه، لږ شیبه وروسته د ملکې په خاصه نوکره پسې اعتمادالدوله او قورچي باشي ورننوتل، هر یو په خپله ځانګړې رسمي جامه کې ؤ، دواړه لاس په نامه ودرېدل، بیا په ملامات شول ښه شیبه هماغسې په ملا خم ولاړ وو، بیا ودرېدل، دواړه ور وړاندې شول چې د ملکې پر لاسونو ور پریوزي، خو هغې لاس اوچت کړ، دوی ته یې د کیناستلو اشاره وکړه، اعتمادالدوله ښي لوري ته او قورچي باشي د هغه تر څنګ کیناست.

د اصفهان د حرم ځواکمنې ملکې په پوښتونکي نظر هر یوه ته وکتل، اعتمادالدوله د چینې پرغاړه لاس وواهه پر ګڼه شناوي ږیره یې لاس را تېر کړ، په ټیټ غږ یې د شاهي دربار له ستاینو او سلام وروسته وویل:

د ملکې عالیې د اقبال ستوری دې اوچت وي، یو ځوخبرې وې چې لازمه وه له اعلیحضرت اویا ملکې عالیې سره یې شریکې کړو، چې خدای مه کړه د فتنه ګرو ناوړه پلانونه بریالي نشي .

بیا یې ملکې ته داسې وکتل لکه د خپلو خبرو اغېز یې په څېره کې ګوري، ملکې له طنزیه موسکا سره وویل:

پوهېږم چې اعتمادالدوله او قورچي باشي په توره شپه کې حرم ته څې خامخا به مهمې خبرې لري!
پخوانی قورچي باشي (د قزلباشوخاصوځواکونو مشر) د ملاباقر مجلسي په مشوره له مسوولیته لرې شوی ؤ، او د قزلباشو ځواک یې له منځه وړی ؤ، خو وروسته د باقر مجلسي د لمسي په مشوره قورچي باشي او د قزلباشو یو ځواک بیا جوړ شو چې هغه پخوانی واک او دبدبه یې نه درلوده.

د ملکې طنز دواړو احساس کړ، خو خولې یې جینگې کړې ، **محمد قلي خان قورچي باشي** وویل:

موږ د ټولواکی خدمتگاران یو، د ضرر دفع کول یې زموږ دیني دنده ده!

اعتمادالدوله د تائید په دود سروخوځاوه، د قورچي باشي غږ په زحمت له ستوني راووت:

د سني زنديقيانو او گرجي عيسويانو نيت زموږ ټولواکی او شاهي دربارته ښه نه دی!

ملکې په بیزاری وویل :

اصلي خبره کوئ !

هغوی یوبل ته وکتل ، بیا اعتمادالدوله وویل :

شهبانو صاحبې! د ملاباشي او مستوفي الممالک له وړاندیز نه خو به خبره یې؟

ملکې وویل :

د کندهار د بېگلربیگي په اړه!

هوکې ، هوکې ، هغه غواړي عیسوي یاغي سردار د بېگلربیگي په توگه واستول شي.

ملکې وویل:

دا پرېکړه خو شوې ده، که تاسو د دې چارې مخالف یاست نو نن به مو د شورا په غونډه کې مخالفت کړی ؤ.

ـ ملاباشي، له مستوفي الممالک، حکیم باشي، خواجه سرا او د دربار له ناظرسره پټه خبره کړې وه، هغوی په یوه خوله د ملاباشي خبره تائید کړه.

ملکې وویل:

داعلیحضرت څه نظر ؤ ؟

اعلیحضرت هم بیا د هغه نظر تائید کړ.

نو اوس ستاسو غوښتنه څه ده ؟

قورچي باشي محمدقلي خان وویل:

شهبانو صاحبې! د ملاباشي نیت راته روغ نه ښکاري.

ملکه موسکۍ شوه، همدا تیر سهار ملاباشي او حکیم باشي ورته راغلي وو او ویلي یې وو (.... اعتمادالدوله دوی ته په پوست پاک نه ښکاري، سني مذهبه دی د امامانو پر دښمنانو بد نه وایي، وراره یې لطف علي خان له عثمانیانو سره تار لري، سني کردانو سره هم پټې اړیکې لري او د عثماني ترکانو په لمسه زموږ د ټولواکۍ خلاف دسیسې جوړوي ....)

اعتمادالدوله پرې وغبرګه کړه:

دغه ګرجی عیسوی هم د اسلام ستر دښمن دی، د امامانو د صادقو پیروانو په وینو یې لاسونه سره دي، اوس ملاباشي وایي چې هغه مسلمان شوی دی، اصفهان ته د وفادارۍ هرډول ازموینښت ته تیار دی!

ملکې وویل:

اوس د هغه د استولو پرېکړه شوې ده، که د اصلاح کومه لاره او وړاندیز لرئ راته ووایئ!

له دې خبرې سره هغوی دواړه له ځوښه ولوېدل او ساړه کیناستل، بیا اعتمادالدوله له نهیلۍ په ډکه لهجه وویل :

بس موږ خپله غاړه خلاصه کړه!

ملکې پرېکنده ځواب ورکړ:

ملاباشي وړمه ورځ راغلی ؤ ماته یې د واختانګ د زوی په باب ټوله کیسه وکړه، تاسو یې څه غم کوی، یوه لورته به ګورګي او د هغه ګرجي پوځیان وي، بل لورته به افغاني زندیقیان وي.

چې هر لوری مات شي، زموږ په خیر دی.

اعتمادالدوله لږ په ټیټ غږ وویل:

د واختانګ زوی ګورګي که مات شي زموږ خیر پکې څه دی؟

ملکې ځواب ورکړ:

سرکشه یاغي شهزاده به له منځه لاړشي چې په ګرجستان کې زموږ ټولواکۍ ته خطر دی.

له لږ چوپتیا وروسته هغې خبروته دوام ورکړ:

تاسو د دربار وفادار کسان یاست، اعلیحضرت درباندې اعتماد لري، که موکوم تدبیر ذهن ته درغی زما دروازه مو پرمخ پرانیستې.

ستاسو د ډاډ لپاره همدومره درته ویلی شم چې بل سبا ته د گورگي د ټاکلو رسمي مراسم دي، ما د گرگین خان نوم ورته غوره کړی، اعلیحضرت هم منلی دی، شاهنواز خان لقب یې ورکړ، یو وراره یې دیوان بیگي دی، بل وراره یې د گرجستان والي ټاکل کیږي. نور به هغه ولې بغاوت کوی؟

شهزاده گرگین به د خپل مقام او کورنۍ د ژوند لپاره د اصفهان په خدمت کې وي.

له دې سره یوه درنه چوپتیا خپره شوه، بیا ملکې د لاس په اشاره هغوی رخصت کړل، د واړه بړوسې شونډې او ځوړند سرونه له دروازې ووتل .

ملکه هم له تخته راجگه شوه ، له هغه خونې راووته دهلیز ته راوتلې پړ یوه بله دروازه ننوتله .

*****

کندهار «۱۷۰۴زیږدیزکال»

(۳)

د ۱۶۹۶ زیږدیزکال دوبی کندهار د نویو هنګامو شاهد و. یوه ورځ د کندهار په شاوخوا کې په ولس کې زیري وشول چې میرسمندرخان بلوخ پر کندهار برید کړی او صفویان یې له ښاره شړلي دي. د صفوي پوځیانو له ناکردو تر پزې راغلی ولس د اتڼونو په بدرګه خوښی نمانځلې، خو دغه خوښی ډېرې اوږدې نه شوې.

میرسمندرخان کندهار پرېښود او بېرته بلوچستان ته لاړ، د صفویانو ماته خوړلی پوځ بېرته راستون شو او د ظلم او تیري یو نوی بهیر پیل شو چې کلونه نور یې دوام وکړ، په څو کلونو کې کندهار د صفویانو او د ډیلي د مغلي واکمنو تر منځ هم د جګړو او سیالیو ډګر و، په دې موده کې کندهار څو ځله د دواړو لوریو ترمنځ لاس په لاس شو. هرځل ښار لوټ او لوټه لوټه شو، هر نوي فاتح دې ولس ته خپله څېره ور وښودله چې تر پخوانیو څو ځله خونړی او ناولې وه. خو له هر ځل بریا سره بریالي لوري د کندهار د تاریخي کلا برجونه د ښار د ساتنې په موخه له سره رغول. ځکه چې د ډیلي او اصفهان د واک او ځواک تکیه پر همدغو برجونو وه، پر عام ولس نه وه. کلونه همدغسې تېرېدل، د کندهار فاتحان بدلېدل. خو ددې ولس برخلیک هماغسې خوار او په پردو پورې غوټه و، دغه خونړی لوبه د پخوا په څېر روانه وه.

پر ۱۷۰۴ کال اصفهان پرېکړه وکړه چې د کندهار بیګلربیګي (والي) بدل کړي. په زرګونو نوي پوځیان له نویو وسلو سره راغلل، صفوي واکمنو کندهار ته نوی بېګلر بېګي (حاکم) را واستاوه. نوی حاکم ګرګین خان و چې د زرګونو پوځیانو په بدرګه راغی.

د ګرګین د ظلمونو او ناوړه چلن کیسې تر ده مخکې کندهار ته را ورسېدې او خوله په خوله ګرځېدې. نوموړي په ظلم او تیري کې ددې ښار پر پخوانیو ټولو واکمنو پښه واړوله چې د اصفهان او یا ډیلي له لوري ګومارل شوي وو.

کله چې کندهار ته د گرگین د راتلو خبر را ورسید ، د اصفهان له لوري گومارل شوي چارواکي سخت وارخطا وو، په تېره د کندهار د پارسي پوځ قوماندان صمدعلي چې په خته ایرانی و له وېرې په لړزه و، خپلو تر لاس لاندې پوځیانو ته یې وویل:

تاسو د گرجستان د واکمن « گورگي» نوم اورېدلی؟

جعفر نومي یوه دلگي مشر (اون باشي) یې ځواب ورکړ:

هغه چې زموږ له پاچا نه یې بغاوت وکړ!

صمدعلي په حسرت سر وخوځاوه وې ویل:

هوکې همغه نیم، د گرجستان د پاچا پینځم واختانگ زوی، هغه دلته د بېگلر بېگي په توگه را روان دی.

د دلگي مشر سترگې له حیرانی ړدې وختې په ژوولي انداز یې وویل:

جنابه! هغه یاغي بد ذاته دلته د حاکم په توگه ولې راځي؟

قوماندان زیاته کړه:

د پاچا دربار دی، هر ډول خلک پکې راټول وي. ددې دربارونو د ننه څوک د چا په دوستی او دښمنی نه پوهېږي. د پینځم واختانگ زوی یاغي شو، د اصفهان استازي یې ووژل، زموږ ډېر پوځیان یې ووژل، خو چې لښکر ورغی ځواکونه یې مات شول. دغه بد ذات وتښتېد، وروسته یې ژوندی ونیو. بس په دربار کې یې څوک خواخوږي پیدا شول. سړی یې په دې نامه وباښه چې عیسویت یې پرېښی او د اسلام دین یې منلی. د امامانو ریښتینی پیرو ترې جوړ دی. پاچا وباښه اوس د گرجستان پر حکمرانی سربېره د کندهار حاکم ټاکل شوی دی.

دلگي مشر ورته وویل:

نو اعلیحضرت شاه حسین دومره اسلام ته ژمن دی چې یو ظالم یې د مسلمانی په دعوه وباښه او د کندهار حاکم یې وټاکه؟

قوماندان پرې ور برگ شو:

چوپ شه، د خپل سر خیر غواړه. کوم نمک حرام به واوري گرگین ته به حال ووایي توپ ته به مو وتړي.

بيا يې لږ په رازداره لهجه ورته وويل:

د اعليحضرت له حرم نه خبر يې چې څو مېرمنې او وينځې لري؟

ـ اورېدلي مې دي چې ډېرې زياتې دي خو په کره شمېر يې نه يم خبر.

ـ تر زرو زياتې دي! چې چېرته ښايسته پېغله د دوی اردليانو لېدلې، بس دده د حرم ډېوه گرځېدلې.

د (اون باشي) سترگې بيا رډې وختې، صمدعلي بيا زياته کړه:

پر حاکمانو يې قلنگ ايښی چې د خپلې سيمې ښکلې پېغلې به د ده حرم ته راولې. دغه گرگين بد ذاته ته پردې غوسه و چې ښکلې نجونې يې نه وې ورته را استولې.

اون باشي وخندل، ښکلې نجونې خو به دده پخپله په کار وې.

صمدعلي وويل:

گورگي يې زنځير زولانه اصفهان ته راوست، څو کاله بندي و، ويل کيږي چې وروسته د ملاباشي کسانو هغه اسلام ته را واړاوه او پاچا هم وباښه.

اون باشي وويل:

ښه نو دا د ملاباشي سړی دی، پښه يې په دربار کې ښه پخه ده پام ورسره په کار دی.

ـ هوکې! بيا يې خپلو پوځيانو ته مخ واړاوه د نصيحت په دود يې ورته وويل:

له دې خنزير سره به ډېر پام کوئ حکم ته يې چې څوک نه! ووايي سمدستي يې سر پرې الوزوي. ما دربار ته يو پيغام استولی که يې له دې ځايه ور وغوښتلم ډېر به مو په هم د اور لمبه ده، چې څومره ظلم پرې کوې دومره پارېږي. دغه قام په توره او زور ځوک نشي ابل کولای. گرگين به يې په لوی لاس نور هم د اصفهان دښمنی ته وپاروي... صمدعلي بيا په رازداره لهجه خپل دلگي مشر ته چې د ده د راز سړی و وويل:

جعفره! په هغه جگړه کې ته را سره نه وې! ..بيا يې پخپله ځانته ځواب ورکړ، نه ناځوانه تا خو د مور د ناروغی پلمه کړې وه. دغه گرجی ځناور په زړه ور توب کې ساری نه لري. خو ظلم ملا ور ماته کړه.

هغه په حیرانی ورته وکتل، صمد علي زیاته کړه:

دغه بد ذاته هره شپه باید له نوې ښځې سره ویده شي. یوه ورځ یې ډېر څښلي وو. د خپل قوماندان پر کور ور ننوتلی و. قوماندان یې د خپل قام او قبیل یو څوک و. سبا ته بې مېرمنې خان له بامه را وغورځاوه. قوماندان په زړه کې ورته واچوله. په وروستی جګړه کې د پاچا پوځ ته هماغه د ده باوري قوماندان لاره ورکړه.

دی یې په داسې حال کې ونیو چې څلور ښځې په غېږ کې ورسره پرتې وې. جعفر غوږونو ته لاس یوړل. توبه توبه! بیا یې قوماندان ته په وېره وېره وویل:

د داسې کارونو پایلې خرابې وي. خدای دې موږ ته هم خیر پېښوي.

صمدعلي په غوسه ور ته وویل:

وه حرامي موږ خو د دوست او دښمن په توپیر پوهېږو، ته څنګه داسې خبره کوي!

جعفر خوله جینګه کړه:

صېب هسې مې وویل.

هغه خوله کږه کړه، د ده خبره یې تکرار کړه:

صېب هسې مې وویل! د سپي زویه ... دې وخوړل! بچو چې ګرګین راشي ښځه دې درنه بوځي. بیا به در معلومه شي. چې ...

جعفر چوپ شو. سترګو ته یې د تېرو کلونو هغه ننداره ودرېدې چې دوی د لوی کندهار بشپړکلي سوځولي وو، کورونه یې میرات کړي وو، مېرمنې یې تښتولې او وژلې وې. قوماندان صمدعلي په دې ټولو کې حاضر و او جعفر هم د هغه ښی مټ و.

*****

د کندهار عام ولس ته د ګرګین د راتلو خبر داسې و لکه لوټ شوي او سوځېدلي بغداد ته چې د چنګېز او هلاکو د پوځ د بیا راګرځېدو خبر راغلی وي، دوی هم څو ځله لوټ شوي او ځپل شوي وو.

سهار لمر يوه نېزه هسک راغلی و، میرویس خان په مکران کې د خپل کور مخې ته ا زين کړي اس سره ولاړ و چې يحيى خان او سيدالخان ناصر راغلل، هغوی ډېر بېړني او وارخطا ښکارېدل، میرویس خان له لرې غږ پرې وکړ:

سيدالخانه! لکه چې تاسو هم د گرگين د راتلو اوازې وېرولي ياست، خيرت خو دی ډېر په تادی ښکارئ؟

سيدالخان او يحيى خان په يوه غږ وويل:

خانه! خيرت خو نه دی!

میرویس خان په موسکا ځواب ورکړ:

اگردشمن قويست نگهبان قويتر است! خدای به خير کړي.

سيدالخان وويل:

خانه! بيشکه چې الله تر ټولو لوی ذات دی، د نوي بيگلربيگي په کيسه کې نه يو خو خلک ډېر وېرېدلي او اوس له ښاره کډې باسي.

میرویس خان د اس پر غاړه لاس را تېر کړ، لږ په جدي لهجه يې وويل:

نه، نه! کډې ايستل د ښاريانو روحيه ماتوي دا د ستونزې حل لاره هم نه ده. دوی چېرته لاړ شي چې له دښمن نه په امن شي؟

يحيى خان وويل:

وروره لويه انديښنه همدغه ده خلک زموږ خبره نه اوري، که ته مشران ونه پوهوې به څو ورځو کې به کندهار صفويانو ته پاتې وي. په ښار کې همدې صفوي چارواکيو د گرگين د ظلمونو اوازې گډې کړې دي، خلک ملامت هم نه دي.

میرویس خان لږ چورتي شو، بيا يې وويل:

تاسو ولي جان اکا او د ښار يو څو تنه سپينږيري در سره ملگري کړئ خلک قانع کړئ چې کډې ونه باسي. ور ته ووايی چې په اوازو باور مه کوئ.

يحيى خان وويل:

وروره! ولي جان اکا پخپله د کډې په بارولو بوخت و، موږ همدا څو شېبې مخکې پرې را تېر شوو.

میرویس خان د اس جلب خپل نوکر لونگ ته ونيو يحيى خان ته يې وويل:

ورشه بابوجان، او څو نور مشران در سره کړه په ښار را وگرځئ خلک وپوهوئ چې کډې کولو ته حاجت نشته! بیا یې له ځانه سره تکرار کړه:

عجیب خلک دي، اخر چېرته تښتي؟ له باران نه به ناوې ته ناست وي!

دا یې وویل او له سیدالخان سره د هغوی په راغلې لاره روان شو. ددوی تر کلا یوه کوڅه وړاندې کراري وه، خو په دویمه کوڅه کې شورماشور اوچت و، دوې گاډۍ ولاړې وې او د کور سامانونه پکې بارېدل.

میرویس خان یو د شناوی ږیرې خاوند را وغوښت، ورته وې ویل:

تورگل اکا لکه چې کډې باروئ؟

هغه په تائید سر وخوځاوه، میرویس خان لږ په جدي لهجه ورته وویل:

اکا دا کار به نه کوئ، هېڅوک به هم کډې نه باسي!

دا یې وویل او ترې تېر شو، تورگل اکا هک پک پاتې شو، بیا یې غږ وکړ:

هلکانو لږ صبر وکړئ!

لږ ځنډ وروسته میرویس خان او سیدالخان د یوې ړنگې کلا تر څنگ د دوو ختېنو خونو مخې ته د یوه سپینږیري په مخکې ولاړ و. هلته درې هلکان او یوه اووه اته کلنه نجلۍ له دوو یابوگانو سره ولاړ وو. یوڅه د کور سامان د غلې دانې له یوه جوال سره دیواله ته ایښي وو، له جوړ په خیر وروسته میرویس خان وویل:

ولی جان اکا وامې ورېدل چې کډه باسې؟

هغه خواره واره سامان او ماشومانو ته خپل ببر لړزاند لاس ونیو، د مخ په گونځو کې یې لیکې ژورې شوې، ځواب یې ورکړ:

خانه! کډه څه ده بس دا راپاتې سرونه له ظالمانو باسو!

میرویس خان د هغه په اندېښنه ښه پوهېدو خو ورته وې ویل:

اکا ښار مه پرېږده، خدای مهربانه دی هرڅه به سم شي.

د ولي جان اکا د مخ په کاسه کې د هغه د تیر ژوندانه د هسکو ټیټو انځور ډېر روښانه و، د هغه ځواني پر کندهار د ډیلي د مغلي واکمنو او صفویانو تر منځ په جگړو او تالان کې تېره شوې وه، میرویس خان یې تر لاس ونیو ورته وې ویل:

ته راځه! بیا یې تر مخ شو، د یوه نیم لوېدلي دیوال تر څنګ تېر شول، د لویې کلا د څلوردیوالۍ نښې پاتې وې، د څلوردیوالۍ د ننه د خونو پر ځای هم د خاورو او لوټو انبارونه پراته وو، شاوخواته ځوز او نور ازغن بوټي ولاړ وو، ښي اړخ دیوال ته نژدې په اوږده لیکه څو لوی او وړوکي قبرونه کتار ووچې بیرغونه پرې رپېدل. په دې کې ځینې ډېر پخواني او څلور پینځه قبرونه نوي وو، چې لا یې د شناختو ریتاړې نه وې شلېدلې.

دوی چې د قبرونو نیمایي ته ورسېدل، ولي جان اکا میرویس خان ته مخ ور واړاوه:

دغه اوولس قبرونه ټول زما خیلخانه وه چې اوس دا څلور ماشومان او دوې مېرمنې ترې پاتې دي... هغه د کتار په سر کې درې واړه مې ورونه دي، تر څنګ یې دوه نور دهغوی مېرمنې دي. په هغو پسې مې درې زامن او دوې لونې دي، دا نور مې لمسیان دي.

زما د کلا په ټول کندهار کې غورې کېدې، مغلو په توپونو راته والوځوله او لوټه لوټه یې کړه، ورونه او دوه زامن مې له څو ماشومانو او ښځو سره یکې شهیدان شول. هر ځل چې پر کندهار له هر لوري کوم ناتار راغلی ماته یې په زړه یو سوری او ناسور ټپ راکړی دی.... مال خو د ورغوي خیرې دی بلا پسې پیدا به شي، خو زه مې دغه ځوانیمرګان بیا له کومه کړم؟

د اکا غږ ژړه غونی شو، تازه قبرونو ته یې لاس ونیو، دا مې د وراره، دوو زامنو او دوو لمسیانو قبرونه دي چې صفوي ظالمانو راته شهیدان کړل. په دومره موده کې دغه ټول مصیبتونه ما په دې خوار ځان وګالل، ستا کور ودان، پوښتنه مې دې کړې، غمرازي دې را سره کړې، خو نور مې نه څوک پوښتنې ته راغلل، نه مې د عرض او داد داسې دروازه ولیده چې فریاد ور وړم. بس خدای ته مې صبر وکړ، اوس مې چې واورېدل چې له اصفهانه کوم بل ظالم را روان دی، پر ما خو عمر تېر دی، له دې پرته نور ما چاره ونه لیده چې دا یو څو خرڅوړي پر یابو واچوم دغه را پاتي زهیر ماشومان مې د مرګ له منګولو وژغورم. اکا د قبرونو په منځ کې کیناست، د خړ خیرن پټکي شمله یې سترګو ته ونیوله ژړا یې زور واخیست او تر ډېره یې اوږې خوځېدلې.

د میرویس خان په سترګو کې هم اوښکې وځلېدې، خو ځان یې را ټینګ کړ، سیدالخان مخ بل لوري ته واړاوه، د څادر په پیڅکه یې اوښکې پاکولې، له ښه ځنډ وروسته میرویس خان د ولی جان اکا تر څنګ کیناست د هغه پر اوږه یې لاس کېښود، غاړه یې تازه کړه وې ویل:

ولی جان اکا! ستا غم زموږ ټولو دی، الله دې په دنیا او اخرت ددې قربانیو اجر درکړي. اندېښنه دې هم پر ځای ده، خو ان شا الله چې بیا به داسې ناکردې تکرار نشي، پخوا خبره یوازې د ډیلي او اصفهان د واکمنو او د هغوی د لاسپوڅیو تر منځ وه، هغوی د ولس پروا نه درلوده، اوس شکر دی حالت بدل دی.

اکا اوښکې پاکې کړې زړه یې تر ډېره تش شوی و، را جګ شو په چوغو سترګو میرویس خان ته ځیر شو، وې ویل:

خدای دې همت درکړي، بس که مرو که پاتې کېږو ستا خبره په ډاګ نه غورځوم خانه!

ګڼه ګوڼه شوه، لږ ځنډ وروسته بابوجان بابی، بهادرخان اندړ او یحیی خان راغلل، میرویس خان ته یې وویل:

د خلکو کور ودان له کډو ایستلو را وګرځېدل. میرویس خان یحیی خان ته مخ ور واړاوه:

وروره! د اکا د یتیمانو خوراک او جامه پر ما شول، دوی ته زموږ د کلا تر څنګ یو دوې کوټې واچوه، چې د استوګنې شوې همالته به را لنډ شي.

ولی جان اکا وویل:

نه، نه خانه! زما همدغه جونګړه خوښه ده، زه به مې ددغو عزیزانو منجور وم. وروسته د میرویس خان په ټینګار راضي شو وې ویل:

خانه کور دې اباد، ستا چې څنګه خوښه وي زما پرې امین دی.

*****

د کندهار په لویه کلا کې د نوي حاکم ګرګین خان د هرکلي لپاره لوی جشن او ځانګړي مراسم نیول شوي وو.

د کلا دننه تر نارنج ماڼۍ پورې د صفوي چارواکیو مېرمنې او ماشومان په ښکلیو جامو کې دواړو لوریو ته کتار ولاړ وو، د سریندې او تولۍ په مستو تالونو کې د ځوانو پېغلو او زلمیو له نڅا ځمکه خوځېدله. د تورم غږ د کلا په لرې دېوالونو کې په هیبتناکه بڼه را غبرگېده.

خو د صفوي پوځ د واکمنو او قوماندانانو په شونډو جبري موسکا له ورایه ښودله چې دوی د زړه له تله په دې خوښۍ کې شامل نه دي. تر قضا ماسپښین پورې د نوي حاکم د راتلو انتظار اوږد شو.

دغه وخت لمر لوېدو لور ته یوه توره دوړه په اسمان کې را ښکاره شوه. لکه د شوم برخلیک تیارې چې پر ښار را روانې وي. دوړه را نږدې شوه، بیا په دښتو کې تر دوړې مخکې یوه توره لیکه را ښکاره شوه. بالاخره گرگین د زرگونو گرجي او صفوي پوځیانو په بدرگه په شاهانه انداز کندهار ته را ورسېد. کلا ته ننوت او په سرو غوړېدلیو غالیو کې نارنج ماڼۍ ته تېر شو. له سهار راهیسې چې په کندهار کې د ډول او تورم په دربا کې دېوالونه لړزېدل یو دم هر څه چوپ شول.

څو دقیقې وروسته د گرگین د گرجي اتو زرو خاصو ځواکونو قوماندان الکساندر میرزا (سکندر میرزا) له دروازې را ښکاره شو او یو لوله شوی کاغذ یې پرانیست، د نوي حاکم لومړنی فرمان یې ولوست:

د کندهار بېگلر بېگي اعلیحضرت گرگین خان پخواني حاکم او د پوځ قوماندانانو ته حکم کوي چې تر لمر لوېدو پورې دې وسلې، دفترونه، سلاکوټونه او گودامونه له خزانې سره زما قوماندانانو او امرینو ته وسپاري، له سرغړوونکیو دې ځای پر ځای سرونه والوزوي. (د کندهار بېگلر بېگي گرگین خان)

سبا ته تر لمر ختو مخکې د کندهار له کلا په زرگونو پوځیان را ووتل او په څلورو لوریو تیت شول. ماسپښین مهال د لوی کندهار پر اسمان دودونه خپاره وو. نوي حاکم خپله څېره ولس ته وښودله چې له وژلو، سوځولو او تالان پرته هېڅ نه پېژني.

له پوځي کلا نه د گرگین د پوځ له وتلو وروسته یو شمېر پخواني پوځیان او د هغوی مشران هم له کلا را ووتل او د لمر لوېدو په لور یې مخه کړه، داسې ښکارېدل لکه لوټ شوی کاروان چې یوازې سرونه یې را ایستلي وي. په دې کاروان کې داسې کسان هم وو چې ځوانې لوڼې او مېرمنې یې د گرگین پوځیانو ترې گرځولې وې، پخوانی قوماندان صمد علي یوه ورځ مخکې ښار ته را وتلی و، د پخوا پر خلاف اوس ډېر مهربانه و، ښاریان یې پر چلن حیران وو. په تېرو پنځو کلونو کې یې لومړی ځل د هغه پر خوله دوستانه موسکا لیدله.

د روزه دین کلال په دوکان کې څو تنه پخواني یاران په بنډار بوخت وو، د صفوي قوماندان پر چلن حیران وو، عیسی خان چې بلوڅي خوله یې کږه پر سر اېښې وه وویل:

روزه دین لالا، اوازه ده چې دا ځل یې کندهار ته سم قصاب را استولی دی.

بل تن خواځک د هغه په تائید وویل:

وامې ورېدل چې سور کاپر دی هسې په دروغو د اسلام دعوه کوي.

روزه دین پر تندي خېړه را تېره کړه:

یاره خړ سپی د لېوه ورور دی. دا اوازې صمدعلی گډې کړې دي، دی کله د سړي زوی و چې اوس د نورو عیبونه موږ ته وایي.

د وړوکي قد خاوند انارگل چې د مخ پوست یې د پنجابیانو په څېر لمر تک تور سوځولی و، وویل:

ای په پیر دې رحمت شه! موږ خو له دې پخوانیو رافضیانو هم ښه ورځ نه وه لیدلې. نه یې د چا په مرگ صرفه کړې او نه یې په مال او ناموس!

عیسی خان بیا وویل:

یاره دا صمدعلی که د سړي زوی و که نه، زما خو یې پر خبرو باور راځي، خدای مو دې له دې نوي ځناور سره پرده کوي، نوم یې د سړي نه دی گرگین خان!

خواځک بیا پرې ور غبرگه کړه:

گرگین خان خو ښه دی، هغه بل نوم یې، هغه خو ولا که د چا ژبه پرې وگرځي.

عیسی خان وویل:

ریښتیا خواځکه! دې صمد علي ویل چې ګرګین پر پوځ سربېره د خپل قام کډې را ولي دلته به زموږ ځمکې او جایدادونه ورکړي، دوی به همدلته تر کلا د باندې په ښار او شاوخوا کې اوسېږي. بیا یې روزه دین کلال ته وویل:

روزه دین لالا، کټوې او دېګونه دې باروه بل ځای ور ته ګوره!

روزه دین د عیسی خان په مراد و نه پوهېده چې ټوکه کوي که جدي وايي، خو په ځواب کې یې وویل:

چې دومره لویه کلا مو ور پرېښې مالیې او باجونه ورکوو، دا زما دوکان یې هم نوش جان.

د ده په ځواب کې د بنډار یارانو پېغور او طنز احساس کړ، توره کی انارګل بیا په خبرو ور ګډ شو:

ای په پیر دې رحمت شه ګل خبره دې وکړه!

عیسی خان وویل:

خیر وخت به یې راشي!

روزه دین له ځانه د ګیلې په دود وویل:

وخت به یې څه وخت راځي؟ پلرونو مو باج ورکاوه، نن یې دا دي موږ هم ورکوو. اوس که د صمدي خبره ریښتیا وي نو موږ به تر ځمکو او جایدادونو هم تېرېږو. بس د وړې خېټې غلامي به راپاتې وي.

*****

د نوي حاکم له راتلو یوه اونۍ وروسته یو بل لوی کاروان هم را ورسېد، جارچي په ښار کې جار واهه چې له اصفهانه کډې راغلې، دوی ته به د ښار نیمايي کورونه او هټۍ خوشې کېږي. که چا له حکم نه سر وغړاوه سر یې د سرکار مال یې د ګرجي رعیت په نامه ضبط. د عیسی خان خبره ریښتیا شوه. د کلال د دوکان په مخه کې د ماتو منګیو او کټوو کودي تیت او پرک وو. له ښار نه بیا هم د لوټ شوي کاروان په څېر د بې وزلو انسانانو کټارونه په یوه او بله روان وو. یو ماښام میرویس خان په کوکران کې د سیمې

مشران یوه کور ته رابللي وو، لس دوولس کسان راغلل، خبره یې د نوي بیگلربیگي به اړه وه چې له راتلو سره یې د لوی کندهار پر ولس د ظلم او تیري یوه نوې څپه را نازله کړې وه.

میرویس خان د لوېې خونې دیوال ته تکیه کړې وه، له جیبه یې یو کاغذ را ویوست او ښه شیبه یې پر لوستلو بوخت و، بیا یې هغه پر زنگون کیښود او یو سوړ اسویلی یې وکیښ.

تر څنگ یې ناست بابو بوجان بابي ترې وپوښتل:

خانه! په کاغذ کې څه دي چې دومره یې خواشینی کړی یې؟

میرویس خان کاغذ سیدالخان ناصر ته ونیو چې بل اړخ ته یې ناست و، وې ویل:

ورته ویې لوله، د اصفهان له خوا زموږ د شوم برخلیک پرېکړه ده.

هغه کاغذ د چراغ رڼا ته برابر کړ او پر لوستلو یې پیل وکړ:

....گرگین خان چې پاچا د شهنوازخان لقب ورکړی، په خته گرجی دی، د گرجستان د کارتلي د شاهي کورنۍ او ددې هېواد پخوانی واکمن دی، عیسوي مذهبه او د انقرې د کلیسا رسمي غړی دی، د شاه حسین پلار، شاه سلیمان صفوي د گرجستان له پاچهۍ لرې کړ، وروسته شاه حسین وباښه ، کندهار ته یې د بیگلر بیگي په توگه واستاوه.

د گرگین اصلی نوم (یوولسم گورگي) دی، د پینځم واختانگ زوی، درې مېرمنې او څلور اولادونه لري، په عیاشۍ او بې رحمۍ مشهور دی، اصفهان ته سر نه ټیټوي، د کندهار ماموریت یې په دې شرط منلی چې د گرجستان واکمن به دده وراره (شپږم واختانگ) وي، داسې ویل کیږي چې اصلاً هغه د گرجستان واکمن هم دی، په ښکاره ځان شیعه مسلمان بولي خو ټول پرې پوهیږي چې پر خپل پخواني مذهب دی.

سیدالخان چې لیک ولوست وې ویل:

خانه! دا څومره ریښتیا دي!

میرویس خان وویل:

دغه معلومات کړه دي، گرگين خطرناک سړی دی، شاه حسين اوس د افغانانو پر وژلو او ځپلو خلک خوشالوي او امتياز ورکوي، بيا يې په لوړ غږ وويل:
ان شاالله دغه ارمانونه به گور ته وړي.
په خونه کې څو غږونه غبرگ اوچت شول، ان شاالله ، ان شاالله!

*****

له ميرويس خان سره تر لومړي ځل ليدو وروسته گرگين د نارنج ماڼۍ په لوی ديوان کې د معمول پر خلاف تر تخت وړاندې يو او بل لوري ته قدم واهه، قوماندانان او چارواکي يې په دوو کتارونو کې څوړند سرونه ولاړ وو. گرگين به له ځانه سره سر وخوځاوه، د ميرويس خان څېره يې سترگو ته ولاړه وه، لومړي ځل ليدو يې پر ده ژور اغېز غورځولی ؤ. له ښه څنډ قدم وهلو او چورتونو وروسته يې ظاهراً ځان آرام وښود، خپلو قوماندانانو او مامورينو ته يې وکتل، گړندی لاړ پر خپله زرينه کرسۍ يې ډډه واچوله ويې ويل:

د لوی کندهار کلانتر ميرويس خان! بيا يې تندی تريو شو زياته يې کړه:
په موږ کې سړی لري. که دلته په کندهار کې دی او که په اصفهان کې، خو سړی لري.
په يوه غږ د څو تنو له حيرانۍ ډک غږونه اوچت شول:
په موږ کې سړی لري!
دا خاين به څوک وي، ټولو يو بل ته وکتل او بيا ټولو گرگين ته سترگې ور واړولې هغه وويل:

ميرويس تر هغو ډېر هوښيار وخوت چې ما يې فکر کاوه، زه په ژوند کې تر اوسه له داسې چا سره نه وم مخامخ شوی، هغه ما ته زما د زندان او بغاوتونو يادونه وکړه، ما ته يې زما کارنامې يادې کړې، هوايي خبرې هم نه وې، زه د اصفهان په فساد کې ډوب درباريان پېژنم. د هغوی نيمايي زما او زما د کورنۍ او هيواد په باب دومره معلومات نه لري چې د لوی کندهار له کلانتر ميرويس خان نه مې واورېدل.

د گرجي خاصو ځواکونو قوماندان د گرگین وراره الکساندر میرزا چې نوی نوم یې (سکندر میرزا) و لږ په جرئت وویل:
تاسو به له ده نه پوښتنه کړې وه چې دا معلومات چا در کړل؟!
گرگین پر خپله گڼه بږیره چې یو یو سپین هم پکې ښکارېدو لاس را تېر کړ ویې ویل:
داسې پوښتنې څوک له چا نه کوي! بیا یې زیاته کړه:
میرویس خان د اصفهان د دربار او واکمنۍ له ټول حاله خبر دی. دده د ځواک او خطرناکتوب ټکی همدغه دی.

ما ته داسې ښکاري چې د اصفهان په دربار کې سړی لري، که هلته نه وي دلته د بیگلربیگي په شاوخوا کې کوم ځری خامخا لري، بیا یې لاسونه وپړکول سر یې وغورځاوه، هغه د اصفهان د وراسته نظام پر ټول سُر او بُر خبر دی. اصفهان ته باید احوال واستوو چې د میرویس کسان معلوم کړي. بیا یې د گرجي ځواکونو قوماندان الکساندر میرزا ته وویل:
د پخوانیو کسانو نه چې مهمې دندې لري څوک پاتې دي؟
الکساندرمیرزا په حاضرو کسانو کې درې کسان په گوته کړل، یو د قیتول کلا د جبه خانې مسؤول ؤ، دوهم د نارنج مانۍ د ساتونکیو مشر او درېیم د صفوي پوځ یو تن د سلو پوځیانو مشر ؤ چې یوزباشي یې باله.
گرگین له سړو تودو را وتلی پوخ لوبغاړی ؤ، هغوی درې واړو ته یې په سرسري نظر وکتل، بیا یې په موسکا وویل:
دوی خو تر ما زیات اصفهان ته وفادار دي! پر دوی به څوک شک کوي؟
د هغوی درې واړو ارواوې په بدن کې وچلېدې، بیا یې غوښتل خبره پر بله واړوي، ویې ویل:
مطلب مې دا ؤ چې په پوځ کې د ننه په مانۍ او یا په پوځي چونیو کې داسې مهم څوک چې شکمن وي!
هغوی درې واړو لاسونه پر ټټر ونیول سرونه یې ټیټ کړل:
اعلیحضرته! داسې شکمن څوک نشته.

گرگین سر وخوځاوه:

بیا هم باید په هر چا پسې څارو اوسئ!

ورروسته دربار رنگ شو، چې قوماندانان او چارواکي وتل گرگین الکساندر میرزا ته سترگه ووهله. هغه پښه ونیوه، چې نور ټول ووتل، گرگین هغه ته وویل:

په دوی پسې دې سړي هم واچوه او د پخوانیو کړو وړو پلټنه یې هم وکړه. خو دېر پام چې دربانديې پوه نه شي.

هغه لاس پر ټټر ونیول، سر یې خم کړ په موسکا یې وویل:

په سترگو صاحب!

*****

کندهار ته د نوي بیگلربیگي له راتلو کابو شپږ میاشتې تېرې شوې وې، د نارنج ماڼۍ په یوه لوی تالار کې په خړو درېشیو کې دوو اړخونو ته پر کرسیو د بېلا بېلو رتبو منصبداران ناست وو، قبلې لوري ته دېوال ته نژدې زرینه کرسۍ تشه ولاړه وه. مخامخ په دېوال کې پر محرابي کړکیو بخملي پردې اړخونو ته ورټولې شوې وې.

دوو اړخونو ته پرکرسیو ناستو کسانو پخپلو کې په ټیټ غږ خبرې کولې. د ټولو په څېرو کې یو ډول وېره او اندېښنه له ورایه ښکاریدله. ناڅاپه د زرینې کرسۍ ښي اړخ دېواله ته میناتوري ښکلې دروازه خلاصه شوه، یو سور مخی خاص اردلي خونې ته ور ننوت:

جناب بېگلر بیگي صاحب تشریف راوړي!

د تالار ناست کسان وځومبېدل.

یو په ونه دنگ، سور او سپین پر بڼیره پټ اوږد مخ، نسبتاً اوږده پزه، زرین تاج ته ورته خول پر سر، د فېروزې په څېر ځلاندو سترگو خاوند په دروازه کې را ښکاره شو. په دربار کې ناست پوځي منصبداران د سترگو په رپ کې ودرېدل او سرونه یې په درناوي ځوړند شول. گرگین په شمېرلو گامونو د کرسۍ په لور لاړ. هلته یې مخ خپلو منصبدارانو ته وگرځاوه په ستوغه لهجه یې چیغه کړه:

شپږمه میاشت ده چې دلته راغلی یم، د مالیې په راټولولو کې بلا وهلي یئ، لاړ شئ پنځوس شپېته گاډۍ راوړئ! بیا هم له ما نه د انعام په تمه یاست! تاسو چې څه راوړئ هغه خو ایله زموږ د دې څو زره عسکرو چاره پرې وشي. چې اصفهان ته څه وا نه ستوو ما ته به د ټولواک په مخ کې څه پاتې شي!

لویې زرینې کرسۍ ته تر ټولو نږدې ښي لوري ته ناست الکساندر میرزا چې د اوږو له ښانونو تر نورو د لوړ پوځي منصب خاوند و، په داسې حال کې چې ښکته یې کتل لږ یې مخ ور واړاوه :

عالي جنابه!....

گرگین په غوسه چیغه کړه:

چوپ! هغه د بوت په څېر چوپ شو، تا به ویل چې ساه ترې وخته. دواړو لوریو ته د کتار پوځیانو خړې پایڅې منظمې رېږدېدلې. د گرگین له سامه ډک غږ بیا اوچت شو: نور څه نه اورېدای شم او نه یې زغم لرم، بس همدومره درته وایم چې دا مې وروستۍ پرېکړه ده، ورځئ ورک شئ چې هر یو بېرته تر دوه سوه گاډیو ډکې را نه وړئ مخ مو و نه گورم!

ما درته امر کړی چې څوك زما حکم ته غاړه نه بږدي، باج نه ورکوي له [illegible] او [illegible] سره یې تر تېغ تېر کړئ، مال او شته یې ترې را بار کړئ!

ورځئ نور مو مخونه ورکوئ!

[illegible] لودین کتابتون
کتاب پر پیسې [illegible]

منصبداران لکه له زندانه چې د وتلو حکم ورته شوی وي په گړندیو گامونو د دربار له لویې دروازې ووتل.

د باندې له اوږده دهلیز نه هم په تراټ ووتل. د کلا په پراخ میدان کې بیا ټول پر الکساندر میرزا راټول شول. هغه په څو شېبو کې یو بل څوك شوی و، د دربار عاجزي او ناتواني ترې الوتې وه، لکه چې د گرگین خان اروا اوس د ده په کالبوت کې ننوتې وه.

په ډډ غږ یې ټولو ته لوري ووېشل، د قزلباشو قطعې قوماندان ته یې وویل:

سردار قله د کاکړو په لور درومه درې سوه تنه درسره بس دي. مال او سر یې ټول د سرکار دي. پوره درې سوه گاډۍ به ډکې راوړې.

یو د سره غوړېږجن مخ خاوند چې تر کینه سترګه لاندې ژور داغ یې تر غوږ رسېده لاس په نامه کېښود:

په سترګو صېب! او بیا یې د درنو بوټانو غږ په انګړ کې اوچت شو او د لویې کلا شمال لور ته د پوځي بارکونو په لور لاړ.

بیردي بېګه! ته د ارغنداب په لور ورځه یو نیم سل کسان درسره بوځه!

هاکو بیانه! د بلوڅو باج پر تا شو! ثمر بیګ به هم درسره وي.

یوه د ببرو وروځیو خاوند ډېر په زور له ستوني غږ را ویوست:

صاحبه! ما خو درې ورځې وړاندې سل ګاډي له بلوڅو ډکې راوړې، دوه سوه مو پکې ووژل، درې کلي مو د اور په لنبو کې ایره کړل، اوس بیا...

د ګرګین وراره چې تر هغه وروسته د کندهار تر ټولو د لوی واک خاوند و، پرې ور بړچ وهل:

دا زما نه، د بېګلربیګي ګرګین خان حکم دی. د کندهار د بیګلربیګي او د ګرجستان د پاچا! له وروستۍ خبرې سره یې خپلې سترګې پورته کش کړې.

هغه سر ښکته واچاوه او سوکه سوکه د کلا د لویې دروازې تر څنګ بارکونو ته روان شو، یو بل تن هم له دې ډلې ورپسې شو او په نه زړه یې ګامونه اخیستل. پر قوماندان د راټولو منصبدارانو شمېر ورو ورو کمېده چې دوه تنه ورسره پاتې شول. هغوی ته یې کړل:

قمربیګ او اتمان قله! ورشئ درې سوه تنه چمتو کړئ! مازیګر به وځو، د قلات په لور به ځو. اذوقې ته اړتیا نشته د لارې کلي او فصلونه ټول زموږ خپل دي، خو وسلې، ګولۍ او باروت پوره درسره را واخلئ!

په ناصرو او هوتکو کې یاغیان ډېر دي، هسې نه چې تش لاسونه بېرته ترې را ځغلو. بیا یې خپل اردلي قمبر ته سترګه ووهله، عجیبه موسکا یې پر شونډو تېره شوه:

هغه اناړۍ او سلیم هم درسره خبر کړه، په کار مو راځي هم به لاره راښيي او هم نور کار ترې اخیستلای شو. قمبر لاس پر ټټر کېښود، سر یې ښکته کړ او د پوځي بارکونو پر لور رهي شو.

*****

امیر خان سپېده چاود د کلي رمه د غونډیو لمنو ته وخوځوله، لا په اسمان کې یو نیم ستوری ځلېده چې د غونډیو ترمنځ ناو ته یې رمه ورسوله، لاندې شاوخوا ته شنه کښتونه او کلي ته نږدې قبلې لوري ته سمسور د میوو باغونه وو، ورو ورو رڼا پر تیاره غالبه شوه او په لرې غرونو د لمر سپینې وړانگې وځلېدې. د شاوخوا کلیو د کورونو له غېږې د تناره دودونه لټېدل او په هوا کې ورکېدل.

امیرخان د ناو په منځ کې تر ملا تړلې ډوډۍ را پرانیسته، د وړوکې چینې پر غاړه یې د سپینو اوبو له غوړپونو سره وخوړله. له ځانه سره په خبرو شو:

د غونډۍ له سره ښه سیل کولای شم، دلته به څه د مېږو او وزو د شخوند ننداره کوم!

د غونډۍ سر ته روان شو. د دوی د کلي شمال لور ته یو زر گامه لرې د لوړو او ټیټو غونډیو لړۍ د لمر خاته په لور غځېدلې وه، امیر خان ته د خپل کلي او تر دوی وړاندې دریو کلیو پورې شاوخوا ته پرتې غونډۍ، پولې پټې، باغونه او آن د باغونو ونې داسې معلومې وې لکه دا ټول چې د ده د پلار او نیکه شتمني وي، دا دده د لنډۍ پاچاهۍ سیمه وه، هغه په همدې کلي کې زېږېدلی او رالوی شوی و، په ټول ۳۵ کلن ژوند کې ایله درې ځلې له خپل کلي او سیمې وتلی و، دوه ځله کندهار ته او یو ځل کلات ته، نور یې د ژوند ۳۵ کاله ټول په همدې سیمه کې تېر کړي وو. ده د کلي رمه پووله، دا کار ورته له پلاره پاتې و. پلار یې ژوندی و خو په ملا کړوپ، اوس شپږمه میاشت وه چې په کټ پروت و.

امیر خان د غونډۍ سر ته تر نیمایي تېر شوی و چې یو ځل بیا یې کلي ته را وکتل، لاندې یې په ناو کې پر رمه نظر را تېر کړ او له کاکړي غاړې سره پورته روان شو:

توره شپه ده توره خونه

شین خالی نه ده مالومه، شین خالی...
توره شپه به خدای سبا کا
شین خالی به خدای پیدا کا...

دی لا د غونډۍ څوکې ته نه و رسېدلی چې لمر پرېواته لورته یې لرې د دښتې په منځ کې یوې دوړې ته پام شو، سندره یې په خوله کې وچه شوه، لمر نوې څېره وهلې وه، د گردونو په منځ کې امیر خان داسې ځلېدونکي شیان لیدل لکه د هیندارو کاروان. ده داسې څه په دې تېرو شلو پینځه ویشتو کلونو کې له دې ځایه نه وو لیدلي. حیران دریان ودرېد، لاس یې سترگو ته ونیول. ډېر ژر یې په مازغو کې څه ور وگرځېدل، کلي ته یې وکتل او د غونډۍ له سره یې د کلي په لور منډه را واخیسته، رمه یې پر ځای پرېښوده او د کلي په لور د غېشي په څېر والوت. څو ځایه یې پښه له ډبرې سره ولگېده، ټوکر یې وخوړ خو و نه لوېد. له کلي نه لږ پاس وچې ویالې ته له رسېدو سره یې چې څومره توان و دومره یې لوړه چیغه وکړه:

د کاپرو لښکر راغی!

تر ټولو لومړی صمد اکا یوم پر اوږه په مخه ورغی، ده ساه نیولې ورته وویل:

ـ هغه ... گرجیان دي... که څه بلا لښکر یې را روان ... دی! لاس یې لمر لوېده لور ته ونیو!

صمد اکا یوم وغورځاوه او د کلي په لور یې په امیر خان پسې منډه واخیسته، اوس نو دواړو چیغې وهلې :

ـ هلئ کاپران راغلل! د گرجیانو لښکر را روان دی.

په کلي کې د سترگو په رپ کې د عرصات ورځ شوه، زلمیانو تورې، تبرونه او سوټې را واخیستل، د ماشومانو کوکارې پورته شوې، سردار خان د کلي مشر چیغې وهلې:

ـ ماشومان او تور سرې زموږ کلا ته را ټول کړئ!

د ښځو او ماشومانو لیکه د سردار خان د زړې برجورې کلا د دروازې په لور ورماته شوه.

ښځې او ماشومان په زړه کلا کې ځای پر ځای شول، سردار خان ته یې زلمي زوی چې نوې یې پاس شونډه توره شوې وه یو اوږد ټوپک راوړ:

ـ پلاره دا ته درسره واخله، توره به زه واخلم!

هغه ورته وویل:

نه بچیه ټوپک ستا، د کلي له زلمیانو سره به وې، زه به د زهیرو کلیوالو سره د کلا له دروازې سره وم چې دغه بې دینه مو ناموسونو ته لاس وا نه چوي!

بیا یې د کلي ځوانانو ته غږ کړ:

ـ څومره وسله لرو؟

ـ څلور ټوپک، شپږ لیندۍ له ۱۹ غېشیو سره! یو شل به توري، نیزې او تبرونه شي!

خان بیا امیرخان ته وویل:

ـ لږ وو که ډېر؟

هغه ځواب ورکړ:

لالا لرې وو، د لمر په وړانگو کې یې خولونه د هیندارو په څېر ځلېدل، گردونه یې ډېر وو.

هغه بیا کلیوالو ته مخ کړ:

ـ گورئ مال تر سر جار، سر تر ناموس. که یې یوازې د مال او غلې دانې غوښتنه وه زور مو ورسره برابر نه دی، بلا ورپسې خوله مه ورسره وهئ، خو که یې د ناموس د بې سترۍ نیت و بیا خو مه پرې گورئ که مرو که پاتې کېږو دا بې غیرتي نشو زغملای!

د قام د مشرانو پرېکړه هم همدا ده چې تر مناسب وخته به د دې کاپرو سره لاره وړو، چې نه کېده بیا خو بله لاره نشته!

تر کلي پاس د ویالې پر غاړه یو دنگ چینار ولاړ و، یوه زلمي غږ کړ:

ـ خان لالا پردلی به چینار ته وخېژي چې را نژدې شي موږ به خبر کړي! پردل د کلي یو ژبی و، پر جگو ونو په ختلو کې نامي و.

خان پر بږیره لاس را تېر کړ:

دې ته حاجت نشته، بیا یې زوی ته مخ واړاوه:

ریښتیا حاکمه بچیه اس را زین کړه یو کس په بېړه ناصرو کلا ته لاړ شئ، چیغه پرې گډه کړئ چې گرجیان راغلل!

زوی یې په منډه د لویې کلا تر ښي اړخ دېوال الونیه شو، څو شېبې وروسته یې سپین او ژېړ زین کړی اس تر قبضه نیولی و را واوښت:

- پلار جانه! ناصرو کلا ته زه چمتو یم!

سردار خان زوی ته وویل:

- بچیه ستا نن د تورې ازمویښت دی، ته به له بې دینو د کلي ساتنه کوې.

یو خنډ منډ زلمی چې خیرن زوړ د چرمو واسکټ یې اغوستی و، ببر ویښتان یې د لونگۍ له ولونو راوتلي وو، را وړاندې شو:

- خان لالا زه به لاړ شم!

- گوره پردلیه پر اس سپرېدل او پر ونو ختل یو شان نه دي. اس دې و نه غورځوي، هډوکي به دې مات کړي.

یوه د پرېړو شونډو ځوان وویل:

- نه لالا ده د خره په سپرلي کې هم د کلي پر زلمیانو پښه اړولې ده.

- ښه نو بېړه کوه، نور وخت مه تېروئ.

پردل پر اس پښه واړوله او د کلي جنوب ته په نرۍ لاره یې پونده ورکړه، اس وشیشنېد او د باد په څېر والوت!

پر کلي د وحشت او وېرې څپه را خپره وه، زړونه په سینو کې درزېدل د محشر د ورځې انتظار و. دغه انتظار ډېر اوږد نه شو، وړاندې د لمر پرېوتو له لورې په اسمان کې دوړې راښکاره شوې چې د پسرلي د وریځو په څېر د کلي پر لور را روانې وې، څه وخت وروسته د گرجیانو لښکر د غونډۍ له ډډې را واوښت، نیزې او زغرې یې د لمر وړانگو ته ځلېدې چې سترگې یې برېښولې، د برجورې کلا له برجونو د ښځو او ماشومانو چیغې پورته شوې.

سردار خان یوه نوکر ته په غوسه وویل:

ورشه تورسریو ته وایه چې ژړا او کریږې مو لا په زیان دي، دا کاپران مه خبروئ چې ښځې ټولې دلته دي!

نوکر پر دروازه ننوت او په لوی زنځیر سربېره یې د توت د ونې یوه کنده هم دروازې ته واچوله. لږ ځنډ وروسته په برجونو کې کراري شوه.

اوس نو یوازې د اسونو د پښو ترپا او شیشنیدا اورېدل کېده چې ورو ورو غوسمېدلی لښکر پر کلي ننوت. د سردار خان د کلا په مخه کې لوی میداني و، لومړی جوپې چې ور ورسېدې درې څلور هوایي ډزونه یې وکړل، کلیوال یې سخت ووېرول.

سردار خان وسله وال زلمیان مخکې د کلي په بېلو بېلو برخو کې کېنولي وو دوی ته یې اشاره دا وه چې که یې الله اکبر ناره واورېده بیا دې نو نه پرې ګوري.

درې سوه سپاره راغلل اسونه سیلېږي، له خولو یې سپین ځګونه بادېږي. اوږده مزله ځپلي دي، پر شا یې پر اوسپنو پټ پوځیان سپاره دي چې یو سړی یې تر دوو زیات دروند دی.

سردار خان د خپلې کلا په مخه کې له پنځوس- شپېتو تنو سره چې شل پینځه ویشت یې زهیر بوډاګان دي ناست و، درې څلور تنه پوځیان له اسونو پلي شول، دی ور وړاندې شو په احترام یې ورته وویل:

په خیر راغلئ، موږ خو مالیه پر خپل وخت درکړې ده، خیر خو به وي، ډزې ولې کوئ؟

یوه تن چې یوه اړخ ته یې توره تر ملا ځړېده او بلې ډډې ته یې تومانچه د څرمنې له تور پوښه راوتلې وه، په کیڼ لاس یې خپل خول له سره لرې کړ، پر شونډو یې په وچ زور د موسکا یوه سپکه څپه تېره شوه، بیا یې وویل:

بوډا د مالیې او باج وخت زموږ په واک کې دی. په کال کې یو ځل او که په میاشت کې دوه ځله! که د سر خیر غواړئ، درومئ چې په کورونو کې څه لرئ را یې وړئ!

سردار خان شا ته کلیوالو ته مخ واړاوه، هغوی وپوهېدل او یو یو د خپلو کورونو په لور روان شول. اوس یوازې هغه زهیر او د ډېر عمر بوډاګان پاتې شول. قوماندان ته په زغرو پټو سپرو له منځه یو تن راووت او په غوږ کې یې څه ورته وویل. شیبه وروسته د قوماندان دروند او سهمجن غږ اوچت شو :

- سردار خان په تاسو کې کوم یو دی؟

خان سمدستي ځواب ورکړ:

- زه یم څه خدمت مو کولای شم؟

قوماندان چې درې څلور گامه ترې لرې و ورنږدې شو:

سپېر مخیه ته د صفوي واکمنۍ پر خلاف جرگې جوړوې! او بیا یې پر خوله په سوک وواهه. خان یو دوه گامه شا ته لاړ بیا شا په تخته په وچه ځمکه را وغورځېد، اخ یې له خولې ووتل. بیا ټوخي پسې واخیست. له خولې یې وینې را ماتې شوې، څو بیا په پښو درېدو د درنو بوټونو لغته یې پر مخ ولگېده او بېرته شا ته ولوېد. له دې سره د برجورې کلا له څنگه له یوه بام نه د الله اکبر له نارې سره یو کړس شو، قوماندان ښۍ اوږه په کیڼ لاس ونیوه او له خولې یې یوه هیبتناکه کریږه ووته. د سترگو په رپ کې د ټوپکو له ډزو سره د اسونو شیشنېدا او شاوخوا سویې کړیکې اوچتې شوې. د کلي د منځ میدانۍ د جگړې پر ډگر بدل شو او تن په تن جگړه پکې ونښته. نیم ساعت وروسته ډزې کرارې شوې خو سویې کړیکې او زگیروي لا اوچت وو. کلی په لمبو او دودونو کې ورک شو.

د برجورې کلا پر دروازه لنبې بلې وې او څو تنو پر یوه لوی لرگي د دروازې د غورځولو هڅه کوله.

دغه مهال د جنوب له لورې د څو ټوپکو ډزونه اوچت شول چې د دروازې د مخې دوه تنه پر لنبو ور ولوېدل. یوه شېبه لنبو منډه واخیسته، کریږې شوې، لنبې داسې اوښتې لکه چې په گډا شي او بیا درب را پرېوتې.

د گرجیانو زړونه د خپل قوماندان له ټپي کېدو سره مات شول، اوس یې چې بیا ډزې واورېدې وپوهېدل چې عزارئیل یې پر سر ولاړ دی، یوه تن یې چیغې کړې!

هلئ بېرته درومئ او بیا د سترگو په رپ کې د لمر لوېدو لور ته پر غونډۍ یوه خړه دوړه واوښته چې شېبه په شېبه لرې کېده، څو شېبې نه وې تېرې چې د ناصرو زلمیان را

ورسېدل، پردل پر ژېړ او سپین اس سپور د دوی سره ګډ را روان و، ټول ټال ۷۰ تنه وو لس پکې سپاره وو نور ټول پلي.

د سپرو د سر زلمي غبرګ کړ، راځئ پر دې ظالمانو میندې بورې کړو. نیم ساعت وروسته هغوی بېرته را وګرځېدل. باروت او غشي یې خلاص شوي وو.

ګوري چې په کلي کې ژوندی نه دی پاتې. د ګرجیانو ۲۶ تنه هم څوك مړه څوك نیم دمي پراته وو. ناصرخان ټټر ته لاس نیولی د ګوتو تر چاکونو یې راوتلې وینې پر واسکټ او کمیس وچې شوې وې. سترګې یې نیم کښې د کلا پر یوه برج ښخې وې خو اروا یې له کالبوته الوتې وه.

دغه مهال چې د ناصرو کلا زلمیان د شهیدانو پر راټولولو بوخت وو د کلا له برجه د ښځو او ماشومانو ژړاوې پورته شوې. وروسته مالومه شوه چې یوازې دوې ښځې په برج کې د ګرجیانو په ګولیو لګېدلې او شهیدانې شوې وې. یوه یې په زینو کې د راکوزېدو پر مهال لاندې انګړ ته لوېدلې وه چې اوس یې تر خوله وینې روانې وې.

نور ټول میندې او ماشومان روغ وو. خو د کلي له اوو بوډاګانو او پردل پرته نور د یوه کور نارینه هم ژوندي نه و. د ناصرخان زوی حاکم خان چې د جګړې تکبیر یې اوچت کړ همالته پر بام پروت و، پر تندي یې ګولۍ لګېدلې وه.

پاس د غونډیو لمنې ته نږدې ادیره په یوه ورځ دوه چنده لویه شوه، تر ماښامه ۱۱۶ لوی او وړوکي قبرونه نوي جوړ شول او شناختې پرې لګې شوې.

د ماښام په خړه کې د ادیرې په غېږ کې د هر قبر سر ته ماشومان او مېرمنې ناستې داسې ښکارېدله چې د ژړا له څپو سره یې ادیره، پاس د غونډیو کتارونه او شاوخوا ټول کاینات په ژړا دي.

د ناصرو کلا د ځوانانو مشر یو هډور ځوان و. دې ننداره دومره بې واکه کړ چې هر څومره یې ځانته غیرتونه ودرول و نه شوه. د ښځو له ژړا او سلګیو سره یې ژړا یو ځای شوه او د کایناتو تر لرې څنډو پورې لاړه. یوه بل زلمي یې پر اوږه لاس ورکېښود:

سیدال خانه! راځه چې دا تور سرې او یتیمان کلي ته ورسوو. په ژړا اوس مړي نشو را ژوندي کولای! هغه سوړ اسویلی ویوست، ځواب یې ورکړ:

دا خو د خدای بختوران دي شهیدان شول، خو پردې خپه یم چې یو څه وختي را رسېدلي وای گرجیان خو داسې سلامت نه وای را نه وتلي. بیا یې غاښ وچیچل، خدای لوی دی. وخت به یې راولي. د دې وینو بدل به یو په سله ترې اخلو!

د څوارلسمې سپوږمۍ دښته رڼا کړې وه. د وحشت په څپو کې ځپل شوی کاروان د نرۍ ژړا او سلگیو په بدرگه روان و، لوټ شوی کاروان پر خپل وروستي منزل هم نه پوهېده چې چېرته درومي او چېرته به اړوي.

*****

د سمسورې درې په منځ کې ژوند له ټولو رنگونو سره ځپاند دی، د غره په لمنه کې د یوې زړې کلا مخې ته د انارو او انگورو په لوی بڼ کې، د تاکونو تر سیوري لاندې سرې غالۍ غوړېدلې، شاوخوا ته یې توشکونه پراته وو، د انارو، انگورو او گلابو د تاندو ونو، بوټو او گلانو فضا له خاص وږم څخه ډکه کړې وه، په ونو کې مرغۍ د ژوند په غاړو او خوښیو کې ډوبې وې، ژوند په اوج کې و، خو څو د پنځوسو شپېتو کلونو په عمر کسانو چې بالښتونو ته ډډې اچولې وې په څېرو کې یې د خوښیو نښه نه وه، دېوال لوري ته یوه تن د تورې لونگۍ خاوند له چلم نه شنې لوخړې ایستلې، نور شل دوه ویشت کسان د چورتونو په ټالونو زنگېدل، په دې کې د بڼ له لرگینې دروازې یو ځوان ورننوت یوه تن غږ وکړ:

تور لالی راغی!

ټول څك شول، یوه تن وویل:

خدایه خیر کړې، چې څه احوال به یې راوړی وي. لږځنډ وروسته په خولو لوند خیشت ځوان ورغی، دهغه نوم لالی او له رنگه تور و، په همدې په تورلالي مشهور و، هلته لنډ د اوبو منگی او جام ایښي وو پرې ورغوټه شو، دوه جامه اوبه یې سر په سر وڅښلې، له

څېرې يې معلومه وه چې ښه خبر يې نه دی راوړی. په دې کې لس دوولس تنه ځوانان هم راغلل او تر تاکونو لاندې د ونو تر څنګ خپ او چوپ ودرېدل.

تور لالي يوه اوږده ساه واخيسته. په غټو سترګو کې يې سره رګونه نور هم تازه شول، په لوېدلي غږ يې کيسه پيل کړه:

... د عرصات ورځ وه، د کاکړو درې کلي له هست او بود سره د اور لنبو خوړلي وو... ټول يې يو نيم سل ښځې، ماشومان او واړه زاړه وژلي وو، يو سل او لس کسان يې له کليو را ټول کړي وو چې له هغوی يې اويا تنه په لارو کې وژلي وو. د نورو درک معلوم نه دی چې کندهار ته يې راوستي که يې وژلي دي. ماموت خان، سمندر خان او جمدر خان د شهيدانو په ډله کې وو، د ګرجيانو يې هم ښه سټه ايستلې وه. تر څلور شله زيات مړي ترې پاتې وو. شل دوه ويشت ټپيان هم وو چې هغه بيا کاکړو په کسات کې تر ډبرو لاندې کړل...

ځوان په يوه ساه ټوله کيسه وکړه.

يوه سپين ږيري په ګوتو حساب کاوه:

ټول څومره شول، دوه سوه د بابړو، يو نيم سل د کاکړو، سل د بابيانو، درې سوه اويا د هوتکو او ناصرو... دا خو تر زرو تنو اوړي.

يوه بل تن غاړه تازه کړه:

په والله چې نور دا ژوند ډېره بې ننګي ده!

تر څو به هره ورځ د خپلو خپلونو مړي شمارو؟

د سيمې يوه عالم مولوي خواني چې سپينه پګړۍ يې له قد سره ډېره لويه ښکارېدله په توره ږيره کې يې سپين له ورايه ښکارېدل وويل:

خانه! رېښتيا وايي، د الله حکم همدا دی چې د ظالم په مخه کې به درېږئ، بيا خو دغه ګرجي پوځيان پر اسلام او سړيتوب خبر هم نه دي، شراب خوري، زموږ خلک بې ګناه وژني، کرۍ شپه په فساد کې بوخت وي، ننګ او ناموس نه پېژني... په سل کتابه يې وژل او له وطنه شړل روا دي. د ظالم او کافر پر خلاف جهاد فرض دی. چې څوک غاړه ترې غړوي د کبيره ګناه مرتکب دی. الله دې موږ ته همت راکړي!

د ونو تر سیوري لاندې ولاړو ځوانانو یوه تن وویل:

نو څه ته ماتله یئ! مولوي صېب خو دا دي فتوا هم ورکړه چې له دې یرغلګرو سره جګړه روا ده!

یوه مشر چې خړې جامې یې وې، اوږدې تسپې یې اړولې، لویه پګړۍ یې مخې ته ایښې وه، پر سر او ږیره یې لاس را تېر کړ:

زلمیانو! لږ ساړه خورئ. بیا یې مولوي صاحب ته مخ ور واړاوه:

مولوي صېب! موږ باید میرویس خان ته انتظار وکړو، په نن سبا کې به که خیر و را ورسېږي. لس ورځې وړاندې یو چا احوال راوړ چې تر ملتان را تېر شول.

دښمن په پخو کلاو کې دی، په وسلو سنبال دی، تر دېرشو زیات توپونه یې د کلاو په برجونو درولي دي، چې میرویس خان راغی خبره به خامخا سره غوټه شي. هغه جهاندیده سړی دی، د هغه پر خبره ټولو آمین کړه مشران ټول د هوتکو د لوی خان د راتګ په انتظار شول.

*****

شپه تر نیمایي اوښتې وه، غرونه رغونه ټول د تیارو تر پرده لاندې ویده وو. د سپینې سپوږمۍ رڼا د شپې هیبت پیکه کړی و، د کلي له منځه د سپیو غپا او انګولا کله کله درنه چوپتیا ماتوله. د هوتکو خان له کلي راوتلی، د سپوږمي تر پیکه وړانګو لاندې د ویالې پر غاړه ناست و، یکي یوازې، د تېرو درې نیمو میاشتو پر پېښو یې فکر کاوه چې د باد په څېر تېرې شوې خو ترخه یادونه به یې کلونه ارواوې ځوروي، په دې موده کې د ده د ولس نږدې زر تنه د ګرجیانو د ظالم پوځ په لاس وژل شوي، اوه کلي له هست او بود سره کنډواله او سوځېدلي و. د غرونو په څېر دروند بوج یې پر اوږو احساساوه، درې میاشتې ترمنځ یې مور او پلار دواړو ژوند ور وبابښه او دی یې د ژوند مصیبتونو ته یوازې پرېښود.

خان د تیرو څو میاشتو په یادونو کې ډوب شو، ولاړ پر هغه تاریخي ورځ ودرېد. پلار یې لاس په لاس کې نیولی او د هغه د وروستي وصیت الفاظ یې په غوږو کې کړنګېدل:

میرویسه! د قام مشري در پاته ده، د ټولو سترگې تا ته در اوړي. ما او مور دې ته د همدې ورځې لپاره روزلی یې.

هغه ترخې ورځې ور په زړه شوې چې مور یې ورته د نه رغېدونکې ناروغۍ پر بستره پرېوته او بالاخره هغه ورځ هم راغله چې پر خپلې پرښته صفته فاضلې مور یې خاورې واوښتې او شناختې پرې لکې شوې.

هغه ورځ یې سترگو ته ودرېده چې د پلار تر وفات یوه اونۍ وروسته تر اویا تنو ډېر مشران را ټول وو او د قام د مشرتابه پگړۍ یې د ده پر سر ور کېښودله.

د غلجو سپین ږیري خان (ناصر خان) چې په رېږدېدلو لاسونو پگړۍ پر سر ور کېښودله ورته ویلي یې وو:

میرویس خانه! له غزني تر جلدکه د پراته قام مشري دې مبارکه شه!... بېغمه اوسه زه به مشورې درکوم، ملاتړ به دې کوم او یوازې به دې نه پرېږدم. خو د مرگ سړې سیلی د قام دغه درنه ستنه هم تر تورو خاورو لاندې کړه.

چې خان د ماضي له یادونو راووت سترگې یې ډنډ وې. زړه یې را ډک و. ترخې اوبه یې ستوني ته تېرې شوې، پاس یې اسمان ته وکتل. بې اختیاره یې له خولې ووتل:

گرانې مورې، درنه پلاره! الله دې دواړو ته جنتونه درکړي! د قام درنه مشره ناصرخان لا لا د جنت په باغچو کې دې ژوند شه.

بیا یې په تېرو میاشتو کې پر خپل قام راپرېوتو مصیبتونو ته پام شو. خان پورته اسمان ته سترگې واړولې:

یه د کایناتو خالق او مالکه! قام ته مې همت ورکړې چې دغه ظالمان له خپلې خاورې ورك کړي. یا ربه ولس مې په اتفاق کړې چې ته پرې راضي کېږې، یه خدایه...ولس مې پر ما زړه تړلی نهیلی یې مه کړې، د عزت ژوند غواړم، بنده ته له سرټیټي او ذلته مې و ساتې...د دعا له هر لفظ سره یې په زړه کې ډاډ او سکون احساساوه، لکه دا چوپ کاینات چې دعا ور سره بدرگه کوي.

دا یې لومړی ځل نه دی چې له سفره راشي د خپل قام او ولس په قتل عام خبر شوی، خو دا ځل یو ښکاره توپیر و، اوس دی د قام مشر دی. هر ځل داسې شوي. هر ځل

چې راغلی میاشت یې د وږل شویو شمله ورو کورنیو په تسلۍ او پاتا تېره شوې. خو دا ځل یې ډېرې غمونکې کیسې واورېدې، د ناصرو سردار خان له خپل ژښي زوی سره تر سلو له زیاتو وړو زړو سره شهیدان شوي، د کاکړو، بابیانو او نورزیو څو کلي سوځېدلي او په سوونو ککرو خاورې اوښتې وې. درانه مشران یې محمودخان، سمندرخان او جمدرخان هم د تورو خاورو مېلمانه شول. بیا یې له کلي پاس پر هدیره چې د سپوږمۍ په وړانگو کې تته ښکارېده سترگې پر یوه جگه شناخته مېخ شوې او په خیالونو کې ډوب شو:

زویه! ما ته په خوب کې زیری شوی چې ته به لوی کارونه کوې، د قام خدمت به کوې، قام به دې د پردیو د غلامۍ له ذلت نه ژغورې.

د بېټ نیکه مناجات یې په غوږونو کې وکړنگېد:
لویه خدایه لویه خدایه
ستا په مینه په هر ځایه
دلته دي د غرو لمنې
زموږ کېږدۍ دي پکې پلنې
دا وگړي ډېر کړې خدایه
لویه خدایه لویه خدایه!

د کلي د سپیانو غپا یې د چورتونو نړۍ ورانه کړه، یوه او بل اړخ ته یې وکتل، له ځانه سره په خبرو شو:

درنې مورې! الله دې د جنتونو سرداره کړه!

مورې یا مرگ یا آزادي، یا به دې وصیت پر ځای کړم که نه په وینو رنگ جامې به دې حضور ته درشم!

نازو انا یې په مخ کې ولاړه وه:

زویه ته باید لوی کارونه ترسره کړې...

خو گوره بچیه یوازې په توره نه کېږي، عقل دې ورسره مل کړه. دښمن په هوښیارۍ ماتولای شې، قام دې په یوه خوله کړه بیا پر خدای توکل کړه پرې ورځه...!

خان له چورتونو سر راپورته کړ، له ځانه سره یې وویل:

نور به د خپل ولس له غیږې لرې لاړ نه شم، بس له خپلو خلکو سره به وم سره توده به بو ځای ور سره ګالم. درې څلور ګامه وړاندې د ویالې پر غاړه په لویه ډبره کېناست. اودس یې وکړ، څادر یې له اوږې را واخیست او د یوه پټي په کونج کې ستر څښتن ته مخ پر قبله لاس په نامه ودرېد.

*****

مخامخ د برنتي شاخ جګ ولاړ و او ښي لوري ته د اسمایي غره پر اوږه د دېوال خړه کرښه له ورایه ښکارېدله، هغو پر دې ګواهي ورکوله چې دلته یو شاندار دوران تېر شوی دی، ټولواکي وه، نظام یې درلود، او دا خړ دیوالونه ترې د یادګار په دود پاتې دي.

د کلي ښي اړخ ته تر ویالې لاندې د توتانو لویې ونې ولاړې وې، تر ونو لاندې صفه له مامره خلکو ډکه وه. ټول د اندېښنو په ټالونو کې زنګېدل، د غرمې اورونه بل وو. وړاندې د کورونو له انګړونو د تناره دودونه اوچت وو.

یوه د سپینې وږې په څېر د ګڼې ږیرې خاوند چې پر چوغو سترګو د پاسه پرتې وروځې یې هم سپینې شوې وې. غاړه تازه کړه:

مولوي صېب! یوازې جاندادخان نه دی راغلی، ضروري کار به یې وي که را نه شي هم هغه داسې څوک نه دی چې د مشرانو له پرېکړې سره مخالفت وکړي.

مولوي صاحب چې په توره ږیره کې یې یو یو سپین له ورایه ځلېده، سپینه پګړۍ پر سر، تور واسکټ اغوستی، غټې تورې سترګې، جګ شو، له حمد او ثنا وروسته یې په لنډو ټکیو کې د غزا فضایل بیان کړل، بیا یې پر مشرانو نظر را تېر کړ وې ویل:

درنو مشرانو کلونه وشول چې زموږ پر کور غلیمانو یرغل راوړی او موږ په خپل وطن او خپله مېنه له آزاد ژونده بې برخې یو. دلته مغلو تېری کړی، د هېواد شمال لوري ته

له هغه پورې اړخه نور یرغلګر راغلي او لوی کندهار د صفوي یرغلګرو تر ظلم او تېري لاندې دی.

مشرانو! لاس تر زنې کېناستل او ظلم ته غاړه ایښودل حرام دي. خدای تعالی نه ظالم ښیي، نه هغه مظلوم چې ظالم ته یې سر ټیټ کړی وي. هغه یوه شېبه چوپ شو او د خپلو خبرو اغېز یې د مشرانو په څېرو کې لټاوه، دېرش تنو مشرانو په چوپه خوله د مولوي صېب خبرې د سر په خوځولو تائیدولې.

هغه بیا غاړه تازه کړه:

مشرانو په موږ کې مشهور متل دی چې د زمري یوه ورځ ژوند د ګیدړ تر سل کاله ژوند غوره دی. نور د دې ظلم او تېري تر سیوري لاندې ژوند لوی ذلت دی.

یوه مشر چې زړه پګړۍ یې پر سر وه تار تار شمله یې پر شناوۍ ږیره را تېره کړه:

مولوي صېب، په خوله دې برکت شه! اصل خبره کوه چې څه وکړو. په والله چې نور د خپلو زلمیانو له پېغوره تر پزې راغلي یو!

یوه بل سپین ږیري چې پاکې سپینې جامې یې پر غاړه وې او خړه ورېښمینه لونګۍ یې پر سر وه، مولوي صاحب ته وکتل او د څه ویلو اشاره یې ورکړه.

مولوي صاحب غاړه تازه کړه:

مشرانو! موږ خو دلته ډېر انتظار ویوست خو داسې لاره مو تر سترګو نه شوه چې پر کوم مشر قام را ټول او د مغلو له شره ځانونه بېغمه کړو. چې د ملک ګلاب الدین په څېر څوک را پیدا شي ظالمان یې نه را ته پرېږدي، خو اوس د خدای په فضل په لوی کندهار کې یو مېړه را پیدا شوی دی. ټول قامونه په اتفاق پرې را ټول شوي دي. د هوتکو میرویس خان یادوم، په میرویس خان کې هم د مشرتابه شیمه شته، هم د توري څښتن دی هم د عقل او تدبیر... د خړې لونګۍ خاوند ته یې اشاره وکړه زیاته یې کړه:

پاچا خان په لاهور کې ورسره لیدلي دي، څه خبرې یې هم ورسره کړې دي. پخپله به درته ووایي.

پاچا خان د ټوکرانو سوداگر و، د کابل، ډيلي او اصفهان ترمنځ په سفرونو بوخت سړی و، د بگرامیو له شتمنو او معتبرو خلکو څخه و، د مولوي صېب له خبرې وروسته یې وویل:

مشرانو! ما نیمه دنیا گز او پل کړه، ډېر خلک مې ولیدل خو د غلجو خان ځوان میرویس خان، په هوښیارۍ او پوهه کې بل سیال نه لري، چې خبره کوي په زړه به دې کښېني. میاشت مخکې مې په لاهور کې ورسره ولیدل. د کابل، کاپیسا، پېښور او قطغن د سوداگرو پوښتنې یې کولې. موږ چې ورسره ولیدل د گرگین د ظلمونو کیسې یې وکړې ویل یې چې راځئ له کندهاره یې پیل کړو، چې د گرگین له شره خوندي شو، د عالمگیر (اورنگزیب) او مغلو چاره بیا آسانه ده. ټول هېواد به له پردیو ژغورو. میرویس د خپل پلار له وفات وروسته د قام مشر ټاکل شوی ما خو یې چې خبرې واورېدې په دې سړي کې دغه همت شته چې ولس پرې راټول شي. زه چې را ستون شوم مولوي صېب ته مې کیسه وکړه. اوس به نو مولوي صېب درته خبره وکړي.

یو تن غبږ وکړ:

جاندادخان هم راغی!

یو د کبرې شملې خاوند چې جیلکه یې پر اوږه وه له کلي نه راغلې په نرۍ لاره را ښکاره شو. په څو شېبو کې را ورسېد. مولوي صېب ورته وویل:

اکا په خیر راغلې. راځه راځه خدای دې راوله!

هغه سلام واچاوه:

په څنډه مې وبښئ، دوو کلیوالو جنجال کړی و مرکه مې ور وکړه ما وې چې که یې پرېږدم شر به ترې جوړ شي.

مولوي صېب ورته وویل:

د خیر کار دې کړی. راځه چې اوس د لوی شر غم وخورو.

بیا یې خبرو ته دوام ورکړ:

...ما ویل چې د غلجو خان اوس یوازې د هوتکو او غلجو خان نه دی. د ابدالیانو، کاکړو او د لوی کندهار د ټولو قامونو مشر دی او ټولو یې پر مشرۍ آمین کړې ده.

یوه تن چې په خپله ږیره کې یې گوتې وهلې وویل:

د غلجو او دورانیو خو ډېره سره جوړه نه وه، پردو یې هم په منځ کې تېرې اچولې او يو د بل پر خلاف یې پارول.

مولوي صیب وویل:

همداسې ده، خو د دواړو لوریو پر مشرانو دې افرین وي چې د دښمن په مکر وپوهېدل. یرغلگرو گرجیانو درانیان تباه کړل. ډېر مشران یې ور ووژل، خو اوس هم درانیان او هم غلجي مشران پر دې پوهېدلي چې پردي د هېچا دوستان نه دي.

هغه خبرو ته دوام ورکړ:

میرویس خان اوس اوس د رسول الله په پېروی یو د هوښیاری کار کړی، د جعفرخان درانی لور یې ځانته نکاح کړې، پر دې اوس ابدالیان او نور قامونه هم د ده مشري مني.

پاچا خان وویل:

مولوي صاحب! یوازې د قامونو خبره نه ده، میرویس خان د گرگین دربار ته هم لاره موندلې او اعتبار یې پیدا کړی دی. داسې ښه یې بولي... کلانتر، کلانتر یې ټاکلی، مانا دا چې د خپل قام او ولس مشري یې گرگین منلې ده.

جاندادخان چې نوی په مجلس ور شریک شوی و، وې پوښتل:

- میرویس خان د غلجو لوی خان یادوئ؟

مولوي صیب ځواب ورکړ:

اکا هماغه یادوو، هغه اوس زموږ د ټولو قامونو یو د هیلې ځای دی. خبره مو پر دې ده چې نور باید لاس تر زنې کښېنو نه نو. آخر تر کومه به دې ظالمانو ته خپلې د لاس خوارۍ را ټولوو او خپل اولادونه به مو نهر گرځي.

تر نیم ساعت نورو خبرو وروسته مولوي پیر محمد خپله د زړه خبره وکړه:

مشرانو! ما له ډېرې مودې پر دې فکر کړی، د خدای او رسول احکام مې مخې ته ایښې، پر هر اړخ مې یې فکر کړی دی. بس یو تصمیم مې نیولی دی. که را سره پرې آمین کړئ خدای به نور هم برکت پکې واچوي.

له هر لوري غږونه اوچت شول:

مولوي صیب زموږ درسره آمين دی.

جاندادخان بيا غاړه تازه کړه:

مولوي صیب! له تا نه مو د خدای او رسول له لارې کړه خبره نه ده اورېدلې، چې څه فرمايې در سره مو آمين دی.

ټولو د هغه خبره تائيد کړه.

مولوي صیب وويل:

پرېکړه مې دا ده چې زه کندهار ته ورځم او له میرویس خان سره په دې لوی کار کې ملگری کېږم!

مولوي پيرمحمد د بگراميو د حسن خيلو کلي و، پلار يې ملا محمد سرور د سيمې له نوميالیو علماو څخه و، میرمن يې وفات شوې وه، اولادونه يې نه درلودل، ورونه يې درلودل چې دده ور سره گوزاره نه کيده، هغه له څو کلونو راهيسې په دې کلي کې امامت کاوه، د کلي او شاوخوا سيمې خلکو يې ډېردرناوی کاوه، ښه عالم او پاک نفسه انسان و او په هره پېښه پله کې يې پرې حساب کاوه. ده چې کندهار ته د تلو خبره وکړه يو گونگوسی اوچت شو، يوه کليوال وويل:

مولوي صاحب لکه چې له موږ نه خپه شوی يې...

-نه نه، خدای دې نه کړي، زه به ستاسو اخلاص ولې هېروم، دا د وطن د ازادی خبره ده، زموږ ټولو ديني مسوليت دی.

د وړاندې توت له اړخه يو د خوارو جامو خاوند چې د لونگۍ پر ځای يې يو زوړ څادر تر سر تړلی و د اعتراض په دود وويل:

مولوي صیب! ته نو يوازې ولې درومې! د دين او وطن غزا خو بيا پر ټولو فرض ده!

يو گونگوسی جگ شو:

ښه وايي، موږ ټول ځو، دا د غيرت خبره ده!

مولوي صیب غاړه تازه کړه:

مشرانو! ستاسو غیرت او ایمان ته مې سلام دی. زما خبره تر پایه واورئ! زه به ستاسو استازیتوب لاړ شم، د خپلواکۍ سرلاري او مشر ته به مو سلامونه ورسوم. زه به ورس وم، احوال به سره اخلو. دا د یوې ورځې او یا یوې میاشتې خبره نه ده، د لوی کور غ دی چې د لښکرو را ټولولو وخت راغی له دې ځایه به هم د زلمیو لښکر راشي. ز درانه مشران هم بیا له لښکر سره راتلای شي...

جاندادخان وویل:

که اوس لښکر نه درومي نو د مولوي صیب تش استول هم ښه کار نه دی. څه تورې او ټوپکونه خو باید میرویس خان ته ور وړي چې هم دی پرې درونډ وي او هم زموږ سر پرې جګ وي.
مولوي پیرمحمد سمدستي وویل:
زه خو وایم اوس دې ته هم حاجت نشته.

وروسته د مولوي پیرمحمد په اوږده دعا له ډېرو سترګو اوښکې وبهېدې. پر دې د ټولو آمین شو چې مولوي صاحب به د کابل د شاوخوا ولس په استازولی له میرویس خان سره ملګری کېږي. بل سبا ته له لمر ختو سره هغه د خپل منزل په لور روان شو.

مخامخ د برنتي شاخ د لمر په وړانګو کې ډوب و او ښي اړخ ته د اسمایي پر اوږو د زاړه دېوال لیکه د پخوا په څېر خړه ښکارېدله. د کندهار په لور یو وړوکی سوداګریز کاروان وخوځېد، خو په دې کاروان کې یو داسې څوک هم و چې د کندهار حماسه جوړوونکیو ته یې د کابل د شاه زلمو پیغام رساوه.

*****

میرویس خان تر کلي دوه نیم- درې سوه ګامه لرې د لوی توت تر ونې لاندې په سیوري کې قدم واهه، سیدالخان نږدې د ډبرې پر سر څادر غوړولی و او پرې ناست و.

پاس په هوا کې یو شغ شو، دواړو پسې وکتل، باز و چې په یوه شنه کوتره پسې ور خوشې و، باز غوټه ووهله خو کوترې مخه واړوله، باز وړاندې تېر شو بیا پرې را وگرځېد، په وروستۍ غوټه کې د کوترې بڼکې په هوا کې تیت شوې، میرویس خان په حسرت سر وخوځاوه:

وې وهله! باز ټپي کوتره ور سره پورته کړه، وړاندې د غره د تورو گړنگونو په لور لاړ.

میرویس خان تر هغو ورپسې کتل چې باز یې له ښکار سره تر سترگو پناه شو بیایې سر ښکته واچاوه او په چورتونو کې ډوب شو، له ځان سره یې وویل:

بیشکه چې الله حکیم ذات دی، مسلمانانو ته امر کوي چې څومره مو توان وي خپل ځواک راټول کړی چې دښمن درنه وویرېږي. بې وسلې او تیت او پرک ولسونه د دغه کوترې په څېر وي چې تل د کوم ظالم په منگولو کې ایسار وي.

میرویس خان یو دوه گامه واخیستل او بیا یې سیدالخان ته مخ را واړاوه:

ښین او ژوب ته د تلو سلا مې دې خوښه شوه.

هم خرما هم ثواب. هم به د خپلو پښتنو ترمنځ روغه وکړو، د خیر کار دی. هم به د گرگین خلاف د لښکر د راټولولو خبره ورسره وکړو.

سیدالخان ورته وویل:

زه به یو څو تنه چمتو کړم. ورته و به وایم چې مرغې ته ځو.

- پام دې وي چې د گرگین ځري ډېر دي. چې خبر نشي ښه ده. موږ خپل کار په خلاص مټ کولای شو.

-بېغمه اوسه دې ته مې پام دی. زه یوازې څو تنو باوري کسانو ته وایم.

- سیدالخانه! د پښتنو خپلمنځي شخړې مې ډېر ځوروي. د دوی ټول زور پخپلو کې په بېځایه سیالیو او تربگنیو اوبه شي.

- ریښتیا وایي اوس خو یې بېخي وخت نه دی، دښمن مو پر ټټر ناست دی.

میرویس خان بیا په چورتونو کې ډوب شو او په وړه سوپه یې قدم واهه.

له کلي نه درې تنه را ښکاره شول چې د دوی په لور ور روان وو.

سیدالخان وویل:

چې دا څوک شول!

میرویس خان په ځیر ورته وکتل:

یو خو یحیی دی، دا بل سرفراز خان دی. دا یو ناپېژندوی را ته ښکاري. چې ور نږدې شول سرفراز خان پرې غږ وکړ:

خانه سترگې دې روښانه د کابل د ولس پیغام خو درته را ورسېد!

درېیم کس مولوي پیر محمد و چې د کابل له ولایتیو راغلی و.

مولوي صېب له میرویس خان او سیدالخان سره تاوده سترې مشي وکړل. خان یې په بېړه ښکل کړ. بیا یې په لنډو ټکیو کې خپل مطلب ورته ووایه.

- پاچا خان سلام در باندې وایه. ما ته یې له تاسو سره په لاهور کې د لیدو کیسه وکړه.

خانه خدای دې همت درکړي. نن وطن ستا غوندې د سترو ارادو خاوند مشر ته اړتیا لري.

میرویس خان ځواب ورکړ:

په یوه تن هېڅ نه کېږي. مولوي صېب، خو چې ستاسو په څېر با ایمانه او حقاني علما پر چا راټول شي، ولس به هم ورسره ملگری کېږي. بس بیا نو خدای څوک بې نوا نه کړي. څوک چې د غیرت لاره غوره کړي، خدای غیور ذات دی لاره به ورته لنډه کړي.

- ان شا الله، ان شا الله

بیا یې سیدالخان ور معرفي کړ:

مولوي صېب دا د ناصرو خان دی، زما باوري انډیوال او یو غیرتی توریالی!

ــ خدای یې دې پر متو برکت کېږدي.

میرویس خان خپل ورور ته مخ واړاوه:

مولوي صاحب مزل وهلی، ستومانه دی، د ډوډۍ او استراحت غم یې وخوره. هغه بېرته د کلي په لور روان شو او دوی څلور واړه د توت تر سیوري لاندې پر سوپه کېناستل. د میرویس خان تندی له خوښیو ځلېده، له ځانه سره یې په ټیټ غږ وویل:

ان شا الله کار جوړېږي، په ولس کې د ویښتابه نښې را ښکاره شوې... ان شا الله کار به جوړ شي!

*****

شپه تر نیمایي اوښتې وه. ژوند دمه کړې وه او له ټولو هنگامو سره د تیارو تر پردو لاندې ویده و، مخامخ د قیتول د کلا دروازه او برجونه په تیارو کې د ویدو دیوانو په څېر هیبتناك ښکارېدل. د معمول په څېر د برجونو او کلا پهره دارانو به کله کله د باخبر! نارې وهلې او دا یې ښودله چې دوی ویښ او د هر چپاو مقابلې او ځواب ته چمتو دي، خو دا یې په خیال کې نه تېرېدل چې پردوی به برید کیږي، ناڅاپه قیتول برج ته نږدې د ټوپکو کړسهار د چوپتیا پردې څیرې کړې، چوپتیا مړه او ژوند له دردونو، رنځونو او رنگونو سره بېرته را ویښ شو. په تیاره کې دغه ډزې څو چنده نورې هم سهمجنې وې، له ډزو سره د برجونو او دېوالونو له سره ځوابي ډزې پیل شوې چې ورو ورو یې زور واخیست. څو شېبې وروسته د کلا په برجونو کې توپونه وغړمبېدل چې د کندهار ټول اوسیدونکي یې له درانه خوبه را ویښ کړل، تر نیم ساعت وروسته بېرته ډزې ودرېدې او کراره کراري شوه.

یوازې د قیتول کلا په لمنه کې یو نیم زگیروی اورېدل کېدو، د سهار له لمر خرك سره د کندهار له پوځي کلا، قیتول غره او چهل زینو نه په سوونو په زغرو پټ پوځیان راووتل. د قیتول په لمنه کې پر هغه ځای راټول شول چې تېره شپه ترې پر کلا برید شوی و. شاوخوا ته مړي پراته وو. زیاتره یې د توپ په گولیو څیرل شوي او ټوك ټوك بدنونه پراته وو. اوه تنه ټپیان داسې وو چې لا یې ساه اخیسته، گرجي پوځیانو به مړي په لغتو وهل او جیبونه یې پرې پلټل.

قوماندان څو تنو ته امر وکړ:

مړي وشمېرئ. وگورئ څوك پکې پېژندل کیږي که نه؟

د قوماندان پر شونډو مرموزه موسکا په کړس کړس خندا بدله شوه، ژېړې خیرنې داړې یې ښکاره شوې. سترگې یې چوغې کړې:

دوی اوس زموږ پر کلاو د برید جرئت کوي!

یوه اردلي یې په جینګه خوله ورته وویل:

اوس به ور معلومه شوې وي صیب! بیا به داسې بد و نه کړي!

قوماندان چې لا یې په کړس کړس خندل د سترګو له کونجو هغه ته وکتل.

که یې دا په یاد وي بیا به دې لور ته را و نه هم ګوري.

بیا یې له شونډو خندا ورکه شوه، پر تندي یې د غوسې لیکې کتار شوې:

د دې ګستاخۍ سزا به ګالي!

چې د صفوي ټولواکۍ پر خلاف بغاوت کوي سزا به خامخا ګالي... بس یو ځل معلومه شي چې دا د کوم قام او کومو کلیو دي.

ځلور تنه چې پر شاوخوا را وګرځېدل، بېرته راغلل:

صایبه! ۱۲۱ مړه ۳۷ ټپیان دي، ټپیان یې هم په مړو شماره، د رغېدو نه دي!

رغېدل یې په بلا وهه! څه معلومات دې ترې واخیستل، څوك دي، د چا په حکم...

پوځي خبرو ته خوله جوړوله:

صیب یوازې یو تن په پښه ټپي پکې د خبرو و، ما چې پوښتنه ترې کوله ده مې مخ ته لاړې توف کړې. ما هم زړه پرې یخ کړ، خنجر مې یې پر ټټر ور ښخ کړ!

ـ احمقه ولې؟ له هغه نه مو ډېر معلومات اخیستلای شول.

ـ صیب غوسه یې کړم. ځان مې را قابو نکړای شو!

بل ملګري یې وویل:

ـ صیب هغه خطرناك و، په لاس کې یې توره هم وه!

قوماندان تندي ته شړك ورکړ:

وای احمقانو! دریغه درته ویلي مې وای چې که کوم ټپي وي چې و یې نه وژنئ!

دواړو پوځیانو یو بل ته وکتل او په اشارو یې سره وپوهول.

قوماندان بیا په پوښتونکي نظر دوی ته وکتل:

په هغو دېرشو تنو کې خو به خامخا داسې څوك وي چې ډېر ټپي نه وي؟

د دواړو ژبې ونښتې او په ژوولې لهجه یې وویل:

ـ صیب، هغوی... هغوی هم... نور ژوندي نه دي!

ـ څه څه! و مو وژل، ټول مو ووژل؟

هغوی سرونه ښکته واچول. گرجي پوځیان د شهیدانو په منځ کې گرځېدل، هر یوه یې د دوی جیبونه پلټل او بیا به یې په لغته وهل، ترې تېر به شول.

ټپیان یې هم ټول له یوې مخې تر تېغ کړي وو.

قوماندان چې د خیالونو کومې ماڼۍ درولې وې هغه ټولې د سترگو په رپ کې لوټه لوټه شوې. له مړیو پرته هېڅ په لاس ور نغلل چې بېگلر بیگي (گرگین) ته یې وړاندې کړي او انعام پرې واخلي. دی هم له پاس پرېښو نه راښکته شو او لږ په هواره کې پر هغو مړیو گرځېدو چې تر وژل کېدو وروسته هم لوټ شوي وو.

یو ځل یې لږ وړاندې شور واورېد، څو تنه خپل پوځیان یې ولیدل چې یو سړی یې نیولی او راکشوي یې.

یو تن له لرې ورته وویل:

صاحبه! دا مو د لاندې ویالې پر غاړه وموند، په پښه ټپي دی، د ټپي له ښي ورانه را بهېدلیو وینو د ده ټوله پایڅه لنده کړې وه، ورون یې پر خپل پټکي تړلی و. له څېرې ښکارېدو چې ټپ یې ژور دی او سخت ترې په عذاب دی.

هغه بیا هم غیرت نیولی له خولې یې سوڼ نه وځي. د قوماندان خوله د هغو په لېدو تر غوږو وشلېده:

هن! اوس مو د سړیتوب کار وکړ. بیا یې ټپي ته په آمرانه لهجه وویل:

شاباس ځان راښیه، د کوم کلي، کوم قام یې، د چا په امر مو پر کلا برید وکړ؟ ... هله زر زر ځواب راکوه!

د ټپي چې له درده پر مخ توره خپه راشي، سترگې پټې کړي. خو بیا یې د گرجي قوماندان پر سترگو سترگې ښخې کړې...: زه دې د پلار نوکر نه یم چې څه غواړې در ته و یې وایم! نور چوپ شو.

د قوماندان سور مخ نور هم سور واوښت. دا یې ځانته ډېر لوی سپکاوی باله چې یو ټپي بندي دې دومره په گستاخۍ ځواب ورکړي. ناڅاپه یې د هغه پر ټپي پښه د لغتې گوزار وکړ.

د ټپي له خولې چیغه ووته! یا الله! یوې خوا ته ړنگ شو او بې سده شو!

خه خه! و مو وژل، ټول مو ووژل؟

هغوی سرونه ښکته واچول. گرجي پوځیان د شهیدانو په منځ کې گرځېدل، هر یوه یې د دوی جیبونه پلټل او بیا به یې په لغته وهل، ترې تېر به شول.

نیپان یې هم ټول له یوې مخې تر تېغ کړي وو.

قوماندان چې د خیالونو کومې مانۍ درولې وې هغه ټولې د سترگو په رپ کې لوټه لوټه شوې. له مړیو پرته هېڅ په لاس ور نغلل چې بېگلر بیگي (گرگین) ته یې وړاندې کړي او انعام پرې واخلي. دی هم له پاس پرښو نه راښکته شو او لږ په هواره کې پر هغو مړیو گرځېدو چې تر وژل کېدو وروسته هم لوټ شوي وو.

یو ځل یې لږ وړاندې شور واورېد، څو تنه خپل پوځیان یې ولیدل چې یو سړی یې نیولی او راکشوي یې.

یو تن له لرې ورته وویل:

صاحبه! دا مو د لاندې ویالې پر غاړه وموند، په پښه ټپي دی، د ټپي له ښي ورانه را بهېدلیو وینو د ده ټوله پایڅه لنده کړې وه، وروڼ یې پر خپل پټکي تړلی و. له څېرې ښکارېدو چې ټپ یې ژور دی او سخت ترې په عذاب دی.

هغه بیا هم غیرت نیولی له خولې یې سونګ نه وځي. د قوماندان خوله د هغو په لېدو تر غوږو وشلېده:

هن! اوس مو د سړیتوب کار وکړ. بیا یې ټپي ته په آمرانه لهجه وویل:

شاباس ځان راښیه، د کوم کلي، کوم قام یې، د چا په امر مو پر کلا برید وکړ؟ ... هله زر ځواب راکوه!

د ټپي چې له درده پر مخ توره خپه راشي، سترگې پتې کړي. خو بیا یې د گرجي قوماندان پر سترگو سترگې ښخې کړې...: زه دې د پلار نوکر نه یم چې څه غواړې در ته وېې وایم! نور چوپ شو.

د قوماندان سور مخ نور هم سور واوښت. دا یې ځانته ډېر لوی سپکاوی باله چې یو ټپي بندي دې دومره په گستاخۍ ځواب ورکړي. ناڅاپه یې د هغه پر ټپي پښه د لغتې گوزار وکړ.

د ټپي له خولې چیغه ووته! یا الله! یوې خوا ته ړنگ شو او بې سده شو!

قوماندان له غوسې تور او شین شو، یوه پوځي ته یې وویل:
اوبه یې مخ ته وشینده! هغه له خپلې ملا له کڅوړې نه د اوبو پتك را واخیست، سر یې پرانیست او بیا یې د ټپي پر سر او مخ اوبه ور تویې کړې.

ټپي سترگې و نه غړولې خو اوږده اوږده ساه یې اخیسته، داسې ښکارېدله چې هغه قصدي نه غوښتل سترگې وغړوي. گرجي قوماندان یې مخې ته گونډه شو، له پوځي یې د اوبو پتك را واخیست او غوښتل یې د هغه وچو شونډو ته یې ور نږدې کړي. ناڅاپه د هغه له خولې د الله اکبر چیغه ووته او د قوماندان سوې کړیکه ورسره غبرگه شوه. قوماندان دوه گزه شا ته شا په تخته ولوېد، د سترگو په رپ کې څلور پینځه تورې د ټپي ځوان پر ټټر، ورمېږ او پښو ونښتې، هغه په لوړ غږ لا اله الا الله، محمد رسول الله کلمه وویله او سر یې د قبلې په لور ړنگ شو.

گرجي قوماندان په ښي غومبوري د ډبرې گوزار خوړلی و. له خولې یې تورې وینې روانې وې. غومبوری یې په لاس پټ کړی و او زگېروي یې ختل. په سلگونو پوځیان په څو شېبو کې هلته را ټول شول او بیا یې د کسات په دود شاوخوا ته پراته مړي په لغتو وهل.

*****

تنکۍ غرمه وه، وړاندې د ختېنو کورونو له بامونو د تنورونو نري دودونه پورته کېدل او په هوا کې ورکېدل، له کلي وړاندې د یوه لښتي پر غاړه د توت تر لویې ونې لاندې میرویس خان له خپلو دوو تنو نژدې یارانو سره ناست و، هغه د لښتي پر غاړه دوو مچیو ته ځیر و چې پر گلونو گرځېدې، درې واړه په چورتونو کې ډوب وو، وروسته میرویس خان په غمجنه موسکا مولوي پیرمحمد ته اشاره وکړه:
میاجي څه پکې وایې!
- خانه! خبره دې هم په عقل برابره ده او هم په شریعت. له ظالم نه به یا هجرت کوې او یا به ورسره مقابله. پر موږ د هجرت لارې تړلې چې هر لور ته مو د وطن دښمنان دي. په اصفهان کې شاه حسین ناست دی، گرگین لیوه یې زموږ پر قام را نازل کړی. په هند

کې مغل دي چې زموږ له قام او ولس سره يې تاريخي دښمني ده. بس همدغه يوه لاره پاتې ده!

ميرويس خان سيدال خان ته وکتل، هغه په پرېکنده لهجه وويل:

چې مولوي صيب پرې قانع دی، زه به څه پکې وايم. زما خو له اوله همدغه رايه وه چې له تورې پرته بله لاره نشته.

ميرويس خان وويل:

ما پر دې ډېر فکر کړی، چې هم مار مړ شي او هم لښته ماته نشي وخت اخلي، د يوه غورځې خبره نه ده. پر قيتول د بريد پايلې مو وليدې. څومره د تورې سړي مو لاړل. دا خو ساده خبره نه ده. خدای دې د جلندر خان کاکو او نورو زلميو شهادت قبول کړي، بېړه يې وکړه دې نامردو ته يې نور هم جرئت ورکړ.

مياجي «مولوي پيرمحمد» په لنډو ټکيو وپوښتل:

څه به کوو؟

-ما پرې فکر کړی، که ووايم چې يو څه کار مې هم کړی لاپه نه ده ما دا ځل د سفر پرمهال په لاهور کې د کابل، ننگرهار او بلخ له هېوادوالو سره هم وليدل، له پاچاخان سره مې هم په لاهور کې وليدل. بيا يې مياجي او سيدالخان ته په موسکا وکتل زياته يې کړه:

دا وروستی سفر مې ډېر بختور و، له ډېرو ښو خلکو سره مې وليدل ، زه نن تاسو ته يوه د زړه خبره وکړم چې ډېر بايد پرې پام وکړی.

مياجي او سيدال خان په تلوسه د هغه خولې ته کتل، ميرويس خان خبرو ته دوام ورکړ.... زموږ ځينې ملگري هر وخت پر دې ټينگار کوي چې موږ له صفويانو سره لاس او گرېوان يو نو له اورنگزېب نه بايد مرسته وغواړو، زه د دوی ددې خبرو په باب ځان ناگاره اچوم خو په زړه کې ډېر پرې خپه کيږم، ددې معنا داده چې ته په ځنگل کې له لېوه سره مخ شې بيا له بل خيرونکي ځناور د مرستې تمه وکړې، پردي پردي دي، زموږ له قام او ولس سره د ډيلي او اصفهان د واکمنو په دښمنی او تادا کې هيڅ توپير

نشته. چې کمزوری شوې هرڅوک به در باندې را دانګي، د سپو کور په کور بدي ده خوار مسافر ته یې لاره یوه ده!

ما ډیلي ته په وروستي سفر کې د مغلي واکمنو د هغو تېریو او ظلمونو ډېرې کیسې واورېدې چې هغوی زموږ له ولس او خلکو سره کړې دي، پیر روښان خو د مغلو د تیریو پر خلاف را اوچت شو،هغه غیرتي مېړه خو په کندهار کې د هغه مظلومې مېرمنې په ننګ د مغلو پر خلاف را اوچت شو چې له وېښتانو یې د ژرندې له پله سره تړلې وه. خوشالخان، ایمل خان او د پیر روښان مېړني زوی جلال الدین خو چې سرونه په تلي کې نیولي وو د مغلو نارواوې یې لیدلې، که د بابري پاچاهانو هغه ناکردې وګوری چې له کندهار تر کشمیره یې زموږ له ولسونو سره کړې، د ګرګین ناکردې به مو هېرې شي.

هغه خپلو ملګریو ته په ځیر وکتل بیا یې وویل:

مغل زموږ قام خپل تاریخي دښمنان ګڼي، بابر د لودیانو نه د ډیلي واکمني ونیوله سلطان ابراهیم لودي یې د پاني پت پر میدان وواژه، وروسته بیا سوري شېر شاه د بابر له زوی همایون میرزا نه د هند ټولواکمني ونیوله، همایون ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې، دوی په دې اوږده موده کې له کندهار تر بنګال او له کشمیر تر کابله له پښتنو سره جنګېدلي دي، له دوی یې سترګه سوځي.

بیا میرویس خان په حسرت سر وخوځاوه لاسونه یې وموښل وې ویل:

دریغه چې په موږ کې خو یوه لویه کمزوري نه وای. بې اتفاقي او ړنده تربګني! تاسو پوهېږئ چې زموږ تر ټولو لویه بدبختي د خپلو خلکو همدغه بې ایماني ده، پیر روښان به اکبرپاچا ته د سر په کوپړۍ کې اوبه ورکړې وې، خو خپلو خلکو د مغلو په لمسه د پیرتاریک نوم پرې کېښود او خپلو افغانانو دغه لوی مبارز او پینځه زامن یې د مغلو په لاس ورکړل او شهیدان شول.

میرویس خان خپلو ملګریو ته وکتل، وې ویل:

ما په دې وروستي سفر کې د خوشال خان له ورور صوفي جمیل بیګ سره ولیدل هغه یو ریښتینی ملنګ او صوفي و، ماته یې له اورنګزېب سره د خوشال خان د جګړو ډېرې

کیسې وکړې، د یوې ټولواکۍ له زرګونو وسله والو پوځونو سره ډغرې وهل د هرچا کار
نه دی، د خوشال خان په څېر اراده او ایمان ورته په کار دی، د اپرېدو او مومندو له
خلکو سره مې ولیدل چې پلرونو یې د دریاخان او ایمل خان سره یوځای د مغلو
پرخلاف جګړې کړې وې. ما د هغوی له کیسو دا یو درس زده کړ چې په خپلو کسانو
کې باید د دښمن لاسپوڅي پرېنږدو او دې ته باید ډېر پام وکړو، ددې لپاره د ولس
اعتماد باید وساتو، د قام له مشرانو سره به په ګډه له خیره یو شریک ګام اخلو، د وطن
د آزادۍ لپاره به یو تړون کوو...ما چې ددې ننګیالیو مشرانو د جهاد او غیرت کومې
کیسې واورېدې دغه افسوس کوم چې درېغه موږ ټول سره یوځای وای، بیا یې میاجي
او سیدالخان ته وکتل، زیاته یې کړه:

زه مې په خپلو ملګریو ویاړم، خو درېغه دغه غیرتي مشران نن ټول ژوندي او د هېواد د
ازادۍ ددې سپېڅلي کاروان ګډ لارویان او ملګري وای.

میاجي ورته وویل:

خانه تاسو چې له کومو مشرانو سره ولیدل، په کوم ګډ تصمیم مو سلا وشوه؟

هوکې، دهغوی ځینو ویل چې له کابله باید د اورنګزیب پرخلاف پیل وشي، خو
وروسته ټول پردې قانع شول چې لومړی باید د ګرجي ګرګین چاره وشی.

میاجي وویل:

- پاچا خان دې کیسه وکړه، هغو نورو بیا څه ویل؟

-هغوی ومنله، انشا الله په نن سبا کې به یې مشران راشي.

-یوازې مشران که وسله وال ځوانان هم؟

-مولوي صېب! تر اوسه د لښکر خبره لرې ده. د ګرګین په زرګونو په هر راز وسلو سنبال
پوځ را ته په کندهار کې پروت دی، توپونه او نورې درنې وسلې لري، که جګړه پیل
کړو په څو ورځو کې به د اصفهان لښکر زموږ پر خاوره را مارش وي.

سیدال خان وویل:

-نو څه پکار دي؟

-اول خو د وطن له مشرانو سره ګډه جرګه او ګډ تصمیم پکار دی، چې سلا یوه شوه،
بیا به د وسلې غم کوو، څو لارې لرو. ما پرې چورت وهلی!

سيدال خان او مياجي په پوښتونكي نظر هغه ته وكتل.

... په كابل او غزني كې د مغلو له منصبدارانو او په كندهار او هرات كې د گرگين
كسانو وسلې اخيستلاى شو. څه په پيسو، څه په نورو لارو. ميرويس خان جگ شو،
ملا شخي يې وايستله، شاوخوا ته يې سترگې واړولې، بيا يې خپلو ملگرو ته وكتل، پخپل
ځاى كېناست خبرو ته يې دوام وركړ:

د گرگين سره به پام كوو، دغه گرجى كافر هم بې رحمه او هم هوښيار دى. شاه حسين
خو پرې بېځايه دومره باور نه دى كړى. ما چې لومړى ځل وليد، گرانبيه تومانچه مې
تحفه وركړه، خو هېڅ پرې خوشحاله نه شو. زموږ په منځ كې مخبر لري. له ډېرو خبرو
خبريږي.

سيدالخان وويل:

كه يې مخبر پيدا شي، بيا خو يې چاره اسانه ده.

ميرويس خان په مرموزه موسكا ځواب وركړ:

كه يې مخبر وپېژنو چاره يې آسانه ده، خو هسې نه چې ته پرې فكر كوې!

دوى دواړو بيا په تلوسه ورته وكتل، هغه زياته كړه:

چاره يې دا نه ده چې مخبر يې ووژل شي. بيا يې غاړه تازه كړه، لږ په راز داره لهجه يې
وويل:

كه يې مخبر پيدا شي، گرگين به ډېر زر پر موږ باور وكړي.

مياجي وويل:

خانه لكه چې غواړې د گرگين مخبر ته هم سوغاتونه وركړې!

- نه، پر دوى به ځانونه ناگاره واچوو، خو داسې كار به كوو چې گرگين پرې خبر شي
هغه پر دې داډه شي چې زه شاه حسين او گرگين ته وفادار يم. گرگين يې له مخبرانو
سره بايد تر مناسب وخته غافل وساتل شي.

مياجي وويل:

سبحان الله! كه دې كمال نه درلوداى ټولو قامونو به ولې په مشرى منلې!

-چې خان يې په ياران يې، دا د خدای لورېينه ده، زه عاجز هېڅ هم نه يم، بيا که هر څه دي، دا مې د ارواښادې مور برکت دی.

-الله يې دې د جنتيانو سرداره کړي.

لمر د تندي سر ته راغلی و، خو دوی درې واړه د گنې ونې يخ سيوري ته ناست وو، دوه دوه نيم سوه گامه لرې د کلي حدود پيلېدل. ميرويس خان پاڅېد، سمدستي مياجي او سيدالخان هم اوچت شول. خان وويل:

زه يو ځل د مور زيارت کوم، درې اونۍ وشوې چې نه يم ورغلی، د هزاره جات، کابل، او ننگرهار مشران چې راغلل راز يې بايد وساتو، ښه دا ده چې دوی زما د هندوستان د سوداگرۍ اندېوالان ياد شي. په څو ورځو کې شپږ سوه ميله ټوپك او همدومره تورې او نيزې هم را رسېږي. نور به توکل پر خدای کوو.

*****

د دوبي پيل و مېوې نوې پخې شوې وې، درمندونه لا يوه مياشت مخکې اخيستل شوي وو. د گرجيانو د وحشت يوه بله څپه هم تېره شوې وه. غلې دانې يې ټولې کړې وې. دا ځل د غلو او باج د راټولولو پر مهال د گرجيانو د بې رحمۍ او ظلم څپه تر پخوا سپکه وه. بيا يې هم د ارغنداب پر غاړه درې کلي لوټ کړل، هلته يې يوې مېرمنې ته لاس ور اچولی و چې بيا درې تنه گرجيان ووژل شول. دوی يې په کسات کې درې کلي بشپړ لوټ او بيا وسوځول.

يوه غرمه گرگين په خپل دربار کې ناست و، د ايراني او ارمني گډې موسيقي سُر او تال ته دوې نيم بربنډې نڅاگرې په نڅا وې. درې نورې دنگې نرۍ نيم بربنډې نجونې جام او صراحي په لاسو کې پر شونډو له شوخې موسکا سره گرځېدې، په مستۍ کې د ډوبو تش جامونه يې ډکول. شاوخوا ته پر کرسيو د گرگين درباريان او د پوځ قوماندانان ناست وو جامونه په لاسو کې زنگېدل، يوه تور د پلن مخ خاوند چې برېتان يې تر لاندې شونډه تېر وو او خوله يې پکې پټه وه، يوې نجلۍ ته لاس واچاوه او تر مړوند يې را ونيوله، هغې په يوه جټکه ځان ترې خلاص کړ، خو نېشه يې برېتور له جټکې سره

له کرسۍ نه پړمخې ولوېد. د ساز او سرور محفل څو شېبې تم شو. ټولو د هغه د لوېدو له درب سره ور وکتل. له څو خولو یو وخت یو غږ راووت: هاکوبیان!

د نجلۍ په یوه لاس کې د شرابو صراحي، په بل کې جام، له وېرې په لړزه شوه او په پټه خوله یې پر مخ اوښکې بهېدې.

د گرگین په شنو سترگو کې سره رگونه ډېر سهمجن ښکارېدل، دروند غږ یې اوچت شو:

وباسئ دا مردار خور! دربار به مردار کړي!

دوو تنو سمدستي د هغه تر تخرگونو لاسونه لاندې کړل او د باندې یې ویوست. د ساز او سندرو څپه تم شوه، د ادیرې په څېر چوپتیا شوه، تا به ویل چې کاینات ټول د مرگ په خوب ویده شول. ښه شېبه وروسته درنده چوپتیا د گرگین له سهمجنې خندا سره بیا ماته شوه:

ها ها ها... څه درباندې وشول! نڅاگرو او د هغو تر شا ناستو سازنده و ته یې وکتل، سر یې یوه اړخ ته کوږ کړ دوی ته یې د لاس په اشاره د محفل د بیا تودېدو حکم وکړ. د سترگو په رپ کې هر څه عادي شول. لکه هېڅ چې نه وي پېښ شوي. د شرابو او نڅا محفل په اوج کې و چې یو تور خواجه سرا غلی له دروازې راننوت او په غوږ کې یې گرگین ته څه وویل:

د هغه پر تندي د غوسې لیکې جوړې شوې، جام یې دوه غوړپه کړ او په سر یې واړاوه، په زور یې پر مېز وواهه. لوچکه نېشه مې دې والوزوله. بیا یې لاسونه وپړکول. له دې سره بیا ټول خپ او چوپ شول. تر څو شېبو د ستار د غږ آزانگې په چت کې را غبرگېدې.

د گرگین موډ خراب شو، خواجه سرا ته یې وویل:

ورته وایه چې راشي! بیا یې نڅاگرو او سازنده و ته اشاره وکړه، ټول د یوې زرینې پردې شا ته لاړل.

گرگین درباریانو ته وویل:

میرویس خان راځي، زه د دغه سړي له سترګو وېرېږم، هېڅ ښه نه را لګېږي.
یوه پوځي چې د مخ تپ یې ښېره ډېره بدرنګه کړې وه له غوړه مالۍ په ډکه لهجه ورته وویل:
صېب امر وکړه چې سر یې درته والوزوم!
ګرګین له ملنډو په ډکه موسکا ورته وویل:
احمقه! د هر چا سر الوزول دومره آسانه نه دي! ته پوهېږې په کومه خاوره کې پروت یې؟ که له مانۍ بهر چېرته تش لاس په مخه درشي لینګي به دې رېږدي، جامې به دې ګنده کړې دلته یې د سر الوزولو لاپه کوې. احمقه، ماته ګپ راکوې.
د ګرګین له دې خبرې سره پر دربار یوه مرموزه چوپتیا خپره شوه، داسې درنه چوپتیا چې د زړونو درزا پکې اورېدل کېده.
دروازه خلاصه شوه، پر سپینو جامو د پاسه اوږده توره چپنه اغوستې، توره نسبتاً اوږده ږیره، توربخونه لونګۍ پر سر، د غټو غټو نافذو سترګو خاوند دنګ ځوان دربار ته ورننوت. د ګرګین درباریان چې له پخوا تر رعب لاندې وو بې اختیاره لاس په نامه ودرېدل. پر ګرګین د دوی دغه حرکت ښه و نه لګېد، دا د ده دربار و، د ده د واکمنۍ سکه باید پکې چلېدای. او یوازې دده درناوی باید پکې شوی وای، خو څه غبرګون یې و نه ښود، دا درېیم ځل و چې د غلجو خان له ګرګین سره لیدل. میرویس خان په ادب وړاندې ورغی ګرګین ته یې لاس ورکړ، په موسکا یې جوړ پخیر ورسره وکړل، بیا یې د ده د دربار حاضر باش ته وکتل وې ویل:

که دې اجازه وي یو وړوکی سوغات دې حضور ته وړاندې کړي، د ګرګین ورمېږ له غروره کوږ شو، د سر په اشاره یې اجازه ورکړه، حاضرباش ووت او چې بېرته راستون شو دوه تنه د خان ملګري ورپسې وو، د دواړو په لاسو کې یو یو پتنوس و چې وریښمین ټوکران پرې غوړېدلي وو.
د ګرګین په مخ کې له یوه پتنوس نه وریښمین ټوکر لرې کړای شو. په هغه کې یو ښکلی خنجر و چې پوښ یې ډېر ظریفانه طلاکاري شوی و.
-ډېر ښکلی دی، ذوق دې د ستایلو دی.

ـ ستاسو بخت دې لوړ وي، دا مې د ډیلي د سرو زرو په بازار کې وپېره، پلورونکي بې ویل چې د راجستان د یوه لوی راجه یادګار دی.

د ګرګین خوله بې اختیاره له ببرو بریتونو او ږیرې را ووتله او له یوه غوړه تر بل وازه شوه، د شرابو خوړسکه د میرویس خان تر سپږمو رسېده، خو هغه ځان را قابو کړ.

له بل پتنوس نه چې ټوکر لرې شو د ګرګین خوله وازه پاتې شوه. په پتنوس کې یوه ګوتیې او دوه زرین بنګړي وو چې ډېر په کمال ګرانبیه غمي پکې کارېدلي وو. ګرګین له شاهانو او امیرانو سره ډېر لیدلي وو، د اشرافي کورنیو ګانې یې لیدلې وې، خو تر اوسه یې داسې ښکلې ګوته او بنګړي نه وو لیدلي، میرویس خان له خپلو سوغاتونو چې څه غوښتل تر لاسه یې کړل.

هغه ګرګین ته تر ټولو په نږدې کرسۍ کېناست، له یوې او بلې خوا تشریفاتي خبرې ډېرې اوږدې نه وې، په کراره یې خبره د ارغنداب د کلیو سوځېدو ته یووړه:

جنابه! ستاسو مالیه پکار ده، راټولول یې پر ما، خو پوځیان دې چې که پر خلکو ظلم کوي، ناموسونو ته لاس اچوي، بیا خو خبره خرابېږي.

ګرګین وویل:

هغوی زما درې تنه پوځیان ووژل، زه مې د یوه پوځي پر سر شل تنه وژنم!

میرویس خان په ځواب کې ورته وویل:

په پښتنو کې متل دی له کلي ووزه له نرخه مه وزه. زما قام دا دی کلونه کلونه صفوي حکومت ته باج ورکوي. د خپلو غلو دانو تر نیمایي زیاته برخه ستاسو پوځیانو ته راټولوي، خو چې خبره د ناموس شي بیا خو نه کېږي. بیا یې بېرته خبره نرمه کړه: د مالیې راټولول پر ما، نه سیخ سوی نه کباب. تاسو نور څه غواړئ.

د ګرګین په مزاج داسې خبره ښه نه لګېده چې څوك دې د ده د حکومت او حاکمیت په قلمرو کې ورته سرې کرښې کش کړي، خو ځواب یې هم نه درلود. بیا یې وویل:

میرویس خانه! زه خبر یم چې ته یوازې د هوتکو نه بلکې له غزني تر فراه د ټولو قامونو مشر ټاکل شوی یې، موږ هم ستا مشري منو، ورشه قام ته دې ووایه چې صفوي

حکومت د مالیې په برخه کې نه او نو نه پېژني. دا دوهم کال دی چې کاکړ او بلوچ له مالیې ورکولو ځانونه غړوي. موږ مجبور یو چې بیا زور ورسره وکړو، نور دا ستا کار دی ځنگه یې پوهوې!

-په سترگو زه به همداسې وکړم!

دواړو لاسونه سره ورکړل، د دواړو پر شونډو موسکا وه، خو د دې موسکا تر شا دواړو لوریو ته بېلې ارادې او موخې وې.

میرویس خان چې له درباره ووت، گرگین حاضر باش ته حکم وکړ:

منشي راوله! هغه له سلامي وروسته ووت. لږ وروسته یو وچوړی سړی چې گردې عینکې یې پر سترگو وې او کړوپ کړوپ یې په حاضر باش پسې پښې خپولې ور ننوت. تر سلام وروسته گرگین نورو درباریانو ته د لاس په اشاره د وتلو حکم وکړ. چې یوازې شول منشي د گرگین په حکم د اصفهان دربار ته اوږد لیك ولیکه. منشي رخصت شو او گرگین د لویې کړکۍ په مخ کې ودرېد، لاندې د لویې کلا پر انگړ یې سترگې را وگرځولې او بیا یې مخامخ وړاندې پر غرونو سترگې وگنډلې. له غرونو پاس د آسمان پر تتر د سپینو وریځو کنډکونه را واوښتل، د گرگین پر شونډو مرموزه موسکا خپره وه.

میرویس خان چې له نارنج ماڼۍ راووت د پوځي کلا د لویې دروازې په لوري روان شو. لږ وړاندې یې یوه تن اس تر جلب نیولی و. خان له ځانه سره په خبرو و چې د کابل، هزاره جات او شینوارو مشران به کله راشي!

په همدې چورتونو کې د لویې دروازې په لور روان و چې له دروازې سره دوه تنه راښکاره شول، د سترگو په رپ کې بېرته پر شا لاړل. خو د خان همدغه یو ځرك نظر خپل کار کړی و. په دې دوو تنو کې یو د گرگین پوځي و، دې بل ځان په خړ ځادر کې نغښتی و خو مخ یې لوځ و.

چې د لویې کلا تر دروازې ووت خان خپل تصمیم نیولی و، پر اس یې پښه واړوله او د جنوب په لور یې پونده ورکړه، اس د باد په څېر والوت.

بل ماښام د کندهار د ښار مشهور علاف د غلې سوداگر (آغا جان) د گرگین په مخ کې ناست و، قسمونه یې خوړل او گرگین ته یې راپور ورکاوه:

په خدای په رسول، یو ځای نه پوره شپږ ځایه مې واورېدل، میرویس خان دوپه شوی، په هندوستان کې یې مال سرکار ترې ضبط کړی. که د هندوستان سوداگري پرې بنده شي، خان به د خپلې کورنۍ د ډوډۍ په غم کې ورووست شي. خاني او مشري ترې پاتې ده. گرگین ته د میرویس خان د لومړي ځل لیدو خبرې وریادې شوې:

د اصفهان پاچهي خو د عدل پاچهي ده! مغلو خو زموږ سر او مال ته اړولي، دوی مو نور ازلي دښمنان دي. ورو ورو یې د آغا جان په خبرو باور راتلو، یو بل جام یې پر سر واړاوه او بیا یې په کړس کړس وخندل چې پاس په چت کې تر څو شېبو د هغه د خندا غږ راغبرگېدو.

*****

پخه شپه وه، کلي او کورونه د تیارو تر پنډه پرده لاندې پټ وو. په لرې کلیو کې د سپو د غپا غږ چوپتیا ماتوله. د دالان په زاړه چت کې د چرچري غږ چاپېریال له اسرارو ډک کړی و.

یوه د پاخه عمر میرمن د دالان پر څنډه پر مصلي ناسته وه او ټیکری یې خپل لوی څښتن ته غوړلی و:

خدایه په سره اور کې یې را ته وساتې!

د ځمکې او اسمانونو پاچا بخت یې بلند لرې، دښمنان پرې ړانده کانه کړې! خدایه د پیغمبر په روی دې دا سره کاپر زموږ له وطنه ورک کړه!

په همدې کې د کلي د سپیو غپا اوچته شوه، هغه لکه چې د همدې په انتظار وه، لاسونه یې پر مخ را تېر کړل، له ځایه جگه شوه، لاندې ښکته شوه د لویې دروازې لوی زنځیر یې پرانیست، غنگ شو د دروازې پله یې پرانیستله. د باندې د ستوریو په تته رڼا کې د کلي په منځ کې تېره لاره پیکه ښکارېدله. د اس د پښو ترپهار اوچت شو او بیا یو سپور د دروازې په مخه کې ترې را کوز شو، مورته یې وویل:

ـ ادې تر اوسه وېښه يې؟

ـ در قربان شم بچيه ته به د باندې وې او زه به خوب کوم!

ـ ادې جانې، نور زموږ ژوند همدغسې دی، ته چې تر نيمو شپو ستومانه وېښه وې، ناروغه کېږې.

ـ خير دی سيداله بچيه، راځه، راځه ستومانه به يې، څه دې خوړلي که نه، ښدې درته را تودې کړم؟

سيدال خان اس تر جلب ونيو د کور انګړ ته ننوت، وړاندې له دېواله سره د توت د ونې پر يوه شاخ يې د اس جلب ټينګ کړ، مور يې هلته نږدې له نغري سره د تېلو څراغ بل کړ، د څراغ په تته رڼا کې يې زوی ته کتل. د يوه افسانوي اتل په څېر ورته ښکاره شو. مور يې د سيف الملوك او بدرو جمالې او شهزاده ممتاز او بې نظيرې کيسې چې په ولس کې سينه پر سينه لېږدېدلې خپل زوی ته ډېرې کړې وې.

اوس چې سيدالخان زلمی شوی و او د پلار پر ځای د خپل قام مشرغوره شوی و دې ته د هماغه افسانوي داستانونو اتل ښکارېدو.

د څراغ په رڼا کې يې هغه ته وکتل بې اختياره ورغله پر تندي يې ښکل کړ. دواړه لاس يې پر کونډی ږيره را تېر کړل، وې ويل:

زويه زه د هغې ورځې په انتظار يم چې ته راشې زما پر ځای په دروازه کې د ښاپېرۍ په څېر يوه نجلۍ هرکلي ته درته ولاړه وي!

سيدالخان له شرمه راټول شو:

-مورې نور د دېوانو او ښاپېريو زمانه نه ده، هغه د خوب او خيال نکلونه نور اوبو وړي...

-بچيه هغه په اور پسې کړه، خو د نږور مې ډېر ارمان دی!

سيدالخان د مور لاسونه ښکل کړل:

مورې شپه تر نيمايي اوړي، د اوړي شپې دي، خوب به کله کوو! بيا يې له اس نه زين لرې کړ، د وربشو کڅوړه يې ور په خوله کړه او بيا انګړ ته راوتلي په يوه وره ورننوت. مور يې څو ګامه وړاندې پر يوه بل وره ننوتله او کاينات بيا په چوپتيا کې ډوب شول.

سهار له لمانځه وروسته سیدالخان پر شاتوري اس پښه واړوله او چې له دروازې ووتو مور یې ورپسې غږ کړ:
زویه خیر دې وي چېرته په دې شنه سهار!
هغه له شا نه ځواب ورکړ:
مورې لنډ چکر وهم بېرته راستنیږم!

له لمر څرك سره سیدالخان اس تر جلب نیولی بېرته راستون شو، مور یې په دالان کې لمڅی غوړولی و، دوې پېغلوټې زرلښته او بدرۍ د مور تر څنگ ناستې وې، زرلښته چې تر بدرۍ مشره وه د سنیو څرخی یې په لاس کې و.

بدرۍ له یوه جام نه شړومې شړپولې. سیدالخان د توت له شاخ سره د اس جلب وتاړه، دالان ته راغی. بدرۍ ته یې په سر سپکه څپېړه ورکړه. دواړو خویندو په یوه غږ ورته وویل: لالا ستړی مه شې!
مور یې یو ځل بیا زوی ته په ځیر ځیر کتل. د هغه په تورو غټو سترگو کې یې سحرگره رڼا لیدله. له ځانه سره یې بیا دعا تکرار کړه:
خدایه له بدو سترگو یې را ته ساتې! بیا یې زرلښتې ته وویل:
څرخی پرېږده ورشه لورې، له نغري نه دې لالا ته شیدې راوړه، هغه چې جگه شوه دې له شا نه ورپسې غږ کړ: پېروی یې پکې را ټول کړه!
سیدالخان لږ چورتي غوندې و، مور ترې وپوښتل:
- زویه خیر خو به وي، چورتي را ته ښکارې!
- نه مورې خیر خیرت دی!
- گوره بچیه دلته خو بېگانه څوك نشته، دا څو ورځې را ته لږ بدل غوندې ښکارې!
- نه ادې جانې، همدغه یو غم دی، نوره خاصه خبره نشته. د گرگین نیت زموږ خان ته ښه نه دی، پر دښمن هېڅ باور نشته.
مور یې لږ را څکه غوندې شوه، پورته یې اسمان ته وکتل، وې ویل:
- بچیه! لوی الله ته به ټول سپارو. الله به خیر کړي، په شپه پسې آخر سبا راځي.

ـ بېشکه ادې! بېشکه، زموږ تکیه په خدای ده، که نه زموږ قام خو د ډېرو زورورو دښمنانو په منځ کې پروت دی؛ میرویس خان هم د الله پېروزینه ده، خدای عقل او تدبیر ورکړی، یوه لاره باسي. وچ په توره خو ډېره سخته ده.

خور یې شیدې راوړې، له دسترخوانه یې ډوډۍ را واخیسته او په سباناري بوخت شو.

زرلښتې په موسکا مور ته کتل او په سترګو کې یې پټه اشاره ورته وکړه، مور یې وویل:

ـ زویه ته خو پرون رانغلې، د لال ګل کوژده تېره شوه!

ـ ښه د لال ګل کوژده تېره شوه!

ـ هوکې ستا پوښتنه یې ډېره کوله.

ـ مورې زموږ دا درې څلور ورځې سرګردانۍ ډېرې وې، مجبور وم چې پاتې شم. څه ټوپک او تورې راغلې وې چې باید مناسب ځای یې پر ځای کړو.

مور یې نه غوښتل چې خبره بیا په بل لوري لاړه شي، وې ویل:

ـ بچیه یو ځل تورګل اکا او سدرۍ تورۍ ته مبارکي ورکړه، ګیله درنه کوي، لال ګل دې همزولی دی. تربګني ده دربانډې حق یې دی.

ـ په سترګو ادکې. له دې ځایه به سېده ورشم اکا او تورۍ ته به مبارکي ورکړم. ډزې به مې ورته کړې وې، خو اوس راته مناسبه نه ښکاري، ګولۍ او باروت مو پکارېږي.

زرلښتې لږ په شرمېدلې لهجه ورته وویل:

لالا د تا کوژده به څه وخت وي! همزولي دې آن لا د بچیانو خاوندان شول.

بدرۍ لږ پرې را زړوره شوه:

لالا یو ته او لال ګل پاتې وئ، هغه هم کوژده وکړه!

ـ چې وخت یې راغی و به شي!

سیدالخان دومره وویل غوښتل یې چې جګ شي او ځان وباسي. دغه مهال غنګ د کلا دروازه خلاصه شوه او د خړې پګړۍ خاوند د پاخه عمر یو بډیرور ور ننوت.

د نجونو چې سترګې پرې ولګېدې په تراټ ورغلې:

ملا ماما په خیر راغلې، دواړو یې لاس ور ښکل کړل، د سیدالخان مور وویل:

ملا لالا راځه په خیر راشې، خدای دې راوله... سیدالخان هم مخې ته ورجګ شو، جوړ پخیر یې سره وکړل.

میرزا خان د سیدالخان مشر ماما و، تر کنز او قدوري پورې یې کتابونه لوستي وو، نیمچه ملا و، د کوچیانو امامت یې دنده وه. د زکات او میراث په مسایلو یې ځان ښه ملا کړی و. د میږو او ګډو زکات خو هسې هم د ملا برخه وي، ژمی به د قام له کډو سره وزیرستان ته تلو. دوبی به بېرته را اوښتل. په ولس کې په میرزا خان اخوند مشهور و. کور یې یو کلی وړاندې په بل کلي کې و، خو دی به معمولاً په دوبي کې پاس د غره په ناوونو کې له خپلو مقتدیانو سره اوسېده.

خور یې ورته وویل:

ملا لالا هېڅ درك دې نه و، میاشت وشوه چې دې خوا ته دې پښبه نه وه شوې. لکه چې پوښه او پېروی درته پرېمانه دي.

- یه خورکۍ د پوښې او پېروي خبره نه ده، خو که رېښتیا را باندې وایې د سردار خان دوی پر کلي چې هغو کاپرانو چپاو راوړ، آبادې ته مې پښې هېڅ نه راځي!

خور یې وویل:

هغه خو ډېر لوی غم و، بس خدای تېر کړ. شهیدان خو یې د خدای مېلمانه شول، دلته یې کونډې او یتیمان موږ ته را د غاړې شول، سیدال بچي چې کومې کیسې کولې په ورځو ورځو یې خواږه را باندې زهر کړل ا.

هغه اوږې وخنډلې، دوی ته دې خدای اجر ورکړي، نور دې خدای له داسې غمه وساتي. بیا یې خورځو او خوریي ته وکتل، تاسو ان شاالله روغ یاست!

شکر دی، په دې حال سل ځله شکر دی...

بیا یې زرلښتې ته کړل:

ورشه ملا ماما ته دې شیدې را تودې کړه!

هغه وویل:

نه خورې حاجت نشته، ما سباناری کړی، د تورګل اکا له ښادۍ خبر شوم مبارکۍ ته یې ورغلم.

مشرې خورځې یې ورته وویل:

ملا ماما د نورو مبارکیو ته راځې، د خپل خوریي غم به کله خورې!

سیدالخان لږ په مصنوعي غوسه ورته وویل:

ای شوخې!

میرزا خان خور ته مخ ور واړاوه:

خورې دا خو په تا پورې اړه لري، ښه وايي نور سیدالخان ته لاس بند کړه.

هغې په گیله منه لهجه زوی ته وکتل:

ما خو سر پرې چپه کړ، خو دی نورې ببولالې غږوي!

سیدالخان په خبره کې ور ولوېد:

زما د کوژدې او واده خبره اوس مهمه نه ده، وطن پردیو نیولی، هره ورځ یې یو چېرته ناتار گډ کړی وي، په داسې وخت کې په داسې هوسونو فکر کول گناه ده!

میرزا خان غاړه تازه کړه:

نه! خوریه گله، دغه خبره سمه ده چې د پردیو چاره به کوو، د قام د عزت او ناموس دفاع به کوو، خو ژوند به هم کوو.

سیدالخان په پرېکنده لهجه وویل:

تر څو مو دغه گرجیان له وطنه شړلي نه وي، زه واده نه کوم.

-نه خوریه گله! شریعت وايي چې هم جهاد کوئ او هم ژوند.

بیا یې د اصحابو کیسې یادې کړې وې ویل:

سیدالخان خوریه! یوه مېرمن جهاد ته له یوه صحابي سره لاړه، هغه شهید شو، له بل سره یې واده وکړ او مدینې ته له هغه سره راستنه شوه.

له گرجیانو سره مو لانجه د کلونو خبره ده، پلار دې خدای وبښه د قام مشر و له صفوي ظالمانو سره یې ډغرې وهلې، اوس یې پگړی قام تا ته در په سر کړې، خو کاله دې بې مېړو مشه!

سیدالخان سر ښکته واچاوه، نور یې د ویلو لپاره څه نه لرل، وې ویل:

ماما جانه! زه یوه مناسب وخت ته گورم!... مور یې خبره ور غوځه کړه:

بچیه ملا ماما دې ښه وايي. همځولي دې نور یو هم پاتې نه دي، په کوژدو او ودونو شول. زما لوی ارمان دا دی چې کور دې آباد شي!

سیدالخان نور چوپ شو سر یې ښکته واچاوه. همدا یې د رضا نښه وه. میرزا خان یې خور ته مخ ور واړاوه:

د خوریي خوښه پر ما، خو تاسو کومه پېغله ورته خوښه کړې ده؟

پخوا تر دې چې هغه ځواب ورکړي، سیدالخان جګ شو وې ویل:

زه به یو ځل د تورګل اکا دوی مبارکۍ ته ورشم! او بیا په ګړندیو ګامونو له دالانه ښکته شو له دروازې ووت.

مور یې موسکۍ شوه وې ویل:

لالا زما خو د تورګل لور شیرینو ډېره خوښه ده، نه یې په کلي او کور کې په رنګ کې جوړه شته، نه په خوی کې . دروند کور دی، لال ګل او سیدال همځولي هم دي، له وړوکتوبه یې سره جوړه وه.

زرلښتې او بدرۍ هم په یوه خوله وویل:

شیرینو د کلي د پېغلو میره ده. جوړه یې نشته، زموږ له لالا سره ښه جوړېږي.

میرزا ګل وویل:

د تورګل اکا خو سیال سړی دی، دروند کور دی چې پر کور پېغله لور لري نو مه پرې ګورئ، ورشه خبره ورسره یاده کړه، که یې رضا وه مرکه ور ولېږه!

درې ورځې وروسته د سیدالخان ناصري له کوره د دریا غږونه او د نجونو د سندرو نغمې اوچتې شوې، پر هماغه جمعه یې د کوژدې ساده مراسم تر سره شول.

*****

د څراغ په تته رڼا کې د اوږدې خونې په بر سر کې ناستو کسانو ته د کوز لوري کسان سم نه ښکارېدل. میرویس خان پر کوربه غږ وکړ:

مراد خانه! کوم بل څراغ به نه وي؛ ستاسو لور ته خو زما نظر سم کار نه کوي.

هغه په منډه ووت او په تراټ یې یو بل درې کونجه له ختو جوړ شوی شیطان څراغ راوړ چې په یوه کونج کې یې پلنه پلته راوتلې وه. له هماغه څراغ نه یې بل کړ او بیا یې د خونې په کوزني سر کې له وره نه لږ بېرته کېښود. د دېوال شا ته سیوري جوړ شول چې د څراغونو رڼا ته به نځېدل.

میرویس خان په چورتونو کې ډوب و. میاجي یې تر څنګ ناست و، ورته کړل یې:

-خانه طبعه دې ختہ را معلومېږي.

-مولوي صاحب، یوه اندېښنه راسره ده، زموږ کار لا جوړ نه دی، خو داسې ښکاري چې گرگین راپور لري. زموږ په کار خبرېږي.

-پر علاف خو خبر شوو، ته څه فکر کوې بل څوك لري چې راپور ور وړي؟

-خامخا بل څوك لري، د علاف راپور یوازې درې ورځې کار ورکړ، وړمه ورځ مې چې گرگین ولید په سترگو کې یې د شك سیوري له ورایه ښکارېدل. له ما سره یې داسې په رمازه خبرې کولې چې ورته حیران شوم.

د اندړو د قام مشر بهادر خان چې تکیه وهلې وه را نېغ شو وې ویل:

که مو د جرگو خبره رسوا شوه، بیا خو هر څه لاړل، گرجیان نه زموږ د مشر پروا لري نه د کشر، د دورانو دولت خان یې له زلمي زوی سره شهید کړ، د ناصرو سردار خان او په سوونو نور شمله ور یې را ووژل... خانه د دې چاره پکار ده.

بل مشر چې توره پگړۍ یې پر زنگون ایښې وه، د بهادر خان خبره تائید کړه. وې ویل:

د مخبر چاره پکار ده.

میرویس خان وویل:

چاره به یې خامخا کوو خو تر هغو چې و یې پېژنو باید ډېر پام وکړو.

سیدالخان وویل:

-نظامي کلا به وڅارو چې څوك هلته تگ راتگ لري.

-یوه لاره یې دا هم ده! خو هلته ډېر کسان له مجبورۍ راشه درشه لري. دغه اغا جان علاف هم له مجبورۍ هلته ورتلو، کاروبار یې ورسره بند دی، غلې دانې پرې پلوري. کلا ته خو ډېر خلك ورځي، پر ټولو خو موږ باید شك و نه کړو.

خان بیا یو ځل د خونې پر ټولو حاضرو کسانو نظر را وگرځاوه، زیاته یې کړه:

تر څه وخته باید په دې ناستو کې پام وکړو. د کابل، ننگرهار او هزاره جات له مشرانو سره به یوه گډه جرگه کوو چې پرېکړه مو د ټولو قامونو په اتفاق شي. تر هغو پورې اړتیا ده چې لږ د گرگین پام پر بله واوړي.

بابوجان بابي بیا وویل:

خانه! نور که خدای کول په مشرانو کې د دوی فتنې کار نه ورکوي. په وړوکې کڅه به څوك وي، د دښمن په نرمه ژبه به تېر وتلی وي؛ خدای به خیر کړي.

میرویس خان موسکی شو:

همداسې ده. خدای مهربانه دی، دنیا په امید خوړه شي، خدای به هر څه سم کړي. بیا یې زیاته کړه:

ما یوه بله مشوره هم کوله...

ټولو میرویس خان ته وکتل، خان پر بږیره لاس را تېر کړ وې ویل:

ما خو چې د مغلو او صفویانو د دربارونو په باب څومره اورېدلي او څه مې لیدلي دي، که لږ هوښیاري وي ډېر کار پکې کېدای شي!

دوه درې غږونه جگ شول:

هغه څنگه؟

- په دې دربارونو کې د دروازې له ساتونکي، د حرم تر رازداره هر څوك د خپلې گټې یار دی. د گور د چینجیو په څېر یو بل خوري. پاچاهانو پخپله دغه وضعه راوستلې ده، ټول یې یو پر بل پسې اچولي دي، صدراعظم د دربار وزیر ته غل، د پوځ اعلی سالار صدراعظم ته، بس هر یو یې په دې هڅه کې وي چې ځان پاچا او ملکې ته تر نورو وفادار وښیي او په نورو پسې داسې څه وتړي چې پاچا پرې شکمن وي. پاچا پخپله تر غوږو په فسادونو کې ډوب وي....

که موږ د گرگین د ظلمونو او ناروا په اړه یو لیك شاه حسین ته واستوو او هلته په هوښیارۍ داسې څوك پیدا کړو چې د گرگین سره جوړ نه وي، د دې سړي له شره خپل قام او ولس ډېر خوندي کولای شو.

د کاکړو مشر یونس خان پر گڼو برېتو گوتې را تېرې کړې وې ویل:

- خانه خبره دې ډېره درنه ده، خو که لږ غلطي وشوه گرگین لیوه دی په لیوني لیوه به بدل شي.

ـ هوکې، هوکې ! که بېغوري وشي همداسې کېدای شي. ما خو مخکې درته وویل چې دربارونه له څه ډول خلکو ډك دي. خو په لږ هوښیارۍ دوست او دښمن پکې پېژندل کېدای شي!

لږ وروسته پر لیك توافق وشو او درې کسان له گرانبیه سوغاتونو سره اصفهان ته د استولو لپاره غوره شول.

*****

وړوکی کاروان خوځېدو ته چمتو شو، څلور اوښان او شپږ اسونه ټول ټال ۱۵ تنه، هر څه چمتو دي، شمروز خان، د میرویس خان کشر ورور یحییٰ خان او د کاکړو یو جهاندیده په عمر پوخ سړی میرا خان ورسره دي، شمروز خان میرویس خان ته مخ ور واړاوه:

خانه! نور دعا راکوه چې د لمر په تودوخه کې د دښتو مزلونه له سړي سبك باسي.

هغه درې واړه په اشاره ور وغوښتل چې ور نږدې شول، لږ په ټیټ غږ یې ورته وویل: گورئ ډېر پام به کوئ، تاسو سوداگر یاست، چې څوك دربانډې خبر نشي چې بل مقصد لرئ! سوغاتونه ښه درسره سنبال کړئ، چې له لاسه مو و نه وځي چې بیا به مو کار سخت شي. یو لیک یې ورته ونیو وې ویل:

دا د حسین قل لیک دی، د کاکا زوی یې د نقش جهان میدان په ختیځ بازار کې د ټوکرانو دوکان لري، لیک ورکړئ هغه ته ځانگړې ډالۍ په یاد ساتئ، ان شا الله مرسته درسره کولای شي، د نورو درباریانو په باب به ډېر پام کوئ. که هوښیاري وکړئ تاسو ډېر زر د گرگین مخالفین او دوستان پېژندلی شئ. نور نو پخپله پوهېږئ چې څنگه تر پاچا لاره وباسئ او زموږ د خلکو عرض ور ورسوئ.

له لیکونو سره به ډېر پام کوئ. له اصلي خلکو یې بل څوك باید درسره و نهویني چې سر ته مو خطر دی. بیا یې لاس په دعا اوچت کړل، مخه ښه یې ورسره وکړه:

درځئ په مخه مو ژېړي گلونه، میرویس خان پر خپل اس پښه واړوله، اس یې پونده کړ.

یو ساعت وروسته وړوکی کاروان د سپېرو غونډیو په کږلېچونو کې ورك شو.

*****

یوه اونۍ وشوه چې د کندهار استازي اصفهان ته را رسیدلي وو، دغه ښار د پخوا په ځېر له ګڼې ګوڼې ډک او په هر راز نعمتونو مالامال و، نقش جهان میدان نو هسې په نامه میدان و، څلورو لوریو ته د ډېرو شاندارو ودانیو لړۍ، هر لوري ته له ډول ډول شیانو ډک بازارونه، اصفهان نصف جهان له مصداق سره سم وو. دوی چې شاوخوا منظمو ودانیو او سمسورو چمنونو ته کتل یحیی خان وویل:

ورور مې ملامت نه دی چې له خپل حالته سر ټکوي. ته کندهار ته ګوره او اصفهان او نورو ښارونو ته ګوره! موږ ته یوازې د خولې لاپې را پاتې دي.

دوی درې واړو هر یوه یو کمال درلود. شمروزخان یو عمر تجربه درلوده، په ډېرو شیانو یې مازغه خلاص وو، د مشورې سړی و خو د ژبې فصاحت یې نه درلود، یحیی خان د میرویس خان په غونډو او ناستو کې روزل شوی و، په خبرو او دلیل کې بې جوړې و، میرزا خان بیا په څو خبرو کې د بل لوري فکر او سوچ لوستلای شوای، پر وړتیاو او کمزوریو یې پوهېدای شوای. په اصطلاح شپږم حس یې ډېرپیاوړی و، دوی به چې د ورځې څه ولیدل ماښام به یې پر هغو لنډه سلا سره کوله.

د حسین قل د کاکا زوی اتمان قل یې سبا ته پیداکړ، هغه ژمنه ورسره وکړه چې ډېر زر به یې له محموداغا سره مخامخ کړي، محمودآغا د اعلیحضرت خواجه سرا او خانه سامان و، د پاچا او ملکې د راز سړی و، خو اونۍ یې په انتظار تېره شوه، تر اوسه له نورو مسوولو چاواکیو سره نه وو مخامخ شوي چې خبرې ورسره وکړي او د یارانې تار ورسره وغځوي. له شاهي ماڼۍ نه یې څو ځلې جوپې جوپې کسان لیدل چې په یوه مخه به ووتل او وروسته به بیا راستانه شول. دوی به په ورځ کې یو ځل د اتمان قل د دوکان چکر واهه، هغه ته یې د مزاري قره قل یوه خولۍ او یو د موري غالۍ جاینماز ډالۍ ورکړل،

چې ډېر پرې خوشاله شو. میرزاخان ویل چې اتمان قل مخلص سړی دی، خو ډېره تمه ترې نه ده په کار ځکه چې له لویو خلکو سره اړیکي نه لري.

دوی (نقش جهان میدان) ته نژدې په یوه لوی کاروانسرای کې اړولي وو، خبره تر اونۍ واوښته ماښام چې په کاروانسرای کې په خپله خونه کې را غونډ شول، درې واړه په چورتونو کې ډوب وو. د انتظار هره ورځ ورته کال شوه، یحییٰ خان د خپل ورور په مزاج ښه پوهېده چې لږ بې احتیاطي هم نشي زغملی. دوی اوس پوهېدل چې دا داسې ساده ماموریت نه و چې دوی ته سپارل شوی و. نږدې تر نیمې شپې یې پر بېلابېلو لارو سلاوې کولې، خو هېڅ سر یې را جوړ نه کړ او هر یو خپلې بسترې ته لاړ او ویده شو.

سهار لمانځه مهال په شور ماشور راویښ شول. چې ور ووتل وروسته وپوهېدل چې د یوه سوداگر مال ورک شوی و.

داروغه راغلی و، عامه تالاشي او لټون پیل و د یوه بلوخ سوداگر دوه باره مال ورك شوی و. دعوه یې دا وه چې له هنده یې قیمتي جامې او ټوکران راوړي وو. دوه باره یې ورك وو، نور یې پاتې وو. څه یې پلورلي و او څه ورسره وو. دا یې دوهمه اونۍ وه چې له لاهوره اصفهان ته راغلی و. تالاشي د دوی تر خونې هم راغله او داروغه شمروز خان دوی ته په شك کتل.

ددې پېښې خبر شاهي مانۍ ته ورسېد او د دربار نژدې کسان پرې خبر شول، یحییٰ خان دوی ته هم دا ښه فرصت و، اتمان قل ته یې خبر ورکړ، هغه راغی له یوه تن یې د محموداغا پوښتنه وکړه، هغه یوه ښکلي متهور ایرانی ځوان ته اشاره وکړه:

هغه ځوان یې خاص ملگری او همکار دی.

اتمان قل ورغی لاس یې ورکړ، د ځوان نوم سلمان علي و، هغه ته یې وویل چې محموداغا مې دوست دی سلام مې ورته وایه. ته ډېر بختور یې چې له داسې یوه عزتمن سړي سره همکار یې، سلمان علي یې پر خبرو راوست، بیا یې د شپې میلمستیا بلنه

ورکړه. ورته وې ويل يو دوه سوداگر مې هم ميلمانه دي ساعت به دې ورسره تېر شي، سلمان يې بلنه ومنله.

د شپې ډوډۍ يحيى خان دوى تياره کړې وه، دوى هم له سلمان علي سره اشنا شول، له هرلوري خبرو او بنډار دوام وموند، وروسته يې هغه له يوې ډالۍ سره رخصت کړ. ميرزاخان خپلو انډيوالانو ته وويل:

سلمان هم ماته د کار سړى نه ښکاري.

څو ورځې نورې هم تېرې شوې، يوه ورځ سلمان علي مازيگر مهال سراى ته راغى، دوى درې واړه يې د (نقش جهان ميدان) ته د ننه يوې لويې مانۍ ته مېلمستيا ته بوتلل، نقش جهان لوى تاريخي ميدان و څلورو لوريو ته يې شاندارې ودانۍ او جوماتونه وو، له هغو سره جوخت بازارونه وو چې د مرغه پى هم پکې موندل کيدې. هغه څو تنه نورهم مېلمانه کړي وو. دغه د مستيومحفل د دوى په مزاج برابر نه و، خو له مجبورۍ پکې ناست وو. ساز او سرود پکې په اوج کې و، د سرو جامونو دورې رواني وې.

چې شپه پخېدله د محفل ياران ورسره بې واکه کېدل. دوه ځله دوه درباري سيالان سره ونښتل، يو بل ته يې د مور او خور تر ښکنځلو خبره ورسېده، خو نور يې د نشې له زوره د دې توان نه و چې تورې را وايستلى شي.

شپه چې تر نيمايي اوښته د مېلمستيا تر نيمو زيات گډونوال نور له ځان او جهانه خبر نه وو. شمروز خان له خپلو دوو ملگريو سره له خپل کوربه نه اجازه وغوښته. سلمان علي چې د نېشې په اووم اسمان کې و دوې نجونې يې په غېږ کې پرتې وې. دوى نور دا په خير بلله چې له دې بدمسته محفله پښې وباسي، خپل سراى ته لاړل او ويده شول.

سهار يې چې سترگې وغړېدې لمونځ پرې قضا شوى و، پر سباناري چې راټول شول خبره يې پر دې وه چې پاچا ته څه ډول د خپل مشر او ولس پيغام ورسوي. بالاخره يې پرېکړه پر دې شوه چې خبره به له همدې ځوان شرابي سره شريکوي.

په همدې ماښام دوی له هغه سره ولیدل او خپله خبره یې ور سره وکړه. سلمان ژمنه وکړه چې له محمود اغا سره به یې د لیدو زمینه ورته برابروي، دوې ورځې وروسته دوی د شاه حسین د خواجه سرا او خاص خانه سامان په مخکې ناست وو. هغه ته یې خپله مدعا وویله، محموداغا تر څنډه سر ښکته اچولی و، بالاخره یې سر راپورته کړ، پر شونډو یې پیکه موسکا وه، یحیی خان ته یې مخ ور واړاوه:

ښه نو تاسو له گرگین خان نه په شکایت راغلي یاست!

یحیی خان غاړه تازه کړه:

جنابه! موږ د خپل ولس د مظلومیت عرض راوړی دی.

هغه وروځې کش کړې:

خبره یوه ده، تاسو د صفوي ټولواکی له بیگلربیگي نه شکایت کوئ!

یحیی خان په غوږ کې میرزا خان ته وویل:

د ډالیو لپاره څه پاتې دي.

-یو څو وریښمین ټوکران او درې څلور گوتیې خو پاتې دي.

د محموداغا روغبړ تر ډېره دوستانه و خو له دوی سره یې غوڅه ژمنه ونه کړه، چې غوښتل یې لاړ شي، یحیی خان جگ شو، دوې د وریښمو جوړې او یوه گوته یې چې د سرو یاقوتو گرانبیه غمی یې درلود راوړل، محموداغا ته یې ونیول:

دا تاسو ته یوه ناڅیزه ډالۍ، ستاسو وړ نه ده خو قبوله یې کړه!

محمود اغا گوته او جوړه ور سره واخیستل، گوته یې ډېره په لاس کې یوې او بلې خواته واړوله، وې ویل:

د میرویس خان د ځوانمردۍ مې ډېر اوریدلي وو، دغه ډالۍ مې باوري کوي چې هغه ټول ریښتیا دي. مننه یې وکړه او رخصت شو. دوې ورځې وروسته محمود اغا بیا راغی، دوی ته یې وویل:

اعلیحضرت له تاسو سره د لیدو وخت نه لري، که څه پیغام ورته لرئ ماته ووایئ!

درې واړو یو بل ته وکتل، په سترگو کې یې له یو بل پوښتل چې اوس څه وکړي؟

بیا یحیی خان وویل:

ښاغلیه، موږ باید له اعلیحضرت سره خامخا ووینو.

د محموداغا پر مزاج دغه خبره ښه ونه لګېده جګ شو لنډ ځواب يې ورکړ:
بس نو ورته واړوئ! او بیا په خپله مخه لاړ.
دوی بیا سره کیناستل چې څه وکړي، شمروزخان وویل:
ورکوه يې دا یوه هګۍ يې خوسا، بل څوک به پیدا کړوخدای مهربانه دی. یحیی خان وویل:
سلمان علي به راټینګ کړو.

تنکۍ غرمه وه یحیی خان او شمروز خان له سلمان علي سره د کاروانسرای په خونه کې ناست وو، د هغه څلور تنه ساتونکي د باندې برچه پك د دروازې په مخه کې ولاړ وو.
میرا خان د باندې ووت په ذهن کې څه ور وګرځېدل ورغی، څلورو واړو ساتونکیو ته يې یوه یوه د سپینو زرو سکه ورکړه ورته وې ویل:

ستاسو مشر ډېر شریف او ښه انسان دی، خو چې هر څومره شریف شي هغه د خپلو ساتونکیو ډېره پروا نه لري. سکو خپل کار کړی و که يې د قوماندان د ستاینې پر ځای کنځلې هم ورته کړې وای دوی به سوڼ نه و وهلی.
سکې يې له دې وېرې زر زر په جیبونو ومنډلې چې سلمان پرې رانشي او ترې غصب یې نه کړي. د دوی څلورو واړو خولې وړینګې پاتې شوې.
میرا خان ورته وویل:
ستاسې مشر ډېر عجیب عادتونه لري، یو خو يې شراب ډېر خوښېږي، بل يې له مستو نجونو سره ډېره مینه ده، هغه بله شپه يې پینځه نجونې په غېږ کې نیولې وې!
یوه يې لنډ ځواب ورکړ:
ښاغلیه دنیا تېره ده، همدا څو ورځې ژوند دی چې په اندېښنو يې تېروي ولې يې په خوښیو تېر نه کړې.
میرزاخان ترې وپوښتل:
نور شوقونه يې څه شی دي، موږ خو ډېر ورسره بلد نه یو.
یوه تن چې خوله يې په خندا تر غوږو پرانیستې وه وویل:

دمې او پیسې یې دواړه خوښېږي، خو له مېرمنې یې نفس وځي!

ملگري يې لږ په تونده لهجه ورته وويل:

رمضانه! که خبر شي چې خبرې ورپسې کوې، سر به دې والوځوي.

هغه په جيب لاس وواهه، د سکې اشاره يې ورکړه، وې ويل:

څه ياره څوك به يې خبر کړي؟

درېيم يې پرې راغبرگه کړه:

رمضان ريښتيا وايي دی پر موږ پټکې کوي خو په کور کې يې بيا د مېرمنې حکم چلېږي. د محمود‌اغا سره هم د ميرمنې په زور ټاکل شوی، وايي د کرمان د سيدانو له کورنۍ او د اعليحضرت د کشرې ملکې شهبانو نازنين خورلڼه ده، په حکومت کې ډېر واك لري، اصلاً دوی ټول د دوی د مېرمنې د کورنۍ په سپارښتنه د سترو مقامونو او اعتبارخاوندان شوي دي.

هغوی چې لاړل ميرزا خان خپلو ملگريو ته وويل:

سلمان د خپلې ښځې غلام دی، بيا يې د هغه له ساتونکيو سره د روغبړ کيسه ورته تېره کړه وې ويل:

که يې د مېرمنې لپاره څه ډالۍ کار ورکړي.

بله ورځ چې سلمان علي د شمروز خان دوی ليدو ته راغی، هغوی درې جوړې وريښمينې گرانبيه جامې او يوه د سرو ياقوتو گوتې په مخ کې ورته کېښوده. سلمان علي چې ډاليو ته وکتل، نږدې و چې سجده ورته وکړي. په ډېره خوشالۍ يې ډالۍ ورسره واخيستې او له ځانه سره په خبرو سر، د شاهي کلا په لور روان شو.

درې ورځې وروسته دوی د سلمان علي په مرسته د دربار له څو نورو کسانو سره هم وپېژندل. يوه يې د پاچا تر خاص حرم پورې لاره درلوده، مهماندار باشي علي تبريزي د پاچا له خاصو اردليانو څخه و. معمولاً به يې د شاهي مېلمنو خدمت کاوه. هغه د حرم له مېرمنو سره هم نږدې و، علي خاص مهارتونه درلودل، د پاچا او د هغه د حرم د مېرمنو په تېره د کشرې ملکې شهبانو نازنين د غوسې او مهربانۍ رگونه ور معلوم وو، ځکه خو يې آن پر صدراعظم هم رعب پروت و. ميرزا خان چې دا حالت ليدو له ځانه سره يې ويل (که خدای کول وروستۍ ډالۍ کار وکړ.)

سلمان علي یوه ورځ د شاهي نوکرانو په جامو کې هغه راوست یحیی خان ته یې وویل: دا مهماندارباشي علي تبریزي دی، د اعلیحضرت تر حرم پورې آزاد دی، د پاچا تر ټولو باوري سړی دی!

علي یو د ټیټ قد، وړوکي مخ او تنګو سترګو خاوند و، ظاهراً ساده باده بنیادم ښکارېدو. په څېره کې یې هم خاص راښکون نه و، دوی پرې شکمن شول، وروسته چې هغه په خبرو راغی وپوهېدل چې سلمان علي ریښتیا وایي. علي د شاه حسین د حرم خاص سړی و، نوموړی اصلاً د ملکې (شهبانو نازنین) د استخباراتي شبکې مشر و. خو ظاهري دنده یې د شاهي مېلمنو خدمت او پالل وو.

شمروز خان دوی له معمول سره سم ګرانبیه ټوکر او غمي ورته په مخ کې کېښودل، خو هغه داسې ورته وکتل لکه ډېر بې ارزښته شي ته چې ګوري. دا لومړی ځل و چې دوی داسې یو څوک لیدو چې ډالۍ ور ته بې معنا وې. علي تبریزي په سړه لهجه ورته وویل:
ښه اصل مطلب مو وایئ!
دوی هك پك شول چې څه ووایي. تر یوې نیمې میاشتې یې ډېره موده وتلې وه، نور انتظار هم ورته مناسب نه و، د وطن نه یې ښه خبرونه نه اورېدل، میرویس خان دوه ځله احوال ورکړی و چې دلته سور اور بل دی، لږ وخوځېږئ.
شمروز خان یحیٰ خان ته وکتل، په سترګو کې یې سلا وکړه او یو بل یې وپوهول.
شمروز خان غاړه تازه کړه:
جنابه! زموږ هیله اعلیحضرت ته د خپلو مشرانو پیغام رسول دي، نور هېڅ بد نیت او بل خاص کار نه لرو. د اعلیحضرت د اقبال ستوری دې ځلاند وي!
- پیغام مو څه دی! څه لیك، څه خبره؟!
شمروز خان وویل: جنابه! د اعلیحضرت حضور ته...
هغه یې په نرمه خبره ور غوڅه کړه:
تر پیغام وروسته به اعلیحضرت پرېکړه کوي چې تاسو حضور ته ومني که نه!
دوی یو بل ته وکتل، بیا یحیی خان جګ شو د کټ تر څنګ یې له یوه وړوکي صندوق نه د میرویس خان لیك را ویوست او علي تبریزي ته یې ونیو.

هغه لیك واخیست. را جگ شو، په مخکې ایښې ډالی یې هماغسې پرېښوده، وې ویل:

تر سبا پورې به په ځواب خبر شئ، بیا یې وویل:

دې ته مو پام وي چې نور سوغاتونه وېشل درته گټه نه لري، په تلو کې یې سلمان علي ته اشاره وکړه، بیا گړندی ووت سلمان ورپسې شو او دوی دواړه هك پك پاتې شول.

لږ ځنډ وروسته له الوتي رنگ سره سلمان علي خونې ته ورننوت، تندي ته یې شړك ورکړ:

غرق شوم، برباد شوم، لکه چې د کلونو باور او عزت مې ستاسو سپېرو له لاسه برباد شو.

اتمان قله، په څه غم دې واړولم! پاچا به مې توپ ته وتړي...

یحییٰ خان په تسلې ورته وویل:

تا خو هېڅ داسې کار نه دی کړی چې پاچا سزا درکړي. ولې وارخطا یې!

هغه په هیجاني حالت کې ځان ته کنځلې پیل کړې:

زه احمق یم، زه خر یم چې ستاسو ډالیو مې سترگې وبرېښولې. تر دې نور هم احمق یم چې دربار ته نږدې یم، خو د دربار خلك سم نه پېژنم... علي تبریزي ما د پاچا د وفادار نوکر په توگه پېژانده، پر دې نه پوهېدم چې هغه د دربار تر بل هر مقام د زیات اعتبار او واك خاوند دی.

یحیی خان بیا ورته وویل:

ته غم مه کوه، موږ چې پیغام ترلاسه کړ ستنیږو تاته به بیا هیڅ خطر نه وي.

هغه په داسې لهجه چې ژړاته ورته وه وویل:

تاسو پوهیږئ چې دې خبیث ماته دا اوس څه وویل؟

- څه یې وویل؟

هغه دروازې ته وکتل بیا یې لږ په ټیټ غږ وویل:

ویل یې چې دغه خلک له گرگین خان نه په شکایت راغلي، له هغه چانه چې ورور یې د اصفهان دیوان بیگي دی! که راباندې خبر شي چې ما له تاسو سره مرسته کوله څوک به مې بیا مړی هم پیدا نه کړي.

سبا ته ځواب راغی چې پاچا د خپل وفادار حاکم گرگین خان پر وفادارۍ ډاډه دی، د صفوي حکومت مخالفین او بېلارې سني علما یې مخالفت کوي. پاچا په کلکه د گرگین ملاتړ کوي او پر خلاف به یې هېڅ شکایت وا نه وري.

دوې میاشتې وروسته لېږل شوی پلاوی کندهار ته ناکام را ستون شو.

*****

یوې اته کلنې نجلۍ چې پر سره کمیس یې سپینې روپۍ برېښېدلې، شین ټکری یې پر سر و او په رنجو تورې سترگې یې تر معمول ډېرې غټې ښکارېدې، په یوه پراخ باغ کې د ځوانانو بنډار ته ور وکتل په لوړ غږ یې وویل:

سالار لالا مور دې غواړي!

یوه زلمي بل ته پر شا ټپ ورکړ:

لاړ شه خو بېرته زر راځه!

بل پرې ور غبرگه کړه:

جامې پرې نیسي کوم بل فرمایش به ترې غواړي، د مور یو زوی دی!

یوه بل ورته وویل:

هغه نبي جان ته ووایه دېگونه به بل څوك سنبال کړي یوه جوپه خو ډول غاړې ته کړه!

هغه ړومبي ور غبرگه کړه:

ریښتیا وایې دا بې ډنگ او ډونگه کوڅده خو ولا که خوند کوي...

ـ د کاکا زویه! د ماما د لور پېغور ځانته مه پرېږده. دا به څه ښادي وي چې څښې پکې و نه غورځې، ځوانان پکې اتڼ و نه کړي.

احمد سالار خپل یوه همځولي ته وویل:

ورشئ نبي جان راولئ، دېگونو ته به خواځك لالا پام کوي.

لږ وروسته د ډول ډنگ اوچت شو. د ځوانانو دایره جوړه شوه. د ډول غربي ته څښې واوښتې را واوښتې او واړه او زاړه کلیوال د باغ پر څنډو ورته راټول شول.

کلی ټول د خوښیو په څپو ډوب شو.

احمد سالار د همځولو له سکونډلو ځان را ویوست، د بڼ له یوه نیم لوېدلي دېواله یې پښه واړوله، مخامخ د زړې کلا د لویې دروازې په لور ورغی، د کاله په انګړ کې د نجونو او ښځو ډېر بېروبار و، سالار هماغه نجلۍ ته چې څو ګامه لرې ولاړه وه وویل:

فیروزې! ادې چېرته ده! هغې دالان ته لاس ونیو:

هلته ده لالا.

دالان د دروازې ښي لوري ته څو ګامه وړاندې د غوجل پر سر جوړ و، د کلا له دېوال سره د ختو زینې ور ختلې وې.

لوی دالان د کلي او شاوخوا خپلوانو له ښځو او وړو ماشومانو ډك و. یو شور او زوږ و. کله کله به د دریا له غږ سره د کومې نجلۍ د بې سُره سندرې غږ اوچت شو، خو په شور او زوږ کې به ورك شو.

له کونجه یې د مور غږ واورېد:

سالاره زویه!....هغه څو ځواب ورکاوه د نجونو یوه ټېله راغله، نږدې وه چې احمد سالار په زینو کې لاندې را وغورځېږي. په دېوال یې ځان تکیه کړ، خو توره مشهدۍ لونګۍ یې ول ول په غاړه کې ور ړنګه شوه او تورې څڼې یې پر مخ ور خورې شوې. مور یې د ښځو او ماشومانو په منځ کې لاره وایستله. د دالان مخې ته راووتله، بیا یې هغه تر لاس ونیو لاندې یې راوست. انګړ ته په راوتلې یوه وره یې ورسره ننه یوست.

سالاره زویه! یو ځل دې له ماما کره لاړ شه، بل څوك نشته چې و یې لېږم.

هغه لږ په حیرانۍ وپوښتل:

-مورې د څه لپاره؟

-ورته ووایه چې مېلمانه ډېر راځي، دوی به د پنځوس شپېتو تنو تیارې نیولې وي خو په خدای که تر اوه شله- یو نیم سل کم شي. بیا به ګیله کوي چې زما دسترخوان دې سپك کړ، ورشه احوال ورکړه.

احمدسالار په زړه کې ښه خوشاله شو، خو په خوله یې څه ونه ویل، د ماما کور یې چې اوس یې دی زوم شوی و د دوی کلي ته نږدې و یوازې سیند یې ترمنځ تېر و. مور ته یې ښه ده وویل او له کوره را ووت.

هڅه یې کوله چې له کلي غلی را ووځي او کلیوال او همځولي یې خبر نشي چې د ماما کره لاړ، د شوخو ځوانانو له سکونډلو او ټوکو به بېغمه وي.

د هغه په سترگو کې د ماما لور سپوږمۍ گرځېده، سپوږمۍ د اسمان د سپوږمۍ په څېر یوه پېغله وه، احمد چې ځوان شو سپوږمۍ یې د خوبونو ملکه گرځېدلې وه، په شاوخوا کلیو کې یې د ښایست او کمال ډنډورې وې، د لویو کورنیو نظر پرې پروت و خو د احمد سالار مور پر نورو وار ړومبی کړ. دوې میاشتې کېدې چې د ده په نامه شوې وه. دغه دوې میاشتې د ځوان احمد د ژوند تر ټولو خوږې او خوندورې شېبې وې، نن یې کوژده وه، احمد سالار د خیالونو په اووم اسمان کې گرځېده. ماما یې دوه زامن او یوه لور درلودل. مشر زوی یې محمد بلال تر احمد درې کاله مشر و. ورپسې محمد کمال د احمد همځولی و. خور یې سپوږمۍ بیا تر کمال څلور کاله کشره وه.

احمد سالار په لاره هېڅ و نه پوهېده. یو وخت یې چې گڼې گوڼې ورپام کړ د ماماخېلو د کلي په منځ کې و. هلکان پرې ور ټول شول او چیغې یې کړې:

زوم راغی! زوم راغی، خو دوو تنو مشرانو هلکان وځغلول. سالار له دوی سره تر جوړ تازه وروسته د ماما د کور پر دروازه ور ننوت. د مور پیغام یې ماما ته ورساوه، شاوخوا ته یې د سترگو له کونجونو کتل، خو سپوږمۍ یې ونه لیده، د کلي ساده چاپېریال او خپلې حیا نور اجازه نه ورکوله چې تم شي؛ راووت، گامونه یې داسې درانه لکه په ختو کې چې روان وي. زړه یې د ماما په کور کې د سپوږمۍ وړانگو ته پرېښی و، کالبوت یې په زور ورسره کشاوه. له دې اړخه لاره ډېره ورباندې اوږده شوه.

ناڅاپه یې خیالونه داسې وتښتېدل لکه له خواږه خوبه چې څوك په یوه جټکه را ویښ شي. د ټوپکو کړسهار شو، کرېږې اوچتې شوې، د اسونو شیشنېدا او د باروتو لوخړو هر څه روښانه کړل. بیا ټکه را لوېدلې وه. احمد سالار تش لاس و، نن یې د کوژدې ورځ وه خو تقدیر بل څه لیکلي وو. بېرته د ماما خېلو د کلي په لور را وگرځېد، ډزې او کوکارې له همدې کلي راپورته شوې، پر دې نه پوهېده چې ولې تش لاس هلته روان

دی او چې څو یې حواس پر ځای کېدل د کلي په منځ کې د گرجي پوځیانو تر کتارونو رسېدلی و.

یو سورمخی چې پر کیڼ غومبوري یې تور داغ و په خندا پر شا مات شو:

راځه ځوانه! یوازې ستا ځای تش و. سالار چې شاوخوا ته سترگې وغړولې حواس یې پر ځای شول. د ماماخېلو کلیوال یې ولیدل چې د یوه دېوال مخې ته یې لاس تړلي درولي دي. د ماما د کور دروازه یې دواړه پلې خلاصه وه، شاوخوا ته تر دوو سوو ډېر گرجي پوځیان پر اسونو سپاره دي. په لاسو کې تورې او ټوپك مخونه او ځانونه په زغرو او خولونو کې پټ.

احمد سالار پر راتگ پښېمانه شو، درېغه پر کلي مې چیغه گډه کړې وای!

بیا په زړه کې ور وگرځېدل:

د ډزو په اورېدو به ټول خبر وي، دومره نامردي به نه کوي را به شي…

د سالار د ماما جلال خان له کوره د ښځو غوغا اوچته شوه، دوه درې ډزونه وشول او بیا څو تنو گرجیانو درې تنه ښځې تر وېښتانو نیولې او په کشولو یې را وایستلې، یوه یې سپوږمۍ وه. د احمد پر سترگو تیاره راغله، نور پر ځان پوه نه شو، یو وخت یې پام شو چې د یوه گرجي پوځي پر سر وینې را ماتې د ده له منگولو خلاص شو او بیا یې تر ټټر یوه لمبه تېره شوه، پر سترگو یې تیاره راغله، داسې چې بیا پرې رڼا را غبرگه نه شوه. ولوېد لونگۍ یې له سره وغورځېده او تورې څنې یې پر مخ را خپرې شوې، گرجي مشر چې له ککرې یې وینې روانې وې، پر احمد د تومانچې درې ډزې نورې هم وکړې، له څو شېبو وروسته ډزې کرارې شوې، د کلي په منځ کې په لسگونو کلیوال په وینو کې پریوتل. گرجي پوځیانو پر اسونو پښې واړولې، څو تنه یې د شهیدانو په جیبونو بوخت وو، چې یو ځل بیا د ټوپکو کړسهار د کلي په ختېنو دیوالونو کې را غبرگ شو.

د احمد اټکل ریښتیا شو، ناڅاپه د تکبیر له نارو سره د کلي په منځ کې تن پر تن جگړه ونښته، د ټوپکو ډزې د باروتو بوی، سوې کړیکې، د تورو شرنگ، د ککرو لوېدل ښه څنډه دوام درلود او بیا له شیشنېدا سره د اسونو کتار له کلي ووت، یوازې کړیکې او

فریادونه پاتې شول. گرجیانو خپل مړي ورسره یووړل، یوازې پینځه تنه ترې پاتې شول. لس ټپي اسونه هم ترې پاتې وو. د سپوږمۍ او احمد په شمول څلوېښت تنه شهیدان ځای پر ځای پراته وو، تر پنځوسو زیات ټپیان وو، شېبه په شېبه د شهیدانو شمېر زیاتېدو، تر ماسپښین پورې تر یواویا پورې ورسېدل. د کلي میدان د کربلا ننداره وړاندې کوله، له شاوخوا کلیو خلک را غلل، جنازې اوچتې شوې ۱۳ تنه د احمد سالار کلیوال وو، د هغوی جنازې د خپلې هدیرې په لور وخوځېدې، یوه ځوان چیغه کړه:

مشرانو! د خدای لپاره د غیرت شهیدان مه بېلوئ! په یوه ځای شهیدان شوي، راځئ په یوه ځای یې خاورو ته وسپارو او بیا د کلي بر لوري ته په یوه ټیټه غونډۍ یوه نوې ادیره جوړه شوه... د نوې ادیرې یوه اړخ ته څو قبرونه څنگ تر څنگ وو، په دوو کې یې احمد سالار او سپوږمۍ پر ابدي خوب ویده وو، مازیگر مهال یوه په تور ټیکري کې پټه ښځه او یوه اته کلنه نجلۍ د دواړو قبرونو تر څنگ ناستې وې، ښځه به کله پر یوه قبر ور ړنگه شوه او کله پر بل. نجلۍ حیرانه ورته ولاړه وه یوازې سلگۍ یې وهلې. پر شناختو سره او شنه بیرغونه رپېدل د شمال څپو له شناختو د څیلۍ د لیوانو په څېر د انگولا ږغونه ایستل، چاپېریال د ویر او غم تر درنو څپو لاندې و.

*****

لومړی ځل ؤ چې ملگرو یې د میرویس خان په تندي کې د غوسې لیکې لیدلې. تر ډېره یې سر ښکته اچولی ؤ. بیا یې راپورته کړ، سیدالخان، بابي، میاجي او نورو ملگریو ته یې وکتل وې ویل:

یوه چاره په کاره ده! تر وروستي تصمیم او پاڅون مخکې باید د دوی غاښ وبرېښي، داسې خو ډېره گرانه ده چې هره ورځ دې دوی پر کوم کلي چپاو ور وړي.

سیدالخان په پرېکنده لهجه ورته وویل:

خانه ته یوازې حکم وکړه، د گرجیانو سرونه به په نېزو کې ټومبلي درته راوړو.

میا جي وویل:

خانه! نور ولس ته هم د دې وضعې زغم گران دی.

میرویس خان وویل :

اوبه له اصفهانه خړې دي. شاه حسین چې د ګرګین په باب زموږ د شکایت پروا ونه کړه، د ده غاښ نور هم تېره شول. ماته داسې ښکاري چې قصداً اوس زموږ ولس آزاروي چې زموږ ځپلو ته څه پلمه په لاس ورشي.

میرویس خان سیدالخان ته مخ ور واړاوه:

- ته سمدسي څومره ځوانان چمتو کولای شې؟

- خانه چې څومره غواړې! دوه سوه، درې سوه، پینځه سوه چې څومره دې په کار وي.

میرویس په یوه ډکي پر ځمکه کرښې ایستلې اوبیا به یې ړنګولې. داسې ښکارېده چې په ژورو چورتونو کې ډوب دی، بیا یې یوه لویه چلیپا پرې کش کړه وې ویل:

پر ګرګین وروستی ځل غاړه خلاصوم!

میا جي ورته وویل:

خانه! ته فکر کوې چې د هغه مازغه کار نه کوي، دا هر څه چې کوي په غلطۍ یې کوي؟

- نه داسې مې مطلب نه دی، زه پر دې هوښیار کافر ښه پوهېږم چې هرڅه په شعوري ډول کوي. هغه عام ایرانی نه دی، د ګرجستان د شاهي کورنۍ غړی او دهغه هېواد واکمن پاتې شوی، اوس غواړي زموږ د ولس په وژلو امتیاز واخلي. اصفهان هم په لوی لاس دلته ګومارلی. دا یې موخه او لار ده، له کافر او ظالم نه به تر دې زیات د څه تمه لرې، بې ایمانه سړی دی چې یو دوه ځله ګوزار وخوري سد به یې سرته ورشي. دوی خو هسې هم د لیونو سپو په څېر هره ورځ خولې اچوي.

سیدال خان وویل:

د کسانو خبره ښنګه شوه، څومره برابر کړم؟

میرویس خان وویل:

وروسته به پر دې خبره کوو.

*****

د پوځي کلا ساتونکي دوربین له سترگې لرې کړ، پر ژېړو بریتو یې لاس را تېر کړ، د برج له سره یې لاندې پر خپلو ملگریو غږ وکړ:

بیدار اوسی یو کس دې لوري ته را روان دی. هغوی چې لارې ته وکتل یو ځوک یې ولید چې ټوکرۍ پر سر اېښې او را روان دی، یوه تن پاس د برج سر پهره دار ته وویل:

همدغه یو تن دی که نور هم ور پسې دي؟

هغه ښې سترگه پر دوربین ور کېښودله ښه یې یوه او بله خوا وځارل، بیا یې وویل:

په ښکاره خو همدغه یو تن دی نور ځوک نه ښکاري.

هغه بیا وویل:

له یوه تن نه خطر نشته پرېږده چې راشي. هغه چې را نږدې شو یو ساتونکی ځو گامه ور وړاندې شو په لوړ غږ یې وویل:

درېش!

د غږ له اورېدو سره ځوان د انارو لویه ټوکرۍ له دروازې سره نږدې له سره را کوزه کړه. پر لمن یې د تندي خولې وچې کړې او لاس یې پورته کړل. دوه تنه پوځیان چې پر هغه یې د ټوپکو نښه نیولې وه له دروازې وړاندې ورغلل یوه یې په ستوغه لهجه ترې وپوښتل:

ځوک یې او دلته څه کوې؟

ځوان په خندا لمر لوېدو لوري ته لاس ونیو، ځواب یې ورکړ:

له وړاندې کلي راغلی یم. یوه انډیوال ته مې انار راوړي دي.

- انډیوال دې ځوک دی؟

- رجب... رجب علي مې انډیوال دی.

پوځیانو یو بل ته وکتل. بیا یې یوه په ستوغه لهجه ورته وویل:

- دروغجنه! رجب علي یې لا ځوک دی؟ زموږ په پوځ کې په دې نوم ځوک نشته.

ځوان د انارو ټوکرۍ ته وکتل، وې ویل:

ستاسو په پوځ کې يو څوک دی. زما له يوې مودې ور سره انډيوالي شوې. گوره په عمر پوخ، په ونه دنگ سړی دی. د مخې يو غاښ يې لوېدلی دی. پزه يې د توتي د مښوکې په څېر چنگه...

يوه پوځي هغه بل ته لږ په ټيټ غږ د سترگو په اشاره وويل:

گوره، قوماندان رجب علي يادوي! مياشت مخکې چې په کلي کې ټپي را نه پاتې شو...

دې بل يو ځل بيا په تونده لهجه ورته وويل:

شور و نه خورې که نه گولۍ به دې تر ټټر وباسم!

بيا يې ورته امر وکړ چې پړمخې پر ځمکه پرېوزي. دوی ورغلل د ځوان لاسونه يې تر شا وتړل. له انارو ډکه ټوکرۍ يې پر بل مخ واړوله چې له انارو پرته هېڅ پکې نه وو.

د دروازې له شا نه بل پوځي را ښکاره شو:

دا څه لوبه ده؟

دوی دواړه نېغ ودرېدل، يوه يې ځواب ورکړ:

صېب دې ځوان د رجب پوښتنه کوله وايي انډيوال مې دی. انار يې ورته راوړي!

هغه بې خياله غوندې وويل:

د رجب په غوښو به ... بيا يې خوله را ونيوله په گړنديو گامونو وړاندې راغی، پر ځمکه پرتو انارو ته يې خولې اوبه وکړې. يو غټ يې پر ډبره وواهه، د انارو سرې دانې پر ځمکه ورغړېدې او په دوړو کې ورکې شوې... هغه خوله پرې ښخه کړه، تر وښکيو يې سرې اوبه را وڅڅېدې، پړمخې پروت ځوان يې په پښه واړاو ورته وې ويل:

انار دې په زهرو نه وي لړلي!

د ځوان چې لاس يې تر شا تړلي وو، ښه په زحمت و بيا يې هم په موسکا ځواب ورکړ:

زهر دې د دښمن خوراک شه، دا مې خپل انډيوال ته راوړي. تاسو خو رجب خان خبر کړئ، هغه به پخپله درته ووايي چې زه يې انډيوال يم!

نوي راغلي پوځي چې تر هغو دوو نورو مشر و په مرموزه لهجه ورته وويل:

رجب کله درته راتلای شي!

- ولې ما ته خو يې ويل په دروازه کې زما پوښتنه وکړه نېغ به دې ما ته راولي. هغه ژمنه راسره کړې وه چې انار به دې خپل مشر ته هم ور وړم.

- رجب خو مور ته ستا په باب څه نه دي ویلي، نوم دی څه شی دی؟

- نوم مې بلال دی.

- وروستی ځل دې له رجب سره څه وخت لیدلي وو؟

بلال په ګوتو حساب وکړ بیا یې ځواب ورکړ:

ترمیاشتې څو ورځې اوړي.

هغوی په سترګو کې یو بل سره وپوهول، او ډاډه شول. لږ وروسته یې د بلال لاسونه پرې خلاص کړل، تر لویه دروازه د ننه کیڼ لوري ته په یوه کوټه کې له اوو اتو تنو ګرجیانو سره په بنډار ناست و. هغوی انار خوړل او اوبه یې تر خوله بادېدلې. دوی تر اوسه د رجب په باب هغه راز نه و ورته ویلی چې بلال ښه پرې خبر و. یو دوه ځله یې بیا هم پوښتنه وکړه. بیا یې نور یاد نه کړ، مازیګر لمر لوړ و چې له نویو انډیوالانو یې د تلو اجازه وغوښته، وې ویل:

سبا ته مې د بڼ د اوبولو وار دی، بل سبا به که خیر و د انارو له ټوکرۍ سره بیا راځم خپل انډیوال به هم ووینم.

بل سبا ته یې تر پخوانۍ لویه ټوکرۍ ورته راوړه. تر اوږو په خولو کې ډوب و. د دروازې د رسالې قوماندان دا ځل په مړاوې لهجه ورته وویل:

رجب خو اصفهان ته لاړ. د مور د مرګ احوال ورته راغلی و تا ته یې سلام کاوه. ویل یې دوې درې میاشتې وروسته به بېرته راستون شي!

بلال چې په زړه کې یې د دوی په لوده ګۍ خندل یوه شېبه ځان خپه وښود، بیا یې په خندا وویل:

ناځوانه یو ځل خو به دې را سره لیدل بیا یې زیاته کړه:

الله یې دې مل شي، اوس نو تللی دی.

- خیر دی را به شي، و به یې وینې. اوس خو دې دا دې نور انډیوالان هم پیدا کړل.

بلال ورته وویل:

هوکې د رجب خان له برکته مې دا دې له تاسو سره هم انډیوالي ټینګه شوه. بیا یې لږ په نه زړه ورته وویل:

چې ربښتیا درته ووایم رجب خان د یوه ظالم له شره ژغورلی یم. په ښار کې مې د تازه مېوې هټۍ ده، د نادر کاکو په نامه یو کس پرې دعوه کوله. رجب خان پټکه پرې وکړه، د هغه غوړ‌ونه پرې مړه شول.

ـ نه بېغمه شه، موږ دې په خدمت کې یو، دا نادر کاکو به درته د مرګ په خوب ویده کړو...

ده زر ور ته وویل:

نه نه مرګ یې نه غواړم خو چې خپلې غریبۍ ته مې پرېږدي.

یوه نیمه اونۍ وروسته یوه شپه د نظامي کلا له دروازې سره د باروتو او وسلو په ګودام کې اور بل شو. چاودنو څو کوټې پر بل مخ واړولې، تر څلوېښتو زیات پوځیان هم پکې ووژل شول، خو د ګرګین د پوځ مشران پردې هېڅ و نه پوهېدل چې دا څه ډول پېښه وه. سهار ته بلال چې په تندي او متو یې د باروتو ټپونه وو، د میرویس خان، سیدالخان او څو تنو نورو په مخکې ناست و او د تېرې شپې او تر دې وړاندې شپو د رجب او ګرجیانو کیسه یې کوله.

سیدالخان ترې وپوښتل:

دغه د رجب نوم دې له کومه کړ؟

زما د شهیدې خور د کوژدې په ورځ چې دوی یرغل کړی و زه د څه ضروري شیانو لپاره ښار ته راغلی وم چې بېرته لاړم په ماتم واوښتم. د ګرجیانو په پاتې مړیو کې د یوه تن پر لوخ مټ رجب علي لیکلی و. زما پلار، مور، کشر ورور او خور ټول شهیدان شوي وو. همالته مې سوګند وخوړ چې بدل به یې اخلم. او بیا مې د رجب کیسه را سره جوړه کړه.

میرویس خان بلال په غېږ کې ونیو، پر تندي یې ښکل کړ. بیا یې ورته وویل:

ځوانه ښه غچ دې واخیست، خو نور به پام کوې. زموږ په مخکې اوږد مزل دی او تا غوندې ځوانانو ته ډېره اړتیا ده!

د بلال په سترګو کې اوښکې وځلېدې، خو معلومه نه وه چې د خپلې کورنۍ او کلیوال
د بربادۍ په یاد وې او که د هغوی د کسات په خوښۍ کې.

میا جي ورته وویل:

بچیه د دښمن په منځ کې دې خپل احساسات څنګه را قابو کول؟

بلال په موسکا ځواب ورکړ:

دوه ځله له سخت ازموینښت سره مخ شوم خو خدای همت راکړ. یو ځل یې زموږ پر کور او کلي د برید کیسه را واخیسته، د ډلې مشر پخپله زموږ کور ته را ننوتلی و. زما ترور زوی پر همده د ډبرې ګوزار کړی و. وروسته یې هغه د ټوپک په ډزو او برچو وژلی و. دوی زموږ د کور او کلي د ښځو ډېره سپکه یادونه کوله. زما مازغه ورته وخوټېدل خو ځای مناسب نه و.

بل ځل یې دې لنډغر مشر را ته وویل چې یوازې په انارو اندېوالي نه کېږي. تاسو پښتنو خو تر خړو او تورو څادرونو لاندې غمې ساتلې.

نور مې د صبر کاسه ډکه وه. همدغه مهال د لوی قوماندان احوال ورته راغی هغه لاړ او خبره پر ځای پاتې شوه. دا د ورېم ماښام خبره وه. ما وې نور ځنډ به مې په کومه ناڅاپي بلا واړوي. پر خپلو احساساتو مې باور نه و، تېره شپه یې ډېر وځښل چې ټول مست را پرېوتل زما کار یې ډېر اسانه کړ. پر بالښتونو مې ووژل. ما وې چې کوم یو یې چیغه و نه کړي کار به مې نیمګړی پاتې شي.

میرویس خان وویل:

زموږ کار به هغه وخت بشپړ شي چې کندهار د دوی له سپېرو او ناپاکو قدمونو نه پاک شي.

میاجي وویل: ان شا الله هغه وخت به هم راشي.

- ان شا الله، ان شا الله

*****

غنګ شو د کلا لویه دروازه خلاصه شوه، نجلۍ چې ور وکتل په خوښۍ یې چیغې کړې:
پلار جان مې راغی!

لکه د دوبي د اوږدو ورځو روژتی چې د ماښام اذان غږ واوري، یا له ژونده د نهیلي ناروغ ناڅاپه تبه وشکیږي را جګ شي، او ځان رک روغ وویني، د هغه له ورتګ سره پر دې کورد خوښۍ څپه راغبرګه شوه، له چیغې سره دوو هلکانو او نجلۍ له بڼ نه د دروازې په لور منډه واخیسته. میرویس خان د اس جلب پرېښود په مینه یې هغوی ته کتل. اته کلن محمود تر ټولو وړاندې شو، حسین ورپسې او څلور کلنه زینبه تر ټولو وروسته وه! تر ډېره وخته میرویس خان د قام د مشر پر ځای د کورنۍ د یوه غړي د ماشومانو د سر سیوري او پلار په څېر شو. څو شیبې شور او زوږ شو هلکان او ماشومه زینبه ور تر غاړې وتل. لوی خان د قام له لویو غمونو نه د ماشومانو په خواږه شور کې پناه واخیسته.

نژدې میاشت کېده چې کور ته نه و راغلی، مشر زوی محمود یې له لاسونو ښکلولو وروسته ورسره پلی روان شو حسین او زینبه یې په غېږ کې واخیستل، یوه زلموټي ته یې وویل:
لونګه اس د تاکونو تر سیوري لاندې وتړه، وربشې ورکړه!
له حجرې نه تېر شو او وړاندې د کور په لور لاړ....
محمود چې تر نورو مشر و آرام ناست و، خو حسین او زینبه نو د خبرو ګوډي وو.
حسین په ګیله وویل:
پلار جانه ولې دومره اوږده موده کور ته رانغلې؟
زینبې شونډې بوڅې کړې:
پلار جانه زه درنه مروره یم.
میرویس په مینه د هغې پر سر لاس را تېر کړ، را پورته یې کړه او پر تندي یې ښکل کړه:
-زینبې لورې! ډېر کارونه مې وو، شکر دی مور مو درسره ده، زه مو هم احوال اخلم!
-ما ته دې څه شی راوړي؟

میرویس خان د خپلو ماشومانو له هیلو غافل نه و. جیب ته یې لاس کړ، یوه وړوکې ښایسته غاړکۍ یې را وکښله:

تا ته مې دغه ښکلې غاړکۍ راوړې ده!

محمود او حسین ته یې له لرګي جوړې شوې ښکلې تورې راوړې وې.

مور یې په اعتراض ورته وویل:

ـ په دې تورو به مو په لانجه واړوي!

ـ ولې؟

ـ په کلي کې ماشومان دوې ډلې شوي، یوه یې دښمن بله غازیان. هغه بله ورځ یې د رسولداد اکا زوی ډېر ژوبل کړی و.

میرویس خان وخندل، بیا یې محمود او حسین ته وکتل وې ویل:

بچیانو پر دې لوبې کوئ خو یو پر بل پام کوئ چې څوک ژوبل نه کړئ!

بیا یې مېرمنې ته وویل:

سبقونه خو به وایي؟

هغې ځواب ورکړ:

هو کې په سبقونو کې ښه دي.

بیا یې زینبې ته وویل:

لمونځ دې یاد کړی دی؟

هغې په موسکا ځواب ورکړ:

تر قل هو الله پورې مې یادی کړی!

حسین وویل:

پلار جانه ولاالضالین نشي ویلی! ملا صیب ویل غلط یې وایي.

هغه یې پر باړخو لاس را تېر کړ:

زینبې لورکۍ! ته الحمدُ را ته تېره کړه!

هغې په نیمه ژبه، غوڅ غوڅ ورته تېر کړ. میرویس خان پرې ور تیټ شو ښکل یې کړه:

نام خدا، ښه دې زده کړې ده شاباش!

بل ځل چې راځم په لمانځه به ولاړه وې له خیره!

مغې په چوپه خوله سر ورته وخوځاوه او پر خپله نوې غاړکۍ يې لاس واهه.

میرویس خان خپلې مېرمن ته مخ واړاوه:

ـ په کور کلي کې خو خیرت دی؟

ـ خیرت دی، میرزا اکا ډېر ناروغ دی، څو روپۍ مې د محمود په لاس ور واستولې. ښار ته پسې تللي وود گنگارام هندو له دوکانه يې پوړۍ ورته راوړې، خو تر بد يې بدتر کړ.

ـ خدای دې پرې ورحمېږي. زه به يې پوښتنې ته ورشم! میرزا اکا خو د خیر سړی دی خدای يې دې روغ کړي. د پردل اکا او ملنگ اکا د خېل خانې څه حال دی، چې له یاده دې نه وي وتلي؟

ـ نه! ولې به مې له یاده وځي، دوه ځله مې دواړو کورونو ته وریژې او اوړه ور واستول، لس لس سپینې مشهدۍ مې هم ور ولېږلې.

میرویس خان خوښ شو وې ویل:

ـ الله دې خیر او برکت در کړي، پام پرې کوه. مور ته مې دې خدای تعالی جنت فردوس په نصیب کړي، د کلي او کور له غمه يې بېخي خلاص کړی وم. خدای دې تا ته هم توفیق درکړي....

بیا يې وویل:

ـ زه حجرې ته ځم. څو تنه مشران را روان دي. د غرمې ډوډۍ غمه يې وخورئ!

میرمنې يې ورته وویل:

میلمانه که ډېر وي لونگ ته ووایه چې هغه سېرلی حلال کړي، که یو دوه تنه وي بیا دې هغه سور چرگ ورته حلال کړي.

میرویس خان وویل:

ښایي ډېر شي، زه به ورته ووایم چې سیرلی حلال کړي.

زینبې يې تر غاړه لاس ور وگرځول وې ویل:

ـ پلار جانه! کېنه، وروسته به حجرې ته لاړ شې!

ـ نه لورجانې! مېلمانه خپه کېږي. چې هغوی رخصت شول، بیا راځم.

*****

د نارنج ماڼۍ شاهي دیوان له درباریانو ډک و، خو مرموزه چوپتیا خپره وه چې د غیر معمولي وضعې ګواهي یې ویله. پیالې نه کړنګېدې، د نیم بربنډو ارمني نجونو نڅاګانې نه وې، د ساز او سندرو ازانګې چوپې وې، درباریان خوړین او هیبت وهلي ناست وو، لکه ټول چې د کومې ناوړې پېښې انتظار باسي. لکه کومې جنازې ته چې را غلي وي. ګرګین تروش تندی پر خپله زرینه کرسۍ ډډه وهلې وه اردلي دیوان ته ننوت پر ملاقات شو، بیا یې وویل:

اعلیحضرته! میرویس خان راغلی دی.

ګرګین په چوپه خوله د لاس په اشاره وویل:

رایې وله.

ځو شېبې نه وې وتلې چې میرویس خان یې په مخکې ولاړ و، ګرګین وربوز په بله اړولی، په غرور یې ورته وویل:

میرویس خانه، مشري مې دې ومنله، ستا د قام او قبیل په چارو کې سلاوې درسره کوم، کلانتري مې دې تائید کړه، ، تا مې بیا هم شکایت تر اصفهانه ورساوه!

میرویس خان ځواب ورکړ:

ما له تاسو نه هم همدغه یوه غوښتنه درلوده او له اعلیحضرت څخه هم. هغه زما د ولس د سر او ناموس امن او عزت دی. داسې خو ګوزاره سخته ده چې ستا پوځیان هره ورځ زموږ د ولس له ژوند او ابرو سره لوبې کوي!

د ګرګین په شنو سترګو کې د غوسې لنبې را تاو شوې، پاس شونډه یې له بریتانو سره ورپېده، لاس یې په زوره وغورځول:

میرویس خانه خپل حد دې وپېژنه! ته د چا په مخکې ولاړ یې؟

ـ ما خپل حد ښه پېژندلی دی، ماته مې د ولس ژوند او ابرو مهمه ده، دا ستاسو د خیر خبره هم ده. زما قام اوس هم ما را ایسار کړی دی، که یې زه له منځه ووتم له تاسو سره به ډېر زر حساب کتاب پاک کړي.

د ګرګین پر شونډو له کرکې او ملنډو ډکه موسکا راغله، وې ویل:

اوس ماته گواښونه هم کوې؟

-نه گواښ نه کوم. نه مې بېځایه لاپه عادت دی، نه یې اړتیا وینم.

-گوره زه دې دا اوس بندي کولای شم. توپ ته دې تړلای شم. چچ او پوچ دې ټول درته په یوه فرمان له منځه وړلای شم!

-لړپام کوه بېگلر بیگي صاحب! زه تش لاس ستا دربار ته راغلی یم! خو شا ته مې داسې قام شته چې د لوټې ځواب په ډبره ورکولای شي!

گرگین له غوسې ټول په لړزه شو... تاسو څه شی یې، په یوه ورځ دې ټول درته سټوم!

گرجی پخه گرگه وه واکداران او دربارونه یې لیدلي وو، پر دې پوهېده چې میرویس خان ریښتیا وایي، هغه ته یې مخبرانو دا احوالونه راوړي وو چې میرویس خان یوازې غلجو نه درانیو او نورو قامونو هم په مشرتابه منلی دی، ده میرویس خان د اصفهان تر دربار ښه پېژاند، پوهېدو چې له داسې یوه کس سر کیوتی چې قام تر وروستی سلگۍ ور سره ولاړ دی، که لاس پرې واچوي له کندهاره یې ژوندي وتل ناشوني دي. د ده په باب یې پخوا یو تصمیم نیولی ؤ، اوس یې د هغو د عملي کولو لپاره یوه مناسب فرصت او پلمې ته انتظار کاوه. گرگین بې رحمه انسان و، خو عقل یې پر ځای و، پوهېده چې له داسې قام سره یې سر و کار و چې منظم حکومت او پوځ یې نه درلود، خو اوس یې مشر درلود. یو قامي نظم یې په وینه کې اخښلی و.

د گرگین غاښونه له ببرو وېښتانو را ښکاره شول، د دربار حاضر کسان ټول هک پک وو، د هغه څو شېبې وړاندې حالت د سترگو په رپ کې بدل شو، غوړېدلی تندی، په شنو سترگو کې شریره موسکا، را جگ شو، ورغی میرویس خان ته یې پر شا ټپ ورکړ، څو گامه نور وړاندې لاړ د الفاظو په موندلو کې توښ و، بېرته را وگرځېد، د خان په مخکې ودرېد، وې ویل:

د کندهار کلانتر میرویس خانه! زه درنه ډېره تمه لرم ځکه مې گیله هم کیږي.

میرویس خان د گرگین پر دې مصنوعي حالت ډېر ښه پوهېدو، نه یې غوښتل چې خبره یې تر دې نوره هم ویجاړه شي، د خان پر شونډو هم موسکا وغوړېده، وې ویل:

زما چې څه توان رسیږي صرفه به ونه کړم.

گرگین وویل:

میرویس خانه! مالیه غواړم، ناغیړي پکې نشم زغملای.

ـ مالیه خو پخپل وخت درته را ټولیږي. دا خو بیا بله معنا لري چې وخت بې وخته دې پوځیان ووزي، خلک ووژني، کورونه لوټ کړي....ددې زغم زما ولس هم نه لري.

د گرگین مخ له غوسې نور هم سور شو، خو ځان یې را قابو کړ، وې ویل:

میرویس خانه! ته د قام استازی یې خو اصفهان د کندهار حاکم زه غوره کړی یم.

د میرویس خان پر شونډو مرموزه موسکا تېره شوه، خو څه یې ونه ویل، وروسته میرویس خان له درباره ووت.

د دوی تر دې بېخونده خبرو درې ورځې وروسته گرگین لومړی جټکه وخوړه له جنگي کلا وتلي پوځ یې د لومړي ځل لپاره په یوه غلچکي برید کې ٦٠ تنه مړي له وسلو سره پریښي وو او دوی په تېښته کلا ته راستانه شوي وو. په راتلونکو څلورو ورځو کې دوه ځله نورې هم ورته پېښې وشوې، تر دې چې گرگین میرویس خان دربار ته ور وباله او د پوځ عمومي قوماندان ته یې حکم وکړ چې د ده له بیا حکم پرته به پوځیان له کلا نه وزي.

دوی تر اوسه ١٦٠ پوځیان له لاسه ورکړي وو، تر سلو ډېر اسونه او تر ٣٠٠ میله زیات ټوپکونه یې له لاسه ورکړي وو. دغه وسلې او اسونه د پښتنو لاسته لوېدلي وو.

*****

په شهر صفا کې د شمروزخان حجرې په ښکلا او لویوالي کې نوم درلود، دوه درې سوه کسان ارام پکې ځایېدل، په حجره کې میرویس خان له څلورو نورو کسانو سره ناست و. په لوی پتنوس کې د حسیني انگورو ژېړ وږي انبار ووو. پر دیوالونو یې ښکلې غالۍ را ځړېدې چې ډېرې ښایسته منظرې پکې انځور شوې وې، د قبلې لوري دیوال

ته یې پر دوو غبرگو غالیو د کعبې او نبوي حرم ښکلي انځورونه وو، میرویس خان پخوا هم دې حجرې ته راغلی و خو نن یې سترگې د دیوالونو پر منظرو ښخې وې.

شمروزخان د قبلې لوري بیت الحرام او نبوي جومات انځورونو ته لاس ونیو:

خانه! دا مې په سمرقند کې له یوه سوداگر سره په حجره کې ولیدې، ډېرې مې خوښې شوې، بس په وچ زور مې ترې راوړې. په بدل کې مې دوې شپاړس گزی ورېښمینې غالی ورته وپېرلې.

-ډېرې ښکلي دي.

شمروزخان پر شاوخوا دیوالونو را ځړېدلیو منظرو ته په اشارې خان ته دا یادول چې دا یې د اصفهان او هغه بله یې د ډیلي په بازار کې را نیولې ده، میرویس خان سر ور سره خوځاوه خو خیال او فکر یې په بل ځای کې و. د شمروزخان ورته پام شو، ورته ځیر شو بیا یې ترې وپوښتل:

خانه! خیال دې بل ځای بوخت دی، لږ پریشانه راته ښکارې.

میرویس خان څک شو، شمروزخان ته یې وکتل پر شونډو یې ترخه موسکا راغله وې ویل:

خانه! تا خو نام خدا دنیا گزاو پل کړې ده، ډېر هېوادونه او اباد ښارونه دې لیدلي دي، یوځه یې ما هم لیدلي دي، زه په دې چورت کې وم چې زموږ ولس تر چا کم دی، تا دلته دغه ښکلې منظرې را ښودې چې له سمرقند، ډیلي، اصفهان او نوروښارونو دې راوړې دي. دا زموږ وطن ولې داسې سپېره پاتې دی؟

لږ باید پردې فکر وکړو، تر کومه چې ما پرې فکر کړی دی موږ د پردو یرغلگرو او خپلو یو شمېر ذلیلو کسانو له لاسه د ژوند له کاروانه وروسته پاتې یوو، تر دوو پېړیو زیاته موده موږ یوازې په قامي ښه ژوند کوو، هغه هم نیمایي هېواد د مغلو او نور د صفویانو او تورانیانو تر جبر لاندې، که سره یو نه شو، خپلواکي وانه خلو، د نورو هېوادونو په ځېر یو حکومتي نظام جوړ نه کړو، ژوند به مو د نورو تر سیوري لاندې

وي. ډېرې او حجرې به مو د نورو په هنر او کمال ښکلې وې. اخر موږ تر چاکم یو، ولې زموږ د هنر او کمال ستاینې نور ونه کړي.

شمروز خان د میر ویس خان پر دې خبرو ډېر تر اغیز لاندې راغی او تر ډېره چوپ و.

میرویس خان هغه ته وکتل:

شمروزخان اکا! په چورتونو نه کیږي، لومړی گام مو دادی چې دغه د ذلت ژوند مو باید پای ومومي. بیا یې په خندا د موضوع د بدلولو لپاره د انگورو یو واښکی را واخیست، وې ویل:

نام خدا سږ کال خو دې انگورو ښه بار کړی دی!

شمروز خان په ځواب کې ورته وویل:

خانه! دا مې د انگړ د تاک انگور دي، د نور حاصل چونډه يې نشته!

خان په مرموزه موسکا ورته وویل:

چې د گرگین برخه دې پکې هېره نشي،

د هغه په تندي کې گونځې راغلې:

خانه! ببغمه شه چې تر مراده نه یو رسېدلي دا باج به گالو.

رشید الدین لودین کتابتون
د کتاب پر پېسې

د شمروز خان ناظر پیرگل کړوپه ملا وار خطا غوندې حجرې ته ور ننوت:

یو څوک راغلی په جامه پښتون په ژبه ایرانی دی، د خان صاحب پوښتنه کوي.

ټولو یو بل ته وکتل، بیا میرویس خان ورته وویل:

یوازې دی که نور څوک ورسره شته!

- یکي یوازې دی، یوه توره اسپه ورسره ده.

- را یې وله.

پیر گل ناظر پښې خپولې ووت، څو شېبې وروسته یو تن په پښتني جامو کې، لونگی پر سر د پوخ عمر ښایسته ځېره را ننوت، له سلام وروسته یې په ایرانی لهجه په فارسي له ټولو سره روغبړ وکړ. جامو او لونگی یې له ځېرې او قد سره خاص تناسب درلود او ډېر

ښکلی ورسره ښکارېده، جهاندیده بنیادم و. په لومړي نظر یې د څو تنو په منځ کې میرویس خان وپېژانده، په ادب او نرمه لهجه یې وویل:

زه مې د خوښیو احساسات په الفاظو کې نشم بیانولای. ظاهراً د یوه ایراني په توګه دلته راغلی یم، خو دا مې پلارنی وطن دی. زه خپل کور ته راغلی یم!

میرویس چې د ده مخاطب و، په پوښتونکي نظر ورته وکتل. هغه په ځواب کې خبرو ته دوام ورکړ:

پلار مې د هرات له درانیانو څخه و، په مشهد کې یې کاروبار درلود. همالته یې واده وکړ او بیا اصفهان ته لاړ. بیا یې له جیبه یو سولیدلی زوړ، پیکه تصویر را ویوست چې ماهر انځورګر کښلی و:

پلار مې دا ورسره د تاویز په څېر ګرځاوه. دا یې په هرات کې د خپل کور او محلې تصویر دی.

په تصویر کې یوه کوڅه ښکاري چې کتار کورونه دي، دروازې یې کوڅې ته راوتلې، د دریيم کور پر دروازه یوه نښه وه، هغه ګوته پرې کېښوده:

دا مې د پلار کور دی!

میرویس خان، شمروز خان او نور ملګري یې هک پک شول.

شمروز خان د انګورو پتنوس لږ ور نږدې کړ:

خدای دې راوله، انګور در واخله، کیسې به هم کوو انګور به هم خورو!

هغه بیا خبرو ته دوام ورکړ:

پلار مې کامران خان نومېدو، الله یې دې وبښي، شپږ کاله کېږي چې وفات شوی. زما اصلي نوم شېر افغان دی، خو په ایران کې یې نوم را باندې واړاوه. شېرعلي یې را باندې کېښود.

میرویس خان غاړه تازه کړه:

کندهار ته کله راغلی یې؟

صبب د نوي بیګلر بیګي له راتلو څو ورځې وروسته له بال بچ سره راغلی یم.

ـ ښه نو تر درې کاله ډېره موده وشوه چې راغلی یې.

ـ همدومره به کېږي.

مولوي پیر محمد (میاجي) و وویل:

دومره وروسته دې هېوادوال در په یاد شول؟

هغه یې طنز احساس کړ، ځواب یې ورکړ:

نه، زه له پوځي کلا د باندې په ښار کې اوسېږم. له خپلو شاوخوا ګاونډیو سره مې له هماغو لومړیو شپو راشه درشه شته، زه هلته جومات ته هم ځم، ډېر انډیوالان لرم.

میرویس خان له مهرباني په ډکه لهجه ورته وویل:

ډېر ښه ډېر ښه، خوښ اوسې! کور دې د ښار په کومه برخه کې دی؟

په ختیځه څنډه کې د علافۍ کوڅې ته نږدې!

بیا یې له لږ ځنډه وروسته وویل:

پلار مې را ته وصیت کړی و چې اصفهان پرېږده خپل وطن ته ستون شه! د ګرګین له راتلو سره په اصفهان کې جار وهل کېدو چې هر څوک کندهار ته ځي، ځمکې او جایدادونه به ورکړای شي. ما وې بس خدای را ته برابره کړه. ورغلم خپل نوم مې ورکړ. میاشت نه وه پوره چې د کوچ او بار امر وشو. بیا یې په غرور وروځې کش کړې وې ویل:

د ځمکو او جایداد په کیسه کې نه یم، بس دا مې ارمان و چې خپل وطن ته راشم.

شېر افغان د انګورو واښکی را پورته کړ، سترګو ته مخامخ یې ونیو:

دا مې د وطن انګور دي، په ټول فارس کې یې ساری نشته.

نور نه ده څه وویل او نه چا پوښتنه ترې وکړه چې دلته د څه لپاره راغلی یې او چا دا ځای او حجره در وښودل. یو ساعت وروسته یې اجازه وغوښته. را جګ شو، د کور پته یې یو ځل بیا تکرار کړه:

ختیځ لور ته د علافۍ کوڅې ته نږدې، د کوڅې په کوز سر کې جومات هم دی. که مې غریب خاني ته راشئ ډېر به خوښ شم.

میرویس خان ورته وویل:

ان شا الله خامخا به دې احوال اخلو.

سړی له کوټې ووت، دوی بیا یو بل ته و کتل. بابوجان بابي وویل:
زما یو لرې د کاکا زوی په دې محله کې اوسي، زه به یې پوښتنه وکړم.
میرویس خان وویل:
بدګوماني ښه نه ده، خو سړی را ته چالاک ښکاره شو. کیسه یې ټوله راته جوړه شوې ښکاري، احتیاط ورسره پکار دی. ښه ژبور و، داسې خبره ترې را و نه وتله چې څوک شک پرې وکړي.

دریمه ورځ بابوجان د ملک عظیم خان کاکړ په حجره کې میرویس خان ته راپور ورکړ چې د محلې خلک له شېرافغان نه خوښ دي. منظم جومات ته ځي، خو د کور دروازه یې تل تړلې وي. د محلې له نورو کورونو سره راشه درشه نه لري. دومره معلومه ده چې مېرمن او یوه پېغله لور لري، خو له هېچا سره راشه درشه نه لري.
میرویس خان وروستۍ پرېکړه اعلان کړه:
له دې سړي سره به ډېر پام کوئ، څو ښه ډاډه نه شو په غوړېدلي تندي او لمونځونو یې حساب مه کوئ. ما ته ډېر مرموز سړی ښکاري.

درې ورځې وروسته هغه یو ځل بیا را پیدا شو. تر ښه ځنډ خوږو کیسو وروسته چې زیاتره یې د اصفهان په باب وې، جګ شو، رخصت یې وغوښت. په تلو کې یې میرویس خان ته پټ څه وویل. د خان مخ تک سور شو خو هېڅ یې و نه ویل...

*****

یو ماښام په کوکران کې میرویس خان د یوه دوست په حجره کې و. له لمانځه نه چې وزګار شو لا پر خپل ځای ناست و چې په شړۍ کې نغښتی یو تن ور ننوت. په حجره کې د سیدال خان په شمول درې څلور تنه نور هم وو. د خان په اشاره هغه سمدستي د باندې ووت، سړي چې شړۍ لرې کړه، د ګرجیانو منصبدار د میرویس خان په مخکې ولاړ و:
-السلام علیکم! خانه حکم کوه.
-حسین قله په خیر راغلې، چا خو به لیدلی نه یې؟

ـ نه، نه هغوی په دې ورځو کې ډېر په خرمستیو ډوب دي.

ـ څه خبره ده؟

ـ وایي د گرگین د واده کلیزه ده، له درباره د شرابو بویونه اوچت دي.

ـ ښه بلا پسې، نن مې یوه خاصه پوښتنه کوله.

ـ حکم کوه خانه!

پخوا تر دې چې میرویس خان څه ووایي، سیدالخان ورننوت. ډاډ یې ورکړ چې خیرت دی. حسین قل لږ اندېښمن غوندې شو، میرویس خان ورته وویل:

پر تا مو باور دی؛ ده لاره څارله چې څوک در پسې نه وي، تا ته بیا خطر دی. بیا یې ور ته وویل:

تر کلا د باندې په ښار کې چې کوم ایرانیان اوسي کلا ته درځي؟

هغه ځواب ورکړ:

- ښه ډېره راشه درشه لري.

- په دوی کې د گرگین خاص کسان پېژنې؟

- یو څو تنه شته چې دی ورسره خاصې اړیکې لري. معمولاً هغوی د شپې راځي.

میرویس خان د ښېر افغان د څېرې نښې ورته وویلې، یو د پوخ عمر موزونو اندامونو، ښایسته څېرې خاوند، غټې غټې سترگې، دروند غږ...

حسین قل سر د نه! په دود وخوځاوه، داسې څوک مې برالا نه دی لیدلی، خو زه داسې احساسوم چې داسې کسان هم حرم ته لاره لري چې موږ یې نشو لیدلی. گرگین ډېر مرموز او هوښیار سړی دی. په هر چا بد گومانه دی. بشپړ راز له هېچا سره هم نه لري.

- بس پسې څارو اوسه. نور دې هم که خاصه خبره لیده موږ پرې خبروه.

ـ خانه بېغمه اوسه!

میرویس خان یحیی خان ته وکتل، هغه یوه وړوکې خړه کڅوړه ورته ونیوه، حسین قل وویل:

نه مشره زه ورته اړتیا نه لرم.

میرویس خان په مینه ورته وویل:

حسین قله! ته زموږ ورور یې، دې ته دې خامخا اړتیا پېښېږي، در سره وایې خله. هغه په نه زړه لاس ور اوږد کړ کڅوړه یې واخیسته او له سلام وروسته له خونې ووت.

*****

د ښار په هغه محله کې چې شاوخوا ته د ایرانیانو کورنۍ مېشتې دي، د صادق خان کور دی. صادق خان په ښار کې یو وړوکی دوکان لري. پلار یې عبدالرزاق د ښار له پخوانیو دوکاندارانو څخه دی، په ټوله محله کې په رازق اکا مشهور دی.

یو ماښام د رازق اکا مېرمن چې د تېلو څراغ بل کړ، د دالان په تاخچه کې یې کېښود.

راغله د خاوند مخې ته په غولي کېناسته، په ټیټ غږ یې ورته وویل:

وه سړیه د دې رافضیانو په کور کې هر وخت د مېرمنو ژړاوې وي.

هغه سترگې پرې را برگې کړې:

وه ښځې څه په بلا یې وهې، په تا یې څه! زما خو د ښځو دغه عادت نه خوښېږي چې په هرڅه کې به کار لري.

مېرمنې یې بیا وویل:

هغه بله ورځ زرغونه بام ته ختلې وه. په انگړ کې یې یوه ښایسته تجلی لیدلې وه. دې ته یې څه اشاره کړې وه، خو زرغونه بېرته له بامه را کوزه شوه. دا زړه مې را ته وایي چې په دې کور کې څه غم شته.

-ښځې څه گډې وډې وایې! زرغونې ته ووایه چې بیا دې په بام و نه گورم!

همدغه مهال صادق کور ته راغی، چې د ایرانیانو کورنۍ ښار ته راغلې لومړی ټول ترې په وېره کې وو. صادق به هم مازیگر دوکان تاړه او ځان به یې د ماښام تر تیارو مخکې کور ته رساوه. خو اوس ورو ورو عادت شول. صادق د ماښام لمونځ د ښار په جومات کې کاوه او بیا کور ته را تلو. د کور او بازار ترمنځ یې دوې کوڅې وې.

صادق چې تر دروازه ننوت خور یې د تناره له سره سترې مشي ورته وویل او دی سېده دالان ته وخوت. پلار او مور یې سترې مشي ورکړل. صادق په ساده توشکه دېوال ته ډډه ووهله. په خندا یې وویل:

لودین کتابتون

ادې او لالا څه راز او نیاز کوي!

مور یې چې خبرې ته خوله جوړوله، رازق اکا پرې ور برچ وهل:

ورشه ډوډۍ زر را تیاره کړه... مېمن یې زر جګه شوه، خو صادق وپوهېدو چې څه خبره یې ترې غلې کړه.

د ماسختن له لمونځونو وروسته ټول د خوب لپاره خپلو بسترو ته لاړل. په یوه کوټه کې چې لویه کړکۍ یې د کور انګړ ته راوتلې وه. د سپوږمۍ رڼا انګړ روښانه کړی و. زرغونه د خپل وږور تر څنګ کېناسته او په خپ غږ یې ورته وویل:

صادق لالا په دې کور کې خو یوه د چین ماچین ښاپیرۍ ده!

صادق یو دم نېغ کېناست:

څه وایې زرغونې!

- رښتیا وایم وړورجانه! ما تر اوسه داسې ښایسته نجلۍ نه ده لیدلې. سپین مخ، تورې غټې سترګې، کوده کوده تور ویښتان.

صادق بېرته سر پر بالښت کېښود، وې ویل:

خورې دا خو پردي دي، څه په بلا یې وهې... هغه په خبره کې ور ولوېده:

نه وروره... خبره واوره. په دې کور کې څه جنجال دی. د ښځو د ژړاګانو غږونه راځي، څه خبره شته. زه هغه بله ورځ بام ته وختم د ژړا غږ مې واورېد. سودا مې شوه، کرار مې له بامه انګړ ته سر ور ښکاره کړ، نجلۍ په انګړ کې ولاړه وه، چې ویې لیدم ما ته یې اشاره وکړه، غوښتل یې څه را ته ووایي، خوووېرېدم راکوزه شوم.

نور چا ته دې دغه خبره کړې؟

مورجانې ته مې وویل. هغه ماښام پلار جان ته هم وویل، خو پلار جان ویل پرېږدئ، د دې خلکو په کار کې کار مه لرئ! په غوسه یې دا هم وویل چې زرغونه به نوره بام ته نه خېژي.

- خی داسې وکړه چې ته سبا بیا بام ته وخېژه، خیر دی دغه احوال معلوم کړه چې څه خبره ده.

صادق خان د ځوانۍ په مست موسم کې و، د ژوند رنګینیو او هوسونو یې پر زړه منګولې لګولې، سبا ورځ ډېره پرې اوږده شوه، د تورو سترګو سپین مخ او تورو زلفو خیالي تصویر یې د ذهن پر هېنداره ولاړ و. کله به د سیف الملوک په څېر د قاف په غرونو کې ګرځېدو، کله به یې د ښاپېریو په تمه له دېوانو سره ډغرې وهلې. چې ماښام شو کور ته راغی، په خور یې سترګې ولګېدې، هغې په مایوسی سر ورته وخوځاوه. د خوب پر مهال یې ورته وویل:

دوه ځله بام ته وختم، خو څوک مې و نه لیدل، چوپه چوپتیا وه.

صادق سخت نهیلی شو، کرۍ ورځ یې د یوې خیالي ښاپېرۍ په خیالونو کې تېره شوې وه، هیله یې وه چې خور به نوي رازونه ورته وسپړي. بیا یې خور ته وویل:

زرغونې سبا بیا وخېژه!

هغې په ټیټ غږ ورته وویل:

وروره بېغمه اوسه، چې هرڅنګه وي دغه راز درته را سپړم!

پر صادق دغه شپه د کال په څېر اوږده شوه، لټ پر لټ اوښت، خدای خبر څه وخت یې سترګه ورغله، د سهار لمونځ پرې قضا شو، خور یې پر تندي د اوبو څاڅکي ور وشیندل ایله یې له خوبه را ویښ کړ.

ماښام چې صادق تر دروازه ننوت خور یې یو ډول تلولې ولیده. و یې پوهاوه چې یو احوال ورته لري، پر صادق د ډوډۍ او لمانځه وخت تر تېرې ورځې ډېر اوږد شو، مور او پلار یې دواړه پرې وپوهېدل چې دی یو ډول ناآرامه دی، مور یې ترې وپوښتل:

صادقه بچیه داسې نا آرامه غوندې یې خیرت خو دی؟

صادق په لوړ غږ وخندل:

هېڅ خبره نشته، هسې درته ناآرامه ښکارم!

مور یې ډاډه شوه، خو جهاندیده پلار یې نور هم اندېښمن شو چې صادق څه راز لري. خو اټکل یې نشو کولای چې څه به وي. بالاخره هغه شېبه راغله چې خور او ورور راز او نیاز ته وزګار شول.

:وروره! توبه مې دې وي، لویه کیسه مې واورېده!

ـ خبره کوه...

ـ نجلۍ او مور مې یې ولیدې، په سرو سترګو یې ژړل، په خبره یې ورسره سمه نه پوهېدم، دومره یې وپوهولم چې له خپل خاوند نه یې شکایت کاوه، وې ویل:
دغه نجلۍ مینا نومېده. پدر مینا جاسوس. پدر کاپر... یې کول.

د صادق تلوسه نوره هم ډېره شوه، خو په عجیب حالت کې و. دومره یې له مشرانو اورېدلي وو چې له ایرانیانو لرې ګرځئ. په دوی کې هم جاسوسان دي او هم د مال او ناموس غله.. بالاخره یې له خور سره خبره غوټه کړه چې د ګاونډیانو مور او یا لور له ده سره خبره وکړي. صادق د پنج کتاب او ګلستان له برکته په فارسي پوهېدو، په دوکانداری کې یې هم کله کله له یو چا سره سر او کار کېدو.

درېیم ماښام د ګاونډي مور او لور په بام له صادق سره مخامخ شوې.د دوی کیسه عجیبه وه، دا د شېرعلی او شېر افغان نومونه هسې خبرې وې، اصل نوم یې قورتین او د ګرګین له خپلوانو څخه دی، کله چې اصفهان د کرمان د بلوڅانو د ځپلو لپاره د ګرګین د وراره تر قوماندې لاندې پوځ واستاوه، سروان قورتین پکې شامل و، وروسته ګرګین هم کرمان ته لاړ او له خپل وراره سره یو ځای شو. قورتین د عامې وژنې په لړ کې د مینا پلار وژلی او مینا او مور یې چې ښساری ښایست خدای ورکړی و له ځانه سره راوستې وې، له مور سره یې په جبر واده کړی و. خو ان دهغې لور ته یې نیت ښه نه و له دواړو لور او مور سره یې د وینځو په څېر چلن درلود، صادق ته یې د شېر افغان اصل څېره وښوده، اوس هغه د ګرګین د مخبر په توګه دلته کندهار ته راغلی دی.

صادق دغه شپه بیا تر سهاره په رڼو سترګو تېره کړه، کله به د مینا د ساحرانه ښکلا وړانګې دده پر حواسو ور واوښتې زړه به یې د خوښیو او یوه ځانګړي احساس په څپو کې درزېدو، کله به یې د ګرجي قورتین د وحشت او تیري کیسو زړه له غوسې وپړساوه. نه پوهېدو چې د دې مظلومې مور او لور په باب له چا سره خبره وکړي، پلار یې ساده سړی و، هغه ته یې د دومره مهم راز ویل بې ګټې بلل، ویل یې هسې به خبره نوره هم ویجاړه کړي، یو ځل یې له ځانه سره جوړه کړه چې قورتین یو تن دی، په کور کې به

بې د مینا او د هغې د مور په مرسته کیسه ور ختمه کړي. د گنگارام له دوکانه به نیل توتیا راوړم په ډوډۍ کې به یې ورته واچوي چې بې سده شو بالبنت به یې پر خوله ور کېږدم. خو چې د هغو پر پایلو یې فکر کاوه لاره یې پکې نه شوای ایستلای، وروسته یې پرېکړه وکړه چې دغه راز به د قام مشر میرویس خان ته وایي. سبا ته یې له مینا او د هغې له مور سره بیا ولیدل، هغوی ته یې ډاډ ورکړ چې ډېر زر به یې ددغه بې رحمه انسان له منگولو وژغوري، دوی ته یې وویل چې د مناسب فرصت انتظار وکړي.

د جمعې په ورځ تر غرمې وروسته صادق په کوکران کې په یوه حجره کې میرویس خان ته مخامخ ناست و. په حجره کې درې تنه، نور هم وو. شمروز خان، بابو جان بابی او سیدالخان.

د صادق لنډې کیسې ټول حیران کړي وو.

سیدالخان وویل:

خانه په دې مور او لور کې خو به څه چل نه وي، ددوی خو به له دې شېر افغان نومي سره راز شریک نه وي؟

نه، نه! له ورایه ښکاري چې مور او لور ریښتینې دي. ما ته له اولې ورځې دغه سړی چوتار ښکاره شو. خو ډېر پوخ دی، کار پرې شوی. سور گرجی، په څلور کتابه کافر، ځان یې موږ ته خپل هله او وجود معرفي کړ. خدای مو پرده کړې چې پرې شکمن وو. میاجي صیب خو سم پرې تېر وتلی و. که موږ لږ غلطي کړې وای، ده به ډېرې خرابۍ کړې وې. ما ته یې چې یوه ورځ پټ څه وویل په یاد مو دي؟

- هوکې څه یې ویل:

- را ته ویل یې چې د گل په شان پېغله لور لرم، که واده ورسره کوې در قربان ده! پر دې خبره مې ډېر بد ترې راغلل او وپوهېدم چې پر ناموس دلالي کوي څه موخه خامخا لري.

اوس یې چاره پکار ده، خو تر ده مخکې د هغه مېرمنې او د هغې لور د ژوند او ابرو پرلارو چارو باید غور وکړو.

له دې خبرې سره د صادق مخ تک سور شو، خو څه یې و نه ویل.

ښه شېبه چوپتیا شوه، بابو جان بابي وویل:

خانه! یو ژمی خو دې په مخ کې ناست دی، یو بار یې پر اوږو ور واچوه!

هوکې! خو پر دې باید فکر وکړو چې صادق جان په لوی لاس د بلا خولې ته ورنکړو. دی په ښار کې دوکان لري، ژوند یې ورپورې غوټه دی. د کور دېوال یې د شېر افغان (سروان قورتین) له کور سره شریک دی. پر دې خبیث چې هره ټکه را ولوېده د گرجیانو د غوسې دم ته به د صادق جان دوی کورنۍ لوېدلې وي. د ده او د نجلۍ او د مور خوښه هم شرط ده، موږ خو ظلم نشو ورسره کولای.

سیدالخان وویل:

دوی دې کډه وکړي، دوکان دې هم یوسي، په کلات کې یې د مېشتېدو بندوبست کېدای شي.

- پر دې به فکر وکړو، ما ته خو اوس د دې بدبخت مېرمن او لور د خور او مور غوندې ښکاري. که دلته پاتې کېږي یو د ابرو ژوند یې باید جوړ شي. دا خو د ایمان او غیرت خبره ده چې هغوی ظاهري نعمتونه په لغته وهي.

شمروز خان غاړه تازه کړه، له اوږدو چورتونو را په خود غوندې شو:

خانه! دا شاه حسین د ایرانیانو پاچا خو ډېر بې غیرته انسان دی. گرجیان یې په خپل قام او قبیل څه ډول ظلمونه کړي، ده بیا هم گرگین روغ پرېښی او د ده هغه ظالمان قوماندانان یې بیا هم پرېښي چې پر ایرانیانو هر ډول تېری کوي. ته دې مظلومې مور او لور ته گوره، بس لکه غنیمت. توف لعنت شه!

میرویس خان وویل:

د ظالمانو په پاچاهۍ او واکمنۍ کې د انساني اخلاقو او ارزښتونو پوښتنه نشته. دوی ته یوازې خپل عیش او نوش مهم دي نور هېڅ نه.

*****

په کوڅه کې چیغې اوچتې شوې :

کور اور واخیست، هلی اوبه راوړئ!

له شاوخوا کورونو ښځې او نارینه را ووتل. په منګیو، کټوو او کوزو کې یې اوبه راوړې، خو د اور لنبې د اوبو پر شیندلو لا یاغي کېدې.

کوم یوه په لوړ غږ وویل:

دا خو د شېر افغان کور دی. بال او بچ یې څه شو.

ګاونډی یې صادق خلکو ته لګیا و:

لمونځ لا نه و روا شوی چې په کوڅه کې د اسونو شیشنېدا او د پښو ترپا را وېښ کړم. سودا مې شوه د دروازې له چاکونو مې د باندې را وکتل. کوم لس دوولس سپاره وو زرې او خولونه یې اغوستي وو، په داسې ژبه ګړېدل چې زه نه پرې پوهېدم. داسې ښکارېدله چې شېر افغان او کورنۍ یې هم ورسره وو او بیا په تراټ لاړل. ما دروازه وازه کړه وروپسې و مې کتل. تته لیکه د کوڅې کیڼ لوري ته واوښته.

تر ماښامه په ټول ښار کې د شېر افغان د کور د سوځېدو او د ده او د کورنۍ د ورکېدو خبر خپور شو. سهار وختي له پوځي کلا په سلګونو پوځیان را ووتل، کوڅه کلابنده او کور په کور تالاشي پیل شوه. یوه غوغا اوچته وه، د خدای پار دی موږ څه ګناه کړې؟

ګرجي پوځ په مستو خنداوو کې ښځې، ماشومان او نارینه سره بېل کړل. درې تنو لږ خوله ورسره وهلې وه، نېزې او تورې یې تر ټټر بوټې ختلې وې. د صادق دوی د کور په شمول یې څلور کورونه وسوځول. تر تنکۍ غرمې یې ۷۰ تنه چې ۱۲ تنه یې ځوانې نجونې وې ورسره بوتلل. بوډاګان، ماشومان او ښځې یې په کړېږو او فریادونو پرېښودل. ماښام میرویس خان د ګرګین دربار ته ورغی، د محلې درې څلور تنه سپین ږیري هم ورسره وو.

ګرګین له غوسې تور او شین کېدو:

تاسو نو اوس د ایرانیانو کورونه سوځوئ!

میرویس خان وپوهېدو چې شېر افغان د ګرګین خاص ځری دی، نور یې د هغه په باب شکونه ټول په یقین بدل شول، په نرمه لهجه یې هغه ته وویل:

شېرافغان پر موږ د خپلو عزیزانو په څېر گران دی، خو رازق اکا یې گاونډی دی، دده زوی لیدلي چې هغه له لس دوولس تنو سپرو سره سهار وختي له کوره وتلی دی. د کور په سوځېدو یې هغه مهال خلک خبر شول چې د اور لنبې تر اسمانه رسېدې.

گرگین په سړه گواښنده لهجه وویل:

میرویس خانه! که تر سبا شېر افغان او د هغه کورنۍ را ونه سپارې د دغه اویا تنو لپاره مو قبرونه تیاروئ!

تاسو صفوي ټولواکۍ ته سپکاوی کوئ، سوله خوښي اتباع یې برمته کوئ! نن یو سړی ورک شو، سبا د نورو همدغه حال دی. زه به یې اصفهان ته څه ځواب وایم!

دغه خلک چې له ما سره دلته راغلي او مېشت شوي دا ټول په ما پسې سجل شوي دي.

د اصفهان دربار یې له ما د مړي ژوندي حساب غواړي.

میرویس خان ورته وویل:

جنابه! زه ستاسو په مسوولیت پوهېږم، په گډه به هڅه کوو چې شېرافغان پیدا شي. خو کوم کسان چې ستاسو پوځیانو را وستلي ټول بېگناه دي، په تېره هغه نجونې یې چې راوستلې، له دې نه به بله لانجه راپورته شي.

د گرگین سترگې له غوسې رډې را وختلې:

- میرویس خانه ما ته گواښونه مه کوه! زه به ټول کندهار درته په یوه شپه کې لوخړه کړم!

میرویس خان بیا په نرمه لهجه ورته وویل:

جنابه! غوټه چې په لاس خلاصېږي، خولې ته څه حاجت دی. ما در ته په نرمه هغه څه کړي چې ستا پوځ وینې پرې تویې کړې و یې نشو کړای. د کاکړو او بلوڅو مالیه مې درته راټوله کړه، بندیان مې درته ژوندي را وستل. ته خو لږ په آرامو اعصابو فکر وکړه. زه ستا او د اصفهان د صفوي ټولواکۍ خواخوږی یم.

د گرگین پر شونډو طنزیه موسکا تېره شوه:

دا خواخوږي دې له ځان سره وساته!

میرویس خان وویل:

په دې کې زموږ خپل خیر هم دی. ما مخکې هم درته ویلي. موږ چې له اصفهان سره وو د ډیلي له شره به خوندي وو. بیا یې د محلې مشرانو ته مخ واړاوه:

رازق اکا! ستاسو دېوال خو له شېر افغان سره شریک و، حال ورته ووایه!

هغه لاړې تر ستوني تېرې کړې په ادب یې وویل:

صادق جان پرې را وېښ شو. ویل یې چې لس دوولس اسونه وو، زموږ د ګاونډي بال بچ ټول ورسره لاړل، په کوڅه کې کېڼ لوري ته واوښتل. نور نو موږ پرې خبر نه یو خانه!

د میرویس خان په نرمه لهجه کې پټ ګواښ په ګرګین اغېز کړی و، هغه پر دې پوهېده چې میرویس خان رېښتیا ویل، د مالیې او بندیانو خبره یې هم رېښتیا وه.

میرویس خان یو څو نرمې خبرې نورې هم ورته وکړې، بیا ناڅاپه ګرګین هغه خاص اردلي ته حکم وکړ:

د زندان کوټوال ته ووایه چې بندیان خوشي کړي.

تر دې حکم وروسته یو ځل بیا د کبر پېریان پرې کېناستل، میرویس خان ته یې وویل:

په عیسی مسیح... په لوی خدای مې سوګند دی چې تر درې ورځو شېرافغان او د هغه کورنی روغ رمټ را ته حاضر نه کړې امر کوم چې ټول ښار درته په بل مخ چپه کړي.

د هغه له خولې د عیسی مسیح د نامه له اورېدو سره میرویس خان بشپړ ډاډه شو چې دغه خونکار په رېښتیا هم مسلمان شوی نه دی. سخته کرکه یې ترې راغله، خو ځان یې ناګاره واچاوه. یوازې دومره یې وویل چې زه به پوره هڅې وکړم چې هغه پیدا شي. خو په دې پېښه کې زه او زما ولس هېڅ مسوولیت نه لري، خدای خبردی، شېر افغان به پخپله خوښه له کورنی سره اصفهان ته ستون شوی وي.

*****

لویه خونه په تیارو کې ډوبه وه، د شیطان چراغ ژیړې وړانګې تر یو یو نیم ګام وړاندې د تیارو تر پردو لاندې پیکه کېدې، چراغ ته درې څلور تنه را ټول وو، په تته رڼا کې د یوه تن پر تندي د خولو څاڅکي ځلېدل.

میرویس خان هغه ته مخامخ ناست و، ورته وې ویل:

سروان قورتین صیب! څنگه یې!

لږ وړاندې کېڼ اړخ ته په توشکه دوې مېرمنې ناستې وې چې مخونه یې پټ کړي وو. یوازې سترگې یې ښکارېدلې، یو له بل سره وپسېدې.

میرویس خان بیا زیاته کړه:

نور دې د شېرافغان ډرامه رسوا شوې، کوږ بار تر مزله نه رسېږي. د ظلم ډیوه تر سهاره نه بلېږي. نور هر څه ختم دي. که غواړې وجدان دې آرامه وي، یو څو پوښتنو ته مې صادقانه ځواب راکړه.

هغه ځان را ټول کړ، لکه تر چړې لاندې حیوان چې د ځان ژغورنې وروستۍ هڅه کوي. غوښتل یې په لهجه کې یې رعب ښکاره شي وې ویل:

زه د جناب بېگلربیگي تر ټولو نږدې خپلوان یم. که مې یو ویښته ضایع شي ښار ته به اور واچوي. سړي څه چرگې او سپیان به مو ژوندي پرېنږدي.

میرویس خان ورته وویل:

زه په اخلاص درته وایم چې د وجدان له عذابه ځان وژغوره، همدا یوه لاره لرې چې د خپل ماموریت نور انډیوالان دې وښیي.

د هغه پر شونډو معنا داره خندا راغله، له څېرې نه یې هغه پخوانۍ تازگي الوتې وه، چوپ پاتې شو.

میرویس خان شا ته وکتل د چراغ په تته رڼا کې له دروازې سره دوه تنه ولاړ وو، هغوی را وړاندې شول. قورتین یې چې لاسونه یې تر شا کلک تړلي وو تر تخرگونو ونیو اوچت یې کړ، میرویس خان پر یوه ځوان غږ وکړ:

بلاله! په خبرو یې راولئ! خو پام کوئ چې مړ نشي!

ځواب یې ورکړ:

موږ ته یې پرېږده خان صاحب!

میا جي چې مېرمنو ته مخامخ ناست و وویل:

خانه! جرم یې ثابت دی، نور یې څه څورو؟

میرویس خان ورته وویل:

میاجي! دی یوازې نه دی خامخا نور همدغسې ملګري لري که یې معلوم کړو ډېر به مو په خیر وي. دغسې مخبران یوازې نه وي.

بیا یې دواړو مېرمنو ته چې مور او لور وې مخ واړاوه ورته وې ویل:

بي بي ستاسو د راتلونکې پرېکړه ستاسو پخپل واک کې ده. که خپل وطن ته ځئ، زه مو د خدای په توکل تر کوره د روغ رمټ رسولو ذمه واري اخلم. چې د دې بد بخت کیسه لږ خپ شي په عزت او درناوي به مو خپل کور او وطن ته رسوم.

هغوی ځواب ورکړ:

زما پلار او خاوند خو د ګرګین پوځیانو ووژل، کور مو لوټ شو، موږ مور او لور یوازې پاتې یو، اوس نو زموږ واک ستاسو دی او پر دې خوښې یو چې د یوه درانه قام درانه مشران زموږ د عزت او ابرو ساتندویان دي. که د اصفهان پاچا د خپل ولس د عزت پروا درلودای نو ګرګین او قورتین به یې داسې ایله نه پرېښودل.

په کرمان کې زموږ کور او عزت لوټ شو خو په کندهار کې مو عزت خوندي شو. نور همدغه درنه خاوره زموږ وطن دی.

بیا ژړه غونې شوه وې ویل:

درنه مشره! ته نور زموږ پلار یې، پلار چې د اولاد په حق کې هره پرېکړه کوي په سر سترګو مو قبوله ده. خو یوه هیله مو ده:

د دغه قورتین خبیث په خبرو تېر نه وځئ. سپېڅلي پیغمبر ته یې ډېره سپکه خوله خوځوله.

میرویس خان ورته وویل:

له دې بېغمه اوسئ.

بیا یې ورته وویل:

ستاسو ګاونډی صادق پېژنئ؟

ـ هوکې با شرفه زلمی دی.

ـ لور دې له هغه سره واده ته چمتو ده؟

- دا به مې د لور نیکمرغي وي چې د صادق غونډې زلمی یې د سر سیوری شي.

سهار بلال میرویس خان ته راغی، په موسکا یې وویل:

سړی په خبرو راغی. درې تنه یې را وښودل. را ته ښکاري چې همدغه درې به وي. یو په ښار کې د دوی له کور نه یوه کوڅه شا ته، دوه د ښار په جنوبي اړخ کې اوسېدل. خو څو دوی ور رسېدل ناوخته شوي وه. د قورتین له بې درکه کېدو سره درې واړو کورونه او په ښار کې دوه دوکانونه پرېښي وو او ترې تم شول.

په همدې ماښام یې د میاجي په شرعي فتوا قورتین اعدام کړ او په داسې ځای کې یې تر خاورو لاندې کړ چې د گرجیانو لاس نه ور رسېده.

*****

گرگین د نارنج مانۍ په شاهي دربار کې قدم واهه، غاښونه به یې وچیچل، لاسونه به یې ومروړل، له ځانه سره به په گونگوسو شو، له ورایه نارامه او وارخطا ښکارېدو. درې اونۍ تېرې شوې چې قورتین بې درکه و.

خاص نوکر یې راغی پر ملا مات شو درناوی یې پر ځای کړ بیا یې وویل:

اعلیحضرته! جناب قوماندان غواړي په حضور مشرف شي.

هغه ورته وویل:

حاضر دې شي.

خادم ووت لږ شېبه وروسته الکساندر میرزا تالار ته ور ننوت درناوی یې پر ځای کړ وې ویل:

والا مقامه تاسو را غوښتی وم!

گرگین راغی پر خپله کرسۍ یې ډډه ووهله وې ویل:

الکساندره! قورتین له بال بچ سره ورک دی.

- پرې خبر یم!

- پر قورتین پسې بلا شه، مهمه دا ده چې که یې له هغه رازونه ایستلي وي، زموږ خو به ډېر کار را خراب کړي. دې احمق ته مې څو ځلې وویل چې دغه ښځه دې په بلا اخته کوي، زما باور دی ټول افت په هغه ښځو کې دی چې را تښتولې یې وې. قورتین احمق

د ښځو شوقي دی خو د رام کولو په چل یې نه پوهیږي. دده نورو همکارانو ته مې احوال ورکړ چې له چوڼۍ ونه وزي، میرویس ډېر خطرناک سړی دی، که په لاس ورشي پوست به یې له بوسو ډک کړي.

اوس زما بله اندېښنه داده چې هغه د خپلې غلطۍ ښکار شوی که یې له چوڼۍ راز افشا شوی دی، ته مې د دې لپاره را وغوښتې چې لاړ شه پټې پلټنې وکړه، زما باور دی چې میرویس په موږ کې سړي لري، که ددې چاره ونه کړو ځمکه به راته سره تبۍ کړي.

الکساندر میرزا سلامي ووهله او له تالاره ووت، گرگین لاسونه وپړکول، له ورېښمینې ارغوانې پردې یوه په نریو جامو کې وینځه را ننوته مخامخ ورته ودرېده په درناوي ټیټه شوه. گرگین یو جام وغوښت، هغه بیا په ملا ټیټه شوه تر پرده دننه لاړه لږ وروسته یې یو جام په وړوکي زرین پتنوس کې راوړ او په درناوي یې گرگین ته ونیو.

معمولاً به دا د گرگین د سندرو او نڅا اشاره وه، پرده بیا پورته شوه، درې په نازکو جامو کې نیم بربنډې نجونې راغلې، ورپسې درې څلور په زرینو جامو کې د موسیقي بېلابېلې آلې په لاس کې سازنده گان راغلل، گرگین جام یو ځل پر سر واړاوه، ټوخي پسې واخیست، په لاس یې نڅاگرو او سندرمارو ته د وتلو اشاره وکړه او هغوی په بېره بېرته تر پرده د ننه لاړل.

هغه خپلې خاصې وینځې ته تش جام ونیو او د بېرته تلو اشاره یې وکړه، هغه هم ټیټه شوه تر درناوي وروسته لاړه تر پرده الونیه شوه. پر گرگین بیا د پرېشانۍ ځپه راغله له ځانه سره غوسمېدو خو خبرې یې نه سهي کېدلې، کله به مخامخ کړکۍ ته ودرېده، کله به بېرته راغی او بې واکه به پر کرسۍ کېناست، بیا یې سر په دواړو لاسو کې ونیو او چوپ کیناست .

تر ډېره یې همداسې سر په دواړو لاسو کې نیولی او سترگې یې تر تخت لاندې پر سره غالۍ گنډلې وې. بیا په غوسه راپورته شو د کرسۍ بازو یې په زوره وواهه، یوه بې معنا رمباړه یې له خولې ووته، لاړ بیا مخامخ محرابي کړکۍ ته ودرېد، له سترگو یې لنبې

بادېدې، په وښکیو کې یې څګونه ښکارېدل، په داسې غږ لکه په ستوني کې یې چې هډوکی نښتی وي چیغه کړه:

میرویس خانه! دا ټول ستا نخرې دي نور دې نه پرېږدم. نور دې نه پرېږدم... سر دې درباندې الوزوم، توپ ته دې تړم! د قام دې لاس خلاص!

له غلجو تر درانو د ټولو لاس خلاص، ته زما عزیز وژنې، ته سروان قورتین وژنې! زه به یې در وښیم چې څومره درنه بیه به یې ادا کوې!

بیا یې خپل خاص اردلي ته چیغه کړه:

زمرده!

سپېرې شونډې، کرخت مخ، د مار غوندې ځلاندې وړې سترګې، غټ د افسانوي پهلوانانو په څېر هډ او وجود له میناتوري دروازې راننوت. پر ملا مات شو او هماغسې په رکوع پاتې شو.

-زمرده الکساندر ته ووایه چې قوماندانان دې ټول را حاضر کړي!

هغه نور هم په ملا خم شو، په شا ولاړ له دروازې سره نېغ شو ووت. د ګرګین په سترګو کې سره رګونه زیات شول، پر پاس پلنه شونډه یې سور وزمه پلن بریتان لړزېدل. لاسونه یې وپړکول، له پردې نه په نریو وریښمینو جامو کې هماغه نرۍ جګه وینځه راښکاره شوه، ګرګین په لاس د څښلو اشاره ورکړه، هغه په درناوي خمه شوه زر تر پرده واوښته. څو شېبې وروسته چې بیا راښکاره شوه په زرین پتنوس کې یې صراحي او جام ایښې راغله، ګرګین پر خپله کرسۍ کېناست نجلۍ په نزاکت پتنونس پر میز کېښود له صراحي یې ګلابي رنګه شراب په جام کې تویې کړل، ورغله په موسکا یې ګرګین ته ونیول.

ګرګین په بېړه جام ترې واخیست په یوه ساه یې پر سر واړاوه، تر وروستي څاڅکي یې تر ستوني تېر شول، ویې ټوخل، په ټوخي کې یې په اشاره بل جام وغوښت، سر پر سر یې چې دوه جامه نور وڅښل سترګې یې وپړسېدې، لکه خوب چې پرې غلبه کړې وي، سترګې یې پرې درنې شوې.

لویه دروازه پرانیستل شوه او په لوی قوماندن پسې یې د رسالو قوماندانان کتار راغلل، په یوه لیکه لاس په نامه ودرېدل او بیا پر ملا خم شول.

گرگین سر ته جټکه ورکړه سترگې یې په زحمت وغړولې، له خولې یې غږ راوخوت لکه له څاه نه چې راوتلی وي:

ټول... په توپ والوزوئ! ... را ویې ځړوئ!... قوماندان الکساندر میرزا له وېرې په ډکه لهجه په ټیټ غږ وویل: جنابه! څوک ښایاست!

د گرگین تر څنگ د میز تر شا وینځه ولاړه وه ډک جام یې په لاس کې و او له وېرې لړزېدله....

گرگین په ډېر زحمت سر راپورته کړ وزنگېد، پخوا تر دې چې په کرسۍ کې را ړنگ شي د لاس په اشاره یې خپلو پوځیانو ته د وتلو امر وکړ او بیا په کرسۍ کې په کیڼ اړخ را ړنگ شو .

قوماندان په کراره ور وړاندې شو، د خاصې وینځې له لاسه یې جام واخیست سپړمو ته یې ونیو، سترگې یې کش کړې، سر یې په حسرت وخوځاوه، ځوړند سرونه ټول له درباره ووتل. قوماندان د خپلو رسالو مشرانو ته وویل:

د زړو ارمني شرابو نیشه زر نه الوزي، تر نیمو شپو به په سد نشي، خو حکم ته چمتو اوسئ. ما جناب بېگلر بیگي ډېر لږ په داسې حالت لیدلی. څه خبره خامخا شته چې را په خود شي خامخا مو را غواړي. اوس یې په نېشه کې خار ښه نه دی .

*****

تنکۍ غرمه میرویس خان د گرگین په مخکې ولاړ و. گرگین ډېر ستومانه ښکارېدو لکه له اوږدې ناروغۍ چې را پورته شوی وي. ډېر بې سېکه او مړاوی و. د غوسې بیگانۍ جوش یې هم ناست و، میرویس خان ته یې په داسې لهجه چې تر رعب عذر پکې زیات و وویل:

خانه شېر افغان پر ما ډېر گران و، د مړي او ژوندي درک یې ورک دی. په ښار کې د ایرانیانو کورونه هم سوځېدلي .

د میرویس خان په څېره کې د اندېښنې کرښې جوړې شوې وې ویل:

شېر افغان خو یو بې جوړې سړی دی. له ده سره به د چا دښمني وي. په بې درکه کېډو یې ټوله محله خپه ده. زه ورغلی وم باور وکړه په جومات کې دوو درې تنو پسې ژړل. ما چې پوښتنه وکړه تر اور لګېدو مخکې لس- دوولس په اسونو سپاره کسان هلته راغلي وو. شاوخوا ګاونډیانو ویل چې ټول په فارسي ږغېدل. دوی ګومان کاوه چې شېر افغان یې له بال بچ سره له همدې سپرو سره ولاړل. وروسته چې له کوره لنبې جګې شوې، خلک را ټول شول په کور کې یې د چا غږ او شور هېڅ نه دی اورېدلی. سړی نه پوهېږي چې کورته دوی پخپله اور اچولی او که بل چا او موخه یې څه وه؟

ګرګین په مرموزه خندا وویل:

ددې لپاره چې پل ورک شي اور یې اچولی دی. خانه ته تر ما پردې ښه پوهېږې.

- د هغه نوربال بچ څه شول ډېره عجیبه معامله ده!

- بېغمه اوسه د صفوي ټولواکۍ د خلکو برخلیک داسې ګونګ نه پاتې کېږي... د پوښتنې یو څوک لري.

ګرګین بیا سترګې کش کړې په ستومانه لهجه یې وویل:

زه یو بل خبر هم درته لرم!

میرویس خان په تلوسه ترې وپوښتل:

د څه خبر؟

زه او ته دواړه یې اصفهان ته غوښتي یو. دغه وضعه داسې ده چې زه نشم تلای خو ته به لاړ شې. دا به دې ستر ویاړ وي چې د اعلیحضرت په پا بوسي مشرف شې !

د میرویس خان په غوږو کې د خطر زنګونه وکړنګېدل، خو ځان یې را قابو کړ، د خندا هڅه یې وکړه وې ویل:

که تاسو ته د تګ مناسب وخت نه دی، ما ته هم همداسې ښکاري. په دې ورځو کې نا آرامۍ ډېرې دي، په ولس کې زما شتون ته ډېره اړتیا ده. یو شمېر احساساتي ځوانان د خلکو له احساساتو ګټه اخلي. چې لږ وضعه ښه شي، دواړه به ګډ لاړ شو.

نه نه! میرویس خانه که دواړه لاړ نه شو بل ډول به تعبیر شي. د اعلیحضرت په دربار کې هر څوک دوست او دښمن لري. دښمن دې ته شین ناست وي چې له کوم فرصت نه گته واخلي او خپل رقیب را څملوي.

میرویس خان د گرگین پر نقشه پوهېده خو نه یې غوښتل چې هغه پرې ډېر بد گومانه شي، وې ویل :

ښه ده مشوره به پرې وکړو، که اصفهان ته تگ اړین وي بیا خو به لاړ شم .

گرگین الکساندر میرزا ته مخ واړاوه:

همدا نن میرویس خان ته د سفر لپاره اسونه او گاډۍ د ساتونکیو له بدرگې سره چمتو کړه! بیا بېله دې چې د میرویس خان خبره واوري او یا نور څه ووایي، په ستومانه او بېزار انداز جگ شو. د میناتوري دروازې له لارې خپل حرم ته ننوت .

میرویس خان پوهېده چې گرگین غواړي دی له کندهاره لرې کړي، له خپلو ملگرو سره یې پخوا هم مشوره کړې وه چې که دغسې وضعه راشي نو څه به کوي. اوس یې چې د گرگین جدي حکم واورېد لږ ځنډ وروسته یې له قوماندان الکساندر میرزا نه وغوښتل چې تر تگ مخکې غواړم یحیی خان ووینم .

ماسپښین مهال یحیی خان راغی، میرویس خان ورته وویل:

سیدالخان، میاجي، بابو جان، او نورو مشرانو ته ووایه چې زما تر راتگه ډېر احتیاط وکړي، سیدالخان او شمروز خان ته د وسلو په باب خبر ورکړه، هغوی نور پوهېږي چې څه وکړي .

ته همدلته اوسه خو درې څلور ورځې وروسته نومحمدجان له دوو دریو نورو کسانو سره اصفهان ته را پسې راواستوه. د ډالیو لپاره مناسب شیان دې له یاده ونه وزي، نور یې رخصت کړ .

شپه تر نیمایي اوښتې وه چې له پوځي کلا نه د اسونو او سپرو په بدرگه دوې گاډۍ ووتې. د قام ستر خان د نظر بند په توگه اصفهان ته وخوځېد. خان یوازې یوه اندېښنه درلوده. دا چې له ده پرته به یې پیل شوی غورځنگ ژوندی پاتې شي که نه! وړوکی

کاروان په دښتو کې د باد په څېر روان و. د میرویس خان په غوږونو کې د درا
نیکه مناجات ازانګې کولې

لویه خدایه لویه خدایه
ستا په مینه په هر ځایه

……

دا وګړي ډېر کړې خدایه
لویه خدایه، لویه خدایه

او بیا میرویس خان له ځانه سره ویل:

نیکه دعا دې خدای قبوله کړه، قام دې ښه ډېر شوی، خو خدای دې یووالی او غیرت ور پیروزو کړي .

دریم فصل

د اصفهان بندي «۱۷۰۷ زکال»

(۱)

د اصفهان شاهي مانۍ دربار په ظاهري ښکلا او تشریفاتو کې کوم خاص بدلون نه ښکارېدو، دربار لګېدلی و، دوو لوریو ته د پاچا ساتونکي په زرینو جامو کې له تورو او نیزو سره په منظمو کتارونو کې ولاړ وو، درباریان د خپلو رتبو او مقامونو سره سم د تخت لاندې ښي او کیڼ لوري ته ناست وو، سره له دې چې د صفوي ټولواکۍ زوال پیل شوی و خو د هغه متل په مصداق چې (پیل له تندې مړ شي هم یو زنګون اوبه یې په خېټه کې وي) تر اوسه دربار د خبرې او مشورې کسان درلودل، تنکۍ غرمه وه، اعتماد الدوله فتح علي خان، دیوان بیګي خسرو خان او د اصفهان امنیتي مسوول (داروغه) د شاه حسین په دربار کې حاضر وو، پاچا خپلې پړسېدلې سترګې کش کړې، سرې کربښې یې نورې هم سرې شوې په خوبولي غږ یې وپوښتل:

له کندهاره کاروان څه وخت راورسېد؟

داروغه ځواب ورکړ:

پخه شپه وه چې راورسېدل! هغه مهال مې لازمه نه بلله چې اعلیحضرت ته زحمت ورکړم!

-اوس میرویس خان چېرته دی؟

-تراوسه د چهلستون ترڅنګ په میلمستون کې دی والامقامه!

پاچا په بیزارۍ اعتماد الدوله او دیوان بیګي ته وکتل، وې ویل:

له دې سړي سره څه وکړو؟

اعتماد الدوله د پاچا په لاس کې کاغذ ته په اشارې وویل:

اعلیحضرته! بېګلر بیګي صاحب، څه لیکلي دي؟

پاچا کاغذ هغه ته ونیو:

واخله پخپله یې ولوله، هغه لیکلي چې میرویس خان په اصفهان کې ایسار او نظربند کړی، په هېڅ صورت یې مه پرېږدی چې بېرته راشي که کندهار ته راشي دلته خلک پاروي او موږ ته ستونزې جوړوي.

اعتماد الدوله لیک واخیست، زر زر یې ولوست، له لوستلو سره یې په بڼه کې یو ډول ناکراري زیاتېده، لیک یې تر پایه ولوست، بیا یې شاه حسین ته وویل:

اعلیحضرته ! گرگین خان خو په ښکاره وایي چې بندي یې وساتئ!

دیوان بیگي (خسرو خان) هم ورو غاړه تازه کړه:

اعلیحضرته ! کا کا مې ما ته هم لیکلي چې میرویس خان ترهغو ډېرخطرناک دی چې تصورېې کیږي. هغه دا یادونه هم کړې ده چې میرویس خان د اصفهان په دربار کې یو څوک لري، پر هرڅه خبرېږي ... شاه حسین یې خبره ور غوڅه کړه:

گرگین جک وهي. میرویس په اصفهان کې سړي له کومه کړل؟ هرڅوک د خپلو بې کفایتیو پړه پر نورو ور اچوي. ما خو بیگلربیگي ته پوره واک ورکړی، که میرویس او یا بل څوک ورته خنډ جوړوي ولې همالته سزا نه ورکوي؟

دیوانبیگي خړ شو، هېڅ یې ونه ویل. دربار تر څه ځنډه چوپ و، بیا اعتماد الدوله فتح علي خان وویل:

اعلیحضرته! اوس څه وکړو، له دې سړي سره څه ډول سلوک غوره دی؟

شاه حسین ځواب ورکړ:

ښه دې وویل، ماد همدې لپاره تاسو سلا ته را وغوښتی، میرویس خان د قام مشردی، عادي سړی نه دی، وخت هم بدل دی، چېرته یې وساتو او په کوم حیثیت؟

دې پوښتنې ته اعتماد الدوله، دیوان بیگي او داروغه یوه هم ځواب نه درلود، ټول چوپ وو، بیا اعتماد الدوله وویل:

تر زندان نه به په پوځي چوڼۍ کې مناسب وي، هلته به خوندي هم وي او لیدل کتل به یې هم تر څارنه لاندې وي. او ظاهراً به بندي هم نه وي.

شاه حسین وویل:

میرویس اوس زموږ په لاس کې دی، وژلی یې هم شو کوټه قلفي کولای یې هم شو، نظر بند یې هم ساتلی شو، خو مناسبه لاره یې کومه ده؟

دیوان بیگي وویل:

اعلیحضرته! که یې په وژلو ستونزه نه جوړېدای ښایي کاکا مې اصفهان ته نه وای را استولی همالته به یې په توپ الوزولی ؤ.

شاه حسین په تائید سروخوځاوه، داروغه چې نوی یې پر مسالې سر خلاص شوی ؤ وویل:

بیا خو د والامقام اعتماد الدوله دغه تدبیر معقول دی چې په پوځي چوڼۍ کې په یوه مناسب ځای کې وساتل شي.

د پاچا پر شونډو د لومړي ځل لپاره پیکه موسکا تېره شوه وې ویل:

چوڼۍ ښه ده چې ته یې له شره په امن شې!

له دې سره نورو هم وخندل. بیا پاچا وویل:

قورچي باشي (د قزلباشو د ځانگړي ځواک مشر) را وغواړو که د پوځ سالار؟

اعتماد الدوله وویل:

پوځي چوڼۍ د ښار په څنډه کې ده، قورچي باشي ته به یې سپارل مناسب وي، د اړتیا پر وخت به له میرویس خان سره لیدل هم اسانه نه وي ... دیوان بیگي یې هم خبره تائید کړه، بیا شاه حسین د ښار امنیتي مسوول ته وویل:

چې د قورچي باشي کسان درغلل میرویس خان ور وسپاره، په درناوي چلن ورسره په کار دی.

دوی درې واړه چې له شاهي ماڼۍ را ووتل د یوان بیگي اعتماد الدوله ته مخ ور واړاوه:

زه غواړم همدا اوس یو ځل ور سره و وینم ستا څنگه خوښه ده!

هغه ځواب ورکړ:

زما یې هم لیدو ته تلوسه ده، خو اوس یو ضروري کار لرم، چې ځای پر ځای شو زه به بیا هلته ورشم!

اصلاً اعتماد الدوله نه غوښتل چې له دیوان بیگي سره یو ځای میرویس خان ووینې. د شاهي ماڼۍ له دروازې سره درې واړه په خپلو گاډیو کې سپاره شول، اعتماد الدوله پر

یوه لوري روان شو او دیوان بیگي خسروخان او داروغه د چهلستون مانۍ په لورر خوځېدل .

*****

درې اونیو اوږده او ستومانه مزل میرویس خان له سېکه غورځولی ؤ، نژدې ؤ چې سهار لمونځ ترې قضا شي، تر لمانځه وروسته له لویې خونې چې په گرانبیه غالیو پوښل شوې وه راووت، غوښتل یې خپل حالت درک کړي او وگوري چې خلک ور سره څه ډول چلن کوي.

په انگړکې یې قدم واهه، څلورو لوریو ته یې نظر واچاوه، پخوانۍ لویه کلا وه لوی انگړ یوه لوري ته څو د اکاسي او ناجو ونې ولاړې وې، شاوخوا ته د گلابو او نورو گلانو بوټي په منظم ډول اېښودل شوي وو، دا د چهلستون تر څنگ یوه پخوانۍ ودانۍ وه چې اوس د شاهي اوحکومتي میلمنو لپاره ځانگړې شوې وه، د انگړ درې لوریو ته لوړه برنډه وه چې مینا توري ستنې پکې درېدلې وې، هر دیوال ته دوه دوه ورونه را ختلي وو، د میرویس خان د خونې په مخه کې دوه برچه پک پوځیان ولاړ وو چې د ټوپکو برچې یې د دوی له ککرو لوړې وې، د جنوب لوري ته لویه دوه پلې اوسپنیزه دروازه وه، هلته هم شپږتنه پوځیان په یو ډول پوځي جامو کې ولاړ وو، له هغو دوو پهره دارنو سره یې سرسري روغبړ وکړ، هغوی ډېر په ادب او درناوي ځوابونه ورکړل.

میرویس خان پردې ښه پوهېدو چې د بندي په توگه اصفهان ته را استول شوی دی، پر هغو لارو چارو یې فکر کاوه چې له دې مصیبت نه څه ډول ځان وژغوري، له دښمن نه یې د هر کار تمه درلوده، پردې اندېښنو ډوب ؤ چې که کوټه قلفي اویا شهید شي ولس به یې له کوم برخلیک سره مخ شي، خپل یاران یې یو یو سترگو ته درېدل، بابوجان بابی، سیدال خان ناصري، میاجي . ... له ځانه سره یې ویل ... ورور مې عزیزخان دومره همت نه لري، بچیان مې وړوکي دي ... سیدال د توري مېړه دی ، خو د دښمنانو په ټگیو او چلوټو ډېرنه پوهېږي، بابو جان او میاجي د خبرو او تدبیر مېړونه

دی.... که ټول خپل یو والی وساتلای شي سره مخ او استر به وي، خدای مهربانه دی

...بیا یې پورته اسمان ته مخ کړ، د زړه له تله یې دعا وکړه:

خدایه ولس ته مې خیر پېښ کړې، خدایه بې شملې او بې تورې یې مه کړې!

له لمر ختو وروسته یې میرویس خان ته مکلف سبا ناری راوړ، پېروی، شات، هگۍ او رنگارنگ د خدای نعمتونه، خو خان د خپل عادت له مخې یوازې یوه پیاله شیدې او هگۍ نوش جان کړې، تر سبا ناري وروسته یوځل بیا انگړ ته راووت، تر لږ قدم وهلو وروسته بېرته خونې ته ننوت، تنکۍ غرمه په خپله خونه کې په کټ پریوت په چورتونو کې خوب وړی ؤ، یو وخت یې د دروازې له ټک ټک سره سترگې وغړولې، پخه غرمه وه کیناست، د دروازې کرار ټک ټک یې بیا واورېد اوبیا دروازه خلاصه شوه، یو په ونه جگ سړی خونې ته ورننوت، له چپنې او پگړۍ حکومتي چارواکی ښکارېدو، میرویس خان د خونې نیمایي ته ورغی، راغلي سړي په صمیمانه موسکا لاس ورکړ، سترې مشي یې ورسره وکړل. لنډۍ ږیره چې نسبتاً اوږد مخ یې پرې پټ ؤ، اوږده پزه، ځلاندې شنې وزمه سترگې، جگه ونه ده ته تر ډېره آشنا ښکاره وه ...

د هغه پر خوله غوړېدلې موسکا له ورایه مصنوعي ښکارېدله الفاظ یې صمیمانه وو:

د کندهار د ولس درونډ مشره په خیر راغلې، اوږدو مزلونو به ستومانه کړی یې، د اصفهان د ټولواکې په استازیتوب دې هر کلی کوم ...

بیا یې په هماغسې لهجه چې هڅه یې کوله صمیمانه وي وویل:

زه دیوان بیگي (قاضي القضات) یم، د کندهار بېگلربیگي (گرگین خان) مې کاکا دی!

میرویس خان په موسکا ورته وویل:

په لیدو دې خوشاله شوم، دا د ځان ویاړ بولم چې د اصفهان له داسې معتبر مقام سره گورم.

دواړو له الفاظو سره لوبې پیل کړې، غوښتل یې خپلې د زړونو خبرې یې پر خوله رانشي خو د بل لوري زړه او مازغو ته لاره وکړي چې څه فکر کوي او څه غواړي.

خسروخان د میرویس خان پر څېره سترګې ګنډلې وې، سپینې جامې او یوه خړه چپنه پر اوږو پرته، له خړو لیکو سره سپینه لونګۍ پر سر، پر شونډو موسکا، پر مخ ګڼه توره ږیره، غټې تورې سترګې، غوړېدلی تندی. په څېره کې یې د غرور هېڅ نښه نه وه، خو یو بې تعبیره رعب پکې ځپاند و. هغه پردې فکر کاوه چې په دې سړي کې څه دي چې یوه ټولواکي یې له مصیبتونو سره مخ کړې ده؟ غوښتل یې خپلې دې پوښتنې ته ځواب ومومي.

د روغبړ په ترڅ کې له تشریفاتي خبرو وروسته خسرو خان وپوښتل:

د ګرګین خان کارونه څه ډول روان دي؟

میرویس خان نه غوښتل په لومړی ورځ ځانته دښمنان جوړ کړي، بیله ځنډه یې ځواب ورکړ:

د کندهار ولس وياړي چې داسې با تدبیره او هوښیار سړی د بېګلربیګي په توګه ورته راغلی دی، ګرګین خان هوښیار سړی دی، شاهانه خوی لري، په اداره پوهیږي ... ښه امنیت یې راوستلی دی. که زموږ مشورې واوري او ویې مني نو بریالی به وي، د هند ګورګاني حکومت به نور د کندهار د نیولو خوبونه نشي لیدای.

دیوان بیګي د میرویس خان څېرې ته ځېر شو، پرخبرو او الفاظو یې فکر کاوه، ټولې ورته د زړه خبرې ښکاریدلې، له ځانه سره یې وویل:

کاکا مې څومره احمق دی، له داسې هوښیار او مخلص سړي سره دښمني کوي، میرویس خان یې باید تر ټولو نژدې سلاکار او د مشورې سړی وای. دیوان بیګي چې بیرته ستنېدو د خان په باب یې هغه احساس نه درلود چې د راتلو پر مهال ورسره و.

تر دې لیدنې دوې ورځې وروسته میرویس خان په یوه ګاډۍ کې چې دوو اسونو کشوله بل ځای ته ولېږدول شو، د برچه پک پوځیانو په بدرګه پوهېدو چې اصفهان د بندي په توګه ورته ګوري، نوی ځای یې د لویې پوځي چوڼۍ یوه جلا برخه وه، بېل انګړ، پخوانۍ ته ورته ودانۍ یو ډول معماري، خو په انګړ کې یې ونې نه وې، یوازې د ګلابو بوټي پرېمانه وو.

اونۍ وروسته يې وراره نورمحمد خان له دوو نورو ملګرو سره ور ورسېد، د میرویس خان په سپارښتنه هغوی د ډالیو لپاره څه شیان ورسره راوړي وو، نورمحمدخان خپل تره میرویس خان ته وویل چې دغه ځای (میدان نقش جهان) ته نژدې دی ددې تاریخي میدان شاوخوا ته شاهي ماڼۍ او نور تاریخي ځایونه دي، میرویس خان له کتاب او لوستلو سره مینه درلوده، په وطن کې خو ډېر لږ ورته وزګارېدو، د اصفهان دغه شپې ورځې يې غنیمت بللې چې یو څه پکې ولولي، له کوربنو يې کتابونه وغوښتل، هغوی د ملا باقر مجلسي او نورو شیعه مذهبي مشرانو اثار ورته راوړل، خان چې لوستل زیاتره يې د سني مذهب پر خلاف د توندو افراطي نظرونو نه ډک وو، د هغو لوستل يې پرېښودل، له وراره يې وغوښتل چې دده د خوښې د سیرت او تاریخ کتابونه له بازاره ورته را پیدا کړي. هغه سبا ته څلور ټوکه کتابونه ورته راوړل، ورته وې ویل:

کاکا دا مې په زحمت وموندل، یوه کتابدار غلي راته وویل چې حکومت د ملا باشي په اشاره پر زیاتو اثارو بندیز لګولی او د خپلې عقیدې او مذهب خلاف يې بولي.
میرویس خان پر هغو خوښ شو ویل يې اوس خو همدغه بس دي وروسته به ګورو.

لسمه ورځ دیوان بیګي دوهم ځلي ورسره ولیدل، داځل يې وضعه تر لومړي ځل ډېره صمیمي او دوستانه وه، میرویس خان ته يې د دوستۍ په دود په یوه ښکلې ټوکرۍ کې د اصفهان خاصه شریني او تازه میوه راوړې وه، د روغبړ په ترځ کې يې داهم ورته وویل چې ګرګین خان ته يې په لیک کې لیکلي دي چې باید د میرویس خان غوندې خواخوږی مشر ستا سلاکار وي، دا د شرم ځای دی چې دی ستا ستاینې کوي او تا يې پرخلاف پاچا ته شکایت کړی چې باید په اصفهان کې يې نظر بند وساتي.
میرویس خان دیوان بیګي ته یوه ګرانبیه هندۍ چپنه او کشمیري شالونه ډالۍ ورکړې، چې له هغه نه يې له ډېرې خوښۍ لار ورکه کړه.
شپې ورځې تېرېدې، یو سهار میرویس خان د خپل وراره نورمحمدخان له رخصتولو وروسته په برنډه کې پر کرسۍ ناست ؤ چې لویه دروازه پرانیستل شوه او یوه پر څلورو

اسونو پسې ترلیې گاډی انگړ ته ور ننوته، میرویس خان له ځایه جگ شو، د ماڼۍ د ساتونکیو څخه یو تن ور نژدې شو، ورته وې ویل:
ښاغلیه! اعلیحضرت اعتماد الدوله ستاسو لیدو ته تشریف راوړی دی.

میرویس خان په دوهم سهار د ماڼۍ ساتونکي په یوه یوه سکه نازولي وو، له هماغې ورځې یې ده ته د یوه عزتمن مشر په سترگه کتل او له همدوی نه یې د دربار د مهمو کسانو په باب څه معلومات ترلاسه کړي وو.

د صدارعظم (اعتمادالدوله) په باب یې معلومات دا وو چې سني مذهبه دی، د ظلم زور پلوی نه دی، خو دا هم ورته معلومه وه چې کندهار ته د گرگین له استولو سره ډېرمخالف ؤ.

له گاډی نه یو د پاخه عمر خاوند راکوز شو، پراخ تټر، گڼه شناوی ږیره لویه پگړۍ پر سر چې په زر تارو ښکلې شوې وه، گرانبیه چپنه چې تر ښنگریو یې رسېده اغوستې، له میرویس خان سره یې تاوده سترې مشې وکړل. دوه تنه د اعتمادالدوله ساتونکي چابک شول برنډې ته راوتلی یو ور یې پرانیست د ننه لاړل، لږ شیبه وروسته یې یو ترې راووت او چوپ ودرېد .

له روغبړ او جوړ په خیر وروسته د صفوي ټولواکۍ دوهم رسمي مقام په موسکا میرویس خان ته هغه خونې ته د ورننوتلو اشاره وکړه، د ننه خونه ډېره لویه نه وه، خو د کرسیو او غالیو له وضعې ښکارېدله چې د سرکاري ناستو او مجلسونو لپاره وه، څلور لوریو ته کوچونه ایښي وو چې مخې ته یې وړوکي میزونه پراته وو، دروازې ته مخامخ دیوال ته درې کرسۍ د خونې تر نورو ډېرې ښکلې او آرامې وې، اعتمادالدوله میرویس خان ته اشاره وکړه چې هلته کښیني، تر دودیز روغبړ وروسته اعتماد الدوله له میرویس خان نه وپوښتل چې د استوگنې ځای دې څنگه دی ، څه ستونزه خو به نه لري .
میرویس خان ځواب ورکړ:
چلن راسره د مېلمه کیږي، خو حیثیت مې د بندي دی.
اعتمادالدوله ورته وویل:

نه ته د صفوي ټولواکۍ عزتمن مېلمه يې، که څه شي ته اړتيا وي موږ مو په خدمت کې يو.

ميرويس خان ددې تشريفاتي خبرو په معنا ښه پوهېدو خو نور يې غرور اجازه نه ورکوله چې شکايت وکړي او څه وغواړي. وې ويل:

منه، هرڅه برابر دي.

تر سرسري نورو خبرو وروسته صدراعظم فتحعلي خان اصلي خبرې ته راغی:

زموږ د بېګلربيګي د کړو وړو په باب دې نظر څه دی؟

پخوا تر دې چې ميرويس خان ځواب ورکړي هغه زياته کړه:

بېغمه اوسه، غواړم د زړه خبره دې واورم.

ميرويس خان د صفوي واکمنۍ د دوهم مقام په مخکې ناست ؤ، داسې فرصت يې له خدايه غوښت، د ولس خيرېې په دې کې ليدو چې سپينه خبره وکړي، که يې سرته خطروي هم، نو په ادب يې اعتمادالدوله ته وويل:

جنابه! بېګلر بيګي ګرګين خان زموږ پر ولس د ظلم قيامت راکوز کړی دی، هغه او ګرجي ځانګړي پوځيان يې نه اصفهان ته وفادار دي اونه د افغان ولس د ژوند او ابرو پروا لري، هغه لوټماری او قتل عام پيل کړی دی، شپه په خرمستيو تېروي، سهار ترنيمې ورځې خومار پروت وي، باورمې دی چې په زور او ظلم څه راټولوي هغه هم د اصفهان پرځای ګرجستان ته استوي.

زه په ډاډ درته وايم چې زموږ ولس له دغه ظالم سره نشي چلېدای، ګرګين خان ډېر برالا دغه خبره کوي چې زه د صفوي دربار په کيسه کې نه يم، د ګرجستان پاچا يم. د ساز او سرود د محفلونو روږدی دی، پوځيان يې خپلسري دي چې زموږ دولس د سر او مال په چور او لوټ بوخت دي.

اعتمادالدوله تر ډېره چوپ ؤ او سر يې د ميرويس خان د خبرو په تا ئيد خوځاوه، په زړه کې يې پردې فکرکاوه چې پر ميرويس خان څومره باور وکړي، وروسته يې بيا په راز دارانه لهجه وويل:

زه کندهار ته د بېگلربیگي په توگه د دغه سړي له استولو سره مخالف وم. بس دا ټول کارونه د ملاباشي او دیوان بیگي دي، زه ستاسو له خبرو سره موافق یم.

زه یې په دین هم شکمن یم، شراب او عیاشي یې پخوانی عادت دی، وژل او لوټل یې په وینه کې گډ دي ...

بیا یې لږ په ټیټ غږ وویل:

چې ټولواک په شرابو کې ډوب وي له بېگلربیگي به یې څوک گیله کوي، اعتمادالدوله بیا میرویس خان ته وکتل وې ویل:

ته پردې خبر وې چې گرگین د اصفهان دربار ته ستا په باب شکایت کړی دی؟

میرویس خان وخندل، وې ویل:

زه یې چې اصفهان ته را استولم پوهېدم چې دده موخه څه ده!

اعتمادالدوله وویل:

نو بیا ولې راتلې، پر اصفهان دې څه باور و چې په لوی لاس دې ځان وروسپاره؟

میرویس خان ځواب ورکړ:

ښاغلیه! زما خو شخصي ستونزه نه ده چې غرونو ته مې پناه وړې وای، که ما نه غوښتلای چې اصفهان ته راشم، د ولس په غېږ کې هم شکر دی ځای لرم، خو زه غواړم د ولس ستونزه مې په معقوله لاره حل شي.

اعتمادالدوله د میرویس خان پر هوښیارۍ او درنښت فکر کاوه، په زړه کې یې دا ور تېرېدله چې دریغه په اصفهان کې هم دومره درانه او لوی شخصیتونه وای. ښه ځنډ وروسته یې یوازې دا وویل:

ښه وایې، ښه وایې!

د میرویس خان پرشونډو پیکه موسکا وغوړېده، پردې خوښ و چې په دربار کې یې داسې یو څوک وموند چې د زړه خبره ورسره کولای شي.

اعتماد الدوله له ځایه جگ شو، په تلو کې یې وویل چې زه به دې پیغام په مناسبو الفاظو اعلیحضرت او شهبانو نازنین ته ورسوم، هڅه کوم چې اعلیحضرت او یا ملکه درسره ځانگړي وگوري.

میرویس خان تر دروازې ورسره لاړ، له اعتمادالدوله فتحعلي خان سره دې لیدنې د خان سترګې وغړولې، د اصفهان د دربار کمزوري او خپلمځي لانجې ورته برالا شوې، پردې ډاډه شو چې ان شاالله خپل ولس به د ګرګین او صفویانو له منګولو وژغوري، هغه په یوه میاشت کې د اصفهان د دربار له نورو ډېرو خاصو کسانو سره ولیدل، زیاتو یې په لومړي لیدو کې د دربار د نورو کسانو پر خلاف خبرې ورته وکړې.

*****

یو سهار نورمحمدخان له یوبل ځوان سره د میرویس خان لیدو ته راغی تر جوړ په خیر وروسته یې وراره وویل:

بهادر خان همدا پرون له کندهاره را رسېدلی دی.

بهادر خان وروسته پخپله ځان ور معرفي کړ:

زه د یونس خان کاکړ وراره یم، د اصفهان، کندهار او ډیلي تر منځ په سوداګرۍ بوخت یم، له ډیلي نه مې اصفهان ته مال را بار کړی و، چې له کندهاره را روانېدم ستاسو په نوم مشرانو دا پیغام راکړ چې څه وکړي؟

تر درې میاشتو زیاته موده تیره شوې وه چې میرویس خان له کندهاره راوتلی ؤ، دا دویم پیغام ؤ چې د خپلو ملګرو لخوا ورته را رسېدلی ؤ. میرویس خان له بهادر خان نه وپوښتل:

وراره! د کندهار وضعه اوس څنګه وه، مشرانو څه ویل؟

بهادر خان جیب ته لاس کړ د یحیی خان او سیدال خان ناصري په لاسلیک یو لیک یې هغه ته ونیو. میرویس خان لیک واخیست، زر زر یې ولوست، تر سلام وروسته لیکل شوي وو:

ستاسو په باب د ټول قام سختې اندېښنې دي، ګرګینیانو اوازه اچولې چې میرویس خان بېرته نه راځي، د اصفهان دربار پرېکړه کړې چې هغه به همالته بندي وي، ګرګین هڅه وکړه چې یو داسې څوک پیدا کړي چې ستاسو پر ځای یې د کندهار کلانتر و ټاکي،

خو بریالی شوی نه دی، احوال راکړه چې د اصفهان له دربار سره دې وضعه څنګه ده، څه وخت به بېرته راستون شې. وروسته یې لیبکلي وو:

د زبردست خان هزاره په مشرۍ یو پلاوی راغی، له کابل نه د سرفراز خان په نوم د مشرانو استازی، له ژوب او پښین، کوټې او مستونګ نه د کاکړو، بلوڅو او پښتنو استازي راغلل، شاوخوا تر پينځو زرو په وسلو سنبال ځوانان د پاڅون د قوماندې په انتظار دي.

میرویس خان چې لیک ولوست سمدستي یې جیب ته واچاوه، بیا یې بهادرخان مخ ور واړاوه سر یې وخوځاوه:

مشرانو لویه اشتباه کړې، وراره! تا غوندې یو باوري ځوان چې راتلو لیک ته څه اړتیا وه؟ که دغه لیک له تاسو سره چا لیدلی وای نه به ستا خیر و او نه زما او نه مو د قام او ولس. بیا یې دواړو ته په جدي لهجه وویل:

سبا ته به په بیړه بېرته کندهار ته روانیږئ!

وراره یې نورمحمد خان وویل:

بهادرخان همدا پرون را رسېدلی تر اوسه یې مال په بازار کې پروت دی...

بهادرخان یې خبره ور غوڅه کړه وې ویل:

نه نه، پر مال دې بلا پرېوزي، دا خو د قام د برخلیک خبره ده. یو عرض مې دی، نن او سبا فرصت راکړه، بل سبا ته له خیره تلو ته چمتو یم.

میرویس خان په موسکا هغه ته وکتل، بیا یې وویل:

خدای مهربانه دی، په دوو درې ورځو ځنډ به څه ټکه نه رالویږي. کاروبار هم ضروري دی، ته دې د مال چاره وکړه یوه دوې ورځې وروسته په ډاډه زړه لاړ شه. بیا یې دواړو ته وویل:

مشرانو ته ووایي چې دلته وضعت ښه لورته روان دی، ډېر پام کوی چې تر څو زه نه یم درغلی کوم سخت ګام اوچت نه کړي؛ له قامي مشرانو سره اړیکې ساتئ، د دښمن پټو دسیسو ته پام کوئ چې بې اتفاقي را نه ولي، ځوانان را قابو کړئ چې کوم احساساتي ګام اوچت نه کړي چې د هغو جبران بیا راته ګران دی. بیا یې په ټینګار زیاته کړه:

مشران بل ځل داسې غلطي ونه کړي، که اړتیاوه تاسو غونډې یو څوک دې را ولیږي، شفاهي پیغام کافي دی، موږ له خطر ناک دښمن سره مخ یو، راز مو باید پټ وساتو.

بیا یې نورمحمدخان ته وویل:

وراره! ته په کور پاتې شه بېرته مه راځه خو پلارته دې ووایه چې اصفهان ته راشي.

هغوی دواړه رخصت شول. میرویس خان سمدستي لیک را ویوست مشال یې بل کړ کاغذ یې وسوځاوه.

*****

د ماښام له لمانځه وروسته میرویس خان په مصلي ناست ؤ، لاسونه یې په دعا خپل رب ته لپه کړي وو چې د خونې وریې ټک ټک شو، هغه لاسونه پر مخ راکش کړل، وره ته یې وکتل، د دروازې یوه پهره دار یې غږ وکړ:

جنابه ! د دیوان بیګي یو پیغام راغلی .

میرویس خان له مصلي اوچت شو، جاینماز یې پرخپل ځای کېښود وې ویل:

څه پیغام دی د ننه را ځئ!

یوتن په پوځي جامو کې ورننوت له سلامي وروسته یې ورته وویل:

ښاغلیه! تاسو د دیوان بیګي له لوري یوې میلمستیا ته بلل شوي یاست! ویل یې چې که تشریف راوړې نو له ډېرو مهمو کسانو سره به ووینې.

میرویس خان را اوچت شو، خوښ شو چې له مهمو کسانو سره به وګوري، دیوانبیګي ژمنه ور سره کړې وه چې د اصفهان له مهمو چارواکیو سره به یې د لیدو زمینه ور ته برابره کړي، راغلي کس ته یې وویل:

د باندې انتظار کوه زه به جامې بدلې کړم. هغه له خونې ووتو خان سپینې جامې واغوستې، یوه نصواري رنګه چپنه یې چې له لونګۍ سره یې ښه جوړه وه پر اوږو واچوله اوله خونې راووت، د باندې په سرای کې ګاډۍ ولاړه وه، د دیوانبیګي له لوري را استول شوي کس سره ګاډۍ ته وخوت، لویه دروازه له هغه خاص غږ سره پرانیستل شوه او ګاډۍ روانه شوه، د میرویس خان ډېره تلوسه وه چې اصفهان ښار ووینې، خو

حيثيت يې اجازه نه ورکوله چې د گاډۍ له کړکۍ سر وباسي او بهر ته وگوري، کوم شل دقيقې وروسته گاډۍ ودرېده، وپوهېده چې ځای ته را ورسېدل، يوه تن پهره دارانو ته وويل:

ميلمه دی!

د دروازې د پرانيستل کېدو غږ اوچت شو، گاډۍ د ننه ننوته لږ وروسته ودرېده، د ديوانبيگي استازی ښکته شو په درناوي يې ميرويس خان ته وويل:

مهرباني وکړئ!

ميرويس خان چې ښکته شو گوري چې لوی بڼ دی، په منځ کې ښکلی ډنډ چې د چراغونو رڼا په ودانۍ کې ساحرانه ننداره جوړه کړې وه، وړاندې ښکلې ودانۍ وه چې په مخه کې يې گڼه گوڼه جوړه وه.

د ميرويس خان له ور رسېدو سره دواړو لوريو ته ځوتنه پوځيان کتار ودرېدل، ديوان بيگي له دوو تنو نورو سره چې اشرافي جامې يې پرغاړه وې مخې ته ورغلل، ميرويس خان ته يې ښه راغلاست ووايه، بيا ديوانبيگي دغه دواړه کسان ور معرفي کړل:

قورچي باشي محمد قلي خان او حکيم باشي رحيم خان، تاسو نن د قورچي باشي صاحب خاص ميلمه ياست!

قورچي باشي يو خنډی منډی د پنځوسو کلونو شاوخوا عمر سړی ؤ چې د قزلباشو د افسرانو هغه ځانگړې جامې يې پر تن وې، ږيره يې چته خرېيلې وه خو چنگ ونگ بريتونه يې وو چې ځوکې يې د لړم د لکۍ په څېر تېرې وې. خوله يې په خندا پرانيستې وه چې د مخې دوه غاښونه يې تر معمول غټ ښکارېدل.

حکيم باشي چې چوغې سترگې يې درلودې پخپله يې ځان معرفي کړ:

رحيم خان حکيم باشي، لاس يې پر ټټر ونيول او لږ خم شو.

ميرويس خان د لومړي ځل لپاره ځان د بندي پر ځای ميلمه احساس کړ.

دوی په گډه يوه لوی تالار ته ننوتل، دا د چهلستون ماڼۍ وه چې حکومتي چارواکيو به رسمي کتنې او ميلمستيا وې پکې کولې.

ديوان بيګي او قورچي باشي د لوی تالار په يوه څنډه کې يوه لوی دريز ته نژدې ميرويس خان داسې ځای ته بوتلو چې کرسی او ميزېې تر نورو ښکلي اوممتاز ښکارېدل، چاروا کي يو پر بل پسې راتلل، د کوربه په اشاره به هغوی ميرويس خان ته راغلل اوسترې مشي به يې ورسره کول په يوه جوپه کې دوه تنه راغلل چې د ساده چپنو دوه تنه يې تر مخ او څلور تنه ساتونکي له شانه ورسره بدرګه روان وو، ديوان بيګي خان ته ور معرفي کړل:

جناب ملاباشي مير محمد حسين، او جناب شيخ الاسلام ميرتقي .

ميرويس خان د دواړو په باب له اعتماد الدوله نه اورېدلي وو چې د مذهبي شخړو او تعصب ستې دي، دوی له تاوده روغبړ وروسته هلته نژدې پر کرسيو ډډې واچولې.

ميرويس خان دې محفل ته ډېر په مينه راغی خو اوس يې ځان ناآرامه احساساوه، دغه ناآرامي يې هغه مهال نوره هم زياته شوه چې د دې ميلمستيا د ډيرو کسانو سترګې پرده ښخې وې .

لودين کتابتون

تر ډوډۍ وړاندې د مېوو شربتونه او د چايو څښل پيل شول. دغه مهال د ستيژ سرته په ځانګړيو جامو کې څو تنه سازنده ګان د ساز له بيلا بېلو الو سره راغلل، نرمې نغمې پيل شوې او بيا درې تنه سندرغاړې يو پر بل پسې راغلې، د ايراني او ارمني ساز له سُر او تال سره سندرغاړو د خپل هنر او کمال په ښکارولو کې يو له بل سره سيالۍ پيل کړې. لږ ځنډ وروسته پر دې ډله پينځه تنې نيم بربنډې نڅاګرې هم ور زياتې شوې.

د نازو بي بي په غيږ کې د لوی شوي ميرويس خان مزاج له داسې هوسونو سره جوړ نه و، خو په خپل ژوند کې يوازې يو ځل په ډيلي کې له ورته حالت سره مخ شوی ؤ، هلته هم د يوه سوداګر په ميلمستيا کې له ځينو کسانو سره د ليدو په تمه په داسې بنډار ور برابر شوی و او دلته هم په همداسې تمه ؤ. خو اوس يې چې د صفوي ټولواکۍ مهم چاروا کي د ساز او سندرو په سُر او تال کې زنګېدلي ليدل يو عجيب احساس يې درلود، هره شېبه پرې د کال په څېر شوه، د ډوډۍ پر مهال نڅاګرې او سندرغاړې لاړې، خو د تولې اوسريندې بږغوونکي لا بوخت وو چې د ميلمنو عزت وشي ...

تر ډوډۍ وروسته د سندرو اونڅا محفل نور هم تود شو، میرویس خان تر څه خنډه صبر وکړ سمدستي جګېدل ورته د کوربنو سپکاوی ښکارېدو، خو چې کله خبره د سرو جامو وېش ته ورسېده هغه له ځایه جګ شو، په صمیمانه لهجه یې له قورچي باشي او دیوان بیګي مننه وکړه او وې ویل چې نور به خپل هستوګنځي ته لاړ شي.

هغوی یې پر دې هک پک کړل، چې دومره لوی سړی او بیا دومره د ژوند له رنګونو او خوندونو نه ناخبره!

د لږ شیبې لپاره زیات کسان اوچت شول، د شباب او مستۍ محفل تم غوندې شو، ملاباشي، حکیم باشي او یو څو نور چارواکي راغلل له میرویس خان سره یې مخه ښه وکړه، د بیا لیدو ژمنې وشوې، دیوان بیګي او قورچي باشي د بڼ تر نیمایي ورسره راغلل، بیا قورچي باشي غږ وکړ:

ارسلان چېرته دی ؟

څو ګامه لرې درې تنه ولاړ وو چې سرې کورتۍ او څوکداره خولۍ یې درلودې، یوه تن یې غږ وکړ:

امر کوی جنابه !

هغه ورته وویل:

زما په ګاډۍ کې خان صاحب خپل ځای ته ورسوه!

هغه وویل په سترګو، خدای پاماني وشوه میرویس خان د میلمستیا د ډوډۍ له ستاینې سره یو ځل بیا مننه وکړه، یوه ښکلې ګاډۍ چې په څلورو اسونو پورې تړلې وه راغله، میرویس خان او ارسلان پکې کیناستل دوو تنو د ګاډۍ مخه واړوله خان آرامه ساه وایستله، چې د ماڼۍ تر لویه دروازه ووتل ارسلان چې د پنځه دیرشو کلونو په شاوخوا کې ځوان ؤ ترې وپوښتل:

جنابه میلمستیا دې خو ښه شوه !

میرویس خان په ساده ټکیو وویل:

هوکې، کور یې آباد، ډېر زحمت یې ایستلی ؤ ...

ارسلان د خبرو ګوډۍ ؤ، په ځانګړې لهجه یې ورته وویل:

جنابه! گومان نه کوم چې خوښه شوې دې وي ، نا ارامه ښکارېدلې.

میرویس خان څک شو، د لومړي ځل لپاره یې ځوان ته په ځېر سترگې ور واړولې، په تیاره کې یې د هغه د لیدو هڅه کوله، په زړه کې ور تېره شوه چې دې ځوان ولې څارلی دی، ځواب یې ورکړ:

ریښتیا دې وویل، ډوډۍ یې خوړه وه خو زه د ساز او سندرو مینه وال نه یم، نه مې خوښیږي.

شپه لا پخه نه وه، د ښار د کورونو او بازار رڼا گانې د سر پټې گاډۍ منځ ته له دواړو اړخونو او مخامخ پرانیستې برخې ورلوېدلې، ارسلان بیا وویل:

دلته خو هره شپه همدغسې محفلونه تاوده وي، تاسو خو زر ترې را رخصت شوی، دوی ځینې تر نیمو شپو په ځښلو او خرمستیو بوخت وي ... نوبت یې اچولی، نن د قورچي باشي، سبا ته د دیوان بیگي، بل سبا د سپهسالار، بیا د ملاباشي، شیخ الاسلام ... او نور ...

میرویس خان څک شو ځوان ته یې بیا وکتل، پردې یې فکر کاوه چې مطلب یې له دې خبرو څه دی ! بیا یې وویل:

اعلیحضرت اواعتمادالدوله پردې خبر دي؟

ځوان په کړس کړس وخندل وې ویل:

په شاهي حرم کې خو وضعه تر دې ډېره خرابه ده، دلته یوازې تر نیمو شپو وي، شاهي حرم شپه او ورځ د شراب او شباب په څپو کې ډوب دی ... اعتماد الدوله هم کله کله وي خو هغه هم د دې لوبو ډېر مینه وال نه دی.

یوه شیبه میرویس خان شکمن شو، ذهن ته یې ورغلل چې ځوان د حکومت ځری نه وي، غواړي به له ده نه رازونه واخلي او په څه خاص هدف دغه خبرې کوي، خوڅه یې پخپله ولیدل څه یې اورېدلي وو د ځوان په خبرو او لهجه کې هم صداقت له ورایه معلوم ؤ.

ارسلان بیا وویل:

ملا باشي او شیخ الاسلام دې ولیدل؟

که دې حوصله درلودای او تر څه وخته پاتې وای تا سو به د دې ښاغلیو د دینداری کچه هم پخپلو سترګو لیدلې وای.

دا میر محمد حسین ملاباشي ؤ، د هغه ملا باقرمجلسي لمسی دی چې پاچا د هغه په غوښتنه د شرابو عام څښل منع کړل، د اصفهان په کوڅو کې شراب وبهېدل، د دین په نامه یې په زرګونو سني مسلمانان ووژل او ...

هماغه سلطان چې شراب او سندرې یې منع کړې، اوس شپه او ورخ د شرابو په نشه کې ډوب وي، ګاډی چې مخه وګرځوله میرویس خان وپوهېدو چې هستوګنځي ته یې نژدې شو، له ارسلان نه یې پوښتنه وکړه:

ته ماته د څه لپاره دغه خبرې کوې؟

هغه اوږې پورته وغورځولې، یوه اوږده ساه یې واخیستله، وې ویل:

هسې، کوم خاص هدف نه لرم. ښا یې د زړه بړاس باسم، ستا په باب مې همدومره اورېدلي چې د کندهار د ولس کلانتر یې، د دیوان بیګي کاکا ګرګین خان دلته را استولی یې، ... بس دومره مې مازغو منلې چې زړه درته تشولی شم! ښیله دې چې څه زیان ووینم، ښیله دې چې کوم بد غبرګون وګورم!

میرویس خان په احتیاط ورته وویل:

زړه دې ولې ډک دی؟ دا خو به څه دلیل خامخا لري!

ارسلان ځواب ورکړ:

هوکې، دلیل لري، هر کړه وړه غبرګون لري، د صفوي ټولواکۍ لمنه مخ پرټولېدو ده، زه په داډ درته ویلای شم چې نن وي که سبا نه به کندهار د اصفهان تر واک لاندې پاتې شي، نه بغداد او بصره او نه ګرجستان.

ګاډی ودرېده، ځوان چوپ شو، د کوچوان غږ اوچت شو:

مېلمه مې راوست! د دروازې د پرانیستل کېدو کړچا شوه، ګاډی بېرته په یوه جټکه روانه شوه د ننه سرای تیاره ؤ، هلته ودرېده، ځوان ښکته شو او بیا یې دروازه پرانیستې ونیوله سر یې لږ ټیټ کړ:

مهرباني وکړه مشره!

میرویس خان راښکته شو، د ودانی په درې دیوالونو کې دوه دوه څراغونه بل وو، تتو لمبو یې د شپې له تیارو سره مقابله کوله، خو د شمال څپو ته رپېدونکیو وړانګو یې زیات توان نه درلود. ارسلان غوښتل رخصت شي میرویس خان تر لاس ونیو ورته وې ویل لږ صبر وکړه، بیا یې جیب ته لاس کړ یوه د سپینو زرو سکه یې د ګاډۍ کوچوان ته ونیوه، هغه یې په لاس ور تیټ شو سکه یې واخیسته، میرویس خان ارسلان خپلې خونې ته راوست، ترې وې پوښتل:

بال بچ لرې ؟

ځواب یې ورکړ:

لرم یې شکر دی! پلار مې وفات دی خو مور مې ژوندی ده، میرمن او درې اولادونه لرم !

میرویس خان د یوې دیوالي الماری پله پرانیسته، یو کشمیری شال یې ترې را واخیست، بیا توښ شو یوه د سرو ګوټه یې چې د یاقوتو سور غمی پکې ځلېده را واخیسته، وې ویل:

ارسلانه شال دې د ادې لپاره او دا یوه وړوکې ډالۍ دې د میرمنې، زما یوه وړوکې پېرزوینه یې ومنه!

د ارسلان په سترګو اوښکې راغلې، وې ویل:

ماچې څومره اورېدلي وو ته تر هغو ډېر لوی یې!

میرویس خان پاس ګوته ونیوه وې ویل:

الله ډېر لوی دی، زه عاجز بنده یم!

ارسلان رخصت شو، میرویس خان تشناب ته لاړ، اودس یې وکړ، راغی مصلي یې وغوړوه او خپل پالونکي رب ته په لمانځه ودرېد.

****

یو سهار له سبا ناري وروسته میرویس خان په خپله خونه کې قدم واهه پر خپله راتلونکې یې فکر کاوه، بیا راغی له الماری یې د عثماني خلافت د پیل او برياو په باب

یو کتاب را واخیست او په لوستلو یې بوخت شو، ښه ځنډ وروسته یې د خونې دروا
تک تک شوه. بیا یو پهره دار ور ننوت له سلام وروسته یې ورته وویل:
ښاغلیه. والامقام ملا باشي دې لیدو ته را روان دی.
میرویس خان دروازې لور ته یو دوه ګامه واخیستل چې ملاباشي له یوه ملګري سر
چې په میلمستیا کې یې لیدلی و ورننوتل. میرویس خان هرکلی ورته ووایه، یوه دېو
ته غوړېدلیو توشکونو ته یې اشاره وکړه:
مهرباني وکړئ دلته کښېنئ!

ملاباشي چې یوه ګرانبیه چپنه اغوستې وه، تسبې یې په لاس کې وې له غروره یې غاړ
لکه نیولې وه. راغی پر توشکه کیناست. شیخ الاسلام میر تقي یې تر څنګ کیناست.
ملاباشي په خونه کې یوه او بل لورته وکتل، پر شونډو یې یوه جبري موسکا وغوړېده
وې ویل:

چې مزاحم شوي نه وو جنابه! زړه مې غوښتل چې در سره وګورم، مجلس در سره وکړم.
د کندهار احوال واخلم.
میرویس خان ورته وویل:
والا مقامه! ماته مو ویاړ را وبښه چې تشریف مو راوړ. زه ښښنه غواړم چې ستاسو داسې
عزت چې در سره وړ دی په دغه حالت کې نشم کولی. زه مو په خدمت کې یم.

بیا له کندهاره تر ډيلي او اصفهان پورې له هر لوري، سره غږېدل، میرویس خان د ملا
باشي له ورتلو سره دې ته په انتظار و چې د راتګ اصلي موخه یې څه ده، هغه د اصفهان
په دربار کې د مذهبي مشر له نفوذ او ځواکه ښه خبر و، د ارسلان خبرې هم ور یاد
شوې او د قورچي باشي میلمستیا یې سترګو ته ولاړه وه. ملا باشي د خبرو په لړ کې
وویل:
جنابه! د کندهار بیګلربیګي جناب ګرګین خان له تاسو نه شکایت کړی دی چې د علي
علیه السلام او سپېڅلیو امامانو د عقیدې مخالف یاست!
میرویس خان موسک شو وې ویل:

استغفرالله! زه به ولې د اسلا م د ستر خلیفه، حضرت علي او د پیغمبري کورنی او امامانو مخالفت کوم. جنابه! د الله تعالی مبارک فرمان دی چې که کوم فاسق خبر درته راوړي په هغو کې پلټنه وکړئ! زما په باب به د داسې چا خبره څومره باوري وي چې هغه اصلاً پخپله مسلمان هم نه دی.

میرمحمد حسین بیا وویل:

نو ته د اهل تشیع مذهب په باب څه نظر لرې؟

میرویس خان په متانت ځواب ورکړ:

زموږ د ستر پیغمبر ارشاد دی چې زما اصحابان د ستوریو په شان دي، چې په هر یوه پسې اقتدا وکړئ هدایت به وموئ، امام اعظم ابوحنیفه (رح) د نورو مذهبونو په باب همدغسې نظر لري، دلته مساله د کفر او اسلام نه ده فقهي اختلاف باید وزغمل شي.

زموږ په وطن کې شکر دی د سني او شیعه ترمنځ لانجې او اختلاف نشته، د ورونو په څېر گډ ژوند کوي.

ملاباشي وپوهېدو چې د کندهار کلانتر په ریښتینې معنا عالم دی، دیني علوم یې لوستي او د پاخه منطق څښتن دی، خبره یې واړوله وې ویل:

جنابه! تا په ځینو مجلسونو کې گرگین خان بد یاد کړی دی، پام کوه چې هغه زموږ پاچا او دربار ته ډېر نږدې او د باور وړ سړی دی. بد یادول یې درته تاوان کوي.

خان بیا په موسکا ځواب ورکړ:

زه د چا په شخصیت کار نه لرم، البته د خپل ولس د کلانتر په توگه دا زما ملي او دیني مسوولیت دی، چې پر خپل ولس د ظلم او تیري پر خلاف غږ اوچت کړم. تاسو د یوه مذهبي پیشوا په توگه باید د مظلوم تر خوا ودرېږئ!

شیخ الاسلام چې تر اوسه د دواړو بحث ته چوپ و او غوږ یې نیولی و، لازمه یې وبلله چې ملاباشي ته لاس ورکړي، وې ویل:

جنابه! عالیمقام ملاباشي، د اسلام او مسلمانانو داسې خواخوږی دی، چې ساری نه لري، دلته راتگ یې لله فی الله دی.

ميرويس خان په موسکا سر ور سره د تاييد په دود خوځاوه خو سترګو ته يې د قور باشي د ميلمستيا رنګين محفل درېدلی و. هغوی چې جګ شول، ميرويس خان ور له الماری نه يې دوې زرينې ګرانبيه چپنې او دوه کشميري شالونه را واخيستل چ همدغې ورځې لپاره يې ساتلي وو.

د ډاليو په ليدو د دواړو له څېرو د مجلس د تريخوالي اثار ورو ورو ورک شول او تند يې وغوړېدل.

*****

ساعتونه په شپو او شپې په اونيو کې ډوبېدې، د نوروز څلوېښت ورځنی جشن او ميل پر ميرويس خان سختې تېرې شوې، درباريان په ميلو او خرمستيو کې ډوب وو، خا به له سهاره تر ماښامه په خپل استوګنځي کې و، يو سهار د ميرويس خان ورور يحي خان راغی د کور او وطن احوال يې ورته راوړ، قامي مشرانو ډاډ ورکړی ؤ چې داسې کار به نه کوي چې له کوم لوی مصيبت سره مخ شي. دا ډاډ يې هم ورکړی و چې د ګرګين د نفاق اچولو دسيسې کار نه ورکوي، هغه هڅه کوله چې د غلجي او دراني تر منځ د اختلاف فتنو ته لمن ووهي، خو داسې څوک يې ونه موندل چې له ميرويس خان سره سياليو او مخالفت ته ودرېږي.

د يحيی خان په ليدو يې د کور او کلي يادونه سترګو ته و درېدل، سره له دې چې اوس هغه په اصفهان کې د بندي حيثيت نه درلود، خو له هيواده لرې والی ورته له زغمه وتلی ؤ. يوه ورځ يې اعتماد الدوله ليدو ته راغی له جوړ په خير او ستړې مشي وروسته ميرويس خان هغه ته وويل:
زه به تر کومه په اصفهان کې داسې بندي پروت وم ؟
اعتماد الدوله په خندا ځواب ورکړ:
بندي خو په تورو تيارو خونو کې زنځير او زولانه پروت وي.
خان سمدستي ځواب ورکړ:
په طلايي کپس کې مرغه هماغه حيثيت لري چې د لرګيو په کپس کې يې لري!

اعتماد الدوله جدي شو، ورته وي ویل:

خانه ! زه نن له یوه زیري سره راغلی یم !

میرویس خان هغه ته وکتل، اعتماد الدوله زیاته کړه:

اعلیحضرت به دې زر حضور ته ور وغواړي!

تاسو مې سپارښتنه وکړه؟

نه، یوازې زما په سپار ښتنه او غوښتنه که کېدای د وخته به یې در سره لیدلي وو، دومره میاشتې به دې انتظار نه ؤ اوږد شوی .

ـ نو بل چا دا د خیر کار کړی دی؟

که درته ووایم باور به دې رانشي، دیوان بیګي او قورچي باشي خو دې په دربار کې هره ورځ یادوي، آن ملاباشي میرمحمدحسین دې هغه بله ورځ سپارښتنې کولې!

عجیبه ده ما خو له هغه سره یوازې دوه ځله لیدلی، یو ځل د دیوانبیګي په مېلمستیا کې او بل ځل دلته راغلی و. که رښتیا درته ووایم خوښ مې نشو، دومره لوړ مذهبي مقام او اعتبار او بیا په داسې سپکو محفلونو کې ناسته!

اعتماد الدوله وویل:

ښاغلیه! ته ځان ګورې جهان ګورې، دلته وضعه تر دې ډېره ناولې ده چې تا په یوه میلمستیا کې د هغو یو ځرک لیدلی.

بیا یې سوړ اسویلی وکړ وې ویل:

صفوي ټولواکۍ چې له کندهاره تر کردستان او سوریې پورې پراخه وه یو څه پکې وو، تر شاه عباس وروسته خو دربارونه په شرابو او خرمستیو کې ډوب شول.

میرویس خان وویل :

جناب اعتماد الدوله! د یوې ټولواکۍ زوال هغه وخت پیلېږي چې اخلاقي ارزښتونه یې له منځه لاړ شي.

اعتماد الدوله فتح علی خان په حسرت سر وخوځاوه:

زموږ په ټولواکۍ کې خو د اخلاقي ارزښتونو جنازه د وخته اوچته شوې ده. اشرافي پاړکې پرېږده هغه د دین ټیکه داران مو نور مسخه شوي دي.

ـ هوکې ! زه هم لږ لږ خبر یم!

اعتماد الدوله په موسکا ورته وویل :

خود به خبر یې اوس خلک تر موږ تا ته ډېر رازونه وایي!

میرویس خان فکر کاوه چې ارسلان ښایي د هغې شپې په باب څه ورته ویلي وي. دواړه د مجلس له خونې ووتل، د اعتماد الدوله گاډۍ تیاره ولاړه وه نوکر یې دروازه ورته پرانیستله له روانېدو مخکې یې خان ته مخ را واړاوه وې وی:

له اعلیحضرت سره لیدو ته ځان جوړ کړه په یوه دوو شپو کې به احوال درکړم!

میرویس خان مننه ترې وکړه، مخه ښه یې ورته وویل او چې بېرته خپلې خونې ته راغی په ژورو چورتونو کې ډوب شو.

یوه ورځ وروسته ماښام میرویس خان په خپله خونه کې تر لمانځه وروسته پر مصلې ناست ؤ او خپل خدای ته یې د ولس د ښې ورځې سوالونه کول، دغه مهال یې د لوېې دروازې غږ واورېد چې خلاصه شوه، د اسونو شیشنېدا یې واورېده، لاسونه یې پر مخ راتېرکړل، وپوهېدو چې څوک یې لیدو ته راغلي دي، جاینماز یې پر خپل ځای کېښود، د باندې یې یو مانوس غږ واورېد د خونې دروازه یې خلاصه شوه درې څلور کسان له دسترخوان او څو دیگونو سره یو ځای ور ننوتل. په دې کسانو کې یو ارسلان ؤ.

میرویس خان تاوده سترې مشې ورسره وکړل، هغه په یوه ساه ورته وویل:

ښاغلیه ! د قورچي باشي میلمستیا ده، خو ویل یې چې خان په داسې میلمستیاو کې له گډون معذرت غوښتی، بیا یې ستاسو برخه دلته درته را واستوله.

خان ورته وویل:

د قورچي باشي کورودان، ستاسو له زحمته هم مننه، خو که تاسو همدلته ډوډۍ راسره نوش جان کړی ډېر به خوښ شم.

ارسلان سترگه ورته ووهله وې ویل:

زه خو د کوربه په توگه درسره یم، دوی به هلته د میلمنو خدمت وکړي.

میرویس خان لا خوښ شو، دسترخوان وغوړېد، له دیگونو ډول ډول کبابونه او پلوونه په قابونو کې واچول شول، خوراکونه د شلو تنو له اشتها نه هم زیات وو، میرویس خان وویل:

دا پهره دارانو ته ور وړئ، د ارسلان سره راغلیو کسانو ډک قابونه ورسره واخیستل پر دسترخوان یوازې میرویس خان او ارسلان پاتې شول، دواړو له یوې او بلې خوا په تاوده روغبړ ډوډۍ وخوړله، میرویس خان تر دعا وروسته وویل:

دقورچي باشي پر د سترخوان برکت ، داسې خوږه ډوډۍ مې ډېر وخت نه وه خوړلې.

ارسلان د سترخوان ټول کړ، دواړو لاسونه پرې منځل، بیا د خونې په لرې کونج کې دواړه کیناستل، ارسلان ورته وویل:

ښاغلیه ! هغه شپه زما اوستا بنډار نیمګړی پاتې شو، دا نن شپه یې نو ښه وخت دی!

خان وویل:

دقورچي باشي د مېلمستیا له نورو رنګینیو به بې برخې شې!

ارسلان په بېزارۍ وویل :

هغه مې دومره لیدلي چې اوس مې کرکه ترې راځي!

هرڅه چې ډېر شي خوند یې درومي ، دا د ګناه محفلونه خو وجدانونه وژني .

میرویس خان ورته وویل:

ښه ارسلانه، په هغه شپه دې ماته ویل چې زړه درته تشوم اوس راته ویلی شې چې زړه دې پرڅه دومره ډک دی؟

ارسلان ځواب ورکړ:

ښاغلیه! زما د کورنۍ درې تنه او د قام او نژدې خپلوانو ترشلو زیات کسان د دې نظام دافراطي چارواکیو د هوسونو او منافقانه دریځونو قرباني شوي دي.

تاسو میر حسین ولید چې د سرو پیالو په محفل کې خندان ناست ؤ، بابا یې د سني مسلمانانو د وژلو او تبعید فتواوې ورکولې او شاه سلیمان او اوسني پاچا هغه منلې هم .

جنابه! دې لعنتي شاهي کورنۍ له مسلمانانو او انسانیت سره څومره ظلم کړی دی، یوه بیلګه یې زه تاسو ته وایم، د شاه عباس صفوي دربار ته به چې سهار کسان ورتلل د ژوندي راتلو تمه یې نه وه، وصیت به یې لیکه او چې ماښام به بېرته ژوندي لاړل، خیرات به یې کاوه، زوی یې شاه صفي د پلار دعاګوی پیدا کړل، په شرابو او د افیمو په نښه

کې به پینځلس ورځې بې سده پروت و، مرګ یې هم داسې و چې اوولس ورځې به نېشه کې پروت و او هماغسې مړ شو.

صفوي ټولواکي د قزلباشو د ځانګړی ځواک پر مټ دومره پراخه شوه، زه آذری یم، نیکه مې د قزلباشو د اوو قبیلو د ګډ ځواک غړی ؤ. ملاباشي باقر مجلسي پاچا ته مشوره ورکړه چې د قزلباشو ځواک اصلاً سنیان دي، سوچه ایرانیان نه دي، دوی ته نور اړتیا نشته، بس د پاچا پر اوږو سپور ؤ چې څه یې ورته ویل هغه فرمانونه ورکول دا اوس قورچي باشي او د قزلباشو ځواک هسې په نوم پاتې دی اصلي ځواک یې له منځه لاړ، د صفوي ټولواکۍ څه حالت دی ته یې پخپلو سترګو ځینې نندارې وینې. دوی له مذهب نه د واک او امتیاز یوه وسیله جوړه کړه، خدای به یې خامخا شرموي.

دروازه پرانیستل شوه دوه تنه له چایو او شرینی سره خونې ته ورننوتل، د چایو پتنوس یې کېښود هغوی بېرته ووتل، ارسلان ور وړاندې شو، د چایو له چایبر نه یې دوې پیالې ډکې کړې، بیا یې خبروته دوام ورکړ:

ښاغلیه! زه پوهېږم ته جهاندیده او عالم سړی یې، د ډیلي واکمن دې لیدلي دي، د تیرو پاچاهانو تاریخ دې لوستی دی، ته او خدای تر اوسه دې د داسې پاچا او دربار په باب څه لیدلي او اورېدلي دي چې پاچا دې ځوانان زامن له درباره لرې په حرم کې د بندیانو په څېر وساتي؟

میرویس خان په پوښتونکي نظر هغه ته وکتل ، ارسلان زیاته کړه:

د شاه حسین زامن دربار ته نه پرېږدي، د دربار مهم کسان هم حق نه لري چې د پاچا د کورنۍ له غړیو سره د لیدو هڅه وکړي. پوهېږې یوازې له دې وېرې چې د پاچا پرخلاف کومه دسیسه جوړه نه شي، درباریان کوم شهزاده د خپل پلار د تخت را نسکورولو ته ونه لمسوي.

پلار پر زوی بې باوره دی، زوی یې پر پلار. شاهي دربار له منافقته ډک دی، هر څوک د خپلو ګټو یار دی. میرویس خان تر اوسه پورې د اعتمادالدوله په شمول د اصفهان

په چارواکیو او دربار ته نژدې کسانو کې د ارسلان په څېر هوښیار او وینښ انسان نه ؤ لیدلی، لږ په راز دارانه لهجه یې بیا خان ته په ټیټ غږ وویل:

دا یو زیری درکوم مشره! دغه خبره مې په یاد لره شاه حسین د صفوي ټولواکۍ وروستۍ پاچا دی، او خدای دې وکړي چې د دې کړۍ د ماتولو لومړی غږ له کندهاره اوچت شي.

میرویس خان وویل (امین).

دواړه تر ښه ځنډه چوپ او هر یو په خپله دنیا کې ورک و، بیا ارسلان د میرویس خان پر څېره سترگې وگنډلې وې ویل:

مشره! له څه مودې مې یوه پوښتنه په زړه را گرځي، د یادولو جرئت یې نشم کولای.

میرویس خان په مینه ورته وکتل، په موسکا یې ځواب ورکړ:

د دې معنا داده چې پر ما بشپړ باور نه لرې.

-نه نه، داسې نه ده زه تر ځان پر تاسو زیات باور لرم.

-نو چې باور لرې، په پوښتنه کې ولې زړه نازړه یې؟

-مشره! دا گرگین بد ذاته که د کندهار بیگلر بیگي وي، ستا سو په گټه نه دی؟ ...

د میرویس خان پر شونډو خوړه موسکا وغوړېده، د ارسلان پر سر یې لاس را کش کړ:

ځوانه! نام خدا خدای ښه مازغه درکړي، پر ډېرو خبرو دې سر خلاص دی، ستا خبره ریښتیا ده، خو زه د خپل ولس او خلکو په وینو او ابرو معامله نشم کولای.

گرگین چې څومره ډېر په کندهار کې پاتې شي، ولس به ترې بېزار او زموږ پر شاوخوا راټول شي. خو گرگین د لیوه په څېر دی، قاتل دی، بې پته انسان دی، چې څومره پاتې شي، هومره به مو ولس له بدمرغیو او ماتمونو سره مخ وي. نه غواړم چې دغه بې رحمه انسان نور زما پر ولس حاکم وي. زه به بیا په هدیرو او کنډوالو کې د یتیمانو او کونډو بې سر او سامانه لښکر څه کړم؟

د ارسلان تندی وغوړېد، سترگې یې هماغسې د میرویس خان پر څېره گنډلې وې، مازغو یې هغه واټونه گز او پل کول چې د اصفهان د واکمنو او دغه سپین ساده انسان تر منځ یې احساسول.

دوهم سهارپه یوه ښایسته گاډۍ کې د اعتماد الدوله فتح علي خان استازی له دې پیغام سره راغی چې د اعلیحضرت حضور ته تشریف راوړي.

میرویس خان خپلې مناسبې جامې واغوستې، غوره چپنه یې پر اوږه واچوله، پاچا ته یې چې ډالۍ مخکې برابره کړې وه هغه یې په یوه وریښمین ټوکر کې ورسره واخیستله او عالي قاپو ماڼۍ ته روان شو، یو ځل بیا یې پردې فکر کاوه چې د صفوي پاچا په مخکې به د خپل ولس مظلومیت په داسې الفاظو بیانوي چې پر پاچا ډېر اغیز وکړای شي.

خان پردې پوهېدو چې داسې دربار ته روان دی چې هلته رحم او عاطفه څوک نه پیژني، له داسې ککرو سره مخاطب دی چې له خپلو گټو او زیان نه ور اخوا نور هیڅ نه پیژني.

شاهي ماڼۍ د شاندارې ماضي ژوندۍ بېلگه وه، گاډۍ راغله لویه دروازه ورته پرته شوه، د ننه لوی بڼ او په منځ کې یې تېره لاره د شاهانه د بدبې ډېر غوره تصویر وړاندې کاوه، گاډۍ د شاهي ماڼۍ د یوې لویې دروازې په مخه کې ودرېده، میرویس خان په لومړي نظر وپوهېدو چې غیر معمولي تر تیبات نیول شوي دي، له لویې دروازې سره په زرینو درېشیو کې د پوځیانو کتارونه ولاړ وو، اعتماد الدوله او څو تنه پوځي جگپوړي چارواکي په دروازه کې د خان د هرکلي لپاره حاضر وو، نوکرانو دروازه پرانیستله پوځیان د میلمه په درناوي په ملاخم شول، میرویس خان له اوږده انتظار وروسته د صفوي ټولواکۍ شاهي دربار ته ننوت. مهتر (د پاچا خاص خدمتگار) یې د دربار په مخه کې هر کلي ته ولاړ ؤ، هغه یې تر مخ شو میرویس خان، اعتماد الدوله او پوځي مشران ورپسې شول، یوه خدمتگار یې هغه غوټه ورسره واخیستله او ور سره روان شو.

څو شیبې وروسته خان د اعلیحضرت شاه حسین په مخ کې ولاړ ؤ.

د اصفهان د ټولواک لویه پگړۍ پر سر چې پر غمیو ښکلې شوې وه، شاهانه وریښمینه چپنه اغوستې، مخامخ پرتخت ناست ؤ، لاندې ښي او کیڼ لوري ته د ده د حکومت جگپوړي مقامونه په ترتیب سره ناست وو، ښي لوري ته تر ټولو وړاندې اعتماد الدوله،

ورپسې د پوځ لوی سالار او بیا قورچي باشي ته کرسۍ ایښې وې... کیڼ لوري ته لومړی ملاباشي میرمحمد حسین، ورپسې دیوان بیګي او بیا شیخ الاسلام ... دوو اړخونو ته دلته هم په زرینو جامو کې دوه دوه کتاره پوځیان ولاړ وو. د یوه ولس استازی د یوه ځواکمن ټولواک په دربار کې ولاړ و، د ټولو سترګې پر میرویس خان ښخې وې، ملا باشي، د شاه حسین خاص خانه سامان محمود اغا او دیوان بیګي په بیل انداز هغه ته کتل، هغوی په دې تمه وو چې د صفوي دربار سام او هیبت د میرویس خان په څېره کې ووینې، خو خان له خپلې ځانګړې سادګۍ او غرور سره راغی، د صفوي دربار دغه ظاهري کش او فش هېڅ اغېز پرې نه کاوه. څه د پاسه زرکاله وروسته یو ځل بیا د مادي او مانیزو ارزښتونو تر منځ د سیالۍ ننداره تکرار شوه. زر کاله وړاندې د سپېڅلي پیغمبر صلی الله علیه وسلم استازی، د کسرا دربار ته ننوت چې د وخت تر ټولو ځواکمنه ټولواکي وه، مادي ځل بل یې سترګې ونه برېښولې، پر ګرانبیه وریښمینه غالۍ یې د تورې څوکه ایښودله تېر شو او د کسرا په مخکې ودرېد؛ په غرور یې خپل راوړی پیغام واوراوه او بیا په هماغه غرور له درباره ووت. میرویس خان سره له دې چې د ټولواکۍ تر سیوري لاندې ښکېل ولس استازی و، خو په خپلو ملګریو او ولس یې ویاړ کاوه، ارمان یې سپېڅلی او د خپل ولس خپلواکي او سوکالي وه، له سپېڅلي ارمان سره د خپل درانه ولس د استازي په توګه د یوه لوی ټولواک په مخکې ولاړ و.

شاه حسین دنګه ونه، نسبتاً اوږد مخ درلود چې پرکونډی بږیره پټ ؤ، په لویو غټو پړسېدلیو سترګو کې یې د خوب او نشې نښې له ورایه ښکارېدې، په څېره یې د شاهي رعب پر ځای د نامعلومې اندېښنې سیوري لوېدلي وو.

میرویس خان ته د ارسلان وروستۍ خبرې وریادې شوې ...

په یاد لره شا ه حسین د صفوي ټولواکۍ وروستۍ پاچا دی!

په زړه کې ورتېره شوه چې په ریښتیا هم د صفوي ټولواکۍ ستوری پر لوېدو دی. نور دغه ټولواکي د کنګل هغه ټوټې ته ورته ده چې لمر ته پرته وي او سوکه سوکه ویلې کېږي.

خان تر القابو او درناوي وروسته پاچا ته په ټوکر کې نغښتې ډالی وړاندې کړه، پاچ
خاص اردلي ته اشاره وکړه، هغه راغی غوټه یې واخیسته د پاچا مخې ته یې پرانیسته
یوه شاهانه وریښمینه چپنه چې د مغلي شاهانو دود وه، څو جوړې وریښمینې ښځین
جامې چې په ښکلا او نفاست کې یې ساری نه ؤ، یو داسې گرانبیه د غمیو امېل چې
ښکلا یې د پاچا مړاوې سترگې د څو شېبو لپاره وبرېښولې.

شاه حسین په موسکا وویل:

ذوق دې د ستایلو دی، له ډالیو دې ښکاري چې په ریښتیا ته د خاص شخصیت خاوند یې!

میرویس خان لاس په نامه ونیول وې ویل:

اعلیحضرته! دا ستا سو د مقام وړنه دي، خو د برگ سبز تحفه درویش په توگه یې قبوله کړئ.

پاچا وویل:

نه ډېره اعلی ده ، ډېره اعلی ...

شاه حسین له میرویس خان سره ډېر په ورین تندي خبرې وکړې، په روغبړ کې یې د کندهار د وضعې او د گرگین د کړو وړو په باب ترې وپوښتل:

بیگلربیگي په څه غوره کې دی؟

میرویس خان په جدي لهجه ځواب ورکړ:

اعلیحضرته! تاسو پوهیږئ چې کندهار د ډیلي او اصفهان ترمنځ د وصل یو مهم ښار دی، د ډیلي گورگاني پاچاهانو تل کندهار ته سترگې نیولې دي، څو ځله لاس په لاس شوی هم دی، زه چې دلته راتلم کومه برالا ستونزه نه وه خو اوس داسې ښکاري چې د ډیلي ټولواکی لاسوهنې زیاتې شوې دي او بېگلربیگي گرگین خان د هغو په مخنیوي کې نا توانه دی ... اعلیحضرته! د ښاغلي بیگلربیگي اړیکي له ولس سر کمزورې دي، هغه ډېر د زور پر کارولو حساب کوي، خو زموږ د ولس په باب داسې چلن سرچپه اغیزې لري.

د میرویس خان دغه خبرې د پاچا د ځینو درباریانو پر غوږونو ښې نه لگېدې، خو د برالا ردولو جرئت یې نشو کولای، خان خپلې خبرې په داسې مهارت وکړې چې د گرگین برالا مخالفت نه و خو د هغه ناتوانی یې په ښو ټکیو روښانه کړې. د اصفهان په دربار کې چې کله د کندهار د ستونزو په باب خبره کېده، یو عام تصور دا و چې د دې تر شا د ډیلي د گورگاني ټولواکۍ لاس دی، دوی د میرویس خان پاڅون ته هم په همدې نظر کتل، گرگین ته د ځینو قبیلو لخوا له مالیې ورکولو د انکار خبرونه پخوا د اصفهان دربار ته رسېدلي وو، د میرویس خان دغو خبرو د پاچا په شمول پر ډېرو درباریانو ښه اغیز وکړ، د اصفهان ټولواک ته له میرویس خان سره دغه ناسه ډېره په زړه پورې وه، میرویس خان هم چې له شاه حسین سره له لیدو کومې موخې درلودې هغه یې تر لاسه کړې، شاه حسین ورته وویل چې تاسو به د کندهار د کلانتر په توگه د وضعې په باب دربار ته خپلې مشورې ورکوئ.

خان چې خپل استوگنځي ته راستون شو پر وضعه یې فکر کاوه، له ځانه سره یې ویل چې په اصفهان کې یې چې څه کولای شول تر سره یې کړل، په دربار کې یې پلویان وموندل، د صفوي ټولواکۍ له وضعې خبرشو، د خپل ولس د یوه مشر او استازي په حیث یې خپل مقام او حیثیت خوندي شو. نور په اصفهان کې پاتې کېدل ورته بې گټې ښکارېدل، له شاه حسین سره تر لیدو یوه ورځ وروسته یې اعتماد الدوله لیدو ته راغی، د پاچا سره د پرونۍ غونډې او خبرو په باب هغه ورته وویل:

میرویس خانه! په یوه وینا دې د اصفهان دربار فتحه کړ، زه یې مبارکي درته وایم.

میرویس خان ورته وویل:

دا ستاسو د اخلاص برکت و جنابه! بیا یې خپله مدعا ورته بیان کړه وې ویل:

نور مې په اصفهان کې پاتې کېدل بې گټې دي!

هغه ترې وپوښتل:

غواړې بېرته کندهار ته ستون شې؟

-هوکې بلکل!

ـ پردې فکر په کار دی، تاسو باید په مناسب فرصت کندهار ته ستون شئ، تر اوسه د اصفهان په دربار کې ستاسو مخالفین هم شته، ته چې پرون له درباره لاړې ملاباشي خوله وهله چې میرویس خان زمونږ د بیګلربیګي بد وویل، خو دیوان بیګي بیا ستا په طرف ؤ د هغه خوله یې ور چوپه کړه.

خان پر همدې شپه د استخارې لمونځ وکړ او ویده شو، سهار چې راویښ شو مزاج یې ډېر غوړېدلی ؤ، د شپې خوب یې ور په یاد شو چې مور یې په یوه بڼ کې ډېره خوشاله ګرځېده، له همدې سره یې د مور یادونه په زړه و اورېدل پخوانی د مور خوب یې ور په یاد شو چې بیبۍ نیکه ورته په خوب کې زیری ورکړی ؤ، دغه زوی دې ښه وروزه، لوی کارونه به وکا ، په زیارت د بیت الله به مشرف شي!

میرویس خان د خپلې استخارې ځواب وموند، تر لمانځه او تسبیح وروسته برنډې ته را ووت، دوو پهره دارانو ته یې چې ده څوځله نازولي وو او اوس یې ښه خدمتګاران وو اشاره وکړه، جیب ته یې لاس کړ، دوې د سپینو زرو سکې یې ورکړې ورته وې ویل: اعتماد الدوله ته زما پیغام ورسوئ چې غواړم ورسره وګورم!

تنکۍ غرمه وه چې د لویې دروازې د پرانیستل کېدو غږ اوچت شو، میرویس خان پرکټ ډډه اچولې وه چې د دروازې د پرانیستو غږ یې واورېد را پورته شو، چې د خونې دروازه یې پرانیستله، اعتماد الدوله په برنډه کې د ده په مخکې ولاړ ؤ، میرویس خان تود هرکلی ورته ووایه:

والا حضرته ! ببښنه غواړم زحمت مې درکړ.

هغه په ورین تندي او موسکا ځواب ورکړ:

ښاغلیه ! دغسې خبرې مه کوه، زه د زړه له کومي درته درناوی لرم، ته په ریښتنې معنا یو لوی انسان یې، خدمت وایه!

دوی دواړه بیا د ښنګ په خونه کې چې د وړوکو ناستو لپاره مناسبه وه ښنګ تر ښنګ کیناستل میرویس خان د استخارې او لیدلي خوب کیسه ورته تېره کړه.

اعتماد الدوله په خاص انداز د ده په څېره سترګې ښښې کړې وې او ورته غوږ غوږ ؤ.

میرویس خان بیا ورته وویل:

که له اعلیحضرت نه ماته اجازه واخلې چې له خیره حج ته لاړ شم، دا مې پرغاړه فرض هم دی او زما د ارواښادې مور یو ارمان هم دی!

اعتماد الدوله په خوښۍ ومنله، دا یې هم وویل چې زه به څو تنو نورو مهمو درباریانو تهووایم چې اعلیحضرت پردې راضي کړي چې تاسو ته د حج اجازه در کړي. درې ورځې وروسته اعتماد الدوله دا زیری ورکړ چې پاچا اجازه ورکړه.

د سفر لازم تیاری یې ونیو، یحیی خان یې چې په اصفهان کې ؤ راوغوښت خپل تصمیم یې ورته ووایه او هغه ته یې وویل چې زما تر بېرته راستنېدو کندهار ته ستون شي. ورور یې ورته وویل، چې زه به د حج په سفر کې در سره ملګری شم، خدمت به دې هم کوم، خو میرویس خان ورته وویل چې تا ته په کندهار کې اړتیا ده، خو که مې وراره نورمحمد جان له کوم بل کس سره راشي، هم به د حج فریضه ادا کړي او هم به له ما سره مرسته کوي.

وروړ ته یې د قامي مشرانو په نوم لازم هدایات ورکړل، درې ورځې وروسته له یوه وړوکي کاروان سره پر سپېڅلي سفر روان شو. تر روانېدو مخکې اعتمادالدوله فتح علي خان ور سره ولیدل، میرویس خان ته یې وویل:

یو اس به زه درته تیار کړم، زما به هم ثواب وشي، زمونږ حکومت پر ایرانیانو د حج او عمرې بندیز لګولی، که نه ډېر مې زړه غواړي چې په دې سپېڅلي سفر کې ستا په څېر یوه درانه سړي سره ملګری وای.

میرویس خان له مننې سره ورته ویل چې شکر دی، د دې فریضې د ادا کولو مالي او بدني توان لرم، بیا یې په حیرانۍ ترې وپوښتل:

حکومت پر خپلو خلکو د حج او عمرې بندیز ولې لګولی؟

اعتمادالدوله، یوه او بل لوري ته وکتل، پر خوله یې لاس کېښود، په ټیټ غږ یې وویل:

د افراطي شیعه علماو دا نظر دی چې د ایرانیانو پر پیسو د سعودي واکمن ولې عیشونه وکړي، دوی دې د حج پرځای د نجف او کربلا زیارتونو ته لاړ شي. خو خلک پټ حج ته درومي حکومت هم ډېره سختي نه ورسره کوي او ځان پرې نه پوهوي. البته د حج مالیه یې ډېره اوچته کړې ده.

میرویس خان حیران شو، اعتمادالدوله ته یې وویل:

ان شا الله زه به په سپېڅلیو مقامونو کې د زړه له اخلاصه درته دعا کوم. الله دې ټول اسلامي امت له مصیبتونو او نفاقه خوندي او په امان کړي.

اعتماد الدوله وویل:

یو څه ته دې پام اوسه، ښایي د سفر په ملګریو کې دې کوم ځری هم وي.

میرویس خان موسک شو وې ویل:

بیغمه اوسه، زه د یوې دیني فریضې د ادا کولو په سفر ځم، د دنیا چارې به که خدای فرصت راکړ بیا کوم!

په شیراز کې له دوی سره یو وړوکی بل کاروان ملګری شو، په هغه کې له څه تنو نورو سره د هرات حاکم محمدخان هم و چې د اصفهان له لوري ټاکل شوی و، نوموړی ډېر زر له میرویس خان سره انډیوال شو، یو بل ایراني زلمی هم و چې میرویس خان ته ډېر مرموز ښکاره شو، د اعتماد الدوله خبره یې یاده شوه، خو چې د بحرین په لور په کېښتۍ کې سپرېدل هغه ځوان چې د عبدالله په نوم یې ځان معرفي کړی و، ترې ورک شو، بیا یې هېڅ ونه لید.

*****

د ورېښمو په تور غلاف کې د کعبې پر شاوخوا په سپینو احرامونو کې په زرګونو کسان د لبیک اللهم لبیک او دعاګانو په بدرګه پر طواف بوخت وو، د میرویس خان اروا د خوښیو په اووم اسمان کې ګرځېده، لومړی ځل یې د خدای پر کور نظر پرېووت، د عمرې طواف یې پوره کړ، د حضرت ابراهیم علیه السلام پر مقام یې سنت ادا کړل (لبیک الهم لبیک) یې پر خوله جاري وو، د ځانګړي سکون احساس یې کاوه، د صفا

او مروا ترمنځ یې اوه ځله د سعی مراسم پرځای کړل، پخوا تر دې چې د کعبې طواف پیل کړي، د احرام تړلو پر مهال یې له ځانه سره ژمنه کړې وه چې د حج د مراسمو ورځې به یې یوازې له الله تعالی سره په راز او نیاز تیروي، په دې سپېڅلي سفر کې به د دنیا پر چارو هیڅ فکر نه کوي، چې کله یې د صفا او مروا ترمنځ اوه دورې بشپړې کړې د صفا غونډۍ په څنګ کې کعبې ته مخامخ ودرېد د لوی الله دربار ته یې لاسونه په دعا لپه کړل.

مور، پلار خپل خپلوان د مبارزې یاران یې یو یو سترګوته ودرېدل میرویس خان د الله له ستر درباره ټولو ته د بخښنې او دنیا او عقبا د خیر دعاګانې کولې.

پر سپېڅلي مقام ولاړ و لاسونه یې په دعا لپه او پر ژبه یې الفاظ جاري وو:

....یا الله ! غیرتي ذات یې، زما ولس ته همت ورکړه چې له ظالم ګرګین نه ځانونه وژغوري!

یا الله! ته پرهرڅه قادر یې، ګرجیان د ابرهه د پوځ په څېر ځب ځب او راته په ګونډو کړې!

یه د کایناتو پاچا او واکداره! زما ولس پر مظلومیت راضي نه دی، ته سر لوړی ژوند ور په برخه کړې.

یو وخت یې پام شي چې یو څوک یې ترڅنګ ولاړ دی او د ده دعا ورسره په آمین بدرګه کوي. د احرام په پیڅکه یې له مخ نه اوښکې پاکې کړې، څنګ ته یې سترګې ور واړولې، توره ړنګی ږیره، نوراني تندی پر شونډو تته موسکا، دنګه ونه زلمی دی، په نرم غږ یې وویل:

کاکا السلام علیکم!

وعلیکم السلام! وراره د کوم ځای یې؟

کاکا جانه د بلخ یم!

میرویس خان په مهربانه لهجه ورته وویل:

نام خدا په ځوانی کې د حج فریضې ویاړ در په برخه دی!

ځوان ورته وویل:

کاکا جانه الحمد لله دا مې دریم حج دی، بیا یې زیاته کړه:

زما کور په مدینه منوره کې دی!

میرویس خان ډېر خوشاله شو، په زړه کې ورتېره شوه چې الله د ده کار ورته اسانوي، ځوان ته یې وویل:

ډېرښه، ته به نو په ژبه هم ښه بلد وې، پېژندوی به هم لرې!

هوکې کاکا، موږ په مدینه منوره کې حرم ته نژدې دوکانونه لرو، له پلار اونیکه نه سوداګري کوو!

میرویس خان وویل:

د ماسپښین لمانځه وخت دی، راځه خدای به یاد کړو، بیا مې میلمه یې ډوډۍ به یو ځای وخورو، نورې خبرې به هلته کوو!

ځوان وویل:

کاکا زه کوربه یا دیرم، په سترګو خو ته به زما مېلمه وې.

دواړه د صفا غونډۍ له غېږې روان شول، کعبې ته نژدې له مقام ابراهیم سره په کتار کې ودرېدل، د لمانځه مهال ؤ، کتارونه درېدل او د طواف دایره کوچنۍ کېدله.

د ماسپښین له لمانځه وروسته دواړه را ووتل، میرویس خان د بې درېغه سکون احساس کاوه، دا یې په ذهن کې ورګرځېدل چې الله تعالی یو غیبي مرستندوی ورته را ولیږه، د حرم له ختیځې دروازې را ووتل، میرویس خان ځوان ته وویل:

جنت المعلی ته نژدې په یوه کاروانسرای کې زما خونه ده، له ما سره ځوتنه مېرمنې او نارینه حاجیان د سفر ملګري وو، ما ژمنه ورسره کړې چې د حج د ورځو خوراک څښاک یې زما په ذمه دی، راځه ته هم زما مېلمه شه!

ځوان حرم ته نژدې یوې دوه پوړه ودانۍ ته لاس ونیو:

دلته زما اطاق دی، دوه تنه نور حاجیان هم را سره دي، هغوی له وطنه راغلي دي، خو اوس به زه درسره لاړشم چې هغو د سفرملګریو ته دې بې وعدې نشې!

خان ورته وویل:

ما د هغوی غم خوړلی دی، موږ تېر ماښام دلته را ورسېدو، د خوراک، څښاک ټول بندو بست مې په شپه شپه کې وکړ، اوس به له بازاره یو څه میوه ترکاري را سره واخلو.

ځوان خوښ شو وې ويل:

بيا نو کاکا راځه زما کوټې ته، ته نن زما مېلمه شه! وطنداران مې تر ماسختن پورې په حرم کې وي، موږ به ښې غورې وکړو. همدغه مهال ميرويس خان يو خوږ غږ واورېد:

کاکاجانه!

شا ته يې وکتل، وراره يې نورمحمد خان موسکی په مخ کې ولاړ و، هغه را وړاندې شو لاسونه يې ور ښکل کړل ده پر تندي ښکل کړ، وې ويل:

گرانه څه وخت را ورسېدې، په خير راغلې.

نورمحمد خان لنډ ځواب ورکړ:

درې شپې کېږي چې را رسېدلي يو، څلور تنه نور د سفر ملگري هم را سره دي. دا دوې ورځې له سهاره تر ماښامه ستا په لټه کې وم. اوس له حرم نه راووتم دلته مې وليدې، په احرام کې خو ټول يو شان وي پېژندل هم گران دي، خو له مخې مې تېر شوې ومې پېژندلې.

ميرويس خان هغه ځوان ته خپل وراره ور معرفي کړ:

دا مې وراره نورمحمد جان دی، له وطنه راغلی دی، دی په اصفهان کې زما د لاس امسا و.

هغوی دواړو هم ستړي مشي وکړل، بيا ځوان وويل:

ډېره ښه شوه کاکا، راځی نورې خبرې به په اطاق کې کوو، لږ ځنډ وروسته دوی په يوه بالا خانه کې چې لمر لوېدو لور ته يې حرم شريف ؤ او لويه کړکۍ يې هغه لورته درلوده ناست وو، د سترخوان وغوړېد وريژې، مستې اوتازه مېوې ورته اېښې وې.

ميرويس خان وراره ته وويل:

نورمحمد جانه! په کور کلي کې خيرت و؟

-خير خيرت و، ټولو سلام کاوه، محمودجان، حسين او زينبې ډېر يادولې. سيدال خان، مياجي، بهادرخان او نورو مشرانو هم سلام کاوه، هغوی په تمه وو چې له حج وروسته به کندهار ته راشې.

میرویس خان موسکی شو خو څه یې ونه ویل. وراره یې ورته وویل:

کاکا له حج وروسته به له خیره ګډ کندهار ته ځو؟

هغه ځواب ورکړ:

زه به اصفهان ته لاړ شم او که د خدای رضا وه ډېر زر به کندهارته درشم.

میرویس خان بیا ځوان ته مخ ور واړاوه وې ویل:

دواړه به یو بل ته ځانونه ور وپېژنو، زما نوم میرویس دی، د کندهار یم...

د ځوان سترګې له حیرانۍ رډې را ووتې په خبره کې ور ولوېد:

هغه د هوتکو خان چې له ایرانیانو سره په جهاد بوخت دی؟

میرویس خان له پیکه موسکا سره په تائید سر وخوځاوه!

ځوان یې په لاسو ور پریوت، لاسونه یې ورښکل کړل له خوښۍ یې تر سترګو اوښکې راغلې، وې ویل:

دریغه پلار مې په کور وای، زه ډېر بختور یم چې په لیدو دې مشرف شوم. پلار مې تاسو ډېر یا دولئ. ستا دلیدو ارمان یې کاوه.

- پلاردې اوس چېرته دی؟

درې میاشتې وړاندې وطن ته تللی دی، موږ په وطن کې هم مال د خدای دی ډېرې ځمکې او جایداد لرو، له نیکونو راته پاتې دی، پلار او بابا مې د شاهجهان له پوځونو سره جنګېدلي دي...

ځوان چوپ شو، خان ترې وپوښتل؟

پلار او بابا مو څه نومېدل؟

ځوان موسکی شو:

وبښه کاکا! زما نوم عثمان دی، پلارمې حاجي عمرخان او د بابا نوم مې حاجي مراد خان دی، د قام مشر و لوی نفوذ یې درلود په سیمه کې په ارباب مراد مشهور ؤ، الله یې دې وبخښي ډېر کلونه پخوا وفات شوی دی.

میرویس خان وویل:

الله يې دي جنتونه مقام کړي، تر لږ روغبړ وروسته عثمان او میرویس خان داسې ګڼله لکه چې د کلونو پیژندګلوي سره لري، وروسته خان ورته وویل:

زه په اصفهان کې نظر بند وم، له هماغه ځایه حج ته راغلم، اوس مې اراده ده چې د مکې شریفې له مشهورو علماؤ نه د ګرګین پر خلاف د جهاد او پاڅون فتوا واخلم!

عثمان چې په مدینه منوره کې په دیني مدرسه کې زده کړې کړې وې پر ډېرو دیني احکامو پوهېدو وې ویل:

کاکا جانه! ډېره ښه ده، د حج یوه موخه همدغه ده چې اسلامي نړۍ د یو بل له ستونزو خبره شي او یوله بل سره مرسته وکړي. زما چې څومره معلومات دي صفویان افراطي شیعه ګان دي، سني مسلمانان زندیقیان بولي، صحابه ؤ ته په تېره شېخینواو حضرت عایشې رضی الله عنها ته ډېر بد وایي!

میرویس خان وخندل وې ویل:

اوس خو له هغوی مذهب تللی دی، یوازې وژنې او عیش او نوش ورته پاتې دي.

کاکا! ان شا الله علما به خامخا د جهاد فتوا درکړي.

ان شا الله! ته به په دې کار خیر کې ډېره مرسته راسره وکړې.

کاکا جانه! دا زما، زما د پلار او زما د اروښاد بابا شریک ارمان دی، ان شا الله دغه هڅې به موهم الله تعالی په عبادت کې حساب کړي.

*****

میرویس خان له خپل وراره سره په حرم شریف کې تر طواف وروسته له مقام ابراهیم سره ناست ؤ، ناڅاپه یې هغه خوب ورپه یاد شو چې په نبوي حرم کې یې لیدلی ؤ....

د حج له مراسمو دوې اونۍ وړاندې میرویس خان د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مقبرې په مخکې ولاړ ؤ، لاسونه یې په دعا لپه وو، اوښکې یې پر مخ را روانې وې، د اوښکو په بدرګه یې دعا کوله:

یا الله! د محشر په ورځ مو ستا د محبوب صلی الله علیه وسلم شفاعت په نصیب کړه!

يا د کايناتو پاچا! ستا د محبوب او د هغه د مخلصو يارانو دښمنان راته ذليل کړه، م
ته برى را کړه چې د ګرګين شوم سيورى له خپلې مېنې لرې کړو.

تر اوږدو دعا ګانو وروسته حرم ته ننوت، په لمانځه ودرېد، ورځ يې ټوله په حرم کې
تلاوت او عبادت تېره کړه، د ماسختن تر لمانځه وروسته په دې نيت له نبوي حرم نه
ووت چې کاروانسراى ته خپل اطاق ته ستون شي، ارام وکړي، نيمه شپه به بېرته راشي
خو له دروازې لس شل ګامه وروسته يې شاته وکتل، د حرم په ګنبزه يې سترګې ونښتې
پښې يې ځاي پر ځاى ودرېدې، بېرته را وګرځېد، پر درود او تسبيح ويلو يې شونډې
خوځېدې، بېرته نبوي حرم ته ننوت، په زرګونو د پيغمبر امتيان لوى الله ته په راز او نيا
بوخت وو، ځان ته يې غوسه راغله چې ولې يې له حرم نه د وتلواراده وکړه، بيا په لمانځ
ودرېد، وروسته د يوې ستنې ترڅنګ په درود او تسبيح ويلو بوخت شو، همدلته خوب
پرې راغى..... خوب ويني دوه سپين ږيري د نوراني څېرو خاوندان راشي، په مينه يې
لاس پرسر راتېر کړي، ورته وايي:

غم مه کوه، ولس به دى خداى له تيارو وژغوري، لمر به پرې را وخيژي... له ځانه سره
تکرار وي:

دا څوک وو چې ماته يې تسلې راکوله؟

يو څوک ورته وايي:

ولې ودې نه پيژندل؟ دا د پيغمبر ريښتنې ياران ابوبکرصديق او حضرت عمر فاروق
رضى الله عنهم وو!

ميرويس خان چې سترګې غړوي په نبوي حرم کې يوې ستنې ته تکيه دى، خوب ور
ياد شو، په زړه کې يې د ډاډ بېساري احساس په څپو ؤ، جګ شو د باندې ووت اودس
يې تازه کړ، په حرم کې د تهجد د آذان تکبيرونه اوچت شول، سر شاره اروا سترپالونکي
ته په عجز او نياز ودرېد، په خوب کې ليدلې نورانې څېرې يې مخې ته ولاړې وې، په
زړه کې ورتېره شوه:

درېغه د الله تعالى محبوب، د پيغمبرانو سردار، سپېڅلي پيغمبر مې هم په خوب ليدلى
واى! دعا يې وکړه:

یا الله د محشر په ورځ مې ستا د محبوب شفاعت نصیب کړې! او بیا د تهجد په لمانځه ودرېد.

*****

حرم شریف ته نژدې د یوه افغان د حجرې مخې ته د خرماو یو وړکی بڼ و، دا د لویې پکتیا د یوه سوداگر حجره وه چې ډېر کلونه پخوا یې پلار دلته راغلی او بیا همدلته پاتې شوی و. گلبت خان ته خدای ښه هستي ورکړې وه، د حج په موسم کې به دده حجره د افغني حاجیانو په ډېره بدله وه، خدای له شتو سره لوی زړه او خلاص لاس هم ورکړی و.

نن یې میرویس خان د حجاز له یو شمېر علماو سره مېلمانه وو، میرویس خان له خپل وراره، عثمان او څو تنو نورو سره د گلبت خان په حجره کې ناست ؤ، په گوډه ما ته عربۍ یې د حجاز علماؤ ته اهلاً وسهلاً وویل، وروسته یې په لنډو خبرو کې چې عثمان په فصیحه عربي ژبه ژباړلې وویل:

.....ما د استازي په توگه تاسو درنو علماؤ ته د یوه ستر ولس پیغام راوړی!

زما ولس له اوږدو کلونو راهیسې د گاونډیو ټولواکیو تر یرغل او تیري لاندې دی، صفوي ټولواکۍ یو عیسوی مذهبه حاکم زموږ د لوی کندهار پر ولس گومارلی او هغه زموږ پر خلکو لوی ظلم او تیری کوي، زموږ د خلکو سر مال او عزت د صفوي لوټمارانو تر برید لاندې دي.

زه د اسلامي نړۍ له درنو علماؤ نه د دې ظالمانو پر خلاف د جهاد فتوا غواړم!

علماؤ چې د ده خبرې واورېدې، یوه عالم غاړه تازه کړه وې ویل:

ته د صفوي ټولواکۍ پر خلاف له علماؤ فتوا غواړې، که دې مطلب د اسلامي نړۍ مرسته او ملاتړ دی؟

میرویس خان په ځواب کې په ډاډمنه لهجه وویل:

زه یوازې شرعي فتوا غواړم! زه د داسې ولس استازی یم چې د اسلام مبارک دین د هند تر دښتو او د ترکستان تر لرې ګوټونو پورې رسولی دی، دوی اوس هم د خپل خاورې او نوامیسو دفاع کولای شي.

یوه بل عالم وویل:

د ظالم او جابر او بې دینه واکمن پر خلاف د جهاد او مبارزې په حکم کې هیڅ ابها نشته! خو له دومره لوی ځواک سره مقابله تاسو څنګه کولای شئ؟

وروسته بحثونو دوام وموند، میرویس خان د ګرګین د ظلمونو تفصیلي یادونه وکړه، تر ما سپښین پورې، میرویس خان د دغو علماؤ متفقه لیکلې فتوا تر لاسه کړه او په حرم کې د ماسپښین تر لمانځه ادا کولو وروسته ټولو په ګډه د ګرګین پر خلاف د میرویس خان د بریا دعا وکړه.

درې ورځې وروسته خان له خپل وراره نورمحمد خان سره بېرته د اصفهان په لور د سفر موزې په پښو کړې، د مخه ښې پر مهال عثمان هغه ته په یوه دسمال کې یوه غوټه ونیوله وې ویل:

حاجي کاکا! دا یوه وړوکې بسپنه زموږ د شریک کور د خپلواکۍ لپاره قبوله کړه!

ـ وراره په دې کې څه دي؟

یوه اندازه پیسې دي، خپلو غازیانو ته وسلې او نور اړین شیان پرې واخله! بیا یې زیاته کړه:

کاکا جانه! زه ځان پردې نه خلاصوم، خامخا به د هیواد په دې لویه مبارزه کې در سره برخه واخلم! پلار جان مې ډېر زهیر شوی که نه باور مې ؤ چې ستا له یارانو سره به یوځای شوی ؤ، هغه ان د زلمیتوب له وخته د لوی وطن د خپلواکۍ او یووالي په ارمان دی.

میرویس خان هغه پیسې نورمحمد خان ته ونیوې:

دا به امانت سیدال خان ته رسوې. بیا یې عثمان پرتندي ښکل کړ، ورته وې ویل:

مراد جان او عایشه زما لپاره په تندیو ښکل کړه، مراد د عثمان درې کلن زوی او عایشه یې لور وه چې اوس د کال وه.. د عثمان په سترگو کې اوښکې ډنډ وې، خان د خدای له کوره د لوی ارمان په لور خپل مزل پیل کړ.

میرویس خان خان چې د حج پرسفر روانېدو د صفوي دربار ترنیمايي زیات مهم چارواکي یې دوستان شوي وو، خو ملاباشي، د یوانبیگي او څو نور کسان یې بیا سخت مخالف وو، سره له دې چې شاه حسین هم هغه ته اوس ښه نظر درلود، خو پر پاچا باور نه ؤ درباري شیطانان فعال وو، پخپله پاچا د هرچا سره سر خوځاوه، هر وخت یې د نظر د بدلون امکان ؤ، ځکه خو چې کله میرویس خان د حج پر سفر روانېدو اعتماد الدوله ورته ویلي وو چې وضعې ته گوره، نېغ اصفهان ته مه راځه، ستا په باب په دربار کې مخالفتونه لا پر ځای دي، د گرگین د وراره په شمول د هغه نور خواخوږي او یاران غواړي د پاچا نظر وا ړوي.

په اصفهان کې میرویس خان پر یوه تن په پټه سترگو اعتماد درلود، هغه د قزلباشو ځواک ځوان ارسلان ؤ چې ده ته یې ډېر رازونه ویلي وو.

میرویس خان چې له کېښتۍ نه د ایران پر خاوره پلی شو، له خپل وراره سره یې لاره بېله کړه، هغه او ملگري یې له لازمو هدایاتو او سپارښتنو سره د وطن په لور رخصت کړل، پخپله د اصفهان په لور له یوه وړوکي کاروان سره روان شو.

میرویس خان چې ښارته رانژدې شو شپه یې په یوه کاروان سرای کې شوه، سهار چې د دوی کاروان روانېدو ده ځان ناجوړه واچاوه، د سفر انډیوالانوته یې وویل:

ستومانه یم غواړم دلته یوه شپه نورهم پاتې شم .

چې کاروان وخوځېد، میرویس خان د کاروانسرای له خاوند نه وغوښتل چې څومره زر کېدای شي یو ښه یرغه اس ورته تیار کړي، هغه ته یې وویل چې د بیې پروا مه کوه، هغه په بیړه یو زین کړی اس ورته راوست او میرویس خان هم پښنه پرې واړوله، خان د حج له کاروان نه لاره چپه کړه او گړندی ترې تېر شو، پردې یې څوشپې فکر کړی ؤ،

هغه اصفهان ښار ته له کاروان نه څو ساعته وړاندې د اذریانو په جامه کې ننوت چ
که اشنا چاته په مخه ورغلی وای په یوه نظر یې نشو پیژندلای.

خان خپل باوري اشنا ارسلان ته ورغی، هغه یې هم په لیدو هک پک شو، د ارسلا
کور د قزلباشو څواکونو چوڼۍ ته نژدې ؤ چې د میرویس خان د استوګنې ځای
ارسلان خپل مېلمه کورته بوتلو چې مېلمستون ته ننوت په یوه کوچ یې ډډه ووهله، ښ
ستومانه شوی ؤ، د یوې ورځې مزل یې په نیمه ورځ کې وهلی ؤ، ارسلان کورته ننو
چې مېلمه ته یې د خوراک څښاک بندوبست وکړي، چې له خرما اود تودو شیدو ل
یوه جام سره مېلمستون ته ورغی میرویس خان په کوچ کې په درانه خوب ویده ؤ.

ارسلان د شیدو له جام سره خپ بېرته را ووت، مازدیګر مهال یې میرویس خان را ویښ
کړ، تر اوداسه او لمانځه وروسته ارسلان دسترخوان په مخکې ورته وغوړوه رنګا رنګ
نعمتونه یې ورته کتار کړل، بیا یې په مخکې په ادب کیناست ورته وې ویل:
حج دې قبول شه مشره! سفرخو دې په خیر ؤ.
میرویس خان لنډ ځواب ورکړ:
ډېر مبارک سفر ؤ، خدای یې دې قبول کړي. الله دې ستاسو هم پکې نصیب وکړي!

بیا یې ترې وپوښتل:
زه چې په کومه جامه کې راغلم په موخه به مې پوهېدلی وې!
ارسلان په خندا ځواب ورکړ:
مشره ښه وپوهېدم الله دې اوږد عمر درکړي. دښمنان دې درباندې ړانده کاڼه شه! پخوا
تر دې چې خان د وضعې په باب پوښتنه وکړي وې ویل:
دلته هم خیرت دی، وضعه د پخوا په شان ده، ان چې له ګرګین خان شکایتونه ډېر
شوي دي اعلیحضرت او شهبانو نازنین اوس داهم وایي چې کندهار ته د ګرګین استول
غلطي وه، دې سړي د اور په لمبو د اوبو پرځای تېل ور وشیندل.
اعتماد الدوله څنګه دی، د ملاباشي او دیوان بیګي وضعه اوس څنګه ده؟
اعتماد الدوله ښه دی خو ډېر په غوره کې نه دی، ملاباشي او حکیم باشي یې پاچا ته
ډېر شکایتونه کوي، د صفوي دربار خو دا اوس معمول دی!

هغوی نو په غوره کې دي؟

ـ څوک ملاباشي او دیوان بیګي یادوې؟

ـ هوکې!

ـ نه ګرګین د هغوی وضعه هم ورخرابه کړې ده؟

ـ د ګرګین په باب څه احوالونه راغلي دي؟

ـ ځینو قبیلو د مالیې له ورکولو انکار کړی دی، بیا یې له خپګان په ډکه لهجه زیاته کړه:

یو دوه ځله یې عام خلک وژلي چې دې بیا ولس ورته پارولی دی.

د دې خبرې په اورېدو میرویس خان سخت خپه شو، وې ویل:

خدای دې خیر پېښوي چې دې ځناور به څومره کورنۍ د ویر په تغر کېښنولي وي.

ارسلان ورته وویل:

ښاغلی مشره! ډېره اندېښنه مه کوه، خدای به خیر پېښ کړي.

اندېښنه به ولې نه کوم، ولس مې په اور کې پروت دی، په هر صورت له صبر پرته اوس چاره څه ده!

ارسلان ورته وویل:

ښاغلیه! له اوږده سفره راستون شوی یې، ته ښه ارام اوخوب ته اړتیا لرې.

خان ځواب ورکړ:

د چا چې کور اوراخیستی وي خوب او ارام به څه ډول وکړي! بیا یې هغه ته په ځیر وکتل وې ویل:

اعتماد الدوله راته پیدا کولای شې چې همدا نن شپه ورسره ووینم!

ارسلان په ادب ځواب ورکړ:

که تاسو ټینګار کوی هڅه به وکړم، خو که زما منې تر سهاره باید ښه ارام وکړي، سبا ته به دربانډې بیروبار وي بیا به ډېر ستومانه شي!

خان په هیله منه لهجه ورته وویل:

که یې ووینم ښه به وي، کیدای شي کوم ښه خبر ترې واورم!

ارسلان وویل:

په سترګو د ماښام له لمانځه وروسته به پسې ورشم!

د ماښام له لمانځه وروسته ارسلان ووت، ډېر ځنډ وروسته راغی اونېغ مېلمستون ت
ورغی، میرویس خان په کوچ کې ډډه وهلې وه، تسبیح یې اړولې، د دروازې له غږ سر
یې هغه لورته سترګې ور واړولې، ارسلان راغی له سلام وروسته یې وویل:

اعتماد الدوله مې پیدا نه کړ، په کور کې مې احوال ورته پرېښود، چې یو پخوانی اشنا
دې زما په کورکې انتظار کوی. خو باور مې نشې چې راشي، ځکه چې د هیواد
صدراعظم به زما په څېر یوه عادي سړي پیغام څومره جدي وبولي ... ما د احتیاط لپاره
ستاسو نوم ورته نه دی یاد کړی.

د میرویس خان پرشونډو موسکا وغوړېده، په مهربانه لهجه یې وویل:

ارسلانه ستوماني دې وبښه، راځه کښېنه، خیر دی زه اوته به غورې وکړو.

ارسلان بیا په نه زړه ورته وویل:

د حج کاروان را رسېدلی دی، قورچي باشي مې ولید راته وې ویل چې کاروان را
رسېدلی خو میرویس خان په لارکې ترې پاتې شوی دی.

خان وویل:

باور مې دی چې د ملاباشي او دیوان بیګي کسانو به اوس پاچا ته احوال ورکړی وي
او ټول به سخت وارخطا شوي وي...

ارسلان بیا جګ شو، وې ویل:

د شپې ډوډۍ به راوړم، بیا به غورې کوو!

میرویس خان ځواب ورکړ:

ماښام تر لمانځه مخکې مو مکلفه ډوډۍ وخوړه، باور وکړه چې نور د یوې نمړۍ اشتها
نه لرم!

چای او مېوه به راوړم!

که اړتیا شوه وروسته به یې راوړې، راځه کېنه! ارسلان بېرته د هغه تر څنګ په کوچ کې
کیناست میرویس خان ته یې په مینه وکتل وې ویل:

ښاغلی مشره! د راتلونکې په باب دې نیت څه دی؟

هغه په موسکا ځواب ورکړ:

زما خو همدا یو کار په مخکې دی، الله دې مرستندوی شي! ارسلان وپوهېد خو د وضاحت په دود یې ترې وپوښتل:

څه کار؟

د اروابښادې مور ارمان اوخوب! ارسلان ته یې مخکې دغه کیسه کړې وه چې مور یې څه ډول خوب لیدلی ؤ، ورته وې ویل:

الله دې وکړي، الله دې ټول ارمانونه تر سره کړه نو نیت مودی چې له خیره وطن ته لاړشې!

هوکې! څه فکر کوې پاچا به اجازه راکړي؟

ښاغلیه له پاچا نوره خبره شړېدلې ده، خو چې خبره سمه تر غوږه ور ورسیږي چې د بېګلربیګي ستونزې تاسې حل کولای شئ، بیا خو به خامخا ستاسو له استولو سره توافق کیږي!

میرویس خان جګ شو د خپل سامان غوټه یې پرانیستله، د عجوه خرما ؤ او زمزم اوبو له بوتل سره یې یو ښکلی خنجر چې پوښ او موټی یې په ښکلیو غمیو او طلا کاري ښکلی شوی ؤ، له یوه یمني وریښمین شال سره ارسلان ته ونیول:

دا ستا سو لپاره دي! بیا یې ورته وویل:

ما ګرګین ته یو خنجر ډالۍ ورکړی ؤ، هر وخت په دې اندېښنه کې وم چې د خپل قام قاتل ته مې وسله ورکړې خدای به رانه پوښتنه وکړي. دغه خنجر مې د ظهران په بندر کې ستا په نوم اخیستی دی، باور مې دی چې ته به د مظلومانو په دفاع کې ترې کار واخلې!

ژمنه درکوم چې ان شاَ الله همداسې به کوم!

میرویس خان سره له دې چې ډېرستومانه ؤ خو د اعتماد الدوله د راتلو په تمه تر ناوخته ویښ او له ارسلان سره په بنډار بوخت ؤ، چې د فتح علي خان له ورتلو نهیلی شو، خوب ته یې ځان جوړکړ، ارسلان کورته ننوت او میرویس خان په درانه خوب ویده شو.

سهار له سبا ناري وروسته په مناسب فرصت د ارسلان له کوره را ووت، نېغ د دیوان بیګي د حکومتي ودانۍ په لور ورغی.

اعتماد الدوله فتح علیخان د شاه حسین په مخکې په درناوي سرټیټ کړ وې ویل:

اعلیحضرته! میرویس خان اصفهان ته د وفادارۍ ثبوت وړاندې کړ. جناب ملاباشي او شیخ الاسلام بد گوما نه وو ویل یې چې میرویس خان به بیا اصفهان ته رانشي!

شاه حسین چې لا د شپې په خومار کې ؤ، سترگې یې نیمکښې کړې، سریې د تائید په دود وخوځاوه، نوریې څه ونه ویل.

اعتماد الدوله وویل:

اعلیحضرته هغه غواړي ستاسو په لیدو مشرف شي، څه ډالۍ هم غواړي ستا سو خدمت ته وړاندې کړي!

پاچا د لاس په اشاره وویل چې رادې شي!

اعتماد الدوله د دربار یوه خواجه سرا ته اشاره وکړه، هغه ووت، لږ ځنډ وروسته له میرویس خان سره دربار ته ورننوت، خان وړاندې ورغی، له شاه حسین نه درې څلور گامه لرې ودرېد سلام یې وکړ:

د پاچا عمردې ډېر وي! اعلیحضرته! مننه کوم چې ماته مو د دې سپېڅلې فریضې د اداکولو اجازه را کړه! په سپېڅلیو مقامونوکې مې ستاسو لپاره دعا گانې وکړې! بیا یې خواجه سرا ته وکتل، هغه یو زرین پتنوس چې گلابي وریښمین ټوکر پرې غوړېدلې و راوړ، د پاچا په مخکې په گونډو شو.

میرویس خان د پتنوس له سره د سمال لرې کړ، د زمزم اوبو یو بوتل، یوه اندازه عجوه خرما، او یو د غمیو امیل چې سترگې یې برېښنولې پکې ایښې وو.

پاچا اوبو او خرما ته ونه کتل، له موسکا سره یې امیل را اوچت کړسترگوته یې ونیو، لکه نوی چې راویښ شوی وي وې ویل:

واه واه! خانه دا خو ډېر ښکلی دی! شهبانو نازنین به ډېره ورته خوشاله شي! ...

بیا یې امیل بېرته په پتنوس کې کېښود:

مننه، ډېره غوره ډالۍ ده!

میرویس خان ورته وویل:

عجوه خرما او زمزم اوبه د هردرد دوا او د هرې دعا قبلوونکې دي!

شاه حسین وویل:

مننه، مننه، زه د کربلا او نجف اشرف خرما وې او اوبه هم لرم، دابه ورسره گډې کړم!

همدغه مهال د پاچا ځانگړی خانه سامان (خواجه سرا) محمود اقا ورننوت له سلامي وروسته یې وویل:

د اعلیحضرت داقبال ستوری دی اوچت وي، ملاباشي او دیوان بیگي غواړي په حضور مشرف شي!

شاه حسین د لاس له اشارې سره وویل:

راځي دې! لږ ځنډ وروسته هغوی هم دربار ته ورننوتل او په حیرانۍ یې میرویس خان ته وکتل، پاچا ته له احترام او سلام وروسته کیڼ لوري ته اعتماد الدوله او میرویس خان ته مخامخ پرخپلو ټاکلو ځایونو کیناستل، ملاباشي له کیناستو سره وویل:

خانه حج مو مبارک، څه وخت را رسېدلي یاست! کاروان خو پرون ماښام را ورسېد؟

میرویس خان له هغوی مننه وکړه، وې ویل:

همدا نن دلته راغلم، بیا جگ شو له پاچا یې د تلو اجازه وغوښته، شاه حسین د لاس له اشارې سره ورته وویل:

کښېنه، زه یو څو ضرورې مشورې در سره لرم.

له دې خبرې سره د دیوانبیگي او ملا باشي شونډې پرې وځړېدې.

*****

په اصفهان او شاوخوا ښارونو کې دغه خبره د ځنگله د اور په څېر خوله پر خوله گرځېدله چې د شاه حسین پاچاهي را چپه کیږي، یو ارمنی شهزاده را روان دی چې د خپلې شاهي کورنۍ میراث تاج او تخت لاسته راوړي. په ښار کې هره ورځ په دې باب نوې کیسې او روایتونه را وتل، د حیرانۍ خبره دا وه چې خلک پر دې ډول اوازو خوښ وو او داسې ښکارېدله چې د صفوي واکمنۍ را نسکورېدو ته ټول شېبې شماري.

د شاه حسین پر دربار غمجنه چوپتیا را خپره وه، دغه تودې اوازې چې خلکو پرې پوخ باور کاوه دربار ته هم را رسېدلې وې، سره له دې چې د هغه په سترگو کې د

تېرې شپې خومار او خوبولی حالت و، خو له ورایه یې پر څېره د اندېښنو سیورې پراته وو، درباریانو یې هم څه په رېښتیا او څه په مکر ځانونه خپه نیولي وو، له یوې درنې چوپتیا وروسته د هغه شونډې وخوځېدلې:

له دې ارمني سره اوس څه وکړو؟

خبره یې له ځانه پوښتنې ته ورته وه، چا ځواب هم ورنه کړ، د دوی اندېښنه د مسکو لخوا د نوي را استول شوي سفیر په اړه وه، مسکو د اسرائیل په نامه یو ارمنی د سفیر په توګه را استولی و، هغه د ایران بریدونو ته نږدې اړولي وو اصفهان ته یې د ورننوتلو اجازه غوښتې وه، د ارمنیانو په ځینو تاریخي کتابونو کې داسې روایات وو چې یو وخت به یو ارمنی شهزاده راشي او پر ایران به حاکم شي او د هغه د شاهي کورنۍ میراث او د حاکمیت خاوره به ټوله دده تر واکمنۍ لاندې راشي.

د اسرائیل په نوم دغه ارمني چې د روسیې د سفیر په توګه را استول شوی و همدغه ادعا کوله چې دی هماغه ارمني شهزاده دی، درې څلور سوه کسان ورباندې راټول شوي وو، پاچا خپله چاړه په اوبو کې لیدله ځکه ورته خپه و، لږ ځنډ وروسته دربار ته د پاچا خاص خواجه سرا او هرکاره، محموداغا ورننوت، پر ملا مات شو، سلام یې وکړ:

اعلیحضرته! ستاسو د اقبال ستورى دې اوچت وي، په بازار کې مې ارمني سوداګر او کاروباریان ولیدل، ټول د اسرائیل په انتظار دي، دوی ویل چې دا هماغه څوک دی چې د پاچاهۍ په اړه یې وړاندوېینه شوې ده.

پاچا ملا باشي ته مخ ور واړاوه:

په نجف او کربلا کې ددې فتنې په اړه کوم روایت او څه چاره نشته؟

ملا باشي میر محمد حسین وویل:

اعلیحضرته! زموږ په مذهبي روایاتو کې یوازې د دجال د فتنې او د حضرت مهدي علیه السلام په اړه روایتونه شته.

پاچا له اعتمادالدوله نه وپوښتل:

جنابه له دې سره څه وکړو، اجازه ورکړو چې راشي او که یې ځواب کړو؟

هغه بې ځوابه و وې ویل:

اعلیحضرته! اجازه راکړه چې پر دې یو څه سلا مشوره وکړم او یو مناسب ځواب دربار ته راوړم. البته دومره باید ووایم چې د فرانسې سفیر جلالتمآب میشل هم د دغه سړي کردار ډېر شکمن باله.

پاچا چې د ستومانۍ احساس یې کاوه د لاس له اشارې سره یې وویل:

لاړشئ، مشورې مو وکړئ سباته ځواب درنه غواړم.

اعتمادالدوله له جګېدو سره وویل:

اعلیحضرته! میرویس خان هوښیار او د سلا مشورې وړ سړی دی، سبا ته که هغه هم راشي.

ـ ډېره ښه خبره ده، رادې شي.

سبا ته بیا هماغه دربار و او د روسیې د نوي سفیر په باب خبرې، په دې کې د دربار خلک دوه نظره وو، ځینو ویل چې اسرائیل ځواب کړئ، ځینې نور بیا په دې نظر وو چې اجازه ورکړی، هغوی چې د اسرائیل د ځوابولو پلویان وو پر هغو روایاتو یې باور درلود چې د ارمنیانو په تاریخي کتابونو کې یې یادونه شوې وه، خو نورو بیا ویل چې دا د کتابونو روایات هسې خرافات دي.

پاچا شاه حسین له میرویس خان نه وپوښتل:

میرویس خانه ! ستا په دې باب رایه څه ده؟

هغه له دې ډرامې نه خبر شوی و، دا یې ځان او خپل ولس ته یو الهي خیر باله، پردې یې هم فکر کړی و چې که د اصفهان دربار ترې مشوره وغواړي نو څه به ورته وایي، په احترام ودرېد، ویې ویل:

اعلیحضرته! د دربار د ټولو ښاغلیو نظرونه د درناوي وړ دي، هر لوری خپل دلایل لري، زما په اند که اجازه ورکړئ چې راشي، دا به د اصفهان په خیر وي دلته به ستاسو تر څارنې لاندې وي، کومه فتنه به نشي جوړولای، که څه شرارت کوي بیا یې چاره

کولای شئ. خوکه ځواب ورکړی، مسکو به بده ومني، ارمنیان به ټول پردې وپاریږي، لویه فتنه به راپورته شي.

میرویس خان بیا له لږ ځنډ وروسته زیاته کړه:

اعلیحضرته! گرجستان هم زیات ارمنیان دي، په ایران کې هم ددې قام ډېر خلک شته دي، بیا به ټول لاس سره ورکړي، دا اوس هم روسیې د گرجستان یاغیان درته ساتلي دي. د خان اشاره د گرگین خان ورور رزمي خان (آرخېل) ته وه. میرویس خان تر دې خبرو وروسته پر درباریانو نظر راوگرځاوه چې د خپلو خبرو اغېز پرې وگوري، بیا یې زیاته کړه:

اعلیحضرته! د دربار ښاغلیو! دغه وضعه ډېره نازکه ده، ډېر پام په کار دی چې اصفهان په نویو مصیبتونو وانه وړي. بیا یې وویل:

هلته په کندهار کې گرگین خان دی، هغه یو باغي مزاج لري، ورور یې په مسکو کې ناست دی، دی له ډیلي سره هم اړیکي ټینگولای شي. زه مو دلته نظربند ساتلی یم، داسې ځوک هم نشته چې د گرگین خان د بغاوت مخه ونیسي، د دې کار پایلې خو ماته ډېرې خطرناکې ښکاري.

د میرویس خان دغه اوږده وینا د پاچا په شمول د دربار د ډېرو کسانو پر غوږونو ښه ولگېده، یوازې دیوانبیگی، او ملا باشي یې د خبرو پر مهال نا ارامه ښکارېدل، دده رایه درنه او ومنل شوه، ارمني اسرائیل نومي ته یې اجازه ورکړه چې د روسیې د سفیر په توگه اصفهان ته راشي.

درې ورځې وروسته اعتماد الدوله د میرویس خان لیدو ته ورغی، چې سترگې یې پرې ولگېدې، ورته وې ویل:

خانه! مبارک دې شه، په خپل عقل او هوښیارۍ دې خپل مقام وساته، پاچا به ډېر زر د کلانترۍ له فرمان سره کندهار ته د تلو اجازه درکړي. څو ورځې وروسته میرویس خان د سفر تیاری نیولو، هغه ځوک چې د بندي په توگه اصفهان ته را استول شوی و، د یوه با اعتباره مشر په توگه بېرته خپل وطن ته روان و.

چې سباته يې کندهار ته د سفر نيت و پر ماښام د ارسلان ليدو ته ورغی، هغه له ليدو سره سم ورته وويل: مشره! مبارک. ښه يې ويلي چې خدای دې هغه شر پېښ کړي چې زموږ پکې خير وي. بيا يې په موسکا وويل: مشره تاته به اوس د اصفهان د دربار اصلي بڼه ښه معلومه شوې وي، هلته د دينداری په نوم د مسلمانانو د ککرو منارونه جوړول، او بيا دومره پر خرافاتو باور چې په اوازو د تخت او تاج د تلو ويره پرې راشي.

کندهارته ستنېدل «۱۷۰۹ ز کال»

(۲)

سیف مدین لودین کتابتون

بالاخره هغه ورځ هم را ورسېده چې میرویس خان یې تر کال زیاته موده په انتظارتیره کړې وه، خان د کندهار د کلانتر او د اصفهان د با وري سلاکار په توګه له پنځوس کسیز وړوکي کاروان سره وطن ته روان شو، په دې کې شل تنه وسله وال د اصفهان د حکومت لخوا د ده د امنیت د نیولو په نوم هم وو، خان ته د حج د سفر یادونه سترګوته ودرېدل، وپوهېدو چې په دې کسانو کې هم داسې څوک شته چې ګرګین ته یې د راتلونکو ارادو په باب جاسوسي وکړي. له ځان سره یې نقشه جوړه کړه چې څه ډول د دوی له شره ځان بېغمه کړي له لومړي مزله وروسته لوړ مازدیګر ؤ چې یوه کاروانسرای ته ورسېدل. میرویس خان خپلو ټولو ملګریو ته وویل:

د اسونو غم وخورئ، چې ښه ځای پرځای شوئ د شپې ډوډۍ به یو ځای خورو، څه مشورې هم درسره لرم!

له هغو څلورو تنو څخه دوه تنه څک شول، د میرویس خان پرشونډو موسکا تېره شوه، خپل مراد یې وموند. د شپې پرډوډۍ چې سره یو ځای شول خان وویل:

تاسو پوهیږئ چې اعلیحضرت ماته لوی پېټی پر اوږو را واچاوه، پخوا یوازې کلانتر وم، مالیه را ټولول او د بغاوت ماتول مې دنده وه، اوس زه د اصفهان ځانګړی استازی هم یم، د اعلیحضرت دغه اعتماد او لورېینه به زه هېڅکله هېره نه کړم، بیا یې له یوې بلې خوا څه خبرې وکړې په پای کې یې وویل:

زما دنده دا هم ده چې د ښاغلي بېګلربیګي سره د امنیت په راوستلو کې مرسته وکړم زه به خامخا دا کار وکړم چې د اصفهان اعتماد وساتم!

ګومارل شویو دوو تنو فکر کاوه چې دوی ته بې ځایه دنده سپارل شوې، میرویس خان خو اصفهان ته تر ګرګین زیات وفادار دی او ګرګین ته د اصفهان تر درباریانو ډېر

اخلاص لري. میرویس خان د دوی په وړاندې ګرګین ډېرپه درانه نوم یاداوه، نوموړي د اصفهان دربار هم ښه پېژندلی ؤ چې نور د شاه حسین واک ډېر شړېدلی دی، له درې اونیو ستومانه مزله وروسته میرویس خان چې کندهار ته ورسېد، دا یې مناسبه وبلله چې لومړی نارنج ماڼۍ ته د ګرګین خان دربار ته ورشي.

ګرګین تر پخوا زیات مغرور شوی ؤ، خو میرویس خان ته یې له مجبورۍ د کندهار د ولس د رسمې کلانترپه توګه هرکلی ووایه، دواړه چې مخامخ شول پرشونډو یې جبري موسکاوې غوړېدلې وې، خو د دواړو دنیاوې او ارمانونه یو د بل پرخلاف وو. یو د خپل ولس د خپلواکۍ او غرور د اعادې په فکرکې، بل د یوه ولس د ځپلو په بیه د خپل مقام او واکمنۍ د دوام په غم کې.

میرویس خان له تشریفاتي خبرو وروسته ګرګین خان ته وویل:

جناب بېګلربیګي صاحب! ستاسو په اجازه به زه د کور او ولس احوال واخلم، تر کال زیاته موده وشوه چې ترې مسافر وم. بیا به له خیره په ګډه مشوره چارې پرمخ وړو، زه به ستاسو په خدمت کې وم!

ګرګین په ځانګړي غرور ځواب ورکړ:

سمه ده اوس لاړشه، خو چې څومره زر ممکنه وي دلته راشه؛ زه څه ضروري مشورې هم در سره لرم او یو ځانګړی د دوستۍ وړاندیزهم لرم چې بیا به یې درته ووایم!

میرویس خان د ګرګین د دوستۍ وړاندیز حیران او چورتي کړ، هېڅ یې مازغو ته نه رسېدل چې ګرګین به د دوستۍ څه ډول وړاندیز لري. خان د ښمن د دوستۍ پر پیغامونو ښه پوهېدو چې اصلاً د یوې معاملې بڼه لري.

هغه له درباره رخصت شو، له اصفهان نه د ملي مشر د راتلو خبر ډېر ګړندی تر لرې لرې پورې ورسېد. میرویس خان چې له نارنج ماڼۍ راووت غیر معمولي ګڼه ګوڼه یې ولیده چې د ښار له لوري د نارنج ماڼۍ په لور ورننژدې کیږي. اس ته یې پونده ورکړه چې خلکو ته ورنژدې شو یحیی خان، شمروزخان، وراره یې نورمحمد خان چې د حج په مراسمو او سفر کې ور سره ملګری و، او څو تنه نور یې وپیژندل، وپوهېدو چې هغوی

یې هرکلي ته راغلي دي، په گڼه گوڼه یې سترگې ښخې شوې، یوه تلوسه ور سره وه څوک یې لټول خو نه یې لیدل. چې سره مخامخ شول له یحیی خان نه یې وپوښتل:

محمود او حسین دې را نه وستل؟

هغه ځواب ورکړ:

کډې مو سیوري ته بېولې دي، محمود او حسین جان دلته نشته.

میرویس خان بیا د خلکو په گڼه گوڼه کې ورک شو. چا یې په غاړه کې لاسونه ور واچول، څوک یې پر لاسو ور پریوتل او د ښکلولو هڅه یې کوله، ځینو یې ږیره ښکلوله.

دوستان او نږدې ملگري یې ورته ځیر دي، د خان په ږیره کې سپین ډکي زیات شوي چې له دې سره یې پر ځیره د وقار او درنښت وړانگې را خپرې دي. گڼه گوڼه د کوکران پر لور روانه شوه، هلته د میرویس خان کور و چې اوس یحیی خان پکې اوسېده. له شاو خوا راټول شوي لوی واړه چې د خپل مشر د هرکلي لپاره راوتلي وو، یو یو بېرته په خپله مخه لاړل، د یحیی خان تر حجرې پورې یوازې خپل ملگري ورسره پاتې شول، خو تر تېر ماښامه خلک ورته راوان وو، میرویس خان د شاوخوا خلکو لپاره درې ورځې پاتې شو، په څلورم سهار یې له یحیی خان سره پر اس پښه واړوله او سیوري ته روان شو، چې خپله کورنۍ ووینې او له مشرانو سره په خلاص مټ مشورې وکړای شي.

سیوري ته د خان د راتلو خبر یوه ورځ وړاندې رسیدلی و، کور او کلی یې د راتلو په انتظار وو، ماسپښین مهال پر کلي زیري وشول چې میرویس خان راغی، د کلي لوی او واړه ټول مخې ته ور ووتل، له لرې چې د میرویس خان سترگې پر کلیوالو ولگېدې پورته اسمان ته یې سترگې واړولې دعا یې وکړه:

لویه خدایه! زموږ مظلوم ولس نور د ظالمانو له شره بېغمه کړې، مهربانه ربه ته دغه ولس بې اسرې مه کړې.

لاسونه یې پر مخ را کش کړل، یحیی خان ته یې وکتل، په موسکا یې وویل:

وروره! دغه خلک چې دومره په مینه راوتلي دي یوه تمه را نه لري، خدای دې موږ ته همت راکړي، چې ارمانونه یې تر سره کړو.

هغه امين وويل. څو شيبې وروسته ميرويس خان له اس پلی شو، محمود او حسين په منډه ورغلل غبرگې غيږې يې ورکړې:

پلاره په خير راغلې، دومره اوږده مسافري دې وکړه!

د کليوالو په شور او زوږ کې خبرې نه اورېدل کېدې، يوه خوښي نه وه، څو سره غبرگې شوې وې، د دوی مشر د ظالم دښمن له بنده روغ راوتلی و، له اوږدې مسافری راغلی واو د حج له مبارک سفره راستون شوی و.د ډېرو له سترگو د خوښيو اوښکې روانې وې، يوه بيله ننداره وه چې په تاريخ کې کله کله ليدل کيږي.

ميرويس خان لا خپل کور ته نه و ستون شوی، يحيی خان ته يې اشاره وکړه، هغه دوو تنو ته مخ واړاوه:

هغه غوايان راولی، همدا اوس يې حلال کړئ، غوښه يې پر کلي وويشئ!

لږ شيبه وروسته درې سخوندر د کلي په ميدان کې حلال شول، کليوال پر هغو بوخت شول او ميرويس خان خپل کور ته ننوت.

په کور کې نو د ټول جهان خوښي، مينه او عاطفه په يوه شېبه کې راټولې شوې، نهه کلن محمود يو څه نزاکت او ادب ساته د پلار لاسونه به يې ښکل کړل، بيا به يې څنگ ته کيناست، اوه کلنه زينبه او پينځه کلن حسين به يې کله پر اوږو ور وختل او کله به يې په غېږ کې ور کيناستل، د قام له مشر نه هم مشري په انگړ کې پاتې وه، له اوږده او ستومانه مزله را ستون شوی يو څوک و چې د کورنۍ او بال بچ د مينې او عاطفې غېږې ته يې پناه وړې وه، د پلار د مينې تږيو ماشومانو داسې نخرې را واخيستې لکه د مياشتو تر ډېره ان ماشوم حسين ته د پلار د ږيرې وېښتان تر هرڅه په زړه پورې وو، زينبې يې په ږيره کې سپين ويښتان شمېرل چې اوس زيات شوي هم وو، هغې به کله په غاړه کې د اميل پر غمي سترگې وگنډلې چې له حجازه يې ورته راوړی و او کله به يې خپلې پستې منگولې د خپل پلار په ږيره وهلې، څو ځلې يې ورته وويل:

پلارجانه! بيا به اصفهان ته نه ځې. پلار به په مينه ځواب ورکړ:

نه ځم لورکۍ، بيا اصفهان ته نه ځم. لورته يې اصفهان د تيارو نوم و. ترې وې پوښتل:

پلارجانه! په اصفهان کې تیارې ډېرې وې؟

پلار یې ګونګ ځواب ورکړ:

چېرته چې ظلم وي هلته تیارې ډېرې وي.

محمود ترې وپوښتل:

پلارجانه ته ریښتیا په اصفهان کې په توره تیاره کې بندي وې؟

ـ چا درته ویل، زه بندي نه وم د یوه ضروري کار لپاره تللی وم.

خانزادۍ مېرمنې یې ورته وویل:

هلک ملامت نه دی، دلته ځینو اوازې اچولې وې چې خان نور لاړ د اصفهان په تیاره زندان کې به وروست شي، وروسته چې نورمحمد خان ستاسواحوال راوړ، لږ مو زړونه ارام شول.

محمود سوک هوا ته وغورځاوه په غوسه یې وویل:

پلارجانه! چې لوی شوم اصفهان نیسم، پاچا یې وژنم!

پلار له مینې په خندا شو:

افرین بچیه! اصفهان ونیسه ظالمان یې ترې ورک کړه، مظلومان یې وژغوره!

هېڅچا هم دا تصور نشو کولای چې د وړوکي محمود پر دغه اراده به ملایکو امین کړې وي. او یو وخت به تاریخ همدغه پېښه خوندي کوي.

میرویس خان وویل:

ان شا الله نور مو له وطنه تیارې د تل لپاره په ورکېدو دي. الله به هرڅه سم کړي، پر کندهار به د پردیو پر ځای زموږ خپل بیرغ په رپا وي. د مینې او عاطفې سمندر تر هغو څپاند و چې درې واړه د میرویس خان په غېږ او زنګنو په درانه خوب ویده شول. مینه او عاطفه ویده شوه کاینات ټول په هغو کې ډوب شول.

*****

له حج نه د خان د راتلو خبر له کندهاره تر اټکه خپور شو، تر دوو اونیو پورې هره ورځ له لرې او نژدې سیمو نه په سلګونو کسان د مبارکۍ لپاره ورته را روان وو، حاجي

نورمحمد او یحیی خان به خاص میلمانه او مشران بیل ځای ته بیول، هلته به یې له میرویس خان سره د راتلونکې په باب لنډې مشورې وکړې او په خبره یې ځانونه سره پوهول. میرویس خان په دې خاصو مجلسونو کې خپلو ملګریو ته د حجاز د علماو لیکلې فتوا چې د ګرګین پرخلاف د جهاد حکم و، او د اصفهان د اعتماد الدوله په قلم شاهي فرمان هم ور ښودلو چې ګرګین پردې مکلف و چې له میرویس خان سره د حکومت په چارو کې مشوره وکړي.

شل ورځې وروسته د ګرګین خان یو خاص پیغام ورته ورسید، له دې پیغام سره د میرویس خان په وضعه کې ښکاره بدلون راغی، ډېر به په چورتونو کې ډوب و، غوښتل به یې چې یوازې وي او څوک یې مزاحم نشي. نژدې دوستانو او ملګریو یې دغه حالت له ورایه احساساوه، دوی به ترې وپوښتل چې څه خبره ده خو میرویس خان ځان تېراوه او ویل به یې چې کومه خاصه خبره نشته. ټول پوهېدل چې څه خبره خامخا شته چې خان یې اندېښمن کړی دی، خو د نور شاربلو جرئت یې نه کاوه. درې ورځې وروسته هغه یو سهار یحیی خان ته وویل:

د قام مشران چې څومره زر ممکن وي راټول کړه. میاجي ، سیدالخان، بابوجان بابی، یونس خان کاکړ، یوسف خان هوتک او د قامونو نور مشران خامخا را خبرکړه، زه یوه مهمه مشوره ورسره لرم.

لس ورځې وروسته یو ماښام په کوکران کې د میرویس خان په حجره کې مشران راټول شول. ټولو فکر کاوه چې د ملي پاڅون قومانده به اوري، د شپې له ډوډۍ وروسته میرویس خان مشرانو ته له هرکلي وروسته وویل:

درنو مشرانو! موږ د ګرګین په نامه له یوه خطرناک دښمن سره لاس او ګرېوان یو، دغه سړی هم ظالم دی او هم هوښیار، هم زور لري او هم بې رحمه دی، نو ځکه ډېر پام ورسره په کار دی. ماته داسې ښکاري چې نور باید خپل اساسي کار پیل کړو. .... خان لږ تم شو، بیا یې غاړه تازه کړه زیاته یې کړه:

گرگین اوس ماته یوه بله لومه ایښې ده، تاسو ددې سړي هوښیارۍ ته پام وکړئ، هغه د خپل زوی لپاره زما لور غوښتې ده. ددې خبرې په اورېدو ټول هک پک شول.

مولوي پیرمحمد په حیرانۍ وپوښتل:

دا پیغام یې کله درته استولی؟

میرویس خان ځواب ورکړ:

څو ورځې کیږي، بیا یې زیاته کړه:

عجیبه دا ده چې دغه غوښتنه یې د حکم په بڼه ده، چې د دوستۍ په معنا هم ده. گواکې دی له ما سره دوستي او خیښي غواړي. دا کارونه خو د مغلو او صفویانو په شمول په شاهي دربارونو کې ډېر عام دي، که زما پر ځای بل څوک وای دا به یې ځان ته ویاړ باله چې له گرگین غونډې واکمن سره یې خېښي کیږي. گرگین پر دې څه پوهیږي چې زموږ موخه او هدف دربارونو ته له ځان نږدې کولو ډېر اوچت او د خپل قام او وطن ژغورل دي. خو هغه پردې ښه پوهیږي چې که زه خپله لور دده زوی ته ورکړم، نو لاس به مې تر ډبرې لاندې کړي.

میاجي بیا وویل:

نه او نو پکې په کار نه دي، سپین ځواب ورکړه، توکل پر خدای.

خان موسک شو وې ویل:

مولوي صاحب همداسې کوم بېغمه اوسه! بیا یې زیاته کړه:

مشرانو، عزیزانو! اوس ما تاسو ته پردې دلته زحمت درکړ چې د راتلونکې په باب باید مشوره وکړو، گرگین موږ ته ښایي ډېر فرصت را نه کړي، زه خو مې لور لیوانو ته نشم غورځولی، دا کار نه کوم لا دا هم زموږ او ستاسو ارمان دی چې ټولې میندې، خویندې د ظالمو گرجیانو له ظلم زوره وژغورو. خو ځواب به په داسې ډول ورکړم چې موږ خپل ځانونه تیار کړای شو.

مشرانو پر همدې ور سره امین کړه، د پاڅون او جهاد لپاره میرویس خان د حجاز د علماو لیکلې فتوا بیا هغوی ته ور وښودله، ټولو له میرویس خان سره لوړه وکړه چې نور به له خیره جهاد ته ځانونه تیاروو.

میرویس خان گرگین ته د پیغام نرم ځواب ورکړ، ورته وې ویل چې دا خو ډېره ښه ده چې زموږ رسمي همکاري په دوستۍ او خېښۍ بدله شي خو دا مهمه مساله ده او زه غواړم له قام سره پکې مشوره او سلا وکړم.

گرگین هوښیار بنیادم و، په نیمه وپوهېدو چې میرویس خان یې له دوستۍ نه انکار کوي خو داسې دلیل یې نه درلود چې د انکار په معنا وي، بیا یې هم په پرېکنده لهجه ورته وویل:
زه دې ډېر زر د هوکې په انتظار یم.

په دې کې یوه میاشت تېره شوه، میرویس خان پردې پوهېدو چې گرگین په ولس کې ځرې گومارلې دي، تر ډېره به د دوی ارادې له گرگین نه پټې پاتې نشي، ځکه یې یو سهار خپلو نږدې ملگریو میاجي، سیدالخان ناصر او خپل ورور یحیی خان ته وویل:

مولوي صاحب! زموږ مخې ته د قام د خپلواکۍ لویه مساله پرته ده، د پښتنو عنعنه دا ده چې لویې مسالې د قام مشرانو ته په مخکې بږدي، نور وخت رارسیدلی چې د قام د مشرانو یوه لویه جرگه را وغواړو.
میاجي، سیدالخان، بابو جان بابي او یحیی خان په یوه غږ ورته وویل:

خانه! د قام مشرانو تاته واک درکړی، څو ځله یې له تا سره دا سوگند پورته کړی چې په دې جهاد او لوی خدمت کې به دې هرې قوماندې ته لبیک وایي، اوس که جرگه را غواړې او که د پاڅون حکم کوې د قام مشران به څه پکې ونه وایي.
میرویس خان وویل:
میاجي، سیدال خانه! د مشرانو کور ودان چې پر ما یې اعتماد کړی، خو جرگه ضروري ده.

مولوي پیرمحمد (میاجي) وویل:

چې ضرور یې بولې بیا لښکر ته حاجت نشته، کم خو د حساب وړ سړي راټول کړه.

بیا یې نومونه سره واخیستل.....بابوجان بابی، یونس خان کاکړ، د غزني لوی خان بهادرخان اندړ، یوسف خان د هوتکو د سیوري، عزیزخان نورزی، سیدعلي خان او زبردست خان هزاره، گل خان بابړ، نورخان بړیڅی، نصروخان الکوزی، میرعبدالله خان بلوڅ، او څو نور نومونه یاد شول، احوالونه واستول شول، تر دوو اونیو پورې د قام مشران له هر لوري د کندهار په لور را وخوځېدل، یحیی خان د جرگې تر مهاله ددې مشرانو په خدمت او کوربه توب بوخت و، سهار به یې خان ته احوال راوړ، یونس خان کاکړ را ورسېد، مازدیگر به یې دا خبر ورکړ چې د ژوب او وزیرو مشران هم راغلل، چې مشران را ورسېدل د کندهار ختیځ ته د پوپلزو په سیمه مانجه کې د جعفرخان سدوزي په برجوره کلا کې مشران راټول شول، په پیل کې میرویس خان وینا وکړه وې ویل:
د قام درنو مشرانو هرکله راشئ، مننه کوم چې زما بلنه مو ومنله.

دې ته حاجت نشته چې د دوطن پر زار حالت څه ووایم، هرڅه په خپلو سترگو وینئ، گرجی گرگین نور زموږ ولس ته په ناسور بدل شوی، د خدای حکم دادی چې نور یې پښې ور لنډې کړو او خپل ولس له دې ذلته را وباسو.

مشرانو! زه په پوره ډاډ دا درته ویلای شم چې د صفوي واکمنۍ وروستۍ شپې ورځې دي، ما د اصفهان دربار له نږدې ولید، نور هغه شیمه او توان پکې نشته چې د یوې ټولواکۍ لپاره لازم دی. زیات واک یې د هغو شیعه ملایانو په لاس کې دی چې سنیان ورته واجب القتل ښکاري، په داسې حال کې چې په ایران کې زیات سني مذهبه خلک ژوند کوي، دې کار د حکومت او ولس تر منځ ډېر اختلاف راوستی دی، هر ډول فساد او د درباریانو په منځ کې *پرې جنبې دوی په خپلو کې سره اچولي دي، د گرگین غونډې کسانو ته نو بیا میدان ور پاتې دی.*
موږ که ددې گرجي چاره وکړه نور د اصفهان کیسه ختمه ده او دا زه درته په پوره باور ویلای شم چې نور به که خدای کول زموږ پر ولس د آزادۍ لمر راخیژي.
میرویس خان د جرگې غړیو ته یو کاغذ را ویوست ورته وې ویل:

دا د اعتماد الدوله فتحعلیخان رسمي لیک دی، په ښکاره لیکل شوي چې که گرگین زما له مشورو سرغړونه کوي او پر ولس مو ظلم او تیري ته دوام ورکړي، موږ یې باید له واکه لرې کړو اصفهان به یې ملاتړ ونه کړي.

درنو مشرانو! سر له نن څخه زموږ پاڅون عملاً پیلیږي، هریو به بیله دنده اخلو، خو تر وروستۍ شیبې به هڅه دا وي چې دښمن زموږ پر پلان خبر نشي.

درنو مشرانو! پیر روښان، ایمل خان او خوشال خان د مغلو د ظلم او تیري پر خلاف همدغسې په میړانه ودرېدل، خو له بده مرغه هغوی له د ننه څخه مات شول، دې ته باید موږ ډېر پام وکړو، زموږ دښمن نه دین لري او نه انساني ارزښتونه پېژني، له داسې دښمن سره مقابله ډېره گرانه ده، پیسې وېشي، خلکو ته د مقام ژمنې ورکوي چې لږ یې ایمان کمزوری وي بیا یې په دام کې لویږي، له شېرخان ابدالي سره یې لاره جوړه کړه، هغو ته یې خپل د کاکا زوی شاه حسین خان په غاړه کې ور واچاوه، بیا یې له هغه سره هم وفا ونه کړه خپل ملگری جلیل خان یې ورته را پورته کړ. گرگین زه اصفهان ته واستولم، پټ یې پاچا او خپلو نژدې کسانو ته زما په باب ډېرې عجیبې خبرې لیکلې وې، دلته یې هڅه کوله چې بل څوک پیدا کړي او زموږ دغه حرکت شنډ کړي. زما تمه له تاسو نه داده چې خپل ایمان ثابت کړو، مبارک حدیث دی چې مؤمن له یوه سوري دوه ځله نه چیچل کیږي، موږ باید د پیر روښان، خوشال خان او دریاخان له برخلیک سره مخ نه شو، الله تعالی را سره مل دی، ان شا الله چې خپل سپیڅلي مراد ته به رسیږو.

د میرویس خان تر وینا وروسته مولوي پیرمحمد (میاجي) جگ شو، د جهاد فضیلت او د ظالمانو پر خلاف د ولس د مشرانو پر مسولیت یې خبرې وکړې، وروسته یې وویل:

میرویس خانه! ته مو په مشرۍ منلی یې په دې لار کې به د ژوند تر وروستۍ سلگۍ در سره ولاړ یو!

ورپسې د ناصرو مشر سیدالخان ناصري هم د وفادارۍ او جهاد اعلان وکړ، په هغه پسې د بابیانو مشر بابوجان بابي، بهادر خان اندړ، عزیزخان نورزي، یوسف خان چې د سیوري له خانانو څخه و، گل خان بابړ، د ښوراوک خان نورخان بړیڅي، نصروخان

الکوزي، یونس خان کاکړ او نورو مشرانو یو پر بل پسې د میرویس خان خبرې تائید کړې او پاڅون ته یې تیاری وښود.

وروسته میرویس خان خپل پلان داسې بیان کړ:

مشرانو! په کندهار کې د گرگین تر قوماندې لاندې تر دېرشو زرو زیات پوځیان دي، پر زرگونو ټوپکو سربېره تر دېرشو زیات توپونه لري، د کندهار په پوځي چوڼی کې هغه ته ماته ورکول گران دي، پر ښخو برجونو ورختل ساده خبره نه ده موږ ته زیاته مرگ ژوبله اړوي، باید داسې لاره غوره کړو چې زیات ځواک یې له کلا او برجونو را ووزي، پر پراخ ډگر د خدای په مرسته هغه ښه ماتولای شو. چې د بغاوت غږ اوچت شي موږ ته به د حکومت د پلوی او ملاتړ په پلمه د پوځ د را ټولولو فرصت هم په لاس راشي او گرگین به د کندهار له کلا نه را وباسو د باندې یې چاره اسانه ده.

مشرانو د ملی مشر پر پلان امین کړه، پر قرآن لوړه وشوه چې د گرگین تر له منځه وړو به ارام نه کښېنو، او دغه راز به هم ساتو.

میرویس خان مشرانو ته وویل:

تاسو هر یو خپل وسله وال ځوانان تیار کړئ چې چېرته ورته اړتیا وه هلته به حاضریږي.

بیا یې یونس خان کاکړ ته مخ ور واړاوه وې ویل:

د گرگین پوځ ټول پر یوه ځای دی، دا باید په یوه هنر تیت او پرک کړو.

یونس خان ورته وویل:

د تیت کولو لپاره یې ستاسو سره څه تدبیر شته؟

ـ ما پر یو څه فکر کړی دی، باید سلا پرې وکړو.

یونس خان او نورو مشرانو په پوښتونکي نظر خان ته وکتل، هغه وویل:

زما پلان دا دی چې کاکړ او بلوڅان گرگین ته له مالیې ورکولو انکار وکړي، زه به یې دې ته وهڅوم چې هغه د کاکړو او بلوڅو د ځپلو لپاره یوه برخه پوځ هلته واستوي، د دښمن پوځ باید همالته تر ډېره بوخت پاتې شي او هڅه وکړو چې درانه گوزارونه وخوري.

یونس خان کاکړ لاس په نامه ونیول وې ویل:

خانه ستاسو حکم پر لېمو، که گرجیان زموږ لوري ته راشي، انشا الله چې روغ به را ستانه نشي.
میرویس خان وویل:
میرعبدالله خان بلوڅ ته به هم احوال ورکړو، هغه غیرتي مېړه دی انشا الله دښمن ته به د سر په کوپړۍ کې اوبه ورکړي.

جرگه پر همدې پرېکړه ړنگه شوه، قامي مشران خپلو سیمو ته لاړل. میرویس خان څو ورځې په خپل کور کې پاتې شو، له جرگې څلور ورځې وروسته هغه له څو تنو سره په حجره کې ناست و چې یارمحمدخان وراره یې ور ننوت په غوږ کې یې څه خبره ورته وکړه، د خان تندی وغوړېد، وې ویل:
راوله، راوله دا خو ټول خپل خلک دي. بیایې د حجرې کسانو ته وویل:
زبردست خان د هزاره وروڼو له څو تنو مشرانو سره راغلی دی.

څو شېبې وروسته اته تنه حجرې ته ور ننوتل، دوی تاوده ستړي مشي ور سره وکړل، هغوی د ژمي درانه کوټونه او گوپیچې وایستلې، په توده حجره کې یې بالښتونو ته ډډې واچولې، یارمحمدخان د چایو پیالې ورته ډکې کړې، بیا یې یوه مامره مشر چې زبردست خان و، غاړه تازه کړه وې ویل:

خانه جرگې ته را ونه رسېدو، موږ پخپلو کې مشورې وکړې پردې لږ ناوخته شوو، خو ولس مو دا ژمنه راکړې چې ستاسو هره پرېکړه زموږ پرېکړه ده. موږ به د دین او وطن په سپېڅلې جگړه کې ستاسو سره اوږه په اوږه ولاړ وو.
میرویس خان د مننې په دود ورته وویل:
تاسو دې اباد او ښاد اوسئ، باور مو دی موږ ټول یو هډ او وجود یوو. د وطن غم به په گډه خورو.
بیا یې دوی د جرگې د پرېکړو په باب خبر کړل، میرویس خان دوی ته هم وویل چې وسلې او ځوانان مو راټول کړئ خو د احوال انتظار اوسئ.

په راتلونکیو درېیو ورځو کې د تیرا، مومندو، لغمان او کابل څو تنه مشران راورسېدل، هغوی هم له ورته پیغام سره بېرته رخصت شول.

*****

میرویس خان په دې ورځو کې ډېر خوشاله و، ولس ته پیغام رسېدلی و، ټول قومونه ور سره درېدلي و، سره له دې چې ګرګین ځرې درلودل خو تر اوسه یې د دوی پر پرېکړو او پلانونو اروا هم خبره نه وه، یو سهار له میاجي، سیدال خان او بابو جان بابي سره په خپله حجره کې پر همدې خبرو بوخت و چې یحیی خان وارخطا غوندې ور ننوت.
میرویس خان په بیړه ترې وپوښتل:
وروره خیرت خو دی؟
هغه د نه په دود سر وخوځاوه له خپګانه په ډکه لهجه یې وویل:
خیرت نه دی، د ګرګین ظالم پوځیانو له ښاره دوولس تنه نیولي او کلا ته یې بیولي دي.
خان له ځایه جګ شو، وې پوښتل:
څوک دي؟
عبدل کاکا او نوروز ماما هم پکې دي!

عبدل کاکا د ښار د زرګرانو کوڅې چوکیداراو نوروز ماما یو چایدار و، د هغه په وړوکې چایخونه کې به بنډار جوړ و، ډېرې د راز خبرې یې پکې اورېدې، دواړه د میرویس خان د راز ملګري وو او د ښار ټول حال به یې ورکاوه.
خان، میاجي او سیدالخان ته وویل:

زه به نارنج مانۍ ته ورشم چې دغه خلک ضایع نشي، لکه چې اټکلونه مو غلط وختل، دوی خامخا زموږ منځ ته لار موندلې ده. په منډه ووت، په انګړ کې یې نورمحمدخان ته وویل:
اس مې زین کړه! بیا کور ته ننوت، لږ شیبه وروسته بېرته را ووت، نورمحمد خان له زین کړي اس سره د دروازې مخې ته ورته انتظار و، پر اس یې پښه واړوله او پونده یې ورکړه، زړه یې بده ګواهي ورکوله، له ځانه یې پوښتل چې دا ایمان پلوري به څوک وي

چې د نوروز ماما او عبدل کاکا راز یې افشا کړی دی، بیا یې په عجز پورته وکتل وې ویل:

یا الله له بې پته دښمن سره مو سر کار دی، ته مو مرستندوی شې. د خان سپین اس لکه چې د خپل خاوند پر مراد پوه وي د باد په څیر والوت.

*****

گرگین له فاتحانه موسکا سره پر تخت ډډه وهلې وه، ناڅاپه یې په کړس کړس وخندل، له زرین خول نه راوتلی تندی یې خولې خولې و، سترگې یې پټې پټې کېدلې، غیر ارادي غوندې یې ټالونه خوړل، د سرو پیالو نښه پرې غالبه شوې وه، په مخ کې یې درې تنه ولاړ وو، الکساندرمیرزا یې د تخت تر څنگ ولاړ و، ترې وې پوښتل:

ښه تا څه ویل چې یو د شپې پهره دار او بل د چایخانې خاوند دی؟

هوکې عالي مقامه! بیا یې گرگین ته سترگه ووهله، هغو درې تنو ته یې لاس ونیو:

میرزا کاکو، لالی او مرجان زموږ ډېر مخلص یاران دي، دوی موږ ته د نوروز او عبدل اصلي خبرې افشا کړې.

د هغو درې واړو خولې بې اختیاره له خندا جینگې شوې.

گرگین خاص نوکر ته اشاره وکړه، هغه راغی هغو درې واړو ته یې څو سکې په لاسو کې ور کېښودې.

میرزا کاکو په ورغوي کې سکو ته وکتل په جینگه خوله یې وویل:

موږ ستاسو نوکران یو، بس هر وخت چې هر حکم وي په سر سترگو.

گرگین وویل:

پوهېږم، پوهېږم. الکساندر ستاسو د اخلاص او خدمت په باب ماته کیسې کړې دي.

مرجان چې خیرن ویښتان یې د برگې خیرنې لونگۍ نه چنگ ونگ راوتلي وو، له ورایه ښکارېدل چې په میاشتو میاشتو یې اوبه نه وې لېدلې، ورمېږ یې وگراوه وې ویل:

صاحبه موږ ته اجازه ده چې لاړ شو؟

د گرگین شنې سترگې وځلېدې، وې ویل:

لاړ به شئ، څه مو بيړه ده، بيا يې الکساندر ميرزا ته مخ واړاوه:

له هغو دوو تنو مو اعتراف اخيستى؟

ـ تر اوسه نه، ما داسې بنيادمان نه وو ليدلي، تېل داغ مو کړل، سکروټې مو پر لاسو

ورکېښودې خو سوڼ يې له خولې نه وزي.

لالي چې پر پلن تندي يې کيڼ لوري ته يو ژور داغ و وويل:

گومان نه کوم چې هغوى حال ووايي.

الکساندر وويل:

که تاسو مخامخ شاهدي پرې ووايئ بيا به هم څه ونه وايي؟

درې واړو جټکه وخوړه، لالي په وارخطايي وويل:

موږ خو بيا رسوا کيږو.

گرگين له خندا شين په ملا مات شو:

تاسو به څوک افشا کړي؟

ـ مرجان وويل:

همدغه عبدل او نوروز به ووايي چې دوى پرموږ شاهدي ووېله.

گرگين په ځانگړې لهجه وويل:

مړي پر چا شاهدي نشي ويلاى.

د درې واړو خولې بيا تر غوږو وازې شوې، ميرزا کاکو وويل:

د دوى چاره مرگ دى.

د گرگين نېشه يوڅه الوتې وه، سرې سترگې يې کش کړې:

تر وژلو مخکې يې ډېر ازمېښتونه په مخ کې دي.

الکساندر ميرزا وويل:

داسې کسان مې ورته گومارلي دي چې مړې ډبرې په خبرو راولي، دوى به تر څو پټه

خوله وي، خپل نور ملگري به خامخا راته وښيي.

گرگين وويل:

میرزا که د میرویس خان پر خلاف شواهد را پیدا کړې نو له لوی جنجاله به بېغمه شو. ترڅو دغه سړی ژوندی وي، په کندهار کې د واکمنۍ او حکومت هېڅ خوند نشته. بیا یې هغو درې تنو ته اشاره وکړه وې ویل:

زموږ د یارانو اندېښنه هم پر ځای ده، دوی باید رسوا نشي، میرویس خان ډېر ځیرک سړی دی، هر شي ته ځیر دی، که یې لږ شک راغی د دوی بیا د سر خیر نشته.

ـ نو څه وکړو؟

د دربار ښي او کیڼ اړخ ته دوه کتاره وسله وال ولاړ وو، ګرګین دوو تنو ته اشاره وکړه:

هغوی را وړاندې شول، ګرګین حکم وکړ:

تاسو زموږ د دغو مخلصو یارانو لږ خدمت وکړئ چې میرویس خان پرې بدګومانه نشي.

هغوی په اشاره وپوهېدل، درې واړه یې تر لغتو او سوکانو لاندې واچول، ګرګین او الکساندر میرزا په کړس کړس خندل، د وهلو پر مهال لالی ډېر بې تابه شو چیغه یې کړه:

وه ښاغلیه! موږ درته خدمت کړی او تاسو یې په بدل کې موږ تر لغتو لاندې کړو.

ګرګین وویل:

د دغه انډیوال خوله په واک کې نه ده، لږ ډېر خدمت یې وکړئ! له دې سره د یوه پوځي درووند بوټ د هغه پر ښېتی ونښت، لالی چې له درده تور ایشېدلی و له ژړا سره یې چیغه کړه:

وای د سپي زامنو، پر ما لعنت چې له تاسو ځناورو سره مې یاري کوله.

د ګرګین پر تندي تورې لیکې جوړې شوې:

دغه لعنتي چوپ کړئ!

متور پوځي یې له شا نه سر او زنه په لاسو کې کلک ونیول له یوه حرکت سره خرپ شو ورمیږ یې پرې مات کړ، د لالي له خولې کمزوری غږ ووت او پړمخې ولوېد، څو سکې یې له لاسه پر غالۍ تیت شوې. د دوو نورو تر خوله او سپږمو وینې روانې وې، مخونه یې تک شنه اوښتي وو، کاکو پر وروځې د لغتې درووند ګوزار خوړلی و، یوه سترګه یې پته وه.

گرگین د لاس په اشاره وویل نور بس دی، اوس پر دوی څوک شک نه کوي، بیا یې لالي ته پخپله یوه لغته ورکړه، الکساندر ته یې وویل:

دوی له نورو بندیانو سره یو ځای کړئ، ښایي میرویس خان یې د خوشي کولو لپاره راشي، زر زر دربار پاک کړئ! دا یې وویل او له زرین تخت نه را ښکته شو، د څنگ پر یوه دروازه ننوت.

*****

میرویس خان د کلا لویې دروازې ته نژدې شوی و چې دروازه پرانیستل شوه، یوه ډله کسان را ووتل چې درې جنازې یې پر اوږو وې.

خان چې ور ورسېد له اس نه پلی شو، پوښتنې ته حاجت نه و، نهه تنه بندیان او درې جنازې ټول هماغه کسان وو چې د گرگین پوځیانو نیولي وو، په بندیانو یې نظر را و گرځاوه، پر سترگو یې تیاره راغله، نوروز ماما او عبدل کاکا نه وو، ورغی په کټونو کې د پرتو جنازو له سره یې څادرونه لرې کړل، دوه تنه یې یاران وو، بل تن یې لالی و چې ده نه ور سره پېژندل، داسې ښکارېدل چې نوروز، عبدل کاکا او لالی یې په وهلو او عذابولو کې وژلي وو، د ټپیانو وضعه هم خرابه وه، مخونه تک شنه، سترگې پړسېدلې، د دوو تنو لاسونه په غاړو کې پراته وو، میرویس خان په دې حالت د گرجي پوځیانو پروا ونه کړه، لاس یې اوچت کړل:

یا الله نور مو له دې مصیبته وژغورې، یا الله غیرتي ذات یې موږ ته همت راکړې چې ولس مو له دې ظلم او تیري وژغورو.

غوښتل یې نارنج مانۍ ته لاړ شي او له گرگین سره د دې ظلم حساب وکړي، خو چې جنازو او ټپیانو ته یې پام شو، څو شېبې په چورتونو کې ډوب شو، بیا یې مخامخ لویې دروازې ته په کرکه وکتل، راغی د یوه کټ پښه یې ونیوله، وې ویل:

یا الله! جنازې اوچتې کړئ!

څو تنه گرجي پوځیان را وړاندې شول، میرویس خان په ستوغه لهجه ورته وویل:

ناسو ته حاجت نشته موږ خپل شهیدان سنبالولای شو. هغوی په خوښۍ بېرته شاته شول، میرویس خان په مات زړه له بندیانو او جنازو سره د ښار په لور روان شو. په ښار کې یو ځل بیا د ویر او ماتم فضا حاکمه شوه، د نوروز ماما او عبدل کاکا یادونه د میرویس خان سترگو ته ولاړ وو، دوه ډېر صادق ملگري یې له لاسه ورکړي وو، ذهن یې پر همدې بوخت و چې دوی چا گرگین ته په لاس ورکړل.

د جنازو په لیدو لویه گڼه گوڼه جوړه شوه، میرویس خان د دښمن د ځریو په باب نور د فکر کولو وخت نه درلود، جنازې د ښار شمال لوري ادیرې په لور یووړل شوې، د ماښام تیارې را خپرې شوې چې خان له خپلو ملگریو سره، ډک زړه له ادیرې د کور په لور روان شو، سترگو ته یې یو اوږد مخ شنې سترگې او را وتلی تندی درېدلی و، په زړه کې یې د اصفهان پر واکمنو لعنت وایه چې یو بې رحمه انسان یې د واکمن په توگه ورته را استولی و.

د هغې ورځې په سبا میرویس خان له بندي شویو کسانو سره ولیدل، له هغوی یې ډېر څه واورېدل، خو داسې څه یې ترې وا نه ورېدل چې د گرگین ځري ترې معلوم کړای شي. خان د بندیانو له ډلې د مرجان او میرزا کاکو په خبرو کې له نوروسره یو توپیر احساساوه، خو کوم روښانه تعبیر یې ترې نشو اخیستلای.

ورځې او شپې واوښتې، میرویس خان سیدال خان ته دنده سپارلې وه چې د نیول شویو کسانو په شمول د ښار د ننه پټه څارنه وکړي. یو ماښام سیدال خان راغی پر شونډو یې موسکا غوړېدلې وه، له سلام او جوړ په خیر وروسته یې مشر ته وویل:

غله مو له بار سره ونیول.

-الحمد لله، څوک وو؟

-مشره ستا شک پر ځای و، میرزا کاکو او مرجان مو غبرگ ولیدل چې له پوځي کلا مول وهلي را ووتل.

خان له ځایه را جگ شو وې ویل:

څه شول اوس چېرته دي؟

ـ بېغمه اوسه! هغوی خوندي ځای ته رسیدلي دي، بیا یې په موسکا وویل:

پر هرڅه یې اعتراف وکړ، هغه لالی هم د دوی ملگری و، د گرگین په مخکې یې وواژه. دوی یې ددې لپاره وهلي وو چې موږ پرې شکمن نشو.

میرویس خان وویل:

ما چې له دوی سره هغه ورځ خبرې کولې، د گرگین او الکساندر میرزا نومونه یې څو ځله ډېر په درناوي یاد کړل، زه شکمن شوم، خو په زړه کې را تېره شوه چې وهلو وېرولي دي، خدای د دښمن مکر رسوا کړ، دا زموږ د مخلصو یارانو د خلوص او شهادت برکت دی، خپل اصلي قاتلان یې رسوا کړل.

میرویس خان میاجي ته مخ ور واړاوه:

مولوي صاحب! څه ور سره وکړو؟

ـ د دښمن د جاسوس سزا معلومه ده دا له دین او وطن سره ستر خیانت دی.

بیا میرویس خان سیدال خان ناصر ته وویل:

سیداله اشنا! کوم ملگري که لري چې پټ پاتې نشي. نور نو مولوي صاحب فتوا درکړه.

ـ خانه! نور ملگري نه لري همدغه درې تنه وو د دوی په وینا لالی د دوی مشر و، چې هغه خپل بادار په سزا ورساوه، نور همدوی دوه پاتې دي.

خان وویل:

سمه ده، دوی به بل ملگری نه لري خو باور مې نشي چې گرگین دې یوازې همدغه درې تنه ځري گومارلي وي، باید ډېر پام وکړو. سیدالخان پاڅید له حجرې ووت. یوه اونۍ وروسته په ښار کې اوازه شوه چې هغه دوه تنه چې د گرگین پوځیانو نیولي او سخت یې ډبولي وو، مړی او ژوندی یې ورک دی.

یو سهار میرویس خان د خپل خسر جعفرخان په حجره کې له خپلو نژدې ملگریو سره د راتلونکې په باب په سلا بوخت و چې یحیی خان ور ننوت، په موسکا یې ورته وویل:

خانه! زیری مې درباندې یو خوږ اشنا دې راغلی.

میرویس خان څو پوښتنې ته خوله جوړوله پینځه تنه حجرې ته ور ننوتل، د ژمي په درنو جامو او لویو لونګیو کې یې په لومړي نظر څوک ونه پېژندل، خو یوې خوږې موسکا یې زړه ته لاره وکړه د ډېرو سپېځلیو شېبو یادونه یې سترګو ته ودرول. ور جګ شو بې اختیاره یې وویل:

عثمان جانه! له کومه شوې، دا رښا خدای له کوم لوري را نازله کړه. ورغی، حاجي عثمان د حج د مراسمو خوږ انډیوال یې په غېږ کې ټینګ کړ. د عثمان په لیدو میرویس خان ډېر خوشاله شو، څلور تنه نور یې د کلي او سیمې همځولي وو.

چې کیناستل، لږ یې ساه وچلېده، میرویس خان ته یې د خپل پلار عمرخان سلامونه وویل، دا یې ورته وویل چې د صفویانو پر خلاف ستاسو د پاڅون ګونګوسي تر بلخ او بدخشانه رسېدلي دي، بیا یې په خندا ورته وویل:

په مکه معظمه کې مې د خدای پامانۍ پر مهال چې کومه ژبه در سره وکړه په یاد دې ده! دا دي تر سره مې کړه، له دې ملګریو سره په دې سپېڅلي کاروان کې در سره ملګري یو.

میرویس خان ورته وویل:

عثمان جانه، قدم دې په لېمو، الله دې د خپل نیت بدل درکړي، ستا خو بال بچ او وړوکي ماشومان مسافر دي، هغوی ته دې څوک سرپرست پرېښودل؟

دعثمان نوراني تندی وغوړېد، وې ویل:

تر الله لوی ساتونکی او پالونکی به څوک وي مشره! هغوی مې په لوی الله سپارلي، د لوړې او برښنډ کېدو غم یې نشته نور الله مالک دی. بیا یې خپل انډیوالان ور معرفي کړل، عبدالرحمان جان او شرف الدین مې د ماما زامن دي، عمران او رحیم الله مې کلیوال دي. موږ لوړه کړې چې صفویان له هېواده ورک نشي، موږ به بېرته خپلو کورونو ته ستانه نشو.

میرویس خان ورته وویل:

تاسو دې خدای بې کوره نه کړي، زموږ کورونه ستاسو خپل دي، زما کور او حجره سر له ننه ستاسو دي. د ارباب مرادخان غوندې غیرتي پر کاله به خود دعثمان په څېر

ځوانان لوئیږي. الله دې ستاسو ساتندوی شي. الله دې وکړي چې بلخ ته له لوی کندهاره د ازادۍ او سرلوړۍ پیغام او رڼا یوسی.

بیا یحیی خان وویل:

حاجي لالا، دوی تش لاس نه دي راغلي ته لږ د باندې ووزه!

میرویس خان جگ شو وې ویل:

دغه با ایمانه ځوانان موږ ته تر ټولو لویه ډالۍ ده.

د باندې شل اسونه وو چې بارونه یې ترې اړولي وو، په اسونو کې یو ډېر ښکلی سور رنگی اس و، عثمان ورغی پرتندي یې لاس را تیر کړ:

حاجي کاکا! دا مې د بابا د اسپې له نسله دی، په ټول قطغن کې یې جوړه نشته، دا مې پلار تاته ډالۍ را استولی دی.

میرویس خان ورغی د اس پر غاړه یې لاس را کش کړ، په موسکا یې وویل:

په ریښتیا چې ډېر ښکلی اس دی، مننه، تاسو دې سرلوړي اوسئ!

*****

صلیب نسکور شو

(۱۱۱۹ هجري سپوږمیز، ۱۷۰۹ز کال)

(۳)

میرویس خان د گرگین لیدو ته ور روان و، له ځانه سره یې ویل چې اوس به د کاکړو، ترینو او بلوڅو د بغاوت او له مالیې د انکار خبر خامخا ورته را رسېدلی وي، د میرویس خان یوازینۍ اندېښنه دا وه چې له خپلو کسانو نه یې پلان افشا نشي، هغه په خپلو خاصوملگریوباوري و خو اوس خبره تر ولس پورې رسېدلې وه، یوازې له دې وېرېدو چې په غلطۍ له چانه خبره افشا نه شي. په همدې چورتونو کې نارنج مانۍ ته ور ننوت، گرگین یې دربار پرانیستی و، گرجي سردار له غوسې سپېږمې پورته نیولې وې، خان وپوهېدو چې له مالیې نه د کاکړو، بلوڅو او ترینو د انکار خبر ورته را رسېدلی دی.

د احترام له پرځای کولو وروسته د گرگین د پوځي مشرانو کتار ته مخامخ کیناست.

گرگین لاسونه سره مروړل، ناڅاپه یې کریږې ته ورته غږ تر خوله ووت:

اوس سپېره بلوڅان زما له حکم نه غاړه غړوي، د مالیې له ورکولو انکار کوي!

میرویس خان په حیرانۍ وپوښتل:

جناب بیگلربیگي صاحب! څه خبره ده، ډېرغوسه راته ښکارې!

گرگین له زهرجنې موسکا سره میرویس خان ته وکتل وې ویل:

ته په ریښتیا نه یې خبر جنابه! په لهجه کې یې له ورایه دا مفهوم و چې(دا خو ستا کارونه دي)، بیا یې وویل:

بلوڅو، ترینو او کاکړو د مالیې له ورکولو انکار کړی دی.

-انکار یې کړی دی، ولې ؟

گرگین له کبره خوله کږه کړه:

بس د سپیو په څېر مرگ ته یې زړه شوی دی.

پرمیرویس خان یې سپوره خبره بده ولګېده خو ځان یې را قابو کړ، بیا یې په جدي لهجه وویل:

جناب بیګلربیګي صاحب! بلوڅانو په ریښتیا هم پښې تر خپل لمڅي زیاتې اوږدې کړې، باید غاښونه یې وبرېښي.

ګرګین وویل:

غاښونه برېښېدل څه معنا باید ادیرې پرې ډکې شي چې بیا څوک د داسې ګستاخی جرئت ونه کړي!

د ګرګین د ځانګړیو ګرجي ځواکونو قوماندان الکساندرمیرزا وویل:

اعلیحضرته! تاسو حکم وکړی چې د ککرو مناروونه یې درته ودروم.

ګرګین وویل:

نه ته به دې له خپلو ځواکونو سره دلته له ما سره وې، بیا یې یوه بل قوماندان ته وکتل: هاکوبیانه، ته د ثمر بیګ کسان هم در سره ملګري کړه، دوه دوه نیم زره کسان تیار کړه.

هغه لاس پر ټټر ونیو سر یې ټیټ کړ:

په سترګو صاحبه!

ګرګین په غرور زیاته کړه:

داسې درس به ورکوې چې تاریخ یې هېر نکړای شي

لودين كتابتون

میرویس خان وویل:

جنابه! دې بلوڅانو نه یوازې ستاسو له حکم سرغړونه کړې، بلکې زموږ سپکاوی یې هم کړی دی. خو ماته د پردې تر شا د ډیلي شرارت هم ښکاري. د اورنګزیب ځایناستي هم د هغه هوسونه پالي او پر کندهار یې سترګې ښخې کړې دي.

ګرګین په ځیر میرویس خان ته وکتل، پر خپلو غوږونو یې باور نه درلود چې څه یې واورېدل، هغه فکر کاوه چې میرویس خان به د کاکړو، ترینو او بلوڅو په دفاع کې څه ووایي، ده ته به پلمه په لاس ورشي چې حساب یې وربرابر کړي، اوس یې محاسبې او اټکلونه ټول سرچپه شوي وو، وې ویل:

جناب کلانتر صاحب! دا دې څه وویل:

-جناب بیګلربیګي صاحب! زما څو کسان له ډیلي او لاهوره نوي راغلي دي، دوی هلته همداسې ګونګوسي اوریدلي وو. زما وړاندیز دادی چې د مالیې د نه ورکولو دغه خبره باید بابېزه وا نه چوو، باید د عبدالله خان او کاکړو لور ته لوی پوځ واستوو، په دوه درې زره پوځیانو دا کار نشي کیدای، اخر ستاسو دا زرګونه پوځیان د همدې سختې ورځې لپاره دي. ستاسو له لښکر سره باید زموږ پوځ هم وي، چې یوازې د بلوڅو نه بلکې د ډیلي هم غاښ وبریښي.

ګرګین د میرویس خان پر وړاندیز ډېر خوشاله شو، د هغه په باب یې شکونه تر ډېره حده لرې شول او دده پر وفاداری ډاډه شو وې ویل:

جناب کلانتر صاحب! تاسو ښه فکر کړی دی. باید لوی پوځ ور واستوو، بیا یې خپل وراره الکساندر میرزا ته وویل:

پوځیان دې یرغل ته تیار کړه، انسانان څه چې د بلوڅو او کاکړو چرګه او پشکه به ژوندی نه پرېږدې!

هغه وپوښتل:

ټول تیار شي؟

شپږ-شپږنیم زره یې در سره بوزه!

الکساندر جګ شو سلامي یې ووهله او له درباره ووت.

والقلم وما یسطرون
[illegible] لودین کتابتون

میرویس خان وویل:

جنابه! زه دا ستونزه لویه ګنم، بابېزه یې مه اچوه.

-نو ستاسو څه سلا ده؟

په موږ کې متل دی چې که دې دښمن ګیدړ وي ته به د زمري تیاری ورته نیسې. نور دا زموږ شریک مسوولیت دی. موږ به هم خپل وسله وال کسان را ټولوو.

دربار ړنګ شو، میرویس خان له درباره را ووت، خپلو ملګریو ته راغی، هغوی یې وپوهول چې کار له پلان سره سم پر مخ روان دی. ګرګین هک پک په خپل دربار کې

پاتې شو د میرویس خان وفادارۍ د خیالونو اووم اسمان ته خېژولی و. خپل غرور گوزار ورکړی و، ځان یې عقل کل گاڼه چې هرڅه ویني او هېڅ دوکه نه خوري.

د الکساندر په مشرۍ پوځ تیار شو چې بلوڅو او کاکړو ته د بغاوت سزا ورکړي، میرویس خان له دې پوځ سره خپل وراره یارمحمدخان د یحیی خان زوی له دوه سوه تنو هوتکو وسله والو سره واستاوه، خان خپل وراره ته وویل:

لومړی به هغه کوې چې د لانجې د حل لپاره د خبرو لاره غوره شي او جگړه پېښه نشي، که جگړه پېښه شوه بیا پخپله پوهېږې چې گرجیان ژوندي در نه پاتې نشي. بیا یې عبدالله خان بلوڅ ته دا پیغام واستاوه چې څومره در ته ممکنه وي گرجي پوځیان ټال کړئ! ستاسو اصلي دنده دا ده چې گرجي ځانگړي ځواکونه له گرگین نه لرې وي.

د کندهار له پوځي کلا د گرگین لوی پوځ ډېر په دبدبه او غوغا را ووت او د ژوب او پښین پر لور روان شو، چې له کوږک کوتل واوښت په دوو برخو وویشل شو، یوه برخه د سکندر میرزا (الکساندر میرزا) په مشرۍ شال او مستونگ ته د بلوڅو په لور او بله د ژوب او پښین پر لور د کاکړو د ځپلو په نیت لاړ، یارمحمد خان هم له هغه پوځ سره ملگری شو چې د بلوڅو په لور لاړل. یارمحمدخان میرعبدالله خان بلوڅ ته د جرگې د پرېکړو ټوله کیسه وکړه، هغه ته یې د میرویس خان پیغام ورساوه او په مستونگ کې یې له بلوڅو سره جرگې او خبرې پیل کړې.

*****

چې څومره سترگو ځار کولای شو، هومره وچه دښته غځېدلې وه، پوځ پر نامعلومو لارو روان و، ددې دښتو لارې همدغسې دي، د خاورو او شگو درمندونه جوړېږي او ورانېږي، غونډۍ غونډۍ شگې نن دلته سبا پینځه سوه ـ زر متره لرې په بل ځای کې ولاړې وي، د بلوڅو او کاکړو وطن همدغه دی، د گرگین پوځ د کاکړو په دښتو کې له یوې اونۍ مزله وروسته ایله یوې داسې ابادۍ ته ورسید چې درې څلور وړوکي کلي لرې لرې پراته وو، پر دې کلیو گرجي پوځیان د وږیو لیوانو په څېر ور پریوتل، چې څه

په مخه ورغلل تالا یې کړل، څاروي او غلې یې ترې لوټ کړې چې څوک په مخه ورغلل ویې وژل، کورونو ته یې اورونه واچول، شاته د بې اسرې پاتې انسانانو له کریږو سره لنبې او دودونه پاتې شول، قوماندان یې د الکساندر میرزا یو پخوانی نوکر ایلم میرزا و، دوی چې له کوږک را واوښتل او سره بیلېدل، الکساندرمیرزا هغه گوښه کړ ورته وې ویل:

ایلم بچو همدغه دې وار دی، بیا به داسې فرصت پیدا نه کړې، په وړوکو ولجو پسې مه گرځه، د کاکړو د خانانو کلاوې دې د ورتلو انتظار کوي، پر یوه ور ننوزه له سرو او سپینو نیولې تر ښکلاو او ځوانیو هرڅه په لاس درځي. خو که تش لاس راغلې نو ډېر به بد نصیبه وې.

ایلم میرزا د خپل لوی قوماندان او استاز د نصیحتونو په چورت کې و ژبه یې پر شوندو را تېره کړه، سترگې یې له خوښیو وځلېدې، په خیال کې سره او سپین او د حسن او ښکلا خیالي ځېرې ورته درېدلې چې په دښته کې وړوکي کلي را ښکاره شول، کلي لوټ شول، د پوځیانو ترمنځ پر ولجو شخړې راغلې، لاسونه یې سره واچول، ان څو تنه یو له بل سره په ایستلیو تورو او چړو لاس او گریوان شول، وینې وبهېدې، کریږې پورته شوې، ایلم میرزا یې تر منځ شو، د ډېرې مرگ ژوبلې مخه یې ونیوه، دوی ته یې وویل:

په دې وړوکو شیانو مه سره خورئ. نور ددې پراخو سیمو ټول شته ستاسو دي، د کاکړو په لسگونو کلي مو په مخه کې دي، دومره مالونه او غنیمتونه به وگورئ چې په را ټولولو به یې حیران شئ، په دې ناچیزه شیانو ولې یو د بل وینې بهوئ!

تکنده غرمه پوځ پر یوه سمسوره دره ور برابر شول، له لرې د کلیو خړ دیوالونه ښکاره شول، ورو ورو دیوالونه را نژدې شول، قوماندان له دوه زره پوځیانو سره، له هرگام سره د خپلو هیلو او ارمانونو په لور ور روان و، ځمکه د اسونو د پښو له ترپهار سره لړزېدله، یوه خړه دوړه په دره کې وړاندې تله او د کلیو په لور ور نژدې کېدله. د هرپوځي په سترگو کې سره او سپین، ښکلې نجونې او بې پایه هوسونه گرځېدل، د دوی په مازغو کې دا نه راگرځېدل چې دغه کلي او درې ساتونکي هم لري، دوی به له دښمن سره

مخ کیږي، له مرگونو سره به مخ کیږي، دوی داسې گڼله چې یوازې ولجې ورته انتظار کوي او نر هغه دی چې ډېرې را ټولې کړای شي. په همدې خیالونو کې پر لومړي کلي ور ننوتل، هک پک شول، تابه ویل چې د پېریانو کلی دی، خړ دیوالونه تش تور ولاړ وو، پر ډېرانونو څو چرگې گرځېدلې، هغه هم د اسونو د پښو له ترپهار سره پر یوه انگړ ور ننوتلې، له یوه بامه یوه سپي وغپل، پوځیان د وریو لیوانو په څېر پر کورونو ننوتل، خو لږ وروسته ټول را ووتل، ایلم میرزا ته یې راپوروکړ:

صاحبه تش دیوالونه دي... بیا چوپه چوپتیا شوه، یوه بوډا پوځي چوغې سترگې پر شاوخوا را وگرځولې، قوماندان ته یې وویل:

جنابه! ما ته خو داسې ښکاري چې دې خلکو څه دام راته تیار کړی دی.

ایلم میرزا په غرور سترگې ور واړولې، پر غوړېجنو شونډو یې د موسکا څپه راغله:

وډار شوې؟

بوډا پوځي وارخطا غوندې وویل:

نه، جنابه زه دا وایم چې پام ښه دی. د قوماندان په لیونۍ خندا کې د بوډا غږ ورک شو، قوماندان په لوړ غږ وویل:

وړاندې د درې په لور! او بیا یې اس ته پونده ورکړه. له تش کلي ووتل، شنه فصلونه د اسونو تر پښو لاندې شول،

خو د درې په منځ کې ناڅاپه د الله اکبر ناره اوچته شوه.

د بوډا جهاندیده پوځي اټکلونه ریښتیا شول. برخلیک واوښت، دره د ټوپکو په کړسهار کې ډوبه شوه، د سپرو لیکې ماتې شوې، اسونه او انسانان یو پر بل ور پرېوتل، د گولیو او غښیوباران شو، پر گرجي پوځ رڼا ورځ توره شپه شوه، د اسونو له وهمناکو غږونو سره د انسانانو د کریغو او زگیرویو غږونه گډ پورته شول، د ښکلیو نجونو او سرواو سپینو خیالونه د مرگونو تر تورو سیورو لاندې شول، د تېښتې او خلاصون لوری او لارې ورکې شوې، څوک چې د گولیو له دم نه خوندي پاتې شول، چې کوم لورته یې مخه وه هماغه لورته لاړل. نیم ساعت وروسته، له شاوخوا مورچلونو ځوانان د تکبیرونو په بدرگه را کوز شول، دره د اسونو او پوځیانو له مړیو او ټپیانو ډکه وه.

یو دمی وریږې کونډۍ ږیرې خاوند چې پر سپین اس سپور و، توره لونگی یې پر سر وه شمله یې تر غاړه را گرځولې وه، راغی پر مړیو او ټپیانو را وگرځېد، مخ پر قبله ودرېد، لاسونه یې په دعا لپه کړل، پر مخ یې لاسونه را کش کړل بیا یې خپلو ملگریو ته وویل:

مړي او ټپیان سره بېل کړئ، د ټپیانو پټۍ وتړئ اوبه او خواړه ورکړئ، شاته چې څوک تښتېدلي پرې یې بږدئ، خو دلته شاوخوا که څوک په لاس درغلل ژوندي یې ونیسئ وژنۍ یې مه، د برخلیک پرېکړه به یې وروسته کوو.

هغه د مړیو او ټپیانو په منځ کې په ډېر پام اس تېر کړ او په دره کې د کلیو په لور روان شو، څو تنه نور وسله وال هم په هغه پسې شول.

له دوه زره پوځیانو نه ایله شپږ سوه تنه بېرته پر شا لاړل او پر هغو کلیو تیر شول چې دوی تر لوټولو وروسته اورونه ور اچولي وو. له کلیو دودونه اوچتېدل، ځای ځای د ویشتلیو زگېرویو غږونه اورېدل کیدل.

د پینځو سوو تنو په شاوخوا کې ټپیان وو چې په هغو کې تر یو نیم سلو ډېر د ځنکدن په حالت کې وو، قوماندان ایلم میرزا هم په وژل شویو کې و، هغه له ښي غوږ سره گولۍ خوړلې وه چې کینه سترگه یې ور سره الوزولې وه،

پر ټټر یې هم دوه غیشي خښ وو، یوه ټپي چې پر ښي مټ یې گولۍ خوړلې وه هغه کاکړو ځوانانو ته ور وښود.

چې ټپیان او نیول شوي پوځیان یې د جگړې له میدانه د کلیو په لور بوتلل، څو نجونې او تنکي ځوانان یې مخې ته راغلل، پر هغوی یې د کاڼو گوزارونه وکړل او د الله اکبر نارې یې وهلې، دې زلموټو بیا نارې اوچتې کړې:

یونس خان دې ژوندی وي، زموږ مشر یونس خان دې ژوندی وي.

یونس خان کاکړ چې د گرگین پوځ تار او مار کړ، داسې گډوډې پکې راغله چې ژوندي څوک پر کوم لوري لاړل، بیایې شاته را ونه کتل، په دوی کې تر سلو زیات کسان په شاړو دښتو کې تري تم شول، تر څلوېښتو تنو پورې یوه اونۍ وروسته بېرته

کندهار ته ورسېدل او د کاکړو په لاس د پوځ د بدې ماتې خبر یې گرگین ته ورساوه. گرگین له ډېرې غوسې هغوی ټول ووژل.

د څلور سوو تنو په شاوخوا کې کسان یې په شال کې د الکساندر میرزا له پوځ سره یو ځای شول. دې ماتې د هغه پوځ پر مورال هم ډېره بده اغیزه وکړه. سره له دې چې الکساندر میرزا د بدل او کسات رجزونه تکرار کړل، خو یارمحمدخان بیا ورته وویل چې ښکر به گټې سر به بایلې، صبر وکړه چې جناب بیگلربیگي څه حکم درته کوي.

الکساندر میرزا هم هسې په خوله لاپې وهلې په زړه کې د یونس خان کاکړ پردې گوزار د هغه د هیلو مراندې هم شلېدلې وې. گرجی قوماندان د خپل مشر د قوماندې په انتظار شو. یارمحمدخان هم له بلوڅو مشرانو سره جرگو او خبرو ته دوام ورکړ.

*****

میرویس خان چې د کاکړو د تورې خبر واورېد د خدای شکر یې ادا کړ، دوه رکعته د شکرانې لمونځ یې وکړ، وروسته نارنج مانۍ ته لاړ، هلته یې حالت ډېر بدل ولید، له گرگین سره یې په داسې حال کې بیا لیدل چې د کاکړو لور ته د ور استول شوي پوځ د سختې ماتې او خپل کیدو احوال ورته راغلی و. گرگین له ډېرې غوسې پر خپلو اعصابو کنترول له لاسه ورکړی و، دا یې په ذهن کې نه تېرېدل چې پوځ ته به یې داسې درنه مرگ ژوبله اوړي، هغه په خپل ژوند کې تر اوسه د داسې ماتې زهر نه وو څکلي. نارنج مانۍ یې په ماتم کې ډوبه احساس کړه، د گرگین په څېره کې یې د غوسې او لاپو تر ظاهري قلقلو لاندې د بې وسۍ او ناتوانۍ پیکه سیوري لیدل چې خان په زړه کې ډېر پرې خوښ شو. د گرگین د شخصیت یو بل اړخ ور معلوم شو، پر مظلومو او بې وسو جابر او د غیرتیانو په وړاندې د گیدړ په څېر ډارن او عاجز.

میرویس خان له لیدو سره تسلې ورکړه، ورته وې ویل:

جناب بیگلربیگي صاحب! په جگړه کې کله کله داسې پېښېږي، اوس نو کاکړو ځانونو ته خبره نوره هم سخته کړه. ددې به خامخا حساب ورکوي.

گرگین غاښونه وچیچل وې ویل:

خانه! ته پوهېږې چې دا زما د ژوند تر ټولو سخته ماته وه!

میرویس خان په زړه کې ویل (سختې ماتې دې په مخ کې دي ان شاالله چې دا به ډېر زر درباندې هېره کړي.) بیا یې هغه ته وویل:

ما مخکې درته وویل چې د بلوڅو او کاکړو بغاوت عادي مه گڼه. اوس چې پېښه ده کاکړو ته باید درس ورکړو. داسې درس چې تر اوو پوښتو یې په یاد پاتې شي.

گرگین بیا وویل:

الکساندر میرزا له داسې مرگونو سره مخ نه شي، هغه باید بېرته را وغواړو.

میرویس خان وویل:

پام چې دا کار ونه کړې، اوس په هره بیه چې وي باید کاکړو او هوتکو ته سزا ورکړو....

بیگلربیگي صاحب! زه به د ناصرو او هوتکو د پوځ را ټولولو لپاره لاړ شم، چې راټول مې کړو بیا به احوال سره واخلو چې چېرته سره یو ځای شو. اوس نو دا کار که نیمگړی پاتې شو ډېرې بدې پایلې لري.

گرگین بالاخره قانع شو، پر همدې پرېکړه وشوه چې میرویس خان یې وړاندیز کړی و.

میرویس خان پخوا مشرانو ته دندې سپارلې وې چې وسله وال ځوانان را ټول او تیارسی کړي، پخپله د ناصرو د ژمي مېنې ته چې په وانه او زاوه کې وې روان شو، په وانه او شاوخوا سیمو کې یوه بله فضا وه، خلک د خپل درانه مشر په انتظار وو، میرویس خان ته یې په اتڼونو او خوښیو هرکلي ووایه، په څو ورځو کې تر درې زرو تنو پورې راټول شول، کلي په کلي په جوماتونو کې د رافضیانو او گرجي پوځیانو پر خلاف د جهاد غږونه اوچت وو. میرویس خان چې د ناصرو، هوتکو او نورو پښتنو

قومونو دغه احساسات ولیدل، وپوهېدو چې ان شاالله خپل ستر ارمان ته به زر ورسیږي.

له مشرانو سره تر څو جرگو او ناستو وروسته خان بېرته د کندهار په لور روان شو، سیدال خان، سدوخان او میرعلم خان د ناصرو د مشرانو په توگه ور سره ملگري وو، دوی چې سیوري ته را ورسېدل گرگین ته یې احوال ولېږه چې زموږ پوځ تیار دی، موږ اوتاسو چېرته او څه وخت سره یو ځای شو. گرگین په ځواب کې احوال ورکړ چې د ارغستان (ده شیخ) ته د ذولقعدې پر ۲۹ مه ځانونه را ورسوئ.

*****

میرویس خان ته چې د گرگین وروستی پیغام را ورسېد له خپلو خاصو ملگریو سره د سیوري د سره غره په شنه کوتل کې، د یوې لویې ونې لاندې په جرگه کیناست چې وروستی پرېکړې وکړي. مولوي پیرمحمد په پیل کې د قرآنکریم له څو ایتونو او دعا وروسته ورته وویل:

خانه! پر دې گرجي کافر هېڅ باور په کار نه دی.

هغه په خندا ځواب ورکړ:

میاجي! بېغمه اوسه زه داسې ځوک نه یم چې پر دښمن باور وکړم، بیا یې زیاته کړه: ته څه ځانگړی وړاندیز لرې؟

- یوازې دا مې ویل چې په کوم دام کې ونه لوېږو.

سیدالخان وویل:

زما په نظر باید زموږ پوځ څو برخې شي، یو له بل سره په اړیکه کې هم وي.

بابو جان وویل:

زه هم په همدې نظر یم، ښه خبره ده.

میرویس خان وویل:

زه او سیدالخان به ده شیخ ته لاړ شو، له موږ سره باید اوه اته سوه تکړه ځوانان وي، زیاتو کسانو ته اړتیا نشته.

درې زره نور ځوانان دې د بابو جان، يوسف خان هوتک، سدو خان او مير علم خان تر مشرۍ لاندې د ترنک له لارې ځانونه کندهار ته ورسوي. هغه لږ ساه واخيسته بيا يې زياته کړه:

که گرگين يو ځل له کلا او پوځي چونۍ را ووزي بيا بايد خبره ور سره ختمه کړو او بېرته اجازه ور نه کړو چې ښار ته ننوزي. بيايې بابوجان بابي ته وکتل وې ويل:

ستاسو هڅه به دا وي چې داسې ځايونه ځای پرځای شئ چې د گرگين او الکساندر پوځيان ښار ته پرېنږدئ.

ان شا الله چې د گرگين چاره موږ په همدې ده شيخ کې کوو، بيا به په ښار کې له تاسو سره يو ځای شو. بيا به په گډه د ښار د ننه د گرجي پاتې پوځيانو او د الکساندر ميرزا د پوځ چاره کوو.

دوی لا په سلا بوخت وو چې له لرې دوه تنه د دوی پر لور ورغلل، چې ورنږدې شول يو تن په لوړ غږ وويل:

څو تنه وسله وال راغلي وايې له مشر سره وينو.

يحيی خان وپوښتل:

څوک دي؟

-وايي له کابله راغلي يو، ويل يې مولوي صاحب موږ پېژني.

دوی ټولو مياجي ته وکتل، هغه جگ شو وې ويل:

مشره! تاسو خپلې مشورې کوئ، زه به ورشم وگورم څوک دي؟

ميرويس خان وويل:

مياجي کښېنه! اوس موږ ته ناوړه خلک نشي راتلای. بيا يې زياته کړه:

سلا مشوره مو نوره ختمه ده همدلته به يې را وغواړو. يحيی خان غږ وکړ:

دلته يې راولئ!

لږ ځنډ وروسته شل تنه سپاره را ښکاره شول، چې وړاندې راغلل، مياجي د جانداد خان وراره پکې وپېژاند، له خوښۍ يې زړه په سينه کې په ټوپونو شو:

وای خدايه! دا خو مې مقتديان دي، شکر خدايه چې عزيزان مې راغلل. له ډېرې خوښۍ يې له سترگو پر ږيره اوښکې را روانې شوې.

سپاره چې لنډ راغلل له اسونو پلي شول، میرویس خان او نورو مشرانو تاوده ستړي مشي ورسره وکړل، میاجي یوازې ځو تنه ځوانان پکې پېژندل، زر زر یې میرویس خان ته معرفي کړل:

یوه ځوان ته یې چې نوي بریتونه یې راغلي وو، پوستینچه یې اغوستې اود سپینو لیکو توره لونگۍ یې پر سر وه، لاس ونیو:

خانه دا د ولایتیو د درانه مشر جانداد خان زوی، معصوم جان دی. بیا یې د هغه درې تنه نور په نومونو واخیستل، ورپسې یې وویل:

دا نور ځوانان به معصوم جان راته معرفي کړي.

معصوم جان یوه بل ځوان ته چې پر مخ یې ږنگی ږیره نوې راغلې وه او یوه سره ملتانۍ لونگۍ یې پر سر وه، لاس ونیو:

عظم الدین د ارواښاد ملک گلاب الدین خان لمسی، د شرف الدین خان زوی، د دوی کورنۍ د اورنگزېب او شاهجهان پر خلاف ډېرې مبارزې وکړې. د امام الدین په نوم یو کاکا یې په شمال کې د اورنگزېب له خوا اعدام شو. بیا له کابله پکتیا ته لاړل، هلته یې پرېنښودل، پلار یې له مغلو سره ډېرې ډغرې ووهلې. ان تر تیرا او مومندو لاړ چې چېرته یې د اورنگزېب پر خلاف غږ واورېد هغه ځان ور ورساوه. پلار یې څلور ځله په دې جگړو کې ټپي شو. د پلار وروستی وصیت ورته همدغه و چې عظم الدین ستاسو سره ملگری شي. معصوم جان دا هم وویل چې ښایي له کابل او مشرقي نور ډېر ځوانان راشي. ځکه چې اوس دا اوازه تیت وه چې میرویس خان له اصفهانه را ستون شوی دی، او د گرگین پر خلاف د جهاد نیت لري.

میرویس خان ځوان عظم الدین ته غېږ ورکړه وې ویل:

د زمرو پر مېنه زمري لویېږي. له پاچا خان نه مې ستا د بابا ملک صاحب گلاب الدین نوم اورېدلی و، الله دې د غیرتي بابا او پلار همت پر تاسو کېږدي.

د عظم الدین او معصوم جان دوی له خبرو معلومېدل چې هم ښه ستومانه دي او هم وږي، میرویس خان خپل وروریحیی خان ته مخ ور واړاوه:

وروره، خدای خبر دی چې دوی به په څومره اوږدو او ستومانه لارو راغلي وي، سمدستي یې د ډوډۍ او استراحت غم وخوره چې د دوی لږ دمه جوړه شي بیا به له خیره حرکت کوو.

هغه وویل، په سترگو! او بیا یې راغلیو ځوانانو ته اشاره وکړه، دوی ټول روان شول، میرویس خان چې د کابل د ځوانانو پر راتلو ډېر خوښ و، خپلو ملگریو ته یې د کیناستو اشاره وکړه، بیا یې د خپل پلان په باب وویل:

موږ تر وروستي حده خپل عقل او فکر په کار واچاوه، نور نو توکل پر الله تعالی.

مولوي پیرمحمد وویل:

بس بنده پر خپل وس پړ دی، نور به یې عاقبت الله ته سپارو.

وروستۍ پرېکړه یې دا شوه چې بابوجان بابی، یوسف خان هوتک او بهادرخان اندړ به له خپلو وسله والو سره مازدیگر مهال خوځیږي، دوی ته که څوک په مخه ورځي دا به ورته وایي چې د گرگین خان ملاتړ ته ور روان یوو. میرویس خان شپه همالته تېره کړه، په هماغه سهار یې له یوې اوږدې دعا وروسته د ده شیخ لاره ونیوه. میرویس خان د لارې په اوږدو کې له یوه حقیقت سره مخ شو، چې څومره کلي په مخه ورتلل زاړه او واړه یې هرکلي ته را وتلي وو، وې لیدل چې خلک ډېر په تلوسه او مینه غواړي چې له تورو، ټوپکو او تبرونو سره له دوی سره ملگري شي. میرویس خان هغوی ته د انتظار توصیه کوله.

په یوه کلي کې دوی تېرېدل چې یوه بوډۍ د خان د اس مخې ته ودرېده، جلب یې ونیو، د اسونو قیضې را کش شوې او د سترگو په رپ کې په سوونو اسونه ودرېدل، بوډۍ په غوسه وویل:

میرخانه بچیه! ته اوس زموږ د بچیانو له قاتلانو سره ملگری شوی یې! د هغه په پلوی د بلوڅو او کاکړو پر خلاف ځوانان جگړې ته ټولوې؟

میرویس خان وخندل، وې ویل:

مورجانې! دا چا درته ویلي؟

- د بابیانو د مشر لښکر تېر شو، هغوی ویل چې د هغه کافر حاکم مرستې ته ور روان دي.

-موري نو هغوی دې ولې نه راګرځول؟

-ویل یې چې د میرخان حاجي په امر د کندهار د کافر حاکم مرستې ته روان دي.

خان له اس پلی شو، شمېرلي ګامونه یې واخیستل، هغه بوډۍ ته په مخکې ودرېد، پر لاسو یې ور ټیټ شو، ښکل یې کړل، بیا یې وویل:

موري! انشا الله زر به د هغه کافر د وژلو خبر واورې! زموږ په وطن کې چې ستا په څېر با ایمانه او غیرتي میندې ژوندۍ وي، څوک به د ګرجیانو او پردیو د ملاتړ همت ونه کړي. که یې وکړي مختوري او شرمنده به وي.

د بوډۍ له ګونځو ډک مخ وغوړېد، په چوغو سترګو کې یې رڼا وځلېده، وې ویل:

زما هم زړه نه منله چې حاجي میرخان دې دومره بې همته شي، د نازو په غېږ کې لوی شوی خان به د وطن پت او عزت ساتي، لیلام به یې هېڅکله نه کړي. بیا یې لاسونه لپه کړل مخ یې اسمان ته ونیو دعا یې وکړه:

خدایه! حاجي میرخان مو په سرو اورونو کې وساته!

یه د دنیا او اخرت واکداره! ستا له دره مو نامراده مه کړې! .... بیا یې خان ته لاره ورکړه وې ویل:

ورځئ دښمن مو په خاورو کې نسکور شه!

اسونه بیا روان شول، او یو ځل بیا له ځمکې ګردونه اوچت شول.

*****

میرویس خان او ورسره ملګري یې حیران وو، دوی غوښتل چې ګرګین یې پر پلان خبر نه شي او تر وروستۍ شېبې هغه غافل وساتلای شي، خو اوس داسې ښکارېدله چې ولس له لوی تر وړوکي او له نارینه تر ښځو ټول په یوه تکبیر را پاڅېدلی و. دوی چې په دوو درېیو کلیو کې د خلکو جم او جوش ولید د یوه خوړ پر غاړه تم شول، میرویس خان له یحیی خان، سیدالخان او نورو څو تنو سره لنډه مشوره وکړه، دوی ته یې وویل:

ددې کلیوالو را قابو کول ضروري دي، که خدای مه کړه زموږ پلان وځنډیږي بیا مو راز افشا کیږي او دښمن راته هوښیاریږي.

سیدال خان وپوښتل:

خانه ستاسو مشوره څه ده څه وکړو؟

-زما په اند ښه داده چې په کلیو کې موږ خپل یو دوه تنه ملګري پریږدو، دوی به په یوه پلمه له وسله والو کلیوالو سره وي خو که خدای مه کړه د ګرجیانو کوم پټ جاسوس وي هغه به راپور ور نکړای شي، زموږ د دغو کسانو کار به داوي چې کلیوال وسله وال سره یو موټی تر نظر لاندې وساتي.

یحیی خان وویل:

حاجي لالا ولې کندهار ته نږدې خپل یو څو کسان په پهره ونه دروو، چې ټولې لارې وڅاري او څوک پرینږدي چې پوځي کلا ته ننوزي.

میرویس خان تر لږ چورت وروسته وویل:

نه، په کلیو کې زموږ د کسانو پاتې کیدل غوره دي، یو خو به وسله وال راته په تودو احساساتو چمتو ساتي، بل به ټول څاري هم. هسې هم زموږ شمېر نور تر اتو نهو سوو تنو اوړي، دومره کسانو ته اړتیا هم نشته.

سیدال خان وویل:

مشره! دښمن کمزوری مه ګڼه، پر ګرګین هیڅ باور په کار نه دی.

میرویس خان وموسکل وې ویل:

هغه مبارک ایت دې نه دی لوستی چې وړوکې ډلګی پر لویه ډله د لوی الله په حکم بری مومي! بیغمه اوسی، الله تعالی به زموږ ملګری وی.

بیا پر همدې امین شوه چې په هر کلي کې له خپلو ملګریو نه دوه او درې تنه پریږدي. له لنډې دعا وروسته دغه کاروان د خپل وروستي منزل په لور روان شو. دوی چې له هر کلي تیریدل دا یې لیدل چې دغه ولس بدل شوی دی، دا هغه پرونی ولس نه و چې ګرجي پوځیانو به پرې غورځی کاوه، دوی به یوازې مړي او ټپیان ټولول، او د اور په لمبو به یې اوبه ور پاشلې.

چې د میرویس خان پوځ به کوم کلي ته ورسید، ځوانان او په عمر پاخه کسان به پرې ور ټول شول، له هرچا سره به له ټوپک تر چړې او تبر پورې یوه وسله وه، یو شور او زوږ به اوچت و. ډولونه به غربېدل، مست اتڼونه به پیل شول، ځوانانو به ځنې غورځولې او پر دین او وطن د قربانۍ سندرې او شعرونه تکرارېدل.

مازدیگر مهال دوی خپل منزل ته یو پړاو نور هم ورلنډ شول، د ارغستان د سیند پر غاړه یې په یوه کلي کې د شپې تېرولو اراده وکړه، کلیوالو ته پخوا احوال رسېدلی و، غوایان حلال شوي او کټوې باروې، ډولونه غربېدل، ځوانانو ځنې ورته غورځولې. په دې کلي کې د میرویس خان د خسرخیلو لرې خپلوان وو خان له څو تنو سره د هغوی حجرې ته لاړ، نور کسان هم په جومات او حجرو کې سره تیت شول، میرویس خان د مازدیگر له لمانځه وروسته په حجره کې ډډه وهلې وه او د سبا په چورتونو کې و، له ده سره حاجي عثمان، د هغه څلور تنه ملگري، د کابل عظم الدین او معصوم جان، او یحیی خان ورور یې هم وو، د دوی لا دمه نه وه جوړه شوې چې د کلي یو مشر ملک سردار خان راغی، له جوړ پخیر وروسته یې ورته وویل:

یوه د راز خبره در سره لرم.

میرویس خان په حجره کې ناستو کسانو ته په اشارې وویل:

مهرباني وکړه دا ټول خپل او د راز خلک دي.

ملک سردارخان لږ زړه نازړه و، یحیی خان ورته وویل:

ملک صاحب بېغمه اوسه دا ټول د لویو او درنو کورنیو بچیان دي.

ملک سردارخان میرویس خان ته وویل:

خانه! زما په یوه کلیوال شک دی، چې گرجیانو ته به جاسوسي کوي.

میرویس خان چې تکیه کړې وه سمدستي را نیغ شو، وې پوښتل:

څوک دی او ولې پرې شکمن یې؟

محمدخان نومیږي، د یوې کونډې زوی دی، وخت ناوخت کندهار ته روان وي. خان له پخوا پوهېدو چې گرگین به جاسوسان لري، ځکه یې خبره زړه ته ولوېده وې پوښتل:

څه کاره دی ښار ته به په څه کار پسې ځي.

- دلته په خپله ځمکه بزګري کوي، ښار ته په بیلو پلمو روان وي، کله وايي میرمن مې ناروغه ده، کله د زوی ناروغي پلمه کړي.

میرویس خان له ملک سردارخان نه بیا وپوښتل:

یوازې ښار ته په تلو خو ځوک شکمن نشو ګڼلای، څه بله خبره شته؟

- خانه، دا د کونډې زوی غریب سړی و، غوښتل یې ځمکه وپلوري، خو اوس یې د ځمکې له پلورلو انکار کړی، داسې ښکاري چې موټی یې ډک شوی دی.

میرویس خان یحیی خان ته وکتل، وې ویل:

د ملک صاحب د شک په باب پلټنه وکړه، که ریښتیا و، سړی را حاضر کړه.

یحیی خان وویل:

زما په دې کلي کې یو دوه ډېر دینداره اشنایان شته، ورځم له هغو به پوښتنه وکړم.

ملک سردارخان په بیړه وپوښتل:

اشنایان دې ځوک دي؟

-حاجي سلام خان او سیدعمرخان مې د هندوستان د سفرونو انډیوالان دي.

ملک صاحب چه دا واورېدل، پر څېره یې د اندېښنو سیوري له ورایه ښکاره شول، چې د حجرې ناستو کسانو هم احساس کړل.

یحیی خان چې له دروازې وتلو مخ یې را واړاوه:

ډوډۍ له خپلو اشنایانو سره خورم ماته انتظار مه کوئ!

ملک سردارخان هم لږ شیبه وروسته جګ شو، میرویس خان ته یې ست وکړ:

خانه زما غریبخانې ته تشریف نه وړې؟

خان په موسکا مننه ترې وکړه بیا یې ورته وویل:

ملک صاحب! که دې اندېښنه او شک پر ځای و مجرم ته به ستا په مخکې سزا ورکوو.

چې هغه له حجرې ووت حاجي عثمان موسک شو خو څه یې ونه ویل، د میرویس خان پرې پام و ترې وې پوښتل:

وراره! ولې خاندې؟

هغه سر وخوځاوه وې ویل:

حاجي کاکا، زموږ د وطن همدا یوه ډېره لویه ستونزه ده.

عظم الدین ور غبرګه کړه:

که مو دغه ستونزه نه درلودای تر دوو پېړیو ډېره موده به داسې ټوک نه وو، چې له هر لوري زموږ پر خاوره غورځی وي.

د میرویس خان پر شونډو خوږه موسکا وغوړېده وې ویل:

ان شاالله نور زموږ دغه ستونزه هم حل کیږي، چې داسې د ویښ ضمیر ځوانان لرو د تربګنی ناوړه دودونه به خامخا ختمیږي.

د ماسخوتن له لمانځه او ډوډۍ وروسته یحیی خان راغی، میرویس خان ته یې په لنډو ټکیو وویل:

د جاسوس ماسوس خبره نشته، ملک صاحب د محمدخان پټي ته سترګې سرې کړې وې، هغه یې له پلورلو انکار کړی بس تش تورونه ور پسې لګوي. د محمدخان میرمن او زوی په ریښتیا هم ناروغ وو، ښار ته یو دوه ځله د دارو درملو لپاره تللی و.

د سهار له لمانځه وروسته میرویس خان ملک سردارخان په جومات کې کیناوه لږ په تونده لهجه یې ورته وویل:

ملک صاحب ته شکر دی د ښه جایداد خاوند یې، ښه دعزت ژوند لرې، دا د شرم ځای دی چې د کونډو او یتیمانو جایداد ته دې سترګې نیولې وي.

ملک سردار خان سترګې ښکته واچولې، وروسته یې څادر پر اوږه واچاوه او له جوماته ووت.

لمر را وخوت، د ژوند هنګامې پیل شوې، میرویس خان سیدالخان ته اشاره وکړه، لږ ځنډ وروسته د کلیوالو له دعا سره کاروان وخوځېد. چې له کلي وتل شاوخوا په خاورینو دیوالونو کې د ښځو او نارینه و د تکبیرونو غږونو کاینات په وجد راوستل، ماشومانو، ځوانو او پخو میرمنو تودې ډوډۍ، کوچ، وڅکې، ممیز، بادام او په پاستي کې نغښتې پخې غوښې په پلوونو او لمنو کې راوړې وې او په لښکر یې وېشلې، میرویس خان چې

د کلیوالو دغه جذبه او اخلاص ولید سترګې یې را ډکې شوې، د زړه له کومي یې دعا وکړه:

یا الله همت راکړه چې د ولس دغه ستر ارمان تر سره کړو. لاسونه یې پر مخ راکش کړل، پر کلي یې یو نظر را تېر کړ، الله اکبر یې وویل او اس ته یې پونده ورکړه. له کلي یوه خړه دوړه اوچته شوه او د ده شیخ په لور روانه شوه.

لودين كتابتون

*****

تنکۍ غرمه د میرویس خان په مشرۍ د غازیانو پوځ ده شیخ ته نږدې د صفوي پوځیانو له یوې ډلې سره مخ شو، دلته د هغوی یو مرکز و، د میرخان په یوه قومانده دغه پوځي مرکز د غازیانو په لاس کېوت او ګرجي پوځیان یې ټول یا ووژل او یا بندیان شول، په بندیانو کې د پوستې قوماندان هم و، هغه یې لاس تړلی میرویس خان ته را وست.

خان په خپلو کسانو امر وکړ چې د بندي لاسونه پرانیزی، مخې ته یې کښېناوه، اوبه یې ورکړې په نرمه یې ترې وپوښتل:

ځوانه! له تاسو سره زموږ هېڅ دښمني نشته، تاسو زموږ پر وطن یرغل وکړ او دلته مو د ظلم او تیري بازار تود کړ. اوس نور هرڅه ختم دي، ته به د ګرګین برخلیک هم وګورې، موږ د ګرجي پوځیانو په څېر پر ډېره مرګ ژوبله او بربادیو نه ویاړ کوو او نه پرې خوشالیږو.

زه یو څو پوښتنې درنه کوم سپین ځوابونه درنه غواړم، که دروغ ونه وایې ژمنه در سره کوم چې تېر ګناهونه دې معاف دي، ورځه خپل وطن ته دې لاړ شه، خو که یوه خبره دې دروغ وختله بیا دې یوه شیبه هم ژوندی نه پرېږدم.

پوځي په ژړا شو وې ویل:

مشره! ومې بخښه، واړه اولادونه لرم....خان لږ په جدي لهجه د هغه خبره ور غوڅه کړه:

دا د یوه پښتانه لوظ دی، درته ومې ویل چې نه دې وژنم هسې وخت مه تېروه، د ګرګین پلان څه دی؟

ـصاحبه هغه ده شیخ ته را روان دی.

له تاسو سره یې وروستی اړیکه څه وخت وه؟
جنابه درې ساعته مخکې یې یوه گزمه راغله بېرته کندهار ته ستانه شول.
تاسو ته یې څه دنده وسپارله؟
موږ ته یې د لارې څارلو دنده وسپارله.

میرویس خان پردې پوهېدو چې گرگین ډېر هوښیار سړی دی، د جگړې په ټولو رموزونو پوه او با خبره دی، پر دې هم پوهېدو چې د کندهار په پوځي چوڼۍ کې د زرگونو پوځیانو او ښو وسلو له درلودو سره پر هغه پوځي بریا ډېره گرانه وه، ځکه یې غوښتل هغه له چوڼۍ د باندې را وباسي، اوس یې چې د دې مرکز له پوځیانو دا واورېدل چې گرگین خان ده شېخ ته را روان دی زړونه یې ډاډه شول.

د میرویس خان د ازادۍ لښکر د شپې ناوخته ده شېخ ته ورسېد، په همدې شپه کې یې په مهمو ځایونو کې کسان ځای پر ځای کړل، د ۱۱۱۹هجري قمري د ذولحجې لومړی سهار لمر یوه نېزه راختلی و چې د گرگین زرکسیز پوځ په ډېر شان او دبدبه را ښکاره شو، میرویس خان خپلو ملگریو ته قومانده ورکړې وه چې دښمن بشپړ د دوی تر دم لاندې شي، برید به پرې کوي. هغوی چې را نژدې شول، یحیی خان وویل:

موږکان د تلک په لور روان دي!

زړونه په سینو کې داسې درزېدل لکه چې له قفسه د راوتلو اراده لري، د تاریخ پاڼه اوښتله، د یوه ولس د دوو نیمو پېړیو په مړژواندي کالبوت کې د پاڅون تکبیرونو نوې ساه پوکله، یوه اوږده تاریخي چوپتیا ماتېدله، د دوو نیمو پېړیو په اوږدو کې لوټ شوي کاروان ساروان موندلی و، هغه ساروان نن د خپل ولس غرور او وقار پرځای کاوه؛ د ځپل شوي ولس دغه سالار او نوی لارښود میرویس خان و.

خان د گرگین مخې ته را ووت، گرگین د غرور په اووم اسمان کې گرځېده، د گرجستان د واختانگ شاهي کورنۍ مغرور او سرزوری واکمن چې د صفوي ټولواکۍ پرخلاف بغاوتونه یې تر سر تېر کړي وو، نن بیا په دې نیت راوتلی و چې د وینو لښتي وبهوي،

فکر یې کاوه چې له گرجستانه تر کرمان او کندهاره یې چې څومره د وحشت داستانونه پرېښي نن به هغه د تاریخ له حافظې هېروي، په همدغسې غرور کې را روان و.

له لرې یې د میرویس خان پر ملگریو سترگې ښخې وې، ساده څو رنگه جامې، بې نظمه او گډوډ، د چا لونگۍ او د چا بلوڅي خولۍ پر سر، له چا سره کوم ټوپک، له چا سره کومه زړه لینده او د غېشیو شړېدلې توبره، له نورو سره لنډې او اوږدې تورې او گډې وډې وسلې، چا ملاوې پر پټکي تړلې او سرتور سرونه...گرگین یو ځل هغوی ته وکتل او بیا یې تر شا را روان خپل سپاره او پلي پوځ ته نظر واچاوه، پر توپونو او ټوپکو سنبال، منظمې پوځي جامې، چې زغرو او خولونو یې سترگې برېښولې، لکه اوسپنیز زنځیر، له هرگام سره یې ځمکه لړزېدله، پر شونډو یې له ملنډو ډکه موسکا راغله، له ځانه سره یې وویل:

دکندهار د ولس کلانتر میرویس خان! ...د گرجستان د واختانگ له شاهي ځواک سره سیالي کوي!!

گرگین د خپل پوځي ځواک په نښه کې ډوب د خپل وروستي تمځای پر لور ور روان و، له ځانه سره یې پخوا دا پرېکړه کړې وه چې د بلوڅو او کاکړو دغه بغاوت مات شي، له میرویس خان نه به هم ځان بېغمه کوي، یو ځل بیا یې هغوی ته وکتل، د سپینو جامو، جگې شملې، لوړ قد پر خاوند یې چې یو خړ څادر یې پر اوږه و نظر مېخ شو.

ناڅاپه د سپینو جامو او لوړ قد خاوند ښی لاس اوچت کړ، په یوه اشاره غازیانو پر هغوی د خپلو وسلو میلې ور واړولې، کړسهار شو، د ټوپکو له میلو لمبې ووتلې او د گرجي پوځیانو پر ټترونو ونښتې، داسې ټکه پرې را پرېوته چې دوی یې په خوب کې تصور نشو کولای، د سترگو په رپ کې په سلگونو پوځیان او اسونه په خاورو کې را پرېوتل، کرېږې او چټې شوې، د تکبیرونو په بدرگه د غازیانو د ټوپکو له شپېلیو مرگونه ووتل او د گرگین پر پوځ نازل شول، هغوی د وتلو او تېښتې لار نه درلوده، هرلوري ته مرگونو کومې ورته شلولې وو، د الله د بندگانو د کسات ورځ را رسېدلې وه، گرجي پوځیان له اسونو را لوېدل او مشر یې هک پک د خپلو سرتېرو د مرگونو په ننداره و.

گرگین د یوې وړې غونډۍ ترشا څو توپونه له یو شمېر پوځیانو سره غلي پرېښي وو، ناڅاپه پرلپسې د توپ څو گولۍ راغلې د جگړې پر ډگر را پرېوتې، له تورو لوخړو سره د انسانانو لاسونه ، پښې او د بدن غوښې او هډونه اسمان ته اوچت شول. میرویس خان د دې حالت اټکل نه و کړی، د توپ ډزونو د دوی په لیکو کې هم گډوډي را وسته.

خو میرویس خان سیدال خان ناصري ته وویل:

پنځوس کسان در سره واخله، د دښمن توپچي ته ځان ورسوه!

سمدستي یوه ډله سپاره د وړاندې غونډیو په لور روان شول. د توپونو له ډزو سره گرگین غوښتل چې خپل د مرگ په کومي کې پراته پوځیان یوه لور ته کړي او مورچل ونیسي، چیغه یې کړه:

ښي لوري ته ځانونه وباسئ، له اسونو پلي شئ!

خو د ټوپکو په بې دریغه ډزو کې د گرگین وارخطا پوځیانو د خپل مشر غږ نه اورېده، هغوی چې کوم لوري ته مخه کوله مرگ ورته د نامعلومې گولۍ په بڼه په کمین کې و. یو یو را لوېدل، او د یوې تاریخي حماسې وروستي بابونه بشپړېدل.

د میرویس خان کوم ملگري ناڅاپه چیغه وکړه:

نورمحمد خان! حاجي نورمحمد خان شهید شو.

میرویس خان د غږ په لوري وکتل، لږ وړاندې، دده ځوان وراره حاجي نورمحمد خان یوه کمره ته ډډه وهلې وه، ټوپک یې څنگ ته پروت و او لونگۍ یې ول ول په غاړه کې پرته وه. د خان پر سترگو تیاره راغله، لاره یې دوه گامه کړه، ورغی، د نورمحمدخان تر څنگ کیناست، د هغه پر شونډو پیکه موسکا تېره شوه، ځان یې را ټینگ کړ په ټیټ غږ یې وویل:

کاکا مه وارخطا کېږه، سرسري ټپي یم.

میرویس خان هغه په غېږ کې ونیو، پورته یې وکتل، سترگې یې را ډکې شوې، خو ځان یې را ټینگ کړ، څو شېبې یې د نورمحمد خان یادونه سترگو ته ودرېدل، همدی یې د کورنۍ داسې یو څوک و چې د سیوري په څېر په سختو او ښو شېبو کې له میرویس خان سره و، له کندهاره تر اصفهانه او ان د حج تر مراسمو پورې ور سره و، لږ ځنډه

وروسته یحیی خان او څو تنه نور هم راغلل، په بیړه یې د هغه ټپونه وپلټل، ده لاس اوږې ته ونیو، هغه دوې گولۍ خوړلې وې، یوه یې پر ښۍ اوږه لگېدلې وه، شاته یې د ورغوي په اندازه شنلی و، دویمه یې په ورانه کې په پسته کې تېره شوې وه. حاجي عثمان زر زر د هغه ټپونه وتړل، د ټپونو له لیدو وروسته یې خان ته وویل:

مشره د خدای فضل دی، ټپونه یې ډېر خطرناک نه دي. تاسو ترې بېغمه شئ، وخت نازک دی. بیا په بیړه د ټپونو پر تړلو بوخت شو.

میرویس خان خپل وراره پر تندي ښکل کړ، وې ویل:

وراره! دغه قرباني دې الله قبوله کړه، ستاسو د هرڅاڅکي وینې به خدای په دنیا او اخرت اجر درکوي. شکر دی ټپونه دې خطرناک نه دي.

د جگړې پر ډگر یې نظر را وگرځاوه، دښمن ځپل شوی و، نور پکې سبک پاتې نه و، گرگین د خپل سینگار شوي اس تر څنگ د خپلو پوځیانو د مړیو په منځ کې یوازې ولاړ و، د لومړي ځل لپاره یې د مرگ توره او وېروونکې څېره پخپله ولیدله، ده په تېرو کلونو کې په گرجستان، کرمان او کندهار کې په لسگونو ځله پر نورو دغسې ورځې را وستې وې خو دا لومړی ځل و چې د کارتلي پر بې رحمه شهزاده هم داسې ورځ راغله. څو شېبې وروسته سیدال خان له خپلو سپرو سره تر غونډۍ را واوښت، د تکبیر نارې یې وهلې او سپینې تورې یې تر سرونو تاوولې. هغوی چې را ورسیدل میرویس خان ته یې وویل:

څلور توپونه مو ونیول، اویا تنه گرجیان مو دوزخ ته واستول.

د میرویس خان پر شونډو موسکا وغوړېده، سر یې وخوځاوه بیا یې په لوړ غږ گرگین ته وویل:

گرگین ظالمه، زما مشورې دې نه منلې، اوس د خپلو کړو وړو سزا ته ځان تیار کړه!

د گرگین په ذهن کې د تېرو وختونو د غرور او بریاو نندارې را وگرځېدې، یوه شېبه یې ځپل شوی غرور را ژوندی شو، وې ویل:

میرویس خانه! زه د اصفهان د ټولواکۍ استازی او بیگلربیگي یم، زه شاهنوازخان یم.

وراره مې د اصفهان دیوانبیگي دی....کورنۍ مې د اصفهان د شاهي کورنۍ سره نژدې اړیکي او تړاوونه لري، د وینې د هرڅاڅکي په بدل کې به دې وطن لس ځله په اورونو در ته لوخړه کړي ......

د غازیانو تکبیرونو یې غرور ور ټوټه ټوټه کړ، شاوخوا ته یې وکتل، یوازې د مړیو او ټپیانو هډونه پراته وو، لړزه یې پر بدن گډه شوه، د اس جلب یې پرېښود، میرویس خان ته یې وویل:

ته د لوی کندهار ویاړمن مشر یې، ولس دې درباندې ویاړي، اصفهان دې په لویی او وقار اعتراف کوي، ما وبښه، زه به لاړ شم د اصفهان په دربار کې به دې سپارښتنه وکړم چې ددې خاورې او هېواد اصلي وارث میرویس خان دی......ته به د کندهار بیگلر بیگي وټاکل شې...

میرویس خان یې خبره ور لنډه کړه:

زه د خپل وطن واک له پردو نه غواړم. نور زما پر وطن د اصفهان د واکمنۍ کیسه پای ته رسېدلې ده.

نامرده ظالمه نور د خپلو ظلمونو سزا ته تیار شه!

بیا یې خپلو ملگریو ته اشاره وکړه، د مرادخان په نوم یوه ځوان وار ړومبی کړ، توره یې د گرگین تر ټټر بوټه و ایستله، پر خنگ ړنگ شو، تر وښکي یې وینې راغلې، خول یې له سره ورغړېد، مرادخان الله اکبر ناره اوچته کړه، خول یې را واخیست په توره کې یې پورته کړ، له خوښۍ یې یوه ځرخکه وخوړه چیغې یې کړې:

د ولس قاتل مې وواژه! ظالم گرگین مې مردار کړ.

د گرگین مړی د را نسکور شوي صلیب په څېر په خاورو کې پروت و.

د نورو غازیانو په ډزو او گوزارونو د گرگین ژوندي پاتې پوځیان هم د سترگو په رپ کې د مرگ په خوب ویده شول. د ده شیخ په دښته کې د الله اکبر داسې ازانگې اوچتې شوې چې کاینات یې ور سره وزنگول.

میرویس خان بیا د نورمحمد خان څنګ ته ورغی، د هغه ټپونه تړل شوي وو، وینه یې دریدلې وه، د ګرجي پوځونو څلور ګاډۍ یې راوستلې ټپیان یې پکې واچول او یوه خوندي ځای ته یې واستول. بیا خان خپل ورور یحیی خان ته وویل:

ان شا الله نورمحمد جان له خطره وتلی دی. تاسو مړي یوې کندې ته ټول کړئ، نور یې حساب له خدای تعالی سره دی، ټپیانو ته اوبه ورکړئ، پټۍ پرې ولګوئ،

بیا هغه په یوه میدان کې را ټول شول، د بریا په ویاړ خدای ته په سجدو پرېوتل، له سترګو یې د خوښیو اوښکې روانې وې. تنکۍ غرمه یې څو تنه د بابوجان بابي او نورو مشرانو په لور واستول، هغوی ته یې د ګرګین د وژلو زېری ورکړ، دا هدایت یې ورته وکړ چې د کندهار ښار ته نه څوک ننوزي او نه ترې راووزي. په پوځي کلا کې څوک باید د خپل مشر په وژل کېدو خبر نه شي.

وروسته میرویس خان خپلو ملګریو ته په لنډه وینا کې وویل:

زما زړورو ملګرو، ددې لویې بریا مبارکي درته وایم، د لوی الله په فضل او کرم ګرګین له منځه لاړ، خو زموږ کار لا ختم نه دی، د کندهار په پوځي کلا کې په زرګونو ګرجي پوځیان شته چې توپونه او نورې وسلې لري، د ګرګین وراره الکساندر میرزا له پینځو-شپږو زرو پوځیانو سره په شال کې پروت دی، که موږ له هوښیارۍ کار وانخلو، دغه بریا به مو نیمګړې پاتې شي. زما غیرتي یارانو! ترڅو زموږ برۍ بشپړ شوی نه وي، د خوښیو ډولونه غږول موقوف دي.

وروسته یې په پرېکنده لهجه اعلان وکړ:

ان شاالله نن شپه به پوځي کلا نیسو او ګرجیان به ترې جارو کوو. له لازمو ترتیباتو وروسته په څو شیبو کې دوی خوځېدو ته تیار شول، د ګرګین مړی یې ور سره واخیست او ځانونه یې د ماښام په تیاره کې د کندهار پوځي کلا ته ورسول.

د کلا د لویې دروازې ساتونکیو ولیدل چې ګرګین خان له پوځ سره بېرته د کلا په لوري را روان دی. چې را نږدې شول، د ساتونکیو مشر د ګرګین په درناوي د دروازې د پرانیستلو حکم وکړ. دروازه پرانیستل شوه او هغوی ټول ګړندي کلا ته ننوتل، د ساتونکیو سترګې هغه مهال رډې وختې چې د ګرګین او ګرجي پوځونو پرځای یې

میرویس خان او دهغه ملګري په مخکې ولاړ وو، د سترګو په رپ کې د دروازې ساتونکي، او یوې او بلې خوا ته د برجونو پهره داران بې وسلې او ژوندي ونیول شول. دلته ګرجي پوځیانو هېڅ مقابله ونه کړای شوه، دوی تر ځو خپل او پردی معلوماوه غازیان یې له تورو او ټوپکو سره پر سرونو ولاړ وو.

میرویس خان د لویې دروازې مخې ته سیدال خان ور وغوښت:

اشنا د دروازې د قوماندان په مرسته حسین قل را پیدا کړه، د اوو واړو برجونو د مشرانو نومونه او لازم معلومات ترې واخله. بیړه په کار ده په همدې شپه کې باید خبره یو طرفه کړو.

سیدال خان په یوه لویه خونه کې راټولو شویو بندیانو ته ورغی، پوښتنه یې وکړه:

مشر مو کوم یو دی؟

دوی یوه تن ته چې د سره کوټ پر اوږو یې نښانونه کتار وو وکتل، ګڼې تورې ځنې پر اوږو پرتې، ږیره چټه خرېیلې، پر غوښن کیڼ باړخو یو ژور داغ، سرې د وینو د پیالو په څیر سترګې، یو هلهور سړی و.

سیدال خان هغه ته وویل:

ته یې!

ـ هوکې صاحب.... صاحبه ما هېڅ ګناه نه ده کړې.

ـ دا به وروسته معلومیږي. اوس چې څه درنه پوښتم روغ ځواب راکوه، که دې دروغ وویل، هغه به دې د ژوند وروستۍ خبره وی.

ـ حکم کوه صاحبه!

حسین قل چېرته دی؟

ـ حسین قل! هغه، هغه د ارګ په برج کې دی.

ـ د نارنج مانۍ؟

هوکې صاحب.

ـ په کومو برجونو کې ډېر پوځیان دي؟

ـ د قیتول او دولت اباد په برجونو کې درې درې زره تنه دي.

قوماندانان یې څوک دي؟

د قیتول یو گرجی دی میرزا قلیچ خان نومیږي، د دولت اباد نوم را ته معلوم نه دی.

سیدال خان په توره د هغه زنې را پورته کړه، سرې سترگې یې رډې وختلې.

ـ زما خبره خو دې په یاد ده، دروغ یوه کلیمه به دې د ژوند وروستۍ خبره وی. بیا یې ترې وپوښتل:

د گرگین بال بچ په نارنج ماڼۍ کې دي؟

ـ هوکې همالته وي.

ـ د نورو قوماندانانو چېرته وي؟

ـ د مشرانو کورنۍ د نارنج ماڼۍ سره نږدې د ارگ تر برج لاندې وي.

هغه څه نورې پوښتنې ترې وکړې او بیا ووت.

میرویس خان په یوه لوی تالار کې قدم واهه، سیدال خان ورغی د دروازې له مشر نه یې چې معلومات تر لاسه کړي وو هغه یې ورته وویل، میرویس خان وویل:

که په کومه لاره حسین قل را پیدا کړو زموږ کار ډېراسانه کولای شي، پر نورو باور نه دی په کار، بیا په چورتونو کې ډوب شو، لږ ځنډ وروسته یې سیدال خان ته وویل:

پر ملگریو را وگرځه، په ټینگار ورته ووایه چې له هېڅ انسان سره مو د تیري او ظلم غږ وانه ورم. دغه کلا او ښار مو ټول خپل دي، چېرته اور وانه چوي او لوټماري ونه کړي، زموږ او دښمن په کړو وړو کې باید توپیر وي.

سیدال خان ووت، میرویس خان بیا په چورتونو کې ډوب شو.

لږ ځنډ وروسته د باندې لږ شور اوچت شو، میرویس خان د دروازې په لور وکتل، لږ شیبه وروسته بابوجان بابی، میاجي، نصروخان، بهادرخان اندړ او هغه مشران ورننوتل چې په سیوري کې ترې بیل شوی وو، میرویس خان له ټولو سره تاوده ستړي مشي وکړل، یو بل ته مبارکی وویل شوې، بیا یې د پوځي کلا د برجونو د نیولو په باب سلا مشورې وکړې.

بابوجان وویل:

مشره ! زما سلا دا ده چې د برجونو قوماندانان د مشورې په پلمه دلته را وغواړو، برجونه چې بې قوماندې او بې مشره شي عادي پوځیان جګړه نه کوي، بیا یې لاندې کول اسانه دي.

میرویس خان وویل:

ډېره معقوله خبره دې وکړه، زما هم همداسې نظر دی.

میرویس خان بیا له سیدال خان نه وپوښتل:

اوس زموږ په واک کې پاس په برجونو کې څو توپونه دي؟

- پینځه توپونه دي، خو لکه چې یو یې خراب او له کاره لوېدلی دی.

- څلور یې وبوله، دغه توپونه څلورو خطرناکو برجونو ته ور واړوی، که خدای مه کړه څه ګړبړ پیښیږي، برجونه به تر اور لاندې ونیسي.

بیا یې وویل:

حسین قل په څه پلمه نه شو را ایستلای!

یحیی خان وویل:

سمدستي ګرانه ده، هغه کوم مهم قوماندان نه دی چې د مشورې په نوم یې را وغواړو.

میرویس خان وویل:

ښه نو نور باید بیړه وکړو، شپه تیریږي. بیا یې سیدال خان ته وویل:

دلته له تاسو سره څومره بندیان دي؟

- ټول ۱۸۳ تنه دي.

- په دوی کې به داسې څوک پیدا نشي چې د برجونو مشران پرې را ټول کړو.

- میاجي ووبل:

خانه، پر دښمن په داسې وخت کې باور په کار نه دی.

سیدال خان وویل:

د دروازې قوماندان دلته راولم!

میرویس خان وویل:

ته خو یې را وله!

هغه ووت، میرویس خان خپلو ملګریو ته وکتل، سر یې ښکته واچاوه، څو ګامه یې واخیستل، بېرته را غبرګ شو وې ویل:

څوک قربانۍ ته حاضر دي؟

تر سلو تنو زیاتو لاسونه اوچت کړل، خان بیا د سیدال خان، یحیی خان، بهادرخان اندړ، حاجي عثمان، شرف الدین، بلال او معصوم جان، نومونه واخیستل وې ویل:

تاسو به د کلا اوه برجونه له ګرجیانو پاکوئ.

سیدال خان د دروازې قوماندان راوست. میرویس خان چې ولید، خوله یې پر لوی توکر کلکه تړلې ده په غوسه یې سیدال خان ته وویل:

سیداله! ته به له بندیانو سره داسې چلن کوې؟

هغه وخندل وې ویل:

خانه، دې لوده چیغې وهلې فکر یې کاوه چې چانمارۍ ته یې بیایم، چې هرڅومره مې ورته ویل چې مشر څه پوښتنې درنه کوي، نه یې منله. مجبور شوم چې خوله یې ور پټه کړم.

میرویس خان په خندا شو، دوی د خپلو کړو وړو د سزا په انتظار دي.

د بندي خوله یې پرانیسته، هغه بیا په ژړا سر شو.... په خدای په رسول، زه بې ګناه یم، زه ایرانی سني یم، ابوبکر او عمرعلیه السلام ته درناوی لرم. .... ما مه وژنئ، چې څه خدمت را نه غواړئ ورته حاضر یم.

میاجي په غوږ کې میرویس خان ته وویل:

متعصب شیعه دی. میرویس خان موسک شو، سر یې په تایید وخوځاوه، بندي ته یې وویل:

نوم دې څه دی؟

جعفر .... جعفر دی صاحب!

ښه جعفرخانه، بېغمه اوسه ته نور خوندي یې، که شیعه یې او که سني، که را سره همکاري وکړې یو ویښته به دې زیان نشي.

د هغه پر شونډو د لومړي ځل لپاره موسکا تېره شوه، وې ویل:

حکم کوه صاحبه!

د برجونو قوماندانان دلته څه ډول را غوښتلای شو؟

-دا یو څو تنه خو به له خپلو ماینو سره ښه پراته وي. خو د قیتول او دولت اباد لږ گران دي.

د شپې نوم ټول یو دی؟

هوکې صاحب. خو د قیتول او دولت اباد برجونه د گرگین خان له خاصو سړیو پرته پر بل چا باور نه کوي. هغوی د شپې نوم پروا هم نه لري.

میرویس خان وویل:

دانو په ریښتیا د گرگین خاص کسان دي. بیا یې جعفر ته وویل:

ستا په کسانو کې داسې باوري خلک شته چې در سره همکار شي؟

-هوکې صاحب. اته تنه زما د خپل قام او قبیل دي، نور لس دوولس تنه تر سر راته تېر دي.

میرویس خان سیدال خان ته وویل:

لاسونه یې پرانیزه، بیا یې هغه ته وویل:

جعفرخانه! دا مې در سره ژبه ده چې که نن شپه را سره په ریښتیا همکاري وکړئ ته او در سره کسان به دې خوندي خپل کور ته ستنیږئ.

بیا یې یحیی خان ته مخ ور واړاوه:

وروره، ته ور سره لاړ شه دده ملگري راولی، بیا یې هماغه ټاکل شویو کسانو ته وویل چې درې درې سوه تنه در سره واخلئ، هڅه به مو دا وي چې دښمن وسلې ته لاس یو نه وړای شي.

بابو جان بابي بیا دا دنده واخیسته چې د کلا په شاوخوا کې به یې کسان ځای پر ځای وي، او څوک به نه پرېږدي چې کلا ته راشي او یا د باندې ووزي.

نږدې تر نیمایي شپې دښمن پر وضعه خبر نه و، ناڅاپه د نارنج ماڼۍ تر څنگ د پوځي چونۍ په منځ کې د تکبیر له نارو سره د ټوپکو ډزې پیل شوې، میرویس خان اندېښمن شو، چې پلان یې په نیمه کې شنډ نشي، خورو ورو ډزو دوام وموند، خو نیم ساعت

وروسته حاجي عثمان له خپلو ملگریو سره حسین قل ور سره راوست، د میرویس خان چې پر هغه سترگې ولگېدې خوښ شو، ورته وې ویل:

حسین قله شکر دی چې ژوندی دې وینم، هغه لاس په نامه و دربد، وې ویل:

مشره بریا دې مبارکه شه، بیا یې لړ خوله ونیوه، میرویس خان وپوهېدو چې هغه څه وایي، په پوښتونکي نظر یې ورته وکتل، پخوا تردې چې حسین قل خبره وکړي عثمان وویل:

حاجي کاکا! زموږ کسانو نارواوو ته لاس اچول پیل کړي که یې مخه ونه نیول شي....

میرویس خان په غوسه د هغه خبره غوڅه کړه را پورته شو، وې ویل:

دا څه وایې؟...ما سیدال ته ویلي وو چې ټول ملگري وپوهوي چې داسې کوم کار ونه کړي چې سبا ته خپل خدای او ولس ته پرې شرمنده وو.

بیا یې حسین قل او عثمان دواړو ته وویل:

ورشئ سیدال خان پیدا کړئ او ورته ووایئ چې د خپلسریو مخه ونیسي، که څوک زور کوي وسلې ترې واخلئ او لاسونه یې واړوئ! بیا یې حسین قل ته وویل:

تا څه ویل، اوس ورشه له سیدال سره مرسته وکړه، سهار به په خیر سره خبرې کوو.

هغه له دروازې سره مخ راواړاوه:

مشره ما همدغه شکایت درلود او بیا ولاړل.

میرویس خان په چورتونو کې ډوب شو، له ځانه سره یې خبرې پیل کړې...جگړه لعنت دی، وسله اور ده، په جگړه کې عقلونه تندر نیسي، هوسونه ځانگې او پنجې وکړي....

بیا یې لاسونه سره و مروړل په پرېکنده لهجه یې وویل:

زه به یې پرېنږدم چې زموږ دغه سپېڅلی جهاد د څو تنو د هوسونو او نفسونو قرباني شي، پرې به یې نږدم.

نیم ساعت وروسته سیدال خان ډاډ ورکړ چې خپلسري څپه را قابو شوه. میرویس خان ایله ارامه ساه واخیسته پر شونډو یې د خوږې موسکا څپه راغله.

څو سپېدې چاودلې د کلا څلور برجونه د غازیانو په لاس کې وو، یوازې د قیتول کلا قوماندان شک وکړ، له برجه را کوز نه شو، بهادرخان اندړ دلته گومارل شوی و، جگړه ونښته، خو قوماندان پرویز هم نه پوهېدو چې دا څه کیسه جوړه شوه او له چا سره کیوتلی دی، د پوځي کلا د لویې دروازې قوماندان جعفر ورته راغی ځان یې ور وپېژاندهغه ته یې وویل:

ته اوس د بیگلربیگي صاحب له حکم نه غاړه غړوې؟

قوماندان پرویز ځواب ورکړ:

زه شاهنوازخان ته وفادار یم، د اصفهان د دربار په اطاعت کې سر ورکولو ته چمتو یم. خو په نیمه شپه کې د غونډې پیغام راته د منلو نه دی. گرگین خان چېرته دی؟

ـ هغه په نارنج ماڼۍ کې ستاسو انتظار کوي.

قوماندان چوپ و، جعفر بیا ورته وویل:

بغاوت به درته په درنه بیه پرېوزي.

هغه بیا هم چوپ و، وروسته جعفر، بهادرخان اندړ ته په غوږ کې وویل:

سړي شک کړی دی، پخوا تردې چې اقدام وکړي، چاره یې وکړئ!

ـ چاره څه ده!

د دروازې له برجه یې په توپ وولئ!

د دروازې له برج سره یې د توپونود ډزو اشاره دوه ځله اور بلول ایښې وه، لږ ځنډ وروسته د توپ درانه غړونه د پوځي کلا په ډبرینو برجونو کې را غبرگ شول، د توپ لومړی گولی اوچته وه له برجه واوښته، له دوهمې سره یې د قیتول له برجه لنبې اوچتې شوې. د بهادرخان کسانو د برج پر موچلونو د ټوپکو ډزې هم پیل کړې.

د توپ له دریېم ډز سره د برج یو دېوال ونړېد، لاندې د بهادرخان کسان په دوړو کې پټ شول، له دې سره له برجه د ډزو په بدرگه د ژړا غږونه اوچت شول. د توپ له څلورم ډز سره له نړېدلي برجه د پوځیانو کتار را ښکاره شو چې لاسونه یې پورته کړي وو.

قوماندان پروېز د یوه مورچل تر څنگ پروت و، نیمه ککره یې د توپ له چرې سره الوتې وه، پوځیانو ته یې جگړه بې معنا ښکارېده، هغوی تر اوسه پردې نه پوهېدل چې د صفوي ټولواکۍ لمر تېر ماښام په کندهار کې د تل لپاره ډوب شوی دی.

د نورو برجونو او کلاو قوماندانان له اخ او ډب پرته په پلمه راټول او بندیان شول. د قیتول پر برج د توپ له ډزو سره هغه پوځیان چې تر اوسه نه وو بې وسلې شوي، مورچلونو ته وختل، خو هغوی داسې څوک نه لیدل چې په دغه حالت کې قومانده ورکړای شي، دوی دوست او دښمن نه پېژندل، د تېښتې لارې او لورې هم ترې ورک وو، میرویس خان خپلو ملگریو ته امر وکړ چې کوم پوځیان له تسلیمېدو انکار وکړي، په وژلو یې صرفه مه کوئ. تر یوه ساعته په بیلا بیلو برخو کې تیت او پرک او بې هدفه ډزې روانې وې، وروسته کمې شوې او بیا ودرېدې. د پوځې کلا په اوو واړو برجونو کې د صفوي پوځ زور اوبه شو. په زرگونو کسان یې یا د گولیو او تورو خوراک شول او یا تسلیم شول او ځوړ سرونه د کلا په منځ کې لوی میدان ته را ټول شول.

د گرگین د دوو مېرمنو او لسو وینځو او درو ماشومانو په شمول د صفوي پوځ په سلگونو مېرمنې او ماشومان هم د دوی لاسو ته ولوېدل. په ښځو او ماشومانو کې سخته غوغا گډه شوه، خو وروسته د میرویس خان د امان حکم دوی ته واورول شو:

د گرگین خان د کورنۍ په شمول ماشومان، مېرمنې او وینځې ټول په امن دي. دوی به په مناسب فرصت اصفهان ته واستول شي.

دې فرمان هغوی ډاډه کړل او چوپ شول.

مولوي میاجي راغی، دده په اشاره یو تن په څادر کې پنډه راوړه، د میرویس خان په مخ کې یې درب وغورځوله.

میرویس خان وپوښتل:

میاجي دا څه شی دي؟

هغه وخندل، خانه په خپله یې وگوره، انجیلونه او صلیبونه دي! بیا یې زیاته کړه:

د نارنج ماڼۍ له یوې خونې یې کلیسا جوړه کړې وه، د گرگین او د هغه د نورو قوماندانانو په کورونو کې هم د انجیل ټوکونه او د سرو او سپینو صلیبونه وو. زموږ کسانو

ټول راټول کړل، ځینو به د سرو صلیبونه د غنیمت په نوم ور سره وړي هم وي، خو دا ما را ټول کړل، ما ویل چې مشرانو ته یې وښایې. کېدای شي د ځینو زړه به نه منله چې گرگین پوخ عیسوي دی.

میرویس خان ور ټیټ شو، څادر یې کش کړ، په لسگونو د انجیل ټوکونه او د سرو او سپینو صلیبونه پر خاورو ولوېدل. بیا یې وویل:

میاجي! دریغه گرگین کوم مذهب درلودای، د گرگین مذهب خو یوازې وینې تویول او خرمستي وه.

سهار چې لمر خپلې وړانگې پر سیمه وغوړولې د کندهار برخلیک بدل شوی و، پانه اوښتې وه، د کندهار د پوځي کلا پر اوو واړو برجونو د صفوي ټولواکۍ پر ځای د ازادۍ سپین بیرغونه رپېدل.

د نارنج ماڼۍ په لوی تالار کې میرویس خان خپل مشران ملگري را وغوښتل، له سیدال خان نه یې وپوښتل:

هغه کسان چې ښځو ته یې لاس اچولی او یا یې مالونه لوټول، معلوم دي؟

- هوکې معلوم دي!

- میاجي ! شرعي سزا پرې عملي کړه.

بیا یې یحیی خان ته وویل:

پاتې مشران همدا اوس را ته را ټول کړه.

ټول مشران د نارنج ماڼۍ په لوی تالار کې را ټول شول. یحیی خان ورغی میرویس خان ته یې په غوږ کې وویل:

ځینې مشران د شرعي سزا په اړه ستاسو پر حکم خپه دي، پنځوس شپیته تنه یې دا اوس له کلا ووتل او خپلو کورونو ته ستانه شول.

میرویس خان حیران شو وې ویل:

څوک خپه دي؟ زه څوک یم دا خو د الله حکم دی.

- دوی وایي موږ ډېرې قرباني ورکړې، سړي مو پکې لاړل اوس په غنیمتونو سزا راکول کیږي.

میرویس خان په غوسه را جگ شو د تالار صُفې ته وخوت پر مشرانو یې یو نظر تېر کړ وې ویل:

مشرانو! ازادي مو مبارکه شه!

دا زموږ او ستاسو د اوږدو مبارزو او هلوځلو میوه ده چې خدای را ولوروله.

مشرانو! زه دوې خبرې لازمې بولم چې درته یې وایم.

یو دا چې زموږ کار تر اوسه بشپړ شوی نه دی، گرگین ووژل شو، قوماندانان یې هم یا ووژل شول او یا بندیان دي، چې وروسته به یې د برخلیک پریکړه د شریعت له مخې کوو. خو د گرگین وراره لا له زرگونو پوځیانو سره پاتې دی، تر هغو زموږ بریا نیمگړې ده څو د هغه له شره بېغمه نه شو. وروسته بیا زموږ مسوولیت تر اوس هم درنېږي. ځکه چې د خپلواکۍ تر گټلو د هغو ساتل گران دي.

دوهم دا چې دلته صفوي پوځیان یرغلگر وو، په زور راغلي وو، هغوی مات شول، زموږ جگړه یوازې د څېرو د بدلون لپاره نه بلکې د کړنو او عمل د بدلون لپاره ده، موږ باید اصفهان ته، نړۍ ته او خپلو خلکو ته وښیو چې تر ظالم گرگین په هر عمل او کړو کې غوره یو، موږ له یوه بل ازمویښت سره مخ یوو، سره له دې چې پر ښځو لاس اوچتول زموږ په دین کې حرام دي. زه پر دې خپه یم چې نن ځینو بې غیرتو ښځو ته لاس اچولی دی، د ښځو او ماشومانو وژل زموږ په دین کې حرام دي، که هغه د دښمن وي هم.

همدغسې دلته چې کوم شیان گوری یا د دغو خلکو شخصي مال دی او یا زموږ د خلکو لوټ شوي مالونه دي. دا په هیڅ صورت غنیمت نه دي، دلته عالمان شته، پوښتنه وکړئ، نه د نارنج مانۍ غالۍ غنیمت دي او نه د گرجیانو د میرمنو گاڼې او زېور.

که موږ دغه حدود رعایت نه کړو زموږ او د ظالم گرگین د پوځیانو تر منځ توپیر به په څه کې وي؟

درنو قومي مشرانو او غیرتي ځوانانو! که د خدای مرسته غواړئ، نو د خدای د محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم ښودلي اصول باید رعایت کړئ، که څوک دغه اصول نشي

رعایت کولای دروازه یې پر مخ پرانیستې زموږ دغه سپېڅلی غورځنګ دې نه بدناموي.
وروسته میرویس خان د انجیل یو ټوک له یوه طلایي صلیب سره په لاس کې اوچت کړ وې ویل:

ښاغلیو! دا د انجیل کتاب او دا د صلیبیانو ځانګړې نښه د ګرګین له درباره او د دوی له کورونو لاسته راغلي، ددې معنا دا ده چې ګرګین او یوه زیاته برخه پوځیان او قوماندانان یې عیسویان او د دین دښمنان وو. دوی هم د اصفهان دربار ته دوکه ورکړې وه او هم یې زموږ ولس ته غوښتل دوکه ورکړي. الله تعالی نن تاسو ته پر دښمن لوی بری درکړ، خو دغه بری او ویاړ مو په ذلیلانه هوسونو مه بربادوئ.

د خپل مشر وینا کسانو په تکبیرونو تایید او بدرګه کړه. وروسته یې د شهیدانو او د دښمن د مړیو خاورو ته سپارلو په باب هدایات ورکړل، چې ټول د خپلو ور سپارل شویو دندو په لور لاړل، له یحیی خان نه یې وپوښتل:
د نورمحمد جان او نورو ټپیانو احوال مو اخیستی د یو څو تنو یې وضعه ډېره خرابه وه؟
هغه ځواب ورکړ:
بلال تري راغلی، یو ساعت مخکې یې احوال راوړ، د شپې په مزله کې په عذاب شوي وو، دوه تنه یې شهیدان شوي دي خدای یې دې وبښي، خو نور د نورمحمد جان په شمول ان شا الله مخ په رغېدو دي. بیا یې زیاته کړه:
وروره ټپیان که سیوري ته یوسو، بېغمه به شو.... میرویس خان یې خبره ور غوڅه کړه:

نه، نه! نور دلته تر څو میاشتو هېڅ خطر نشته، اصفهان دومره زر کندهار ته پوځونه نشي رالېږلی بېغمه اوسه، تر هغو پورې به که د خدای رضا وه ټپیان ټول روغ شي.... ته دومره وکړه چې یو ځل یې پخپله احوال واخله، ورشه، که دارو درملو ته اړتیا وي، اوس خو دلته هرڅه پرېمانه دي در سره وایې خله!
یحیی خان چې لاړ میاجي او بهادرخان اندړ هغه ته ور نژدې شول میاجي ورته وویل:
مشره د مشرانو په خپګان خبر شوې؟
ـ هوکې، خبر شوم خو میاجي زه د چا په خوشالولو خدای نشم خپه کولای.

مشره، په ایمان دې افرین شه، بیا یې بهادر خان ته مخ واوړاوه زیاته یې کړه:
بهادرخان شاهد دی، تاسو چې د هزاره جاتو او پښین په سفر کې واست دلته څو ذلیلو مشرانو له خسرو خان سره تار اچولی و، موږ هغه مهال مناسبه نه بلله چې درته ووایو، دا ن چې کوم مشران خپه شول او کورونو ته ستانه شول دوه تنه یې هماغه کسان وو چې خسرو ته یې د ښار د یرغل او د خپلې همکارۍ ژمنې ورکولې.

میرویس خان په موسکا وویل:

میاجي خدای غیرتي او حکیم ذات دی. نور یې هېڅ ونه ویل.

د گرگین د پوځي قوماندانانو د برخلیک پرېکړه لا نه وه شوې چې د ښار د باباولي دروازې مخې ته اوه تنه را وځړېدل، دوه ویشت تنه نور پر دُرو له وهلو وروسته د قیتول د برج په تل خونه کې بندیان شول.

*****

دویمه ورځ یارمحمدخان او میرعبدالله خان ته د گرگین د وژل کېدو او د کندهار د پوځي چونۍ د فتحې خبر ور ورسېد، د میرویس خان وراره سمدستي له خپلو کسانو سره د الکساندر میرزا له پوځه بیل شو، د گرجیانو په پوځ کې لویه غوغا گډه شوه، خو دالکساندرمیرزا زړه ته نه لوېده چې د زرگونو پوځونو او ښو وسلو سره دې گرگین خان وژل شوی او کندهار دې د دوی له واکه وتلی وي. هغه دا هرڅه اوازه وبلله سمدستي د کندهار په لور را وخوځېدل. د لارې په اوږدو کې بلوڅو او کاکړو خال خال غلچکي بریدونه پرې وکړل، چې دوی ته یې مرگ ژوبله هم اړوله، خو له کومې لویې جگړې پرته اته ورځې وروسته کندهار ته را ورسېدل.

دالکساندر میرزا شاو خوا څلور زره پوځ د کلا سهیلي دروازې ته مخامخ واړول، دوی چې د ښار پر برجونو د صفوي ټولواکۍ بیرغونه ونه لیدل وپوهېدل چې څه یې اورېدلي وو هغه ټول ریښتیا وو. میرویس خان د استازي پر خوله پیغام ور واستاوه او ورته وې ویل:

د کندهار ولس د گرگین د ظلمونو پر خلاف پاڅون وکړ او د خدای په فضل او کرم بریالی شو، د اصفهان دربار هم د گرگین له ظلمونو خبر و او ډېرو درباریانو غوښتل چې دغه ظالم له منځه لاړ شي. اوس تاسو دوې لارې لری، یو دا چې د گرگین مړی د **هغوی له بال او بچ سره** در سره واخلئ او اصفهان ته ستانه شئ، موږ له اصفهان سره دښمني نه غواړو، دویمه لاره جگړه ده، که د جگړې لاره غوره کړې ډاډه اوسه له بربادۍ پرته بل برخلیک نه لرې.

الکساندرمیرزا چې له پخوا څخه سخت وېرېدلی او د گرگین وژل کیدو یې مورال سخت ځپلی و، د خان لومړی وړاندیز یې ومانه، د گرگین مړی او د هغه او نورو گرجي پوځیانو ښځې او ماشومان یې ور سره واخیستل او د هرات له لارې اصفهان ته وخوځېدل.

په هماغه ماسپښین میرویس خان ته خبر ورسېد چې د الکساندر میرزا پر پوځ د شاوخوا ولسي خلکو لخوا سخت بریدونه پیل شوي او درنه مرگ ژوبله ور اوښتې، میرویس خان داوود خان هوتک او څو تنه نور ځوانان له دې پیغام سره واستول چې پر هغوی بریدونه ونه کړي، خو څو دغه پیغام رسېدو، د اصفهان قزلباشو او گرجي ځواکونو ته درانه د سر او مال زیانونه اوښتي وو. د گرگین له وژل کېدو او د کندهار د پوځي کلا له لاسه وتلو سره گرجي او قزلباشو زیاتو پوځیانو ته نور کندهار زرینه مرغۍ او د ولجو او هوسونو تر سره کېدو نوم نه و، دوی پوهېدل چې بختور وو چې د مرگ له تور او وهمناک کومي نه ژوندي را ووتل، نه یې غوښتل چې بیا داسې د مرگونو څېره له نږدې ووینې، یو بل ته یې ویل:

بخت هرځل له چا سره یاري نه کوي، که داځل ور سره مخامخ شوو پر خپل برخلیک د اوښکو تویولو فرصت به هم ونه مومو؛ ځکه یې یوه زیاته برخه د لارې په اوږدو کې وتښتېدل او خپلو کورونو ته ستانه شول.

د الکساندر میرزا د پوځ له وتلو وروسته د کندهار ستره بریا بشپړه شوه، ولس دغه ستر بری د ډولونو په غربا پر اتڼونو بدرگه کړ. له غزني تر فراه او نیروزه ولس د خپلواکۍ نماځلو ته را ووت.

د کندهار له بشپړې بریا یوه میاشت تېره شوه، خوښۍ ونمانځل شوې، ټپیان بېرته روغ او ټپي زړونه تر ډېره ټکور شول، میرویس خان کوکران ته راغی، خپلو نژدې کسانو ته یې بېلابېلې دندې وسپارلې، له ځینو مشرانو سره په مشوره یې یو پیغام د خپل وراره حاجي نور محمد خان په لاس چې اوس رک روغ شوی و د کابل مغلي حکومت ته واستاوه او له ډیلي سره یې د دوستانه اړیکو هیله کړې وه، بل پیغام یې د اصفهان دربار ته واستاوه چې په هغو کې یې ډاډ ورکړی و چې دوی اوس هم له اصفهان سره دوستۍ ته وفادار دي. د ډیلي مغلي واکمنو نورمحمدخان ته په ښکاره ډېر عزت ورکړ، سوغاتونه یې ورکړل، او ښه په درناوي یې وپاله، خو د وضعې په انتظار شول چې د اصفهان غبرگون معلوم کړي.

*****

د اصفهان شاهي ماڼۍ په تالار کې وضعه ډېره بدله وه، هماغه پخوانۍ ښکلې غالۍ غوړېدلې وې، پر دیوالونو د صفوي ټولواکۍ د تیرو شاهانو داسې تصویرونه را ځړېدل چې د دوی د شاهانه دبدبې ښکارندوی وو، د دربار د حاضرینو په جامو او پگړیو کې هماغه گرانبیه غمي ځلېدل چې پخوا وو، په زرینو جامو کې غلامان له اوږدو نیزو او تورو سره پر خپلو ځایونو ولاړ وو، خو د دربار د حاضرینو پر څېرو د ویر نښې وې، د هڅه یې کوله چې حواس یې پر ځای شي، پر تندي یې د خولو څاڅکي له ورایه ښکارېدل، ملاباشي محمد حسین له غوسې تور اېشېده، خسروخان چې نوی د گرجستان د والي په توگه ټاکل شوی ومخ او ږیره یې پر اوښکو لانده وو، سترگې یې د وینو د پیالو په څېر تکې سرې اوښتې وې. اعتماد الدوله ډېر پرېشانه او وارخطا ښکارېدو، همدا ماښام الکساندر میرزا د گرگین له مړي او د زرگونو پوځیانو د وژل

کيدو له خبر سره را رسېدلی و. له دې سره نه يوازې شاهي دربار بلکې ټول اصفهان د وير او ماتم پر ټغر ناست و.

د دربار چوپتيا د خسروخان ژړا ماته کړه، په ژړا کې يې وويل:

زما د تره خبره چا نه اورېده، له ميرويس نه مو پخپل لاس اتل جوړ کړ.

شاه حسين هغه ته خومارې سترګې ور واړولې:

ته صبر وکړه، د شهنوازخان بدل نه پاتې کيږي. د صفوي ټولواکۍ د پوځي د هر څاڅکي وينې په بدل کې به ميرويس درنه بيه ورکوي!

ملاباشي په ګيله وويل:

اعليحضرته! ما تاسو ته په ټينګار وويل چې د ميرويس ارادې خطرناکې دي، هغه ماته ډېر برالا د امامانو دښمنان ستايل، ويل يې د شيعه او سني مساله ستاسو خپله ده زموږ په وطن کې دغه ستونزه نشته. اخر ددې خبرې معنا څه ده؟

خسروخان د ګرجستان والي وويل:

نور زه صبر نشم کولای، زه مې د کاکا کسات پخپله اخلم، که اعليحضرت د پوځ مرسته را سره کوي که نه، د ګرجستان ځوانان به دومره نامردي نه کوي چې د خپل لوی واکمن د وينو پور پرېږدي. بيا يې يو دسمال سترګو ته ونيو او ژړا ته يې زور ورکړ.

ملاباشي فرصت مناسب وليد، اوسپنه يې ګوزار ته جوړه ليده وې ويل:

اعليحضرته! د جناب بيګلربيګي قاتل ستا په دربار کې ناست دی.

اعتماد الدوله را څک شو، د هغه موخه همدی و، ده په ځواب کې وويل:

د ګرګين قاتلان هغه څوک دي چې نوموړی يې په لوی لاس د مرګونو کندې ته ور ټېل واهه.

ملاباشي وويل:

نه ښاغليه! د اصفهان بيګلربيګي ميرويس وژلی، هغه چا چې تاسو به يې په دربار کې سپارښتنې کولې. د ميرويس سوغاتونو ستا پر سترګو پردې غوړولې وې.

تصادفي په دې ورځ مير محمد حسين ملا باشي هغه ورېښمينه چپنه اغوستې وه چې ميرويس خان هغه ته ډالۍ کړې وه، اعتماد الدوله دده چپنې ته اشاره وکړه وې ويل:

ښاغليه ملاباشي! په چپنه کې خو يې ته په دربارونو کې خمتمه ناست يې.

ملاباشي پر دې ډېر خړ شو بيا جګ شو غوښتل يې چينه وباسي وې ويل:

زه دغه لعنتي چينه همدا اوس اور ته غورځوم.

خو پاچا د لاس په اشاره هغه ته د کيناستو حکم وکړ. ملاباشي کيناست، خو له شرمه يې سر ښکته واچاوه.

دغه مهال خواجه سرا او د پاچا خاص اردلي محموداغا له يوه وړوکي صندوق سره دربار ته ور ننوت، له سلام وروسته يې يو کاغذ له هغه صندوق سره په دواړو لاسونو شاه حسين ته ونيو وې ويل:

اعليحضرته! له کندهار نه د ميرويس خان پيغام له ځانګړې ډالۍ سره را رسېدلی دی.

له دې سره د دربار ټول حاضرين څک شول، د شاه حسين سترګې د لومړي ځل لپاره ښېړې وغړېدې، اعتماد الدوله ته يې اشاره وکړه:

واخله ولوله څه پيغام او ډالۍ يې را لېږلي.

ملاباشي وويل:

بيا به يې د دوکې او ټګۍ لاپې کتار کړې وي.

اعتماد الدوله فتح علي خان ليک پرانيست، ميرويس خان شاه حسين ته له درنو القابو او درناوي وروسته ليکلي وو:

اعليحضرته! ما چې کومې اندېښنې درلودې او تاسو ته مې يې يادونه کړې وه، هغه ريښتيا شوې، ګرګين خان زما مشورې ونه منلې، ظلمونو ته يې دوام ورکړ، د کندهار ولس له ماليې ورکولو انکار وکړ او د ده پر خلاف را پورته شول، ګرګين يې وواژه، خو ما د هغه مړی له بال او بچ، د نورو پوځي مشرانو له اولادې او مېرمنو سره اصفهان ته در واستول، زه هڅه کوم چې وضعه را قابو کړم. له اصفهان سره د وفادارۍ ژمنه کوم. له اصفهان سره د دوستۍ او ښو اړيکو په هيله يم، څومره چې زر دغه جنګي حالت ختم شي هومره د کندهار او اصفهان دواړو په خير دی.

اعليحضرته! زه تاسو ته يوه ډالۍ چې د ګرګين او د هغه د نږدې قوماندانانو له کورونو لاسته راغلې در لېږم، هيله لرم چې دا به له تاسو سره د ګرګين خان په پېژندلو کې ډېره مرسته وکړي. په درناوي.

(د کندهار د ولس کلانتر، میرویس خان)

د لیک له لوستلو وروسته اعتماد الدوله د لرگین صندوق سر پوښ لرې کړ لاس یې ور وړاندې کړ، یو په خړ پوښ کې کتاب او څو د سرو او سپینو صلیب نښانونه یې ترې را وایستل، اعتماد الدوله وویل:

اعلیحضرته! دا کتاب انجیل دی. په دربار کې د حاضرو کسانو تر منځ گونگوسي را پورته شول.

د لیک لوستلو پر مهال د خسروخان له سترگو د اوښکو باران اورېده، چې انجیل او صلیبونه یې ولیدل ډېر پرې خوړین شو، وروسته یې په غریو نیولي غږ وویل:

اعلیحضرته! د اصفهان دربار د دغه سړي د خوږې او پستې ژبې تر اغیز لاندې دوکه وخوړه، اوس بیا دوکه راکوي.زما مظلوم کاکا په مرگ هم نه دی ترې خوندي.

ملا باشي میر محمد حسین او حکیم باشي رحیم خان د هغه خبرې تایید کړې، پاچا ته یې وړاندیز وکړ:

اعلیحضرته! د میرویس خان په نرمه نور باید تېر نه وزو، باید خسروخان د پوځ لوی سالار وټاکل شي او سمدستي له یوه لوی پوځ سره کندهار ته واستول شي، د صفوي ټولواکۍ غرور او ستاسو تاج په خاورو کې پروت دی، باید بېرته پر ځای شي.

شاه حسین د دربار وضعې ته په پام وویل:

زه ستاسو ټولې مشورې منم، خسروخان د پوځ د لوی سالار په توگه ټاکم، امر ورته کوم چې سر له اوسه تیاری ونیسي، خو دې ته مو پام وي چې میرویس خان په تش لاس زموږ بیگلربیگي وواژه، زموږ تر شل زره زیات وسله وال پوځ یې تار او مار کړ، اوس هغه تش لاس نه دی، د یوې لویې بریا غرور لري او په زرگونو وسلې یې لاس ته لوېدلې، هغه نور پرونی میرویس نه دی.

خسروخان په غریو نیولي غږ وویل:

اعلیحضرته! که د اصفهان ټولواکي د یوه یاغي د ماتولو توان نه لري، نو بیا خو هرڅه ختم دي.

اعتماد الدوله چې تر اوسه چوپ و د لومړي ځل لپاره یې د خبرو جرئت وکړ:

د اعلیحضرت خبره پر ځای ده، ټولواکی په احساساتو نه جوړېدای شي او نه ساتل کېدای شي، موږ باید د پرون غلطی نن بیا تکرار نه کړو.

خسروخان، ملاباشي او حکیم باشي، اعتمادالدوله ته د کرکې په نظر وکتل، خسروخان، شاه حسین ته وکتل وې ویل:

اعلیحضرته! له جناب اعتماد الدوله نه خو دا ځواب وغواړه چې ولې یې د میرویس خان دومره ننګه کوله؟

اعتماد الدوله ځان خبرې ته جوړاوه، خو پاچا لاس اوچت کړ، په غوسه یې وویل:
تیرې خبرې مه را سپړئ،، ناندرۍ پرېږدئ، اوس اصلي مسالې ته راشئ.
اعتماد الدوله وویل:

زه د ګرجستان د ښاغلي والي په غم کې شریک یم. خو دا یوازې د یوه بیګلربیګي او یا څو زره پوځونو د وژل کېدو خبره نه ده. د اصفهان غرور او حیثیت تر پښو لاندې شو.

د اصفهان د دربار د ننه وضعه تر پخوا زیاته ناندریزه شوې وه، د اعتمادالدوله د دې خبرو په ځواب کې خسروخان بیا وویل:
د اصفهان د دربار ابرو او عزت هغه چا تر سول لاندې را ووست چې د میرویس خان دفاع یې کوله او شاهي فرمانونه یې ور ته اخیستل.
دا پر اعتمادالدوله مخامخ اعتراض و، هغه یې په ځواب کې وویل:
نه ښاغلیه، دا دهغه چا ګناه ده چې د کندهار وضعه یې غلطه ارځوله. د شاهنوازخان اروادې ښاده وي. هغه اوس ژوندی نه دی، زه پر هغه اعتراض اوس مناسب نه بولم، خو د کندهار پاڅون خپل خاص دلایل لري، که د اعلیحضرت مزاج نه درنیږي، دا ګستاخي دې را وبښي چې ماته نور کندهار له لاسه وتلی ښکاري.
د شاه حسین تندی تریو شو وې ویل:
نه، دا لومړی ځل نه دی چې په کندهار کې زموږ بیرغ را نسکورېږي، خو ډېر زر بېرته پرې رپېدلی وي.
اعتماد الدوله فتح علی خان وویل:

اعلیحضرته! دا ځل له پخوا سره ډېر توپیر لري، پخوا کندهار د ډیلي پوځونو نیولو، یو ځل جعفرخان بلوڅ لاندې کړ، هغه مهال د کندهار ولس مشر نه درلود، کله به د ډیلي استازی بریالی شو او کله د اصفهان، په دې لاس په لاس کېدو کې د کندهار د ولس هېڅ رول نه و، داځل دې ولس پاڅون کړی او یو داسې مشر لري چې ولس یې تر شا ولاړ دی.

هغه د میرویس خان نوم وا نه خیست خو ټول وپوهېدل، ملاباشي خوله کږه کړه وې ویل:

دی اوس هم زموږ د قاتل ستاینې کوي.

شاه حسین د دوی خبرې ور لنډې کړې:

نور چوپ شئ، بیا یې خسروخان ته وویل:

ته تر دې وروسته د صفوي ټولواکی د پوځ ستر سالار یې، ورځه پوځ دې تیار کړه، زما نصیحت دې په غوږ کې ساته، اعتماد الدوله ته یې مخ ور واړاوه:

ته یو مناسب څوک کندهار ته واستوه، چې د میرویس خان ارادې معلومې کړي. هغه سمدستي پاڅېد لاس په نامه ودرېد، وې ویل:

اعلیحضرته! ماته ددې کار لپاره د هرات تر حاکم محمدخان بلوڅ بل مناسب سړی نه ښکاري که دې خوښه وي چې هغه ته پیغام ولېږم چې کندهار ته لاړ شي.

- هغه پر څه درته مناسب ښکاري؟

- محمدخان د حج په سفر کې له میرویس خان سره ملګری شوی و، یو څه انډیوالي او دوستي یې تر منځ شته. کېدای شي خبره یې پرې اغیزه وکړي.

پاچاوویل:

ډېره ښه ده احوال ورکړه، چې لاړ شي.

ملاباشي په خبرو کې ور ولوېد:

د هرات پر حاکم باور شته؟

د اعتماد الدوله په شمول د دربار حاضرینو د ملا باشي له خبرې دا معنا واخیسته چې د اعتماد الدوله پر انتخاب څومره باور کېدای شي. خو شاه حسین وویل:

زموږ اصلي کار د پوځ تیاری دی، تر هغو چې استازی بېرته را ستنیږي زموږ پوځ به تیار شوی وي.

ملاباشي بیا وویل:

د ټولواک عمر دې ډېر وي، زه تر دې مناسب کس نه پېژنم چې د اصفهان د استازي په توګه یې کندهار ته واستوئ.

ـ هغه دې هم لاړ شي.

پاچا دا وویل نور جګ شو د حرم خاصې خونې ته یې پښې وڅپولې ولاړ او دربار ړنګ شو.

*****

د هند او اصفهان دربارونو ته د ښه نیت پیغامونو له استولو سره میرویس خان پر دې ښه پوهېدو چې هغوی یوه ته هم د دوی خپلواکي د زغم وړ نه ده، د ډیلي او اصفهان تر منځ د کندهار پر سر شخړې راغلې وې، خو د دواړو هېوادونو تر منځ ځانګړې دوستانه اړیکې هم وې، همایون چې له سوري شېرشاه نه وتښتېد، په اصفهان کې یې پناه واخیسته، همدغسې چې کله پر صفوي واکمنو سختې ورځې راغلې، مغلي هند غېږه ورته پرانیستې وه، په بلخ او بدخشان کې د شاهجهان پوځونو د ولس عامه وژنه پیل کړې وه خو د بلخ د واکمن، نظر محمد خان کورنۍ او بال بچ په ډیلي کې د مغلي واکمنو په غېږ کې په عیش او نوش بوخت وو؛ میرویس خان پر دې ټولو نزاکتونو ښه پوهېدو ځکه یې بله لویه جرګه را وبلله. هر لورته احوالونه واستول شول، دوې اونۍ تېرې وې چې یحیی خان راغی میرویس خان ته یې احوال ورکړ چې د فراه او نیمروز مشران راورسېدل، د مخه مناسب ځای ورته ټاکل شوی و، دوې ورځې وروسته د کابل او غزني او ورپسې د ژوب او پښین مشران هم را ورسیدل، نه یوازې د قومونو استازي او مشران راغلل بلکې له هر لوري په سلګونو وسله وال ځوانان له اتڼونو او ډولونو سره کندهار ته راټول شول. جرګه جوړه شوه، میرویس خان مشرانو ته د خپلواکۍ مبارکي ورکړه وې ویل:

(خپلواک ژوند زموږ حق دی، ددې لپاره مو قرباني ور کړه، ومو گټله چې زه يې خپل
ولس او مشرانو ته مبارکي وايم.

درنو مشرانو! پردې بايد باور ولرو چې د اصفهان او ډيلي په دربارونو کې ډېر داسې
کسان شته چې زموږ خپلواکي نشي زغملای، زموږ پر خلاف به خامخا يو څه کوي.
ماته له اصفهان نه احوال راغلی چې د گرگين وراره خسروخان د گرگين د کسات لپاره
گومارل شوی دی، پوځونه را ټولوي او نوموړی اوس د پوځ سالار ټاکل شوی دی. خو
زه تاسو ته دا وايم که ماته لاس راکړی او د هېواد د ساتنې په سپېڅلي کار کې را سره
ملگري اوسی، ان شاالله هېڅ دښمن به هم پر موږ بريالی نشي.
ميرويس خان يو ځل بيا پر مشرانو غږ وکړ چې دښمن تل زموږ په منځ کې د کمزوري
ايمان خلک په تمه کوي او نفاق ته لمن وهي. د دښمن دې دسيسې ته به ډېر پام
کوئ.)

خان په پای کې وويل:
راځئ نړۍ ته دا ثابته کړو چې موږ ژوندی او با غروره ولس يو د پرديو تر واک لاندې
ژوند نشو کولای او د ازادۍ لپاره هر ډول قربانۍ ته تيار يو.
له هرلوري غږونه اوچت شول: موږ تيار يو، ته مو مشر يې ته مو سردار يې هر حکم ته
دې لبيک وايو.
وروسته ميرويس خان د جرگې گډونوالو ته وويل:
خدای شاهد دی چې ما او ملگريو مې کومې هلې ځلې کړې د پاچاهۍ او واکمنۍ
لپاره نه وې، زما همدغه وياړ بس دی چې ولس مې ملي مشر او (بابا) بولي، بيا يې
زياته کړه:
زما مشرانو او د قام استازيو! له ټولواکيو سره مقابله داسې ساده خبره نه ده، موږ په يوه
اتفاق صفوي واکمني را نسکوره کړه، خو د خپلواکۍ ساتنه لا سخت کار دی، موږ بايد
پوځ ولرو نظام ولرو، او د لويو حکومتونو په څېر اداره او مسولين ولرو. راځئ له دې
قبيلوي حالته را ووزو، داسې نظام او اداره جوړه کړو چې ټول ولس د يوه نظم تابع
شي.

جرگې د خپل مشر ټول وړاندیزونه ومنل، د نوي نظم لپاره بابوجان، بهادر خان، سیدال خان او ځو تنه نور وګومارل شول.

درې اونۍ وروسته بابو جان بابي، سیدال خان او بهادرخان په نارنج ماڼۍ کې میرویس خان ته خپل راپور وړاندې کړ:

...لس زره ځوانان راټول او غنیمتي وسلې پرې ووېشل شوې، پوځي چوڼۍ او اوه واړه برجونه ورغول شول، پرېمانه غلې را ټولې او لوی ګودامونه ترې ډک شول...

میرویس خان خوشاله شو بیا یې هغوی ته وویل:

غلې نورې هم راټولې کړئ، خلکو ته هم ووایئ چې څومره کولای شي خپل کندوګان ډک کړي، سختې ورځې مو په مخکې دي.

هغوی رخصت شول، میرویس خان د تالار کړکۍ ته راغی لرې غرونو ته یې کتل، د تالار پر دېوالونو او غولي یې نظر راو ګرځاوه، هغه ورځې یې سترګو ته ودرېدې چې دلته به ګرګین دربار جوړ کړی و، زیات وخت به په نشه کې زنګېدو، ور په یاد شول چې دلته به د سرود او نڅا محفلونه تاوده وو، دلته به د بدمستو ګرجیانو په لاس د ولس پر شملو او عزت لوبې کېدې، میرویس خان ته هغه سپېره وختونه سترګو ته ودرېدل، بیا یې پورته وکتل، لاسونه یې لپه کړل...یا الله ! ستا له رحم او کرم قربان، یا مهربانه ربه! د دې لوی نعمت د ساتنې همت او توان راکړې. میرویس خان عجیب احساس درلود، لکه مسافر چې له اوږدو مزلونو وروسته د کور پر درشل پښه کېږدي، لکه د تیاره او وهمناکې شپې نه وروسته چې لمر ځرک ووهي، اوږده ساه یې واخیسته، بیا یې په عجز له خولې ووتل:

یا الله ددې نعمت د ساتنې همت او توان راکړې.

تر دوو پېړیو وروسته په کندهار کې د افغانانو د خپلواک حکومت لومړنۍ خښتې کېښودل شوې، له تندر نیولي هېواده سوکه سوکه د تیارو پېڅول ور ټول شول.

*****

میرویس خان په نارنج ماڼۍ کې له خپلو ملګرو سره ناست و چې وراره یې یار محمد خان احوال ورکړ، د اصفهان د دربار استازی راغلی دی.

د محمد شامي په نوم استازی راغی، د شاه حسین د دوستۍ پیغام یې میرویس خان ته ورساوه، په پیغام کې ویل شوي وو چې که میرویس خان د اصفهان اطاعت وکړي، ټولواک د ګرګین او پوځ د وژلو له سزا تېر دی. وروسته یې استازي خان ته د صفوي حکومت د ځواک او زور په باب وویل:

ستاسو دغه کار د زمري په خوله کې د سر ننه ویستو په مانا دی، له دومره لویې ټولواکۍ سره ډغرې وهل کله د ولس په خیر دي؟

خان وپوهېدو چې د اصفهان اصلي پیغام همدغه دی، محمدجامي ته دنده سپارل شوې وه چې د میرویس خان ارادې کمزورې کړي. میرویس خان خپلو باوري ملګریو، حاجي عثمان او عظم الدین ته دنده وسپارله چې نوموړی وڅاري او که وتوانیږي نیت یې معلوم کړي.

محمدجامي په څه پلمه ووت او په ښار کې به ګرځېدو، حاجي عثمان په لومړۍ ورځ میرویس خان ته احوال راوړ چې نوموړي په ښار کې د ایرانیانو او قزلباشو پوښتنه کوله، له دوو تنو سره یې ولیدل هم، خو چې څه یې سره ویلي وو عثمان پرې نه و خبر شوی.
درېیمه ورځ میرویس خان هغه ور وغوښت او ورته وې ویل:
تا د اصفهان پیغام راوړی او که یې د تخریب لپاره را استولی یې؟
محمدجامي وپوهېدو چې تر څارنې لاندې و او دا یې غلطي وه چې بې وخته یې ځان رسوا کړ. بیا یې هم غوښتل خبره تېره کړي، خو میرویس خان خپلو کسانو ته وویل:
دی سیدال خان ته وسپارئ ور ته ووایئ چې د قیتول په تاکاوی کې یې وساتي.
محمد جامي میرویس خان ته زارۍ پیل کړې:

پرې مې ږده همدا نن به له کندهاره ځان ورک کړم. خو زاریو یې ځای ونه نیو څو وسله والو کسانو د ملی مشر له مخې اوچت کړ، چې تر تالار یې د باندې ویوست تر لغتو او

سوکانو لاندې یې سابه ور په مالگه کړل. نیم ساعت وروسته هغه د قیتول د لوی برج په بوه تیاره تاکاوۍ کې پروت و.

خو ورځې نه وې تېرې شوې چې د هرات حاکم د اصفهان د استازي په توگه کندهار ته راغی.

میرویس خان د اصفهان د کوم بل استازي انتظار کاوه خو دا یې په خیال کې نه ور تېرېدل چې دا ځل به دده د حج د سفر او مراسمو ملگری محمدخان بلوڅ د شاه حسین د دربار د استازي په توگه ورته راځي.

محمد خان دغه دربار ته د گرگین د واکمنۍ پر مهال هم راغلی و، په خیال کې یې هماغه کش او فش سترگو ته ولاړ و، خو چې دربار ته ور ننوت، هک پک ودرېد. نه د غلامانو کتارونه وو او نه د زرینو جامو خاوندان، نه پر دېوالونو داسې مننظرې تینگې وې، چې د شاهي دبدبې او عیش او نوش ښکارندویې وي، او نه هغه تخت و چې گرگین به له فرعوني غرور سره ډډه پرې اچولې وه، وړاندې میرویس خان په خپله پخوانۍ جامه او څېره کې پر یوه توشکه ناست و، تر څنگ یې میاجي، یونس خان کاکړ، بهادرخان او څو نور مشران ناست وو. د شاهي دربارونو نښه نه وه خو په همدې سادگۍ کې محمدخان یو داسې رعب او سام احساس کړ چې پخوا یې تصور هم نه کاوه.

میرویس خان ور جگ شو، د پخوانۍ دوستۍ په سبب یې تود هرکلی ورته ووایه، چې کیناستل تر پوښتنې وروسته یې د حج د مراسمو سپېڅلې وختونه سره یاد کړل. تر تشریفاتي خبرو وروسته محمد خان وپوښتل:
خانه! خبر شوم چې اصفهان ته دې د وفادارۍ او اطاعت پیغام استولی دی.
میرویس خان لنډ ځواب ورکړ:
د اطاعت نه، د وفادارۍ او دوستۍ پیغام مې استولی دی.
-ما په کندهار کې ډېر ځوانان ولیدل چې پوځي مشقونه یې کول. ددې معنا بیا څه ده؟

میرویس خان په موسکا ځواب ورکړ:

ددې معنا داده چې موږ باید خپل پوځ او حکومت ولرو، موږ باید خپل وطن پخپلو متو او قربانۍ وساتلای شو. موږ ته د یوه ژوندي ولس په توګه دا ډېره د شرم خبره ده چې پردي را باندې واکمن وي.

محمدخان ورته وویل:

میرویس خانه! زه د اصفهان له لوري تاسو ته له دې پیغام سره راغلی یم چې باید د اصفهان اطاعت وکړې.

خان ځواب ورکړ:

موږ د وینو او قربانیو په بیه ګټلې خپلواکي چاته ډالۍ کولای نشو. له اصفهان سره دوستي غواړو خو غلامي نه!

محمدخان ظاهراً د خواخوږۍ په دود وویل:

له صفوي ټولواکۍ نه بغاوت به ډېره درنه بیه ولري.

میرویس خان وخندل محمدخان ته یې پر اوږه ټپ ورکړ وې ویل:

محمد خانه! چې د خپلواک ژوند خوند او غرور وګورې وبه منې چې په هره بیه ارځي.

د پردیو تر واک لاندې هېواد د تندر نیولي سپوږمۍ په څېر وي، چې د ژوند رنګ او خوند پکې پیکه او تیاره وي. موږ نور تر تندر تېر شوي یو، بیا یې هغه ته وویل:

که مې ته د حج د سپېڅلي سفر اندیوال نه وای سزا به مې خامخا درکوله. بیا یې خپلو ملګریو ته وویل:

حاجي صاحب به تر یوه وخته د میلمه په توګه در سره وي.

د هرات حاکم د اعتراض په دود وویل:

خانه ته مې اوس بندي کوې، دا د سفارتي اصولو خلاف کار دی.

میرویس خان ځواب ورکړ:

اصول تا مات کړل، ستا دریځ د ملي ګټو پر خلاف دی، زه نوره سزا نه درکوم خو دا فرصت هم نه درکوم چې اصفهان ته د کندهار رازونه ور وړې.

-دا به درته درنه پرېوزي.

-گورو به زموږ پر الله توکل دی، دا یې وویل او جگ شو، څو تنه راغلل، محمدخان یې ور سره ویوست.

*****

کندهار ته خبر راغی چې اصفهان د هرات نوي حاکم ته پر کندهار د برید امر کړی دی او ایراني څو زره کسیز پوځ پر کندهار د یرغل لپاره را روان دی. میروس خان له پخوا د اصفهان د همدغسې غبرگون په انتظار و، له میاجي، بهادرخان، بابوجان بابي او سیدالخان سره په مشوره کیناست، میرویس خان وویل:

دښمن پرېږدو چې وړاندې راشي او که یې همالته مخه ونیسو؟

سیدالخان او بابو جان په یوه غږ وپوښتل:

د دښمن د پوځ شمېر څومره دی؟

میرویس خان ځواب ورکړ:

زما معلومات دادي چې د څلورو زرو تنو په شاوخوا کې دي.

بابوجان وویل:

بیا خو یې هرات ته نژدې مخه نیولای شو. میاجي او سیدال خان د هغه خبره تایید کړه.

میرویس خان وویل:

زه له دوو خبرو لږ اندېښنه لرم. یو داچې دښمن زموږ خپل قام او خلک پښنو ته را اچوي،

بل دا چې که په دې پیل کې زموږ د پوځ زیان زیات شي، د اصفهان به مورال لوړ او زموږ خلک به وارخطا شي.

سیدال خان وویل:

مشره چاره څه ده؟

-زه وایم چې دښمن ته داسې گوزار ورکړو چې بیا موږ ته د کاږه کتو جرئت ونه کړي.

ددې لپاره مناسبه دا ښکاري چې لار ورکړو چې وړاندې راشي.

ټول لږ په چورت کې شول بیا بابوجان بابي وویل:

مشره دا کار یو تاوان لري.

- څه تاوان!

-بې رحمه دښمن به د لارې په اوږدو کې ولس ور سره تر پښو لاندې کړي.

میرویس خان په تایید سر وخوځاوه، وې ویل:

ریښتیا وایې، تر ګټې یې تاوان ډېر دی زما دې ټکي ته پام نه و.

بهادرخان وویل:

پرې ورځو؟

- هوکې تیاری ونیسئ!

میرویس خان له خپلو لس زرو چمتو وسله والو نه یوازې دوه زره تنه د سیدال خان ناصري او بابوجان په مشرۍ د صفوي پوځ مخې ته ور واستول.

هرات ته نژدې د ایراني او افغان پوځ تر منځ سخته جګړه وشوه خو ایراني پوځ په سلګونو مړي د جګړې پر میدان پرېښودل او وتښتېدل، د ایراني پوځ دې ماتې د ولس مورال ډېر اوچت کړ، په یوه نیم کال کې څلور ځله اصفهان پر کندهار همدغسې بریدونه وکړل خو ټول مات شول.

وروستی ځل د یزد حاکم محمدخان د هرات له لارې له پینځه زره تنه پوځ سره یر غل وکړ، میرویس خان د داودخان هوتک په قومانده یو وړوکی پوځ د هغو مخې ته ور واستاوه، دوې اونې وروسته محمدخان او د هغه دوه زامن په جګړه کې ژوندي ونیول شول او کندهار ته یې لاس تړلي راوستل. کندهار د خپل تېر عظمت پر لور ور روان و، د پردیو د واکمنۍ شومې اغېزې ترې لرې کېدې، د ګاونډیو ټولواکیو سام او هیبت لمر ته د پراته کنګل په څېر شېبه پر شېبه اوبه کېدو.

*** ***

پاچا شاه حسین تر پخوا زیات په خومار کې ډوب ښکارېدو، سترګې به یې په ډېر زحمت وغړولې، په غوږونو دروند شوی و، خبره یې ښه نه اورېدله، ډېرځله به درباریانو داسې فکر کاوه چې حواس یې کار نه کوي. یوه خبره به یې څو څو ځله ورته تکراروله.

شاه حسین سره له دې چې ډېر زهیر شوی و خو هوسونه یې تر پخوا څو چنده یاغي شوي وو، د څو میاشتو په موده کې یې دوه نور ودونه وکړل، لومړی یې د کیخسروخان له لور فریده بیگم او ورپسې یې د حسین علي قاجار له لور خیر النسا بېگم سره واده وکړ. د هغه اوس ډېر وخت په خپل حرم کې تېرېدو، د شرابو په نېشه کې به ډوب و، دربار یې تر پخوا ډېر شړېدلی و. چې پر کندهار د لوی برید پرېکړه وشوه، خسروخان گرجي خاص څواکونه راوستل، پوځي او ملکي مشران دربار ته را ټول شول، ټول د شاه حسین د حکم په انتظار شول، هغه تر ډېره سترگې تر پښو لاندې پر تخت غوړېدلې غالی گنډلې وې، درباریان چوپ وو،

پاچا سر را پورته کړ، خسروخان ته یې وکتل، بیا یې اعتماد الدوله ته مخ ور واړاوه:

د کندهار خبره کوم ځای ته ورسېده؟

-اعلیحضرته! پوځ تیار شوی دی.

خسرو خان وویل:

اعلیحضرته! ما تر لس زرو زیات کسان له گرجستانه ستاسو په حکم را وستل، خو اوس دلته نورې خبرې پکې را پیدا شوې دي.

پاچا په پوښتونکي نظر هغه ته سترگې ور واړولې.

د اصفهان په دربار کې د پخوا په څېر د یو بل خلاف د توطئو بازار تود و، د شاه حسین د دربار توده مساله اوس کندهار و، ملاباشي میر محمد حسین چې د خسروخان د پوځ د سالار کېدو تر ټولو ستر ملاتړی و او دا د ده وړاندیز و، اوس یې پاچا ته دا تر غوږ ور تېروله چې یوازې گرجي پوځیان باید هلته لاړ نشي.

پاچا ملاباشي ته وکتل بیا یې وویل:

څه خبرې پکې را پیدا شوې دي؟

هغه په بېزارۍ د دربار نورو حاضرینو ته اشاره وکړه وې ویل:

اعلیحضرته! تاسو پخپله له دوی وپوښتئ.

-ملا باشي وویل:

اعلیحضرته! افغانان له گرجي پوځیانو ډېره کرکه لري، هغه انجیلونه دې ولیدل چې میرویس خان را استولي وو.

اعتماد الدوله وویل:

ـ جنابه! تاسو خو پخپله د پوځ د سالار په توګه د خسروخان وړاندیز وکړ.

ـ هوکې زه یې اوس هم ملاتړ کوم خو .....

شاه حسین لږ را ویښ غوندې شو وې ویل:

زه نور ستاسو له ناندریو او مخالفتونو ډېر ستومانه شوی یم. خبره لنډه کړئ پوځ تیار دی که نه؟

ـ اعتماد الدوله زر ځواب ورکړ:

تیار دی تیار دی، اعلیحضرته.

نو نور څه ته ماتله یاست؟

هېڅ نه یوازې ستاسو حکم ته انتظار یو.

ـ زما حکم دی پرې ورځئ!

لودین کتابتون
د کتاب

ملاباشي وویل:

اعلیحضرته! زما خبرې خدای خبر ولې غلطې تعبیر شوې، زه یوازې د ګرجستان پوځ کافي نه بولم.

ملا باشي د خسروخان په مخکې څه نه ویل، خو دهغه دلیل دا و چې که یوازې ګرجي پوځ لاړ شي او کندهار ونیسي، خسروخان به په یوه بل یاغي ځواک بدل شي.

بیا وروسته پردې پرېکړه وشوه چې د عباس قلي خان په مشرۍ د ایراني ځواکونو شپږ زره کسان او د قزلباشو او نورو قامونو تر پینځلسو زرو زیات پوځیان به له لس زرو ګرجي سرتیرو سره د خسرو خان په قومانده پر کندهار یرغل ته تیاروي.

خسروخان چې په دربارونو کې لوېدلی لوبغاړی و، د ځینو کسانو په مشوره یې د هرات حاکم ته احوال واستاوه چې زما تر راتلو پورې ابدالي مشران راته راټول کړه.

په اونۍ کې د نه تر دیرش زرو تنو زیات پوځ د مشهد له لارې هرات ته وخوځېد، صفوي ټولواکۍ د خپل واک او غرور اعاده غوښته، خو ګرجي پوځونه د خپل وژل شوي مشر د وینو په پور پسې را وتلي وو، درې اونۍ وروسته په هرات کې د پوځ په پړاو کې د هرات حاکم له څو تنو سره د خسروخان په مخکې ولاړ و.

***

***

میرویس خان په کوکران کې په خپل کور کې و، له دوو میاشتو وروسته یې دا په کور دویمه شپه وه، سهار له لمر څرک سره یو مول وهلی سپور راغی. هغه ته یې یو پیغام ورساوه او بېرته په تراټ د ښار په لور لاړ.

خان چې کور ته ستون شو له ورایه یې په څېره کې د پرېشانۍ نښې وې.

حسین او زینبې یې په بړیره او لونګۍ خپرې لګولې، خو محمود چې اوس هوښیار شوی و، په اشاره یې خپله خور او ورور منع کړل.

د سهار له ناشتې وروسته یحیی خان او څو تنه نور حجرې ته راغلل، میرویس خان چې حجرې ته ورغی، تر جوړ پخیر وروسته میاجي په ځیر خان ته وکتل وې ویل:

مشره په څه دې خاطر دروند دی؟

د میرویس خان پر شونډو ترخه موسکا وځغلېده وې ویل:

میاجي، د صفویانو له یرغل نه خو خبریاست؟

-هوکې، هغه خو د درې ورځې وړاندې خبره ده!

-ما چې کومه اندېښنه درلوده هغه ریښتیا شوه.

خانه، کومه اندېښنه؟

د صفویانو د منافقتونو او زموږ خپلو د جهالتونو او بې ځایه هوسونو په باب.

بیا یې زیاته کړه:

خسرو د حیات سلطان زوی عبدالله خان ابدالي له ملتان نه را غوښتی چې د صفویانو په ملاتړ زموږ پر خلاف وجنګیږي.

-عبدالله خان دا بلنه منلې ده؟

-هوکې هغه راغلی په هرات کې یې پینځه زره تنه وسله وال هم تیار کړي دي.

میاجي د تسلې په دود وویل:

مشره تاسو په وار وار پر ولس غاړه خلاصه کړې ده، که بیا هم څوک دومره ذلیل شي چې له دښمن سره دریږي، خدای به یې په کمه وي.

میرویس خان وویل:

خبره د غاړې ماړې نه ده، زه په دې شرمیږم چې نړۍ کوم ځای ته لاړه او موږ تر اوسه په کومو ذلتونو کې نښتي یو. پر دې خپه یم چې موږ ولې پخپلو کې لاس او ګرېوان وو، زموږ قام تر اوسه د ولس پر ځای په خیلونو کې نښتی، یو څو د پردو ځیره خواره یې پر اوږو ور سپاره وي، عام ولس قربانۍ ورکوي. اخر ولې؟

وروسته یې یحیی خان ته وویل:

بهادرخان، بابو جان او سیدال خان ته ووایه چې تر څلور پینځه زرو تنو پورې تیار کړي.

*****

کندهار ته د وسله والو ځوانانو بهیر را مات و، ډولونه غربېدل، څنې ور ته اوښتې، د وطن د ساتنې احساسات څپاند وو، وینې په رګونو کې خوټېدې، میرویس خان بیا هم په اندېښنو کې ډوب و، خپل پوځي او د سلا مشورې مشران یې راټول کړل هغوی ته یې په ټینګار ویل:

دا ځل دښمن ستر یرغل راوړي، ساده یې مه بولۍ، غلې خوندي زېرمه کړئ، وسلې تیارې کړئ، لوی تیاری ونیسئ، بیا نو توکل پر خدای.

سیدال خان ورته وویل:

مشره! غواړې دښمن د کندهار تر دیوالونو را شي؟

ـ نه، نه مخې ته به ورځو خو کیدای شي، د ښار تر څنډو راشي.

جهاندیده بابوجان او بهادرخان اندړ یې نظر تایید کړ:

دښمن دا ځل خپل وروستی زور ازمویي، په هواره کې جګړه ور سره ګرانه ده، باید په مورچلونو کې ورته ولویږو، په جګړه کې هرڅه پیښېدای شي.

سیدال خان وویل:

انشا الله مات به شي، د کبر کاسې نسکورې دي.

مشر وویل:

زما اندېښنه د عبد الله خان په باب ده.

یونس خان کاکړ وویل:

که لارې ته رانشي حساب به په لاس کې ورکړو.

میرویس خان په حسرت سر وخوځاوه:

هغه مو بیا هم هله او وجود دی، عذر به ورته وکړو، لمن به ورته وغوړوو، چې له جگړې مخ واړوي.

دوی په همدې خبرو بوخت وو چې حاجي عثمان حجرې ته ور ننوت. له سلام وروسته دروازې ته نژدې کیناست. خان په پوښتونکي نظر ورته وکتل:

خیرت خو دی وارخطا غوندې ښکارې.

-حاجي کاکا په ښار کې غیر معمولي وېره خپره ده.

د خسروخان له یرغل نه؟

هوکې! خو ما یو بل څه ولیدل.

میرویس خان چې تکیې ته ډډه اچولې وه را سم شو، سره له دې چې حاجي عثمان د شل دوه ویشتو کلونو خام زلمی و، خو عقل یې پوخ، نظر یې تېز او د زده کړو خاوند و، میرویس خان یې پر پوهه او هوښیارۍ باوري و. ترې وې پوښتل:

حاجي وراره څه دې ولیدل؟

ایرانیان او قزلباشان چې په ښار کې دي، د خسرو د پوځ په باب ډېرې اوازې دوی خپروي.

میرویس خان او نور د حجرې کسان تر څه ځنډه په چورت کې شول، بیا سیدال خان وویل:

مشره په هغو لومړیو ورځو کې مو در ته ویل چې دغه د لستوڼي ماران باید ورک کړو.

میرویس خان په موسکا ځواب ورکړ:

که مو شړلي وای اوس به د کسات لپاره ټول د خسروخان په لښکر کې بیا راغلي وو.

-که راغلي وای هم لوری به یې معلوم و.

میرویس خان وویل:

زه دا منم چې اوس به له دننه څخه هم یو څه اندېښنه لرو، خو هغه وخت بېل حالت و، موږ چې عامه ښښنه اعلان کړه او ایرانیان او قزلباش مو ونه شړل، دوه دلیله وو، یو داچې موږ غوښتل اصفهان ته د کندهار د بدلون ډېر تریخ تصویر ورنکړو، دا مو اړتیا وه.

دوهم ما له دې هم وېره درلوده چې که دغه خلک کوچ وکړي سر او مال به يې روغ پاتې نشي، ددې پړه بيا پر موږ لوېده.

حاجي عثمان د ميرويس خان پر خبره سترګې وګنډلې، په زړه کې يې ور تېره شوه...دغه سړی له نورو مشرانو او د ځواک له خاوندانو سره څومره لوی توپيرلري. هغوی په ارامۍ کې ارځښتونه نشي پاللی، دی يې په جګړه کې پالي.

ميرويس خان بيا وويل:

اوس زموږ دنده لږ نوره هم درنه شوه، بايد ټول پام يوازې خسرو ته وانه ړوو، دلته د ښار نظم هم مهم دی.

بيا يې ملګريو ته ځانګړې سپارښتنه وکړه:

لاړ شئ، خلکو ته ډاډ ورکړئ، احساسات يې ژوندي وساتئ. بيا پخپله هم ښار ته ووت.

*****

ميرويس خان په نارنج ماڼۍ کې له مشرانو سره د جګړې پر پلان وروستۍ مشورې پيل کړې، له اوږدو مشورو وروسته پرېکړه پر دې شوه چې د کندهار پوځي کلا او اوه واړه برجونه به ښه پیاوړي کوي، د اوږدمهاله جګړې تياری يې ونيو، د پوځي کلا ګودامونه يې له غلو دانو ډک کړل، خلکو ته هدايت وشو چې فصلونه ټول کړي، د هرات او کندهار د لارې په اوږدو کې کلي تر ډېره له خلکو تش کړای شول، له پلان سره سم د ميرويس خان په مشرۍ د خسرو خان مقابلې ته له کندهاره په نيمه شپه کې پوځ وخوځېد، بابوجان بابي، يحيی خان او بهادرخان اندړ ته د ښار د ساتنې دنده وسپارل شوه، د ښار اوه واړه برجونه او پوځي کلا له وسله والو ډک شول، سبا ته په ښار کې دا خبر خوله په خوله ګرځېدو چې ميرويس خان له زرګونو وسله والو سره د صفوي پوځ مقابلې ته ور روان دی. په فراه کې پوځ دوې برخې شو، داوود خان هوتک، د هلمند د سيند پر غاړه د صفوي پوځ مقابلې ته مورچلونه ونيول، مشر خان له عبدالله خان سره جرګې پيل کړې.

*****

د خسروخان د گرندي شپږزره کسیز پوځ قومانده د خسروخان د کاکا د زوی الکساندر میرزا پر غاړه وه، د دښمن پوځ راغی او د هلمند سیند پر غاړه یې واړول، پر بله غاړه د داوودخان هوتک ځواکونه مخامخ ورته پراته وو، د دوبي موسم و د سیند د مستۍ مهال تېر شوی و، د داوود خان پوځ چې چېرته مورچلونه ونیول هلته اوبه لږ وې او اسونه او گاډۍ له توپونو سره تېرېدای شول، دواړو لوریو پر یو بل له لرې ډزې کولې، خو تر اوسه یې تر منځ سخته جگړه نه وه شوې.

خسروخان د هېلمند سیند پر غاړه تر دوو اونیو پورې کرار پړاو اچولی و، کندهار ته یې پټ جاسوسان استولي وو د هغوی د احوال په انتظار و، یو سهار د خپل کاکا له زوی الکساندر میرزا سره ناست و د کندهار نقشه یې مخې ته غوړولې وه، هغه تر کندهاره لاره ورته تشریح کوله، خسرو په چوپه خوله غوږ ورته نیولی و.....تر سیند چې پورې وزو، تر کندهاره په لاره کې بل داسې خنډ نشته چې پوځ را ایسار کړي، د لارې په اوږدو کې له کلیو او کښتونو نه د پوځیانو او اسونو اذوقه او خواړه لاسته راوړای شو. چې ښار کلابند شي، زموږ خواخوږي او پلویان له دننه همکارۍ ته په دوو پښو ناست دي......

خسرو هغه ته پر شا ټپ ورکړ په خندا یې ورته وویل:
د کاکازویه! چې دومره اسانه ده؛ ته تر اصفهانه ولې را تښتېدې؟
-زما حواسو کار ونه کړ، په یوه دام کې ولوېدو، میرویس خان زموږ پوځ ځو ټوټې کړ، د کاکا د مرگ خبر را باندې درووند تمام شو، ته پخپله فکر وکړه چې د دښمن په منځ کې ناڅاپي داسې خبر واورې وار پار به خطا نه کړې؟
د خسرو پر شونډو مغرورانه موسکا راغله:
د کاکا زویه زه به دې خلکو ته ور وښیم چې د گرجستان د شاهي سردار وژل څومره درنه بیه غواړي!
د الکساندر پر شونډو ترخه موسکا تېره شوه وې ویل:
د کاکا زویه! یوه د زړه خبره درته کوم.
-وایه!

-دغه ولس په توره او میړانه کې زموږ تر ګرجیانو کم مه ګڼه لاچې ترې زیات دی.

-خسرو سترګې پورته کش کړې:

دا ګز او دا میدان!

-بله واوره!

-وایه!

-میرویس خان عادي مشر نه دی.

خسرو په ځیر الکساندر میرزا ته وکتل په زړه کې یې د هغه خبره تاییدوله، خو وې ویل:

ډارنه، بې غیرته! اوس د میرویس ستاینې را ته کوې.

هغه ورته وویل:

د کاکا زویه! زه او ته خو په زړه کې ښه سره پوهیږو چې اصفهان ته څومره وفادار یو، ګورګي څومره بېځایه سر وخوړ....له دې ولس سره دغرې زموږ لپاره څه ارځښت لاره....

خسرو په خپله لویه خیمه کې یوه او بل لوري ته وکتل، له دوو برچه پک پهره دارانو پرته دلته نور څوک نه وو، د هغه خبره یې بشپړېدو ته پرېښنبوده، وې ویل:

میرزا! نور په دې خبرو پسې مه ګرځه، افغانان زموږ د مشر د وینو پوروړي دي. نور ما او تا ته تر هغو ژوندي ګرځېدل شرم دی چې د ګورګي د وینو پور مو نه وي اخیستی.

-پوهیږم، پوهیږم، خو چې کاله ته مو مړي د ګورګي (ګرګین) په څېر شړېدلي ورنشي.

-د خسرو خان غرور یو ځل بیا څپاند شو:

دا خو پکې شته، په جګړه کې حلوا نه وېشل کیږي.

دغه مهال یو وسله وال خیمې ته ور ننوت پر ملا مات شو، بیا یې لاس په نامه ونیول وې ویل:

صاحب! کرم علي او ملګری یې راغلي دي غواړي په حضور مشرف شي.

د خسرو خان تندی وغوړېد، راوله زه د هغوی په انتظار وم.

وسله وال ووت او څو شېبې وروسته د خیمې پرده پورته شوه دوه تنه چې افغاني جامې یې اغوستې وې د ننه ور ننوتل.

له سلام او درناوي وروسته خسرو ورته وویل:

څه احول مو راوړی؟

له هغوی یوه تن چې د بلوڅو په څېر لویه پګړۍ یې پر سر وه وویل:

صاحبه! کوم کسان چې تاسو یې نومونه را کړي وو، یوازې کلچه پخوونکی مو پیدا کړ.

د نورو درک را معلوم نه شو.

خو د ښار د وضعیت په باب مو معلومات را ټول کړل.

الکساندر میرزا په ملنډو ته ورته لهجه ترې وپوښتل:

دا د ادې زامن مو څوک وو چې تاسو ته یې د ښار معلومات درکړل؟

کرم علي چې د الکساندر میرزا د پوځ سړی و وې ویل:

صاحبه! ما د مسګرانو په سرای کې یو انډیوال لاره هغه مې ولید ډېر رازونه یې راته وویل.

خسرو په تروه تندي ورته کړل:

رازونه دې له ځان سره ساته یوازې د ویلو خبرې راته وکړه!

...صاحبه! کندهار تش تور ولاړ دی خلک یې په اندېښنه کې دي، میرویس له پوځ سره دې لور ته راوتلی...

- دلته خو چې کوم پوځ دی، تر درې درېنیمو زرو زیات نه دي، نور یې چېرته دي؟

صاحبه! ملګري مې ویل چې په ښار کې ټول زر تنه نه دي، هغه ماته دروغ نه وایي.

- بیا به یې په لارو کې چېرته ځای پر ځای کړي وي.

- په لارو کې مو هم هېڅوک ونه لیدل. ان په کومو کلیو چې راتېر شوو داسې ښکارېدل چې کلي هم تش وو او خلک ترې وتلي وو.

خسرو او الکساندر یو بل ته وکتل، بیا خسرو را جګ شو وې ویل:

ځانونه برید ته تیار کړی همدا یې وخت دی.

کرم علي او ملګري ته یې وویل:

په تراټ ځانونه بېرته کندهار ته ورسوئ! الکساندر ته یې وویل:

دوی ته لازم هدایات ورکړه او پوځ دې یرغل ته چمتو کړه، خو پام کوه چې دښمن را باندې خبر نه شي!

الکساندر هک پک را پورته شو، له ځانه سره یې وویل:
دغه سړی چې داسې په بېړه تصمیم نیسي ځان دام ته ونه غورځوي.

*****

سپېدې نه وې چاودلې چې د داوودخان هوتک د پړاو پهره دارانو خپل مشر ته راپور ورکړ چې د ایراني پوځ ډېرې خېمې ټولې شوې دي، تر څو راپوربشپړ تر داوودخان پورې رسیدو د سیند له پورې غاړې توپونه وغړمبېدل او د دوی په پړاو کې څو ځایه له درنو چاودنو سره خاورې او د انسانانو غوښې او هډوکي هوا ته اوچت شول.

تر ښه ساعته توپونه غړمبیدل، په پړاو کې ډېره ګډوډي راغله، دوی د داسې ناڅاپي برید تمه نه درلوده، د ټپیانو چیغې شېبه په شېبه زیاتېدې، داوودخان خپلو قوماندانانو ته وویل چې خپل کسان د توپونو له دم نه لرې وباسي. دوی لا د توپونو د مرمیو له دم نه وتلي نه وو چې له شمال لوري پرې د ټوپکو د مرمیو باران پیل شو.

د دښمن پوځونه له سینده راپورې وتلي وو، دوی یې سخت غافل کړي وو، خو چې د توپونو ډزې کرارې شوې د داوود خان هوتک پوځیانو حواس ورو ورو بېرته پر ځای شول، تر درې سوو تنو پورې مرګ ژوبله ور واښتله. خو د جګړې پله بېرته په اوښتو شوه، د خسروخان پوځ د شپې په تیاره کې له پړاوه شاوخوا زر متره وړاندې له سینده پورې وتلی و، توپونه یې په پړاو کې اور ته تیار وو، د داوودخان دوی بخت ویښ و، چې د دښمن توپچي له نور پوځ نه لرې و او د قوماندې ستونزه یې درلوده، دوی خپل شهیدان او ټپیان ور سره واخیستل او د مخکني پلان له مخې شاته لاړل، تر دغه پړاو شاوخوا دوه میله لرې د یوه کلي تر څنګ په غونډیو کې ځای پرځای شول.

خسرو خپل د کاکا زوی الکساندر میرزا ته امر وکړ:

هلی د دښمن پوځ پسې واخلئ چې ژوندي درنه لاړ نشي! پخپله د توپخانې د را پورې ایستلو په انتظار شو.

دلارام ته نږدې د الکساندر پوځیان د داوودخان هوتک د جنګیالیو په کمین کې ولوېدل، سخته جګړه ونښته، ګرجي پوځیان په شا ولاړل، هوتکو ځوانانو خپل مشر ته راپور ورکړ:

تردرې سوو تنو مړي ترې په میدان پاتې دي.

داوودخان وپوښتل:

زموږ ځوانانو ته څومره مرګ ژوبله اوښتې؟

ـ پینځلس تنه شهیدان او یویشت تنه ټپیان لرو.

ـ خدای دې خیر کوي، جګړه ده نو، دا پېښې راځي، هغه د همدې فرصت په انتظار و، پوځ ته یې د شاته تلو حکم وکړ، ځینو احساساتي ځوانانو دده پر دې حکم عتراض کاوه یوه زلمي وویل:

دښمن مو مات کړ، مړي ترې په میدان پاتې شول، شاته تګ څه معنا؟

داوودخان هوتک ورته وویل:

دا زما نه، د ملي مشرمیرویس خان حکم دی. ایرانی پوځ باید داسې ځای ته برابر کړو چې بېرته یې یو تن هم ژوندی لاړ نشي.

نور چا د اعتراض جرئت ونه کړ، پوځ د کندهار په لور بېرته په شاروان شو، د الکساندر پوځ چې د ډزو له دم نه لرې شو بیا یې صفونه وتړل او د یرغل په اراده را وګرځېدل، تر ماښامه دواړو پوځونو له یو بل نه د یوه پړاو په واټن مزله ته دوام ورکړ، ماښام د داوود خان پوځ د یوه کلي په لمن کې واړول، د څار پوستې جوړې شوې، بیا یې څو تنه وګومارل چې نیمه شپه به د کندهار په لور خوځېږي چې د خسروخان د پوځ احوال مشرانو ته پر وخت ورسوي.

سهار له لمر خرک سره ګرشک ته نژدې د خسروخان پوځ په ویړه دښته کې خیمې را ټولولې، غوښتل یې چې زر تر زره د کندهار پوځونه را لاندې کړي، خسرو لا په خپله خیمه کې ناست و، شاوخوا ته یې نژدې کلیو ته څو ډلې پوځیان استولي وو چې د پوځ اوسونو لپاره سمدستي څاروي، غلې او واښه ترې برابر کړي.

هغوی ډله ډله تش لاس را ستانه شول، خسروخان د لومړي ځل لپاره وپوهېدو چې دوی د دښمن په پېژندلو کې غلطي کړې وه، له لېږل شویو کسانو یې په تونده لهجه وپوښتل:

ولې تش لاس راغلئ؟

یوه تن یې ځواب ورکړ:

صاحبه تش دیوالونه ولاړ وو څه مو راوړي وای.

یوه بل وویل:

ټول تښتېدلي څاروي او غلې یې هم ور سره وړې دي. یوه بوډۍ او یو ماشوم مو ولیدل هغه مو ووژل.

خسروخان په طنز ورته وویل:

ډېره ستره توره مو کړې ده.

خسرو له ځانه سره حساب را واخیست ....که وړاندې هم همدغه حالت وي، بیا خو یوازې دوې لارې لرو، یا دا چې د کندهار کیسه سمدستي ور ختمه کړو او یا بشپړه بربادي.

د اعتماد الدوله خبره یې په غوږو کې وکړنګېدله. (ماته خو داسې ښکاري چې کندهار نور له موږ تللی دی!)

خسرو په ژورو چورتونو کې ډوب شو، په ذهن کې ور وګرځېدل چې زه په زړورتیا او جګړه کې د ګرګین په ګرد پسې نشم رسیدای، د هغه کسات به څنګه اخلم!

د ایراني ځواکونو قوماندان عباس قلي بیګ راغی، سلامي یې ووهله، خسروخان له جټکې سره را په خود کې شو، قوماندان ورته وویل:

لښکر تیار دی، ستاسو حکم ته په انتظار یوو.

خسرو خان وویل:

حرکت وکړئ!

بیا په بېړه له خیمې را ووت خپلو اردلیانو ته یې وویل:

خیمه ټوله کړی چې حرکت دی.

یوه ښکلې گاډۍ چې څلورو اسونو کشوله راغله د خیمې مخې ته ودرېده، نورې خیمې ټولې شوې او د سفر لپاره کتارونه جوړ شوي وو، د خیمې تیرونه را ولوېدل، تنابونه یې راټول شول، د سترگو په رپ کې په یوه گاډۍ کې چې په دوو یابوگانو پورې تړلې وه بار شوه، خسروخان چې خپل پوځ ته وکتل، څو شېبې وړاندې خیالونه یې له ذهن نه وځنډل، یو ځل بیا د غرور څپه پرې راغله په لوړ غږ یې وویل:

د صفوي ټولواکۍ زړورو جنگیالیو! وړاندې د کندهار د بشپړ نیولو په لور! موږ د توریالي گرگین کسات اخلو، کندهار به لوټه لوټه کړو. د میرویس سر به په نیزه کې ټومبلی اصفهان ته یوسو.

په یوه وخت کې د زرگونو اسونو د پښو ترپهار اوچت شو، په اوږده لیکه یوه خړه لړه هوا ته پورته شوه او د کندهار په لور ور وخوځېدله.

دوی ته په لاره کې څو کلي نور هم په مخه ورغلل، هغه هم تش تور وو، خسرو چې د یوه کلی تر څنگ تېر شو، گاډۍ یې ودروله او له گاډۍنه یې د پټیو منځ ته کتل چې نري دودونه ترې لټېدل.
عباس قلي بیگ، الکساندر میرزا او څو نور قوماندانان پرې ور ټول شول، عباس قلي بیگ وپوښتل:
څه خبره ده جنابه!
ـهلته وگورئ!
ټولو دده د لاس د اشارې په لور وکتل.
په یوه وخت څو غږونه اوچت شول:
دا څه دي؟
ـخسروخان په غوسه وویل:
ړانده خو نه یاست درمندونه او د وښو انبارونه یې ټول سوځولي دي.
خسروخان وپوهېدو چې د میرویس خان په دام کې لوېدلی دی. همدلته یې خپل نور قوماندانان هم را ټول کړل او مشوره یې وکړه چې څه وکړي.

نورو قوماندانانو تر اوسه هغه خطر نه احساساوه چې خسروخان احساس کړی و، خو هغه ورته وویل:

زه له ورایه وینم چې د میرویس خان په باب مو غلط اټکل کړی و. موږ چې وړاندې درومو ښایي پخپلو پښو دام ته ورشو.

څه وکړو چې ایسار نه شو؟

یوه قوماندان وویل:

جناب سالاره! موږ خو واورېدل چې له کندهاره خبر راغلی چې ښار تش دی، میرویس خان او پوځونه یې هم ترې وتلي دي.

خسرو په غوسه شو. وې ویل:

زما بدمرغي همدغه ده چې داسې بې مغزه لوده ګان را سره د پوځ مشران دي.

میروس خو تښتېدلی نه دی هغه چېرته په کمین کې راته ناست دی.

د خسرو خان له خبرو سره ټولو خطر څو چنده لوی احساس کړ، داسې یې ګڼله چې اوس به د میرویس خان سرښندویان پر ګړندیو اسونو سپاره له غونډیو را واوړي او پر دوی به د مرمیو او غیشو باران جوړ کړي.

وروسته د دوی پرېکړه پر دې شوه چې له همدې ځایه شل تنه سپاره هرات ته واستوي، د هرات حاکم ته هدایت شوی و چې له هماغه ځایه د دوه دېرش زره پوځ خوراک او نورې اړتیاوې پوره کړي او د اکمال لاره یې پرانیستې وساتي. خسرو اوس په دې تمه هڅه کوله چې زر ځان کندهار ته ورسوي چې ښار ونیسي او فرصت له لاسه ور نه کړي.

د کندهار په لور د خسرو خان د پوځ پړاو پر پړاو مزل له نویو ستونزو سره مل و، یو مازدیگر یې چې د شپې لپاره یو ځای غوره کړ، خیمې ودرېدې، د خسروخان قوماندانانو له معمول سره سم شاوخواته څو ډلې پوځیان واستول، چې که په کلیو کې څه خوراکي توکي بود کړي. د دوی یوه ډله ماښام له یوې وړوکې رمې سره را ستانه شول. چې د سلو په شاوخوا کې پسونه او وزې پکې وو.

په پوځي پړاو کې چې د پوځیانو سترګې پر رمه ولګېدې، له خوښیو یې چیغې اوچتې شوې، لږ ځنډ وروسته یو قوماندان د خسرو خان په مخکې ولاړ و او په ډېره خوښۍ یې د رمې د موندلو کیسه ور ته کوله

.....صاحب زموږ کسان چې کلي ته نږدې ورغلل رمه یې ولیده، دوه تنه شپانه هم ور سره وو، شپانه یې ووژل رمه یې ور سره راوستله.

-رمه مو څه کړه؟

-صاحب ! شپږ پسونه مې ستاسو برخه در ته راوړي نور یې وخوړل.

د خسرو پر شونډو غمجنه موسکا تیره شوه، سره له دې چې دا تمه هم ور سره پیدا شوه چې ښایي په نورو کلیو کې څه څاروي او غلې لاسته ورشي، خو د څو پسونو او وزو موندلو ته چې دده قوماندان څومره خوښي ښودله د راتلونکي [illegible] څرګونه یې پکې احساسول.

لودين کتابتون
د کتاب پر پېسې

*****

د شینډنډ په سمسوره سیمه کې سیند په ښنا روان و، تر سیند پاس کلی د لویو ونو په منځ کې پټ و، تر جګ غره لاندې په دغه کلي کې یوازې د سلطان احمدخان برجوره کلا له لرې ښکارېدله، د کلا تر یوه برج لاندې لویه حجره وه، د حجرې په مخې باغچه کې تر ونو لاندې سرې غالۍ غوړېدلې وې، شاوخوا ته یې په توشکونو څلوېښت - پنځوس کسان ناست وو، میرویس خان د نورزیو د خان، سلطان احمدخان په حجره کې له عبدالله خان ابدالي سره په جرګه ناست و، د دوبي یوه توده ورځ وه، عبدالله خان خپله لونګۍ له سره لرې کړه په مخ کې یې پر توشکه کېښوده، د څادر پیڅکه یې پر سر او تندي را تېره کړه بېرته یې لونګۍ پر سر کېښوده، سر یې ښکته واچاوه او په چورتونو کې ډوب شو.

داسې ښکارېدله چې بې خونده خبرې تېرې شوې وې، د تندیو ګونځې او بروسې شونډې پر دې ګواه وې، تر ښه ځنډه داسې چوپتیا وه چې یوازې د ونو د پاڼو شرهار او د یوې نیمې مرغۍ غاړې اورېدل کېدې، دغه مهال تر یوه ونه لاندې د چلم خوړهار

د ټولو پام ور واړاوه، د پنځوسو کلونو په شاوخوا کې یوه تن له خولې شنه لوخړه را ووته، وروسته یې شنه ببر بریتان را ښکاره شول چې پر خوله یې ور پراته وو. هغه چلم ته درې کشونه نور هم ور کړل، هر ځل په شنه لوخړه پسې دهغه شنه پلن بریتان را ښکاره کېدل، بیا یې چلم د څنګ بل تن ته ور ټېل واهه، پر خرېیلي مخ یې لاس را تېر کړ، ډډ غږ یې اوچت شو.

خانه د پښتنو دود او تیره به نه ماتوو، چې تاسو نه سره جوړېږئ موږ ته واک راکړئ، قام به په خپلو کې نه سره اچوئ!

میرویس خان وویل:

زما واک ستاسو دی، تاسو د جرګې مشرانو چې کومه پرېکړه وکړه زما په سر سترګو قبوله ده.

هغه ته مخامخ ناست عبدالله خان غاړه تازه کړه:

د قام او قبیل د حق خبره ده زه دا واک نه لرم نه یې بل چاته ورکولای شم.

میرویس خان وویل:

نه غواړم چې ترخې خبرې تکرار شي، پر وطن د پردیو د یرغل پر مهال موږ باید یوازې د وطن د برخلیک غم وخورو، دا د ټولو قامونو د برخلیک خبره ده.

زه له درانه مشر عبدالله خان نه یوازې دا غواړم چې د پردو ملاتړ ونه کړي. زموږ د هېواد برخلیک له پردیو سره هېڅ تړاو نه لري. د یوه افغان په توګه ټولو ته دا ډېره د شرم خبره ده چې د پردو پېشمرګان شي، موږ ولې د اصفهان او یا ډیلي لپاره پخپلو کې سره لاس او ګرېوان شو؟ ....که خبره د حق وي راځئ پخپلو کې سره کښېنو، د پردیو تر سیوري لاندې پر خپل ورور او عزیز وسله را پورته کول، له ذلت، او غلامۍ پرته بل نوم نه لري. زموږ په صف کې د کابل، پېښور او بلخ ځوانان هم شته، چا یې د قام او قبیل پوښتنه نه ده کړې چې څوک او د کوم خېل دي. د وطن د ازادۍ په مساله کې د خېل او قام مساله را پورته کول اصلاً پردو ته خدمت دی... له لږ ځنډ وروسته یې عبدالله خان ته مخ ور واړاوه، وې ویل:

عبدالله خانه! په والله که مې دا دربانډې لوریږي چې د عیسوي گرگین د کسات لپاره راغلي پوځ سره ته ملگری وې، اخر خدای ته به څه ځواب وایې؟

د غونډې نورو مشرانو هم د میرویس خان خبرې تایید کړې عبدالله خان ته یې مخ ور واړاوه:

بس د مشرانو پرېکړه داده چې ته به له خسرو خان نه خپله لاره بېلوې.

عبدالله خان د جرگې له پرېکړې سره برالا مخالفت نشو کولای، خو له ورایه زړه نازړه و، دلیل یې دا و چې خسرو غوړې ژمنې ور سره کړې وې.

میرویس خان جگ شو وې ویل:

مشرانو نور دلته زما کار ختم دی، ماته اجازه راکړئ، په مخکې مې نور کارونه دي. بیا یې زیاته کړه:

د خدای په توکل به خسرو د گرگین په برخلیک اوړي، کوم ولس چې د خپلواکۍ اراده وکړي د نړۍ هېڅ ځواک یې غلام کولای نشي، زما ولس دا اراده کړې ده او زه پرې ویاړم.

خان خپل څادر پر اوږه واچاوه د خپلو وسله والو پړاو ته راغی، سیدال خان ته یې وویل:

نور زموږ او تاسو لارې سره بېلېږي، هغه په اشاره وپوهېدو، خیمې یې را ټولې کړې ، نیم ساعت وروسته چې له پړاوه روانېدل سیدال خان د دوه زره تنو سره د دلارام لارې ته مخه کړه او میرویس خان له دوو سوو تنو سره د غور او هزاره جات په لور وخوځېد، میرویس خان سیدال خان ته وویل:

که ژوند و په کندهار کې به بیا سره وینو. مشرانو ته ووایه چې زه له هزاره جات وروسته غزني، ژوب او او د بلوڅو مشرانو ته ورځم، ښایي لږ وځنډېږم. خسروخان به پر ښار زور واچوي خو چې وارپار در نه خطا نشي، ان شا الله هېڅ نشي کولای.

-ان شا الله، ان شا الله !

*****

د بابا غره گرنگونه ډېر له اسرارو ډک ښکارېدل، په دره کې دنگ چینارونه د شمال څپو ته زنگېدل. صمصام او شامامی د هېواد رتلونکې ته په چورتونو کې ډوب ولاړ وو، یو ځل بیا د دښمن پر خلاف د جهاد ناره اوچته وه ولولې ځپاندې وې او سمه او غرونه ټول په وجد او مستۍ کې ډوب وو، د اخترونو په میله ځای لوی بڼ کې د اختر په څېر گڼه گونه وه، واړه او زاړه ډله ډله پر هماغه لوري ور مات وو، د اویا کلونو په عمر زهرا ادې له کلي راوتلې وه، حیرانه وه چې دا ډله ډله خلک چېرته درومي، دریېم ځل یې له یوې ډلې خوانانو وپوښتل:

دا څه خبره ده ؟

د هغې غوږونه درانه وو، هرځل یې ځواب ورکاوه خو دې نه اورېدل، ځلورمه ډله چې ور نژدې شوه، دا یې مخې ته ودرېدله، خپل یو کلیوال یې وپېژاند، ترې وې پوښتل:

رمضانه بچیه! دومره په بېړه چېرته روان یې؛ دا بیروبار د څه لپاره دی؟

هغه یې خوله غوږ ته ور نږدې کړه :

زهرا ادې، میرویس خان راغلی دی، هغه ته ورځو.

میراخان!

رمضان په لوړ غږ تکرار کړ:

میر... ویس ... خان!! بیا له ځانه سره گډ شو... ستا کاڼه غوږونه دې خدای خلاص کړي!

زهرا ادې له ځانه سره تکرار کړه... میرویس خان! خو نوره ونه پوهېدله چې دا څوک دی.

د مستۍ یوه څپه خپره وه لکه شاوخوا ونې، کښتونه او خړ خړ دیوالونه چې په خوښیو ور سره زانگي، په زرگونو واړه زاړه او ځوانان راټول شوي وو، د بڼ په یوه څنډه کې ډېراسونه ولاړ وو، په بله څنډه کې د بڼ دیوال ته نژدې په لسگونو لوی لوی دیگونه بار وو ترې لاندې لویې ستې بلې وې د ښوروا وږم خپور و. په بله څنډه کې د ځوانانو جم او جوش زیات و، هلته د چارمغزو او توتانو تر لویو ونو لاندې پر ښکلیو ټغرونو د پاسه لمڅي هوار وو، د لمڅیو پر څنډو توشکونه وو چې شاوخوا ته یې شپېتو اویا تنو ډډې اچولې وې. په دې منځ کې یوه دنگ په عمر پوخ د شناوې ږیرې او سپینو

جامو خاوند ته چې غتې تورې سترگې یې وې د ځوانانو ډېر پام ور اوښتی و. دوی به
ولاس په اشاره یو بل ته ور ښود.
هغه دی! ... کوم، هغه د خړې چپنې او شخې شملې خاوند؟ ... هوکې هماغه. چې
زموږ د درانه مشر محمدجان خان تر څنگ ناست دی.
میرویس خان دی. زموږ د وطن مشر.

لږ وروسته د ډولونو غږ چوپ شو، د اتڼ دوړې کیناستې، تر لویو ونو لاندې بیرو بار
نور هم زیات شو خو یو د پاخه عمر چارشانه خنډی منډی، چې برگه پگړۍ یې پر سر
وه او د وړو سترگو د پاسه یې گڼې ببرې وروځې پرتې وې جگ شو، په لوړ غږ یې
وویل:

ټول پر خپلو ځایونو ارام کښېنئ؛ خبره واورئ!
ټول کیناستل، غوږ غوږ شول، د محمدجان خان هزاره چې وروسته په زبردست خان
مشهور شو دروند غږ بیا اوچت شو:
موږ ویاړو چې د وطن د خپلواکۍ ستر سالار، ملي مشر حاجي میرویس خان دلته
تشریف راوړی، زه د هزاره درانه ولس په استازیتوب هرکلی ورته وایم، بیایې خان ته
مخ ور واړاوه وې ویل:
ملي مشره په خیر راغلې، قدم دې پر لېمو!
بیا یې له لنډو خبرو وروسته پر خلکو غږ وکړ:
زما غیرتي ولسه! زه ستاسو په استازیتوب خپل مشر ته وایم چې د هېواد د ساتنې او د
فاع په سپېڅلې جگړه کې ستا سره اوږه پر اوږه ولاړ یو. ولاړ یو که نه؟
په زرگونو غږونه اوچت شول:
ولاړ یو، ولاړ یو!

سید علی خان هزاره د هزاره ولس بل مشر چې د میرویس خان بل اړخ ته ناست و،
جگ شو او تر حمد او ثنا وروسته یې وویل:

زبردست خان زموږ د ولس په استازيتوب چې درانه مشر ميرويس خان ته کومې ژمنې ورکړې ، زه ور سره ولاړ يم. ميرويس خان زموږ د هېواد پت پرځای کړ، د ولس په خوښه او سلا يې د صفوي ټولواکۍ د ظلم او زور ټغر ور ټول کړ، ايراني متعصبو ملايانو د ګران پيغمبرد پيروانو په وژلو د جنت خوبونه ليدل. دوی د مذهب په نوم د اسلام د ريښتينو بچيانو د ککرو منارونه جوړ کړل او پردې يې وياړ کاوه. د سني او شيعه په نوم يې مذهبي فتنو ته لاس واچاوه.

زموږ ملي مشر ميرويس خان لويې جرګې را وبللې، د هرګوټ او قام مشران يې راټول کړل، له دوی سره په ګډه يې دا پرېکړه وکړه چې نور به د پرديو سيوری پر خپل هېواد نه پرېږدو، د لوی خدای په مهربانۍ او زموږ د توريالیو ځوانانو په توره ظالم ګرګين له منځه لاړ، د اصفهان د ظلم ټغر ورټول شو، افغانان له اوږدې مودې وروسته خدای بيا د يوه خپلواک هېواد خاوندان کړل.

دا وياړ د زرګونو شهيدانو د وينو او زموږ د درانه مشر د تورې او تدبير په برکت خدای راپه برخه کړ.

اوس دا ساتنه غواړي، اصفهان د کسات په نيت د ګرګين د وراره په قومانده په زرګونو تنه پوځ را ليږلی دی. له دې پوځ سره مقابله او د خپل هېواد او حريم ساتنه پر موږ فرض ده.

تاسو ددې فريضې ادا کولو ته تيار ياست؟

د تکبيرونو په بدرګه په زرګونو غږونه بيا اوچت شول:

تيار يو، تيار يو، هرډول قربانۍ ته تيار يو.

د محمدجان خان هزاره (زبردست خان) تندی وغوړېد، پر شونډو يې خوږه موسکا راغله وې ويل:

درانه ولسه درباندې وياړم. وروسته د هزاره و مشرانو پرېکړه وکړه چې د کندهار د دفاع لپاره به درې زره تنه وسله وال ځوانان چمتو کوي، له ميرويس خان سره يې ژمنه وکړه چې تاسو څه وخت وغواړی دغه پوځ به په کندهار کې در سره يو ځای شي.

ور پسې میرویس خان لنډې خبرې وکړې، د هزاره ولس د غیرت او ملي دریځ ستاینه یې وکړه او مننه یې وکړه چې دوی به ور سره د هېواد په دفاع کې ونډه اخلي.

یوه ورځ وروسته میرویس خان له خپلو دوه سوه تنو سره، د تکبیرونو، حماسي سندرو او اتڼونو په بدرگه د خپل بل پړاو په لور چې غزنی، وانه او ژوب و وخوځېد. سیدعلي خان او زبردست خان هزاره د ځوانانو په راټولولو بوخت شول.

*****

خسرو د خپل پوځ او راتلونکې په باب ډېر نهیلی ښکارېدو، یوه ورځ وړاندې یې د کاکا له زوی سره خوله وهلې وه. خسروخان اوس د هغو پر خبرو فکر کاوه، کله به یې د پوځ شمېر او اوږدو کتارونو غرور اووم اسمان ته خېژولی و، کله به یې چې په نا اشنا وطن کې لیدل چې له هرې پولې او دیوال نه گوزارونه پرې کیږي، د دوست او دښمن توپیر نشي کولای. نو زړه به یې واچاوه او وبه پوهېدو چې د مرگ پر لاره راغلی دی.

الکساندر میرزا پرون ورته ویلي وو چې چېرته گرجستان او چېرته کندهار! زموږ له دې وطن سره څه وو، هغه پر گرگین هم دا پړه ور اچوله چې اصفهان ته وفادار نه و خو د اصفهان لپاره یې سر وخوړ.

خسرو له خپل ځان سره په جگړه کې ښکېل و، په زړه کې یې لویې هیلې او خیالونه په څپو وو خو په مازغو کې یې نویې اندېښنې را پورته شوې وې، دا د ارزښتونو او بې توپیری ترمنځ ټکر نه و، ځکه خسروخان له خپلو گټو پرته پر بل څه باور نه درلود، هغه ارزښتونه یوازې خپلې گټې بللې. اوس په همدې چورتونو کې ډوب و چې پر کندهار یرغل به یې نوم او نښان لوړ کړي او که به سر په کې وخوري؟

هغه په همدې چورتونو کې ډوب و چې د خاص نوکر غږ یې واورېد:

صاحب! عبدالله خان راغلی غواړي در سره وویني.

خسرو ځان را سنبال کړ، نوکر ته یې وویل:

یوازې دی که نور څوک هم ورسره شته دي؟

- صاحبه هغه دوه تنه هم ورسره دي چې په هرات کې مو ور سره ولیدل.

- رایې وله!

نوکر ووت څو شیبې وروسته درې تنه چې لویې لویې پګړۍ پر سر، پر سپینو جامو د پاسه یې وریښمینې چپنې اغوستې وې، خیمې ته ورننوتل. خسروخان ور جګ شو له هغوی سره یې تاوده سترې مشي وکړل.

عبدالله خان خسروخان ته په خندا وویل :

دوی خو به دې هېر کړي نه وي، شهبازخان او زمان خان!

خسروخان په مرموزه موسکا ځواب ورکړ:

- داسې کاکه مشران به ولې هېروم.

تر تشریفاتي خبرو وروسته خسروخان عبدالله خان ته وویل:

د ابدالیو درنه مشره له غلجي میرویس سره دې څه وکړل؟

عبدالله خان ته د میرویس خان خبره سترګو ته ودرېده... ګوره خانه دا د ابدالي او غلجي خبرو ته زموږ په منځ کې پردي لمن وهي، په خدای که هغوی زموږ یوه دوست وي...

خسرو ته یې ځواب ورکړ:

ته د میرویس خان خبره پرېږده، خپله خبره به را واخلو.

خسروخان په دې ځواب ټکان وخوړ خو ځان یې را قابو کړ، په خندا یې وویل:

زه په خپل قول او لوظ ولاړ یم. چې کندهار فتحه شي د هرات حکومت ستا دی.

عبدالله خان وویل:

د کندهار د فتحې کیسه تر اوسه لرې ده، زما پینځه زره تنه جنګیالي دا اوس سمدستي وږي دي د خوراک لپاره هېڅ نه لري.

- د هغو به هم غم وخورو.

- سمدستي دېرش زره مشهدۍ غواړم، به موږ کې متل دی چې پیلان ساتي پیلخانې به جوړوي، وپوهېدې.

خسروخان وپوهېدو چې پر عبدالله خان حساب کول ځان تېر ایستل دي، د عبدالله خان پینځو زرو وسله والو تر اوسه دوی ته هېڅ گټه نه وه رسولې، اوس یې د خوراک او څښاک بار هم د دوی پر اوږو ور پریوت. خسروخان وپوهېدو چې دغه هگۍ یې هم خوسا شوې ده خو ځان یې ناگاره واچاوه چې که د عبدالله خان وسله وال په نیمه لاره کې ترې لاړ شي دا به یې د خپل پوځ پر مورال ډېر بد اغیز وکړي. له ډېرو نااندریو ته ورته خبرو وروسته یې خپل خانه سامان را وغوښت، دوه زره مشهدۍ یې ورکړې، هغوی درې واړه له خیمې را ووتل او د خپل پوځي پړاو په لور لاړل.

خسروخان چې لا په اصفهان کې و ځینو درباریانو او دوستانو یې په خیال کې سره او شنه باغونه ورته جوړ کړل ....عبدالله خان له ملتان نه را وغواړه، د هرات د حکومت ژمنه ورکړه په زرگونو قامي لښکر به یې ستا تر قومانده لاندې د میرویس خان پر خلاف وجنگیږي. هغه داسې گڼله چې د عبدالله خان ابدالي جنگیالي به د کندهار له نیولو وروسته د ښار کونجۍ په یوه زرین پتنوس کې ده ته وړاندې کړي او ورته وبه وایي:

واخله جنابه د کندهار فتحه دې مبارکه شه! خسروخان په خپلو تیرو خیالونو ښه په کړس وخندل، نه پوهېدو چې پر خپل عقل وژاړي او که پر خپل بخت او نصیب.

*****

د خسروخان او داوودخان هوتک د پوځونو تر منځ تر کندهاره درې ځلې بیا هم نښتې وشوې، دواړو لوریو ته پکې لږ او ډېر د سر زیان واوښت، وروستی ځل کندهار ته نژدې د لارې تر څنگ په یوه کلي کې د داود خان کسانو په باغونو او د کلي پر بامونو مورچلې نیولې وې، د خسروخان پوځ دې سیمې ته مازدیگر مهال ورسېد، لښکر ته د درېدو او د خیمو درولو امر وشو او پوځیان د خیمو په درولو بوخت شول، له معمول سره سم سل یو نیم سل کسان د څنگ کلي ته په دې تمه ورغلل چې که غله دانه او یا څاروي پکې ترلاسه کړي، پوځیان د کلي په کوڅو ننوتل، ناڅاپه له بامونو او باغونو پرې د گولیو باران جوړ شو، په پړاو کې چیغه گډه شوه چې پوځیان د دښمن په کمین کې را ایسار شول، سمدستي په سلگونو پوځیانو پر اسونو پښې واړولې، خو څو دوی

مرستې ته ور رسیدل، هغه لومړۍ ډله پوځیان په کوڅو او پټیو کې پراته وو او سړه توده پرې تېره وه.

نوي کسان هم چې د ټوپکو دم ته ورسیدل، له هرلوري پرهغوی هم د ګولیو باران پیل شو، څوک را ولوېدل او څوک بېرته په شا ولاړل، تر ماښامه د کلي له باغونو او بامونو د ټوپکو ډزې رواني وې، په دې موده کې خسروخان امر وکړ چې توپونه ډزو ته تیار کړي، څو توپونه یوه لوړ ځای ته وخېژول شول او لږ ځنډ وروسته د توپونو له خولو نه لويې لنبې پورته شوې د هغه کلي په کوڅو او باغونو کې یې لوخړې او لنبې بلې کړې.

تر ښه ساعته توپونه وغړمبېدل، بیا چوپتیا خپره شوه، وروسته چې د خسرو خان پوځیان کلي ته ورغلل، یوازې د خپلو پوځیانو ټوک ټوک هډونه یې ولیدل. له هغوی ټولو وسلې هم اخیستل شوې وې. په دې لنډه جګړه کې د خسروخان د پوځ تر دوو سوو کسان ووژل شول.

د ډزو تر کرارېدو وروسته بیا هم د پوځ په پړاو کې پهرې ودرول شوې، توپونه ډزو ته تیار او د کوم ناڅاپي برید لپاره ټول ترتیبات ونیول شول، خسرو خان الکساندر میرزا ، عباس قلی بیگ او څو تنه نور قوماندانان د سلا مشورې لپاره خپلې خیمې ته ور وغوښتل، د خسرو په څېره کې د غم او خپګان نښې له ورایه ښکارېدې.

عباس قلي بیگ د تسلې په دود ورته وویل:

صاحبه! په جګړه کې خو دا راځي، نور به لږ پام کوو چې پوځیان مو داسې په بې دردۍ ونه وژل شي.

خسروخان وویل:

د پوځیانو په غم کې نه یم. زه د دوی په وسلو خپه یم، دوه سوه ټوپکونه او تر یونیم سلو پورې توري او خنجر د دښمن په لاس ولوېدل. په دې وسلو به زموږ نور څومره پوځیان وژل کیږي.

خسرو له خپل ټول غرور سره په دې شپه په خپل دغه ماموریت پښېمانه و، سره له دې چې دېرش زره تنه په هر راز وسلو سنبال پوځ یې تر قومانده لاندې و، خو اوس د دې وطن هر گړنگ، هره ونه ، هر بوټی او هر دیوال او پوله ورته د دښمن مورچل ښکارېدو.

*****

دریمه میاشت وه چې خسروخان له اصفهان نه را وتلی و، کندهار ته اوس ډېر نژدې شوی و، یوازې دوه پړاوه لاره نوره پاتې وه، لمر پرغرونو څرک واهه چې کندهار ته استولي کسان یې را ورسېدل، کرم علي او د هغه بل ملگری یې د خسروخان خیمې ته ور وستل، څو شېبې وروسته عباس قلي خان او الکساندر میرزا هم د ده په خیمه کې حاضر وو، کرم علي دا ځل تر پخوا ښه او روښانه پیغام راوړی و، هغه د کندهار د کلچه پخوونکي میرزا پولاد په مرسته دا ځل له څو مهمو کسانو سره لیدلي وو. هغوی خسروخان ته ډاډ ورکړی و چې پر ښار یرغل وکړي دوی به د ننه د میرویس خان پر خلاف پاڅون وکړي.

الکساندرمیرزا له کرم علي نه د هغو کسانو نومونه وپوښتل چې دوی ته یې د مرستې قول ورکړی و. کرم علي، وویل:

ماته یې خپل نومونه غلام سخي، صفی الله او رسولداد وښودل.

الکساندر میرزا وویل:

د څېرو نښې یې راته ووایه!

-صاحبه! د غلام سخي تر ښۍ سترگه پاس د یوه ژور ټپ نښه وه چې له ورایه ښکارېدو، صفی الله خنډۍ منډۍ د گردي مخ خاوند و او چې خوله به یې پرانیستله د مخې لاندې دوه غاښونه یې لوېدلي وو کنډاسه خوله یې ښه نښه وه. د رسولداد ژبه توتله وه په خبرو کې نښته چې خبرې به یې کولې زړه به یې دې خولې ته راووست.

خسرو د الکساندر میرزا څېرې ته ځیر شو، هغه لږ موسکی شو په ټیټ غږ یې وپوښتل:

دغه ټپ واله بریتان درلودل؟

کرم علي وویل:

نه صاحبه بریتان یې خرېیلي وو چې څوک یې څېره ونه پېژني.

الکساندرمیرزا بیا وویل:

دوه مې پکې وپېژندل، ریښتیا هم زموږ خپل کسان دي، زه حیران یم چې میرویس خان په کوم باور ژوندي پرېښي دي.

خسروخان وویل:

پردغو کسانو دا باور کېدای شي چې د یرغل پر مهال به څه وکړای شي؟

الکساندر سر وخوځاوه:

په دې کې هېڅ نشم ویلای.

سخي او صفي زما سره دوه ځله په کندهار کې مالیې را ټولولو ته تللي وو، دواړه ځله مو څو تنه ووژل او مالونه مو ترې را وړل. سخي د کرمان په جگړه کې ټپي شوی هم و. ما داسې گڼله چې سر یې خوړلی دی، اوس حیران یم چې د ژوند خبر یې اورم. نه پوهېږم نور به څومره کسان ژوندي پاتې وي.

کرم علي وویل:

جنابه! غلام سخي او ملگریو یې کیسه کوله چې یوازې مهم قوماندانان یې د کلا د فتحې په سبا ټول ووژل، میرویس خان اعلان وکړ چې کوم پوځیان او ایرانیان چې په وژلو او نورو جنایتونو کې یې لاس نه وي هغوی ته به هېڅ سزا ور نه کړو، بیا یې وروسته دا نور پوځیان د کلا مخې ته کتار کتار درول او پر کومو کلیو چې بریدونه شوي وو د هغوی عیني شاهدان راغلل چې پر کوم پوځي به یې لاس کېښود چې په برید کې شامل و، هغه یې هم ووژل. د وژلیو شمېر زیات و، خو ځینو بیا په هوښیارۍ خپلې څېرې بدلې کړې وې نه وو پېژندل شوي. غلام سخي ویل چې ما پلنې وروځې او بریتان درلودل، دواړه مې چټ و خرېیل، څېره مې دومره ورسره بدله شوه چې ځان مې پخپله نه پېژاند.

له دې سره خسروخان، عباس قلي خان او الکساندر میرزا په کړس کړس وخندل.

تنکۍ غرمه د خسرو خان پوځ خیمې ټولې کړې، یو ساعت وروسته په دښته کې گردونه اوچت شول چې د کندهار په لور ور نژدې کېدل.

*****

شاوخواته چې څومره سترګو ځار کولای شو سپاره او پلي پوځیان وو، تر دیرشو زیات توپونه پر ګاډیو بار وو چې څو جوړې غوایانو کشولې، په څلور سوه لویو ګاډیو کې یوازې خیمې او تجیرونه بار وو، درنه جبه خانه او د مرمیو او وسلو جوړولو کارخونه پرې د پاسه، خسروخان یو ځل د کندهار پر برجونو او ښار نظر را وګرځاوه بیا یې خپلو پوځونو ته وکتل، قوماندانانو ته یې حکم وکړ:

پړاو مو همدلته دی، شاوخواته خیمې ودروئ!

الکساندر میرزا وویل:

دلته د دښمن د توپونو تر دم لاندې یو، لږ باید شاته پړاو واچوو.

خسروخان په موسکا ورته وویل:

میرزا دلته به یوه ـ یوه نیمه ورځ نور وو، کندهار زموږ اصلي پړاو دی.

الکساندر ته نور څه ویل بیځایه ښکارېدل، خو د کندهار د پوځي چوڼیو برجونو ته یې چې کتل په زړه یې د وېرې څپه راخپره وه.

پوځیان پلي شول، د خیمو په درولو بوخت شول، خسروخان الکساندر میرزا د لاس په اشاره ور وغوښت، دواړه تر پړاو اتیا سل ګامه وړاندې لاړل، د کندهار پر برجونو او دیوالونو یې سترګې ښخې کړې، نقشه یې مخې ته غوړولې، الکساندر میرزا ته یې وکتل:

دا نو هغه تاریخي ښار دی چې زموږ د کارتلي واکمن پرې سر وخوړ....یو څو خړ دیوالونه، تور برجونه...نور هېڅ !

میرزا په زړه کې ویل...ددې خړو دیوالونو او تورو برجونو له خرپه امان غواړه!

خسرو پر ځمکه نقشه وغوړوله، بیا یې الکساندر میرزا ته وکتل:

میرزا! هغه پر تور غره چې برج ښکاري دلته کوم یو دی؟

ـ هغه بیرغ چې پرې رپیږي؟

ـ هوکې هماغه!

ـ تر پوځي کلا وروسته تر ټولو کلک برج دی، قیتول ورته وایي.

وروسته یې د کندهار نورو برجونو، دروازو او مهمو ځایونو ته په لاس اشاره کوله او خسروخان ته یې په نقشه کې ور ښودل:

هغه د چهل زینو غر دی ....هغه وړاندې چې تور ښکاري دولت اباد ورته وايي... هغه ختیځ لورته د باباولي دروازه ده، پر سر یې برج دی چې توپونه پکې درېدلي دي...هغه بله د خواجه خضر دروازه ...

د الکساندر میرزا خبره په خوله کې وچه شوه، د قیتول له کلا د توپونو لمبې اوچتې شوې، د خیمو په منځ کې له درانه ګړزهار سره د زغرو ټوټې له غوښو او هډونو سره هواته اوچتې شوې. اسونه وشیشنیدل په هرلور یې منډې وهلې، خسرو نقشه پر ځای پرېښوده، لږوړاندې د یوې وړوکې غونډۍ تر اوږه واوښت، چیغې یې کړې:

کرمی راولی! کرمی ونه تښتي، ویل یې ښار تش دی!

الکساندر چې په هغه پسې و ورته وې ویل:

درته ومې ویل چې دومره نږدې راتلل مناسب نه دي، دلته د توپونو تر دم لاندې یو.

د خسروخان د خیالونو نړۍ چې څو شپې مخکې یې پکې قدم واهه ورانه شوې وه، د تورو لوخړو په منځ کې د ژوند له ترخو واقعیتونو سره مخ و. کندهار د ګلانو ګېډۍ نه وه چې څوک یې د هرکلي په دود ده ته ونیسي، د اوسپنې نینې وې، چې چیچلو یې د اوسپنې غاښونه غوښتل.

د خسرو پوځ شاوخوا زر ګزه شاته و کوچېد او د توپونو له دم نه لرې شول، په همدې لومړي ګوزار یې تر یونیم سلو زیات ټپیان او مړي پرېښودل. خسروخان کرم علي او د هغه ملګری را وغوښتل، دومره یې اعصاب ړچېدلي وو چې هغوی یې د خبرې سپیناوي ته پرېنښودل، سرونه یې پرې والوزول.

سباته خسروخان خپل قوماندانان را وغوښتل، نقشه یې مخې ته غوړولې وه، ټولو ته یې لوري او دندې ووېشلې..

د چهل زینو او باباولي ختیځې دروازې لوري ته به زه پخپله واړوم، الکساندر میرزا به هم را سره وي ....عباس قلي بیګ به د شمال لوری ونیسي، قاجاري قواوې به سهیل

لوري ته پر ښار را وګرځي.... تر ماښامه ټول قوماندانان له خپلو ځواکونو سره ټاکل شویو لوریو ته لاړل، مورچلونه وکیندل شول، توپونه په مناسبو ځایونو کې ودرول شول، پهرې او ګزمې منظمې شوې. سبا ته چې لمر دوې نېزې را پورته شوی و، له هرلوري د کندهار پر ښار د توپونو ډزې پیل شوې، تر ښه ساعته توپونه وغړمبېدل او د کندهار پر ښار تورې لړې ودرېدلې.

خسروخان پر یوه ټیټه غونډۍ ولاړ و، لنبو او لوخړو ته یې کتل پر شونډو یې فاتحانه موسکا غوړېدلې وه، له ځانه سره یې وویل:

میرویسه! یا به مې په پښو کې لوېږې، یا به دې هډوکي د ښار تر کنډوالو لاندې وراسته کړم.

خسروخان او قوماندانان یې په دغه شپه د بري په نشه کې تر نیمې شپې د سرو جامونو، سندرو او نڅا په مزو کې ډوب وو، وروسته له دنیا او مافیها ناخبره پریوتل. د خسرو د ژوند معمول و چې تر تنکۍ غرمې به ویده و.

سپېدې لا نه وې چاودلې چې ناڅاپه په لسګونوسپاره ګړندي راغلل، د خسرو پر پړاو یې ناتار ګډ کړ، د ټوپکو تر ډزو وروسته یې تورې را وایستلې د ګرجیانو سترګې خوغړېدلې سره توده پرې تېره شوه، خیمو ته یې اورونه واچول، د چا تر ټټر د وینو داري رواني وې، د چا سرونه له تنو بیل پراته وو، تر نیمې شپې په خرمستیو کې د ډوبو پوځیانو سترګې ترڅو غړېدې، د مرګ یوه تونده څپه پرې تېره شوې وه، په څو شېبو کې له خیمو لنبې اوچتې وې، په لسګونو تنه په وینو کې شتېدل، کرېږې د پړاو له یوه ټپیانو زګیروي وو، نور هېڅ نه ښکارېدل، هېڅوک نه پوهېدل چې دغه ټکه له کوم لوري را پریوته او بریدګر په کوم لوري لاړل.

سپېدې چاودلې وې چې سیدال خان ناصري له یوې ډلې سپرو سره په خولو کې ډوب له بابا ولي دروازې ښار ته ننوتل.

*****

د کندهار پر ښاریانو نن بیا د اوسپنو او باروتو باران پیل شو، له سهاره تر ماښامه د خسروخان توپونه وغړمبېدل، د کندهار د پوځي کلا له اوو واړو برجونو لوخړې او لنبې اوچتې وې، پر ښار یوه توره لړه ودرېدله، دا څلورمه میاشت وه چې ښار د خسروخان ځواکونو کلابند کړی و، له شلو ورځو را هیسې هغه هره ورځ پر ښار او پوځي برجونو د توپونو اور بل کړی و، د میرویس خان ځواکونو او د ښار عامو اوسیدونکیو ته درانه د سر او مال زیانونه اوښتي وو. دغه زیانونه د هرې ورځې سره نور هم ډېرېدل، مولوي پیرمحمد (میاجي) بابوجان بابی، بهادرخان اندړ، سیدال خان ناصر، داوودخان هوتک شپه او ورځ پر ځانونو یوه کړې وه، څو ځله یې پر دښمن شواخون وواهه، دښمن ته یې مرګ ژوبله هم واړوله خو د دښمن بریدونه د هرې ورځې په تېرېدو زیاتېدل.

نیم ساعت وروسته مشران د نارنج مانۍ په یوه ځانګړي تالار کې یو ځای ناست وو.

بابو جان په غمجنه لهجه وویل:

اتلس تنه په قیتول کې نن شهیدان شوي وو، اوه تنه یې ټپیان وو چې د دوو یې وروستۍ سلګۍ وې.

میاجي لاسونه اوچت کړل:

الله یې دې شهادت قبول کړي.

بهادرخان وویل:

له دې سره نو نن ټول تر اتیا تنو زیات شهیدان لرو، د غلې پر دوو لویو زېرمو هم ګولۍ لګېدلې، څو خرواره غله ضایع شوه.

داوودخان هوتک وویل:

که داسې دوام وکړي د مړیو ښخولو به څوک پاتې نشي.

سیدال خان سر وښانده:

پر چاره فکر وکړئ!

بهادرخان:

د مشر احوال هم نشته، ډېره موده تېره شوه چې له هزاره جات نه راغلی دی.

بیا تر څه ځنډه ټول چوپ وو، داسې ښکارېدل چې ټول د وضعې د بدلون په فکر کې دي.

بابوجان وویل:

شواخون یې چاره ده.

سیدال خان ځواب ورکړ:

درې ځلې مو څه ترې تر لاسه کړل؟

بهادرخان لږ په نرمه وویل:

یو څو ورځې به مشر ته انتظار شو، خدای مهربانه دی، تل به دا تیارې نه وي.

میاجي وویل:

که مشر وځنډېږي نو بیا؟

بابوجان ځواب ورکړ:

بیا به یوه چاره کوو.

سیدال خان:

پر چاره همدا اوس فکر وکړئ!

دوی په همدې خبرو بوخت وو چې یارمحمدخان وارخطا غونډې ور ننوت، له سلام وروسته یې وویل:

مشرانو مزاحم شوم ښښنه غواړم، یوه خبره مې واورېده، تاسو باید پرې خبر یاست.

په یوه وخت څو غږونه جګ شول:

څه خبره!

-ځینو کسانو خسرو ته د تسلیمۍ پیغام استولی دی.

میاجي سمدستي وویل:

دغه خبره ما هم واورېده خو باور مې رانغی.

بابوجان وویل:

په ښار کې قزلباشان او ایرانیان هم شته، په موږ کې هم بې ضمیره کسان شته دي. خو پر دې ډېره اندېښنه مه کوئ.

سیدال خان په اندېښمنه لهجه وویل:

که دا رېښتیا وي بیا خو اندېښنه په کار ده.

بابوجان ځواب ورکړ:

دا به ومنو چې لس، شل تنه به له خسرو سره اړیکه ولري، هغوی څه کولای شي؟

سیدال خان:

هغوی دښمن ته راپور ورکولای شي، زموږ په باب معلومات ورکولای شي، نور هم پټ تخریب کولای شي.

بابو جان بیا وویل:

سیدال خانه، چې ولس در سره ولاړ وي، هغوی بیا هېڅ نشي کولای، ډاډه اوسئ! تاسو په خپلو وسله والو ځوانانو باور ولرئ، هغوی به د وینې تر وروستي ځاځکي له خپل دین او وطن نه ساتنه کوي.

د یارمحمدخان سترګې وځلېدې، جګ شو غوښتل یې ووزي، میاجي ورته وویل:

وراره کښېنه، ته خو زموږ په مېړو کې یاد یې. نورو په تایید سرونه وخوځول، هغه هم بېرته کیناست.

*****

سهار له لمر څرک سره غړمب غړمب، د توپونو مرمۍ ولګېدې، دیوالونه ولړزېدل، له چتونو دوړې او ګردونه را تویې شول، د ښار دیوالونه تر لوخړو لاندې شول، له لومړي غړمبهار سره واړه او زاړه په بېړه هغو سمڅو ته ننوتل چې د دښمن د توپونو له مرمیو نه یې د پناه لپاره نویې کیندلې وې. سمڅې د دوی تر زړو خامو کورونو خوندي وې خو بشپړې خوندي نه وې، دوه ځله د توپ مرمۍ د سمڅو پر سر را پرېوتې، په یوه کې خو څو تنه ټپیان شول خو زر وژغورل شول، پر بله دوی تر ماښامه خبر نه شول، کله چې پرې خبر شول، تر اویا تنو زیات ماشومان، ښځې او سړي تر خاورو لاندې

شهیدان شوي وو، بیا هم ددې سمڅو له کیندلو سره په ښار کې د دښمن د توپونو د ډزو مرگ ژوبله ډېره را ټیټه شوه.

پر ښار د خسروخان توپونو زلزلې گډې کړې وې، تورې لوخړې اوچتې وې، له سمڅو د ماشومانو او ښځو د ژړاگانو او کریغو لړزوونکي غږونه اوچت شول، له څو میاشتو راهیسې د کندهار ورځنی برخلیک همدغه و، کله کله به د ښار د پوځې کلا له کوم برج نه خال خال د توپونو ځوابي ډزې هم کېدلې، چې بیا به پر برجونو هم د توپونو ډزو زور واخیست.

ورځ د دښمن د توپونو په ډنډوکار او غړمبهار کې تېره شوه، لوړ مازدیگر و ښار په تورو لوخړو کې ورک و، د پخوا په څېر ډزې ورو ورو کمې او بیا بیخي ودرېدې. لمر تر لویدیزو غرونو لا نه و اوښتی چې د کلا په ختیځ لوري برج کې د تکبیر نارې اوچتې شوې.

لږ ځنډ وروسته په نورو برجونو او لوړو مورچلونو کې تکبیرونه تکرار شول، داسې ښکارېدله چې د پوځي کلا او د ښار له هر دیوال او بام نه د الله اکبر نارې اوچتې دي، چې کاینات یې په وجد راوستل.

هېڅوک نه پوهېدل چې څه خبره ده د مشر او کشر پر خوله دا پوښتنه وه چې څه پېښ شول؟ خو چا لا دې ته ځواب نه و موندلی، یوه لور ته ناڅاپه غږ اوچت شو:

لکه چې خسروخان وتښتېد!

همدغه مهال ناڅاپه د ښار په منځ او څو برجونو کې بیا له غړمبا سره د توپونو گولۍ وچاودېدې. ځمکه او دیوالونه بیا ولړزېدل، تورې لوخړې بیا اوچتې شوې او ښار په تورو لوخړو کې ورک شو. له سمڅو راوتلي لوی او وړوکي په منډه بېرته په سمڅو ور ننوتل، غوغاوې اوچتې شوې، د توپونو په ډزو او د ښځو او ماشومانو په کریږو کې د تکبیر غږونه ورک شول.

بیا چوپه چوپتیا شوه، داسې چوپتیا چې د زړونو درزا پکې ښکاره اورېدل کېده، لږ وروسته د ختیځې دروازې له برجه د ټوپکو درې ډزونه وشول، دا د بابوجان او سیدال

خان دوی تر منځ خاصه اشاره وه، عام خلک نه پوهېدل خو د ښار ساتونکي او مشران وپوهېدل، د پوځي چونۍ په اوو واړو برجونو کې درې درې ځوابي ډزې وشوې.

د ماښام له اذان سره ختیځه لویه دروازه پرانیستل شوه، یوه ډله سپاره کلا ته ننوتل، یو سپور ډېر گړندی پر ټول ښار را وگرځېد، په لوړ غږ یې زیري کول:

میرویس خان راستون شو، زموږ ملی مشر راغی، زموږ ملي مشر په خیر راغی!

له عامو ښاریانو ددې ښار تر ساتونکیو او مشرانو پورې ټول د شکر په سجدو پرېوتل. د اختر په څېر د خوښیو یوه څپه را پورته شوه، د سکون وږمه وچلېده، لکه په سوځنده غرمو کې چې ناڅاپه وریځې را خپرې شي، شړکند باران شي او لمر ځپلي ټول سړې څپې ته ارامه ساه واخلي، د ټولو زړونه داسې ډاډه شول لکه ماښام له لمر پرېوتو سره چې د خسروخان د بخت ستوری هم پرېوتی وي او سهار چې لمر راوخېژي له وړانگو سره به یې د دوی د روښانه راتلونکې زیری هم وي.

تر ماښام وروسته بابوجان بابي او سیدال خان نورو مشرانو ته احوال واستاوه چې ټول د ارگ په لوی تالار کې را ټول شي، یو ساعت وروسته میرویس خان د خپلو ملگریو په منځ کې ناست و.

میرویس خان د خپلو ملگریو او دوستانو په منځ کې هر لورته سترگې واړولې بیا یې له حاجي عثمان نه وپوښتل:

عظم الدین نه وینم، چېرته دی؟

عثمان سترگې ښکته واچولې او چوپ پاتې شو.

خان په پوښتونکي نظر یوه او بل لوري ته سترگې واړولې، میاجي په حسرت وویل:

مشره! عظم الدین د شهادت ویاړ گاټه!

میرویس خان سر ښکته واچاوه، لږ وروسته یې سر راپورته کړ، سترگې یې سرې اوله اوښکو ډکې وې، وې ویل:

الله یې دې جنت نصیب کړي، ما دهغه په څېر سپېځلي ځوانان لږ لیدلي، له کابله د شهادت په هیله او ارمان دلته راغلی و، الله دې لوړې درجې ور په برخه کړي، ارمان یې تر سره شو بیا یې وپوښتل:

چېرته شهید شو ؟

سیدال خان وویل:

دوې میاشتې وړاندې په شواخون کې د گرجیانو پر مورچلونو ورغلو، ډېر توریالی ځوان وهرځل یې څو تنه گرجیان دوزخ ته واستول، په وروستي ځل لږ وړاندې تیر شوو، له دوو اړخونو تر اور لاندې راغلو، اتلس تنه مو ټپیان او شهیدان شول، عظم الدین او یو بل ملگری یې هم وو.

میرویس خان وویل:

سیدال خانه له تا نه مې د داسې ناپامۍ تمه نه درلوده.

بیا یې په ښار او پوځي کلا کې د مرگ ژوبلې په باب په تفصیل کیسه واورېدله، وروسته یې وویل:

نور که خدای کول د خسروخان د حساب وخت را رسیدلی دی. خدای دې وکړي چې دا د اصفهان وروستی یرغل وي. بیا یې پر ټولو مشرانو یو نظر را وگرځاوه زیاته یې کړه: نورې خبرې به که د خدای خوښه وه سبا ته کوو، یونیم شواروز مې سترگه نه ده ورغلې، نور اجازه راکړئ.

خان جگ شو، یحیی خان راغی ور سره ملگری شو، ورته وې ویل:

حاجي لالا راځه چې کورته دې بوزم. خان وپوهېدو چې کورنۍ یې په پخواني کور کې نه ده، سودا ور ولوېده چې خدای خبر په دې موده کې به پر هغوی څه تېر شوي وي، غوښتل یې له ورور نه یې پوښتنه وکړي، خو څه یې ونه ویل. په چوپه خوله ور سره روان شو له ماڼۍ ووتل، سپوږمۍ را ختلې و، وړانگې یې پر شاوخوا دیوالونو لوېدلې، کوڅې چوپې وې، لرې په برجونو او پوستو کې یو نیم (باخبر!) غږ اورېدل کېدو، میرویس خان د سپوږمې په تته رڼا کې هم د جگړې د ورانیو نښې لیدلې، د ارگ په خوا کې څو کورونه ځنگ تر ځنگ جوړ وو، یحیی خان د درېیم کور دروازه ټک ټک کړه. څو شېبې وروسته حسین، محمود، او زینبه درې واړه را ووتل، د سپوږمې په رڼا کې یې خپل پلار و پېژاند او ور ترغاړې وتل. هغوی له ماښامه تر اوسه شیبه شیبه په انتظار تېره کړې وه. بیا یحیی خان ور ته وویل:

حاجي لالا سهار به سباناری گډ سره خورو اوس د الله په امان، او د څنگ بل کور دروازې ته ودرېد.

دوی ټول د ننه ننوتل. د پلار او بچیانو تر منځ د فطري مینې او عاطفې سمندر څپاند و، دروازه ور پسې پورې شوه. د باندې څو معصومې غبرگې خنداگانې اورېدل کېدې چې ورو ورو لرې کېدې، او بیا د شپې تر مرموز څادر لاندې چوپې شوې.

*****

سهار له لمرخرک سره یحیی خان راغی، میرویس خان غږ وکړ:

زینبې لورکۍ کاکا دې راغی شیدې او چای راوړئ!

دسترخوان وغوړېد، له ډېرې مودې وروسته دوی پر یوه دسترخوان راټول وو، میرویس خان هم یو عجیب احساس درلود، د قام غم کور او کورنۍ ترې هېر کړي وو. یحیی خان ورته وویل:

حاجي لالا نن څه خاص پروگرام لرې؟

- وروره یو ځل مې د عظم الدین قبر ته بوځه. هغه او نورو شهیدانو ته له دعا وروسته مې نیت دی چې کورنیو ته یې د تسلیت لپاره یو سر ور ښکاره کړم.

- سمه ده، دا وروستي شهیدان مو ټول په یوه ځای خاوروته سپارلي دي، لویه ادیره جوړه ده ظالمان دې خدای تباه کړي.

له چای وروسته دواړه له کوره را ووتل، محمود او حسین هم ور سره راغلل، دوی لا ادیرې ته نه وو رسیدلي چې د توپونو غړمبهار اوچت شو، د کلا په بیلابیلو برخو کې له چاودنو سره تورې لوخړې او لنبې اوچتې شوې، دوې مرمۍ د میرویس خان دوی له سرونو تیرې شوې تر ادیرې واوښتې او په یوه دیوال کې یې سوري جوړ کړل، دوی لږ ایسار شول، یحیی خان وویل:

وروره، دا څو میاشتې زموږ هره ورځ همدغسې د گرجیانو د توپونو په ډزو پیلیږي. دوی د یوه دیوال شاته لږ انتظار شول، میرویس خان، محمود او حسین ته کتل، حسین لږ ناارام و، محمود عادي حالت درلود، پلار یې د حسین پر سر لاس را تیر کړ:

بچیه مه وېرېږه، چې خدای په تقدیر کې درته لیکلي بله نه کیږي.

حسین په معصومانه لهجه وویل:

پلارجانه، وېرېږم نه خو دغه د توپ لوخړې ټوخی راولي مری مې ډېره سوځوي!

محمود هم د وړور خبره تایید کړه:

پلارجانه هغه ورځ د توپ گولۍ موږ ته لنډه وچاودېده، حسین تر ماښامه ټوخېدو. زما پروانه وه خو زینبه او حسین یې ډېر وټوخول. د زینبې خو تر څو شپو غوږونه ټپ کاڼه وو، بیا کرار کرار بیرته ښه شوه.

میرویس خان د خپلو بچیانو پر حالت ډېر خواشینی شو، یحیی خان د خان د پام اړولو لپاره محمود ته کړل:

وراره ته خو به چلمي نه یې چې د باروتو دود نه ټوخولې؟

هغه وخندل، نه کاکا چیلم مې له لرې بد راځي.

ډېرې کرارې شوې دوی بیا راجگ شول، لږ وړاندې ادیره وه، دلته پخوا شاه میدان و، یو دوه بیرغونه پر یوه شناخته را ځړېدل، څوک نه پوهېدل چې د څه لپاره وو، اوس په سوونو قبرونه پکې جوړ وو چې د ځینو لا خاورې تازه وې.

یحیی خان راغی او یوه قبر ته ودرېد:

حاجي لالا د عظم الدین قبر!

میرویس خان لاس په دعا اوچت کړل، شونډې یې خوځېدې، خو غږ یې تر خوله نه ووت، تر سترگو یې د اوښکو غبرگ څاڅکي پر مخ راغلل، په شناوۍ ږیره کې یې ورک شول. میرویس خان د ځوان عظم الدین په یادونو کې له چاپېریال نه ډېر لرې لاړ، د یحیی خان لږ بېرته یوه بل قبر ته پام شو چې یوه مېرمن ماشوم په غېږ کې ور سره ناسته وه، په ټیټ غږ یې وویل:

حاجي لالا، هلته گوره!

خان ځک شو او د یحیی خان د لاس د اشارې لور ته یې وکتل. وې پوښتل:

دا څوک ده، د چا قبر ته ناسته ده؟

لالا، صادق جان دې یادیږي؟

ښه مې یادیږي، دا دهغه قبر دی؟

ـ هوکې حاجي لالا!

ـ هغه خو په قلات کې و دلته څه وخت راغی؟

ـ درې میاشتې به کیږي، بس چې راغی له مجاهدینو سره ملګری شو، تر شرف الدین دوې اونې مخکې د خسرو د توپ یوه مرمۍ یې د کور مخې ته پرېوتله درې تنه پکې شهیدان شول، یو یې همدی و.

میرویس خان وویل:

هغه به یې مېرمن وي، راځه چې احوال یې واخلو، ددې مسافرې خو پر موږ ډېر حق دی. دوی ورغلل، میرمنې ځان په لوی ټیکري کې پټ کړی و، میرویس خان یې وپېژاند، مخې ته را جګه شوه، د خان د لاسونو ښکلولو هڅه یې وکړه، میرویس خان یې لاس پر سر کېښود تسلي یې ورکړه:

صادق جان ته دې خدای د خپلې ځوانۍ اجر په هغه دنیا ورکړي، بي بي تاسوته د زړه صبر غواړم. مور دې څنګه ده؟

هغې په غمجنه لهجه وویل:

دوې میاشتې مخکې مړه شوه، الله دې پرې ورحمیږي.

میرویس خان بیا یحیی خان ته وویل:

وروره! د صادق جان د کونې په شمول زموږ د شهیدانو د کورنیو نفقه پر موږ فرض ده، بیا یې مېرمنې ته وویل:

ستا د ژوند د اړتیاو مسوولیت ما پخپله غاړه اخیستی و، ان شا الله ته به له مالي ستونزو سره مخ نشې، جیب ته یې لاس کړ، پینځه مشهدۍ یې هغې ته ونیوې وې ویل:

دا دې د بچي جامې، خدای یې دې د صادق جان په څېر زلمی کړي.

میرویس خان پر نورو قبرونو وګرځېد، فاتحې یې ولوستې دعاګانې یې وکړې، وروسته په ښار کې پر هغو کورونو را وګرځېد چې په دې وروستیو میاشتو کې یې د کورنۍ غړي شهیدان شوي وو. ماښام مهال نارنج مانۍ ته لاړ هلته مشران دده د راتګ په انتظار وو.

*****

شپې او ورځې واوښتې د کندهار کلابندي یو کال اوږده شوه، یو سهار د نارنج ماڼۍ په شاهي دربار کې قومي مشران ټول را غلي وو، میرویس خان د لویې خونې یوه دیوال ته تکیه وهلې وه، مخامخ هغه صفه وه چې گرگین به پر تخت ناست و، شاوخوا ته به یې په زرینو جامو کې غلامان او پر اوسپنیزو زغرو پټ ساتونکي د بوټانو په څېر شخ ولاړ وو، د گرگین یادونه یې سترگو ته ودرېدل، څو ځلې یې خان ته د مرگ گواښ کړی و، پر شونډو یې د موسکا پیکه څپه تېره شوه، سیدال خان او میاجي یې څنگ ته ناست وو او دده پر څېره یې سترگې ښخې کړې وې، دواړو په یوه غږ د موسکا سبب ترې وپوښت، خان وویل:

مولوي صاحب! دې دیوالونو او چت به د گرگین ظالم څومره د ظلم او کبر ننداري لیدلې وي، یوازې ما یې دلته دومره لاپې او د کبر خبرې اورېدلې چې د صفویانو په شاهي دربار کې مې نه وې اورېدلې. یوه ورځ به په نښه کې ډوب و، نه به پر خپله خبره پوهېدو چې څه وایي او نه د نورو. بله ورځ به یې له غوسې عقل خوړلی و، یو غږ به یې پر بل ویشت، عجیب بنیادم خدای پیدا کړی و.

میاجي:

بنیادم نه ځناور، د الله تعالی ارشاد دی چې بې لارې انسان تر ځناورو هم بد دي.

میرویس خان په موسکا زیاته کړه:

د خدای تقدیر ته گوره ماته به یې زما او د ټول قام د وژلو لاپې ډېرې کولې، په خپلو وسلو او سړیو ډېر غره و، نن به یې هډوکي هم وراسته شوي وي. بیا یې یو ځل پر ټولو مشرانو نظر را تېر کړ وې ویل:

زما مبارزو ملگرو او غازیانو! نن درسره یوه مهمه خبره کوم، نور نو له دښمن سره د حساب پاکولو وخت را رسېدلی دی. خسروخان د کندهار د نیولو او د گرگین د کسات په نیت راغلی و، ان شا الله چې پخپله به هم سر خوري او دا به د صفوي ټولواکۍ وروستی یرغل وي. دوستانو تاسو به خبر یاست چې د خسروخان په لښکر کې وبا گډه شوې ده او تر اوسه یې سلگونه کسان مړه شوي دي، ما یو څوک

گومارلي چې د دغه خبر سپيناوی وکړي، که ريښتيا و، نور د خسرو کمپله ور ټوله ده، بس دا ستاسو د ميړانې او د ولس د صبر او زغم ميوه ده، الله يو غيبي نصرت موږ ته را په برخه کړی دی.

ميرويس خان لا خبرې کولې چې يو مول وهلی ځوان د ماڼۍ د غونډې تالار ته ور ننوت او د ميرويس خان په مخ کې ودرېد.

خان وويل:

بلال جانه کښېنه، څه احوال دې راوړی؟

بلال لونګۍ له مخه لرې کړه، په موسکا يې ځواب ورکړ:

حاجي بابا خبره ريښتيا ده، د خسرو د پوځ په سړيو او څارويو خدای خبر څه بلا نازله شوې، دښته يې د مړيو بويونو پر سر اخيستې ده، څوک پکې سر نشي نيولای.

ـ څومره وخت کيږي چې دغه وبا پرې نازله ده؟

بلال خجالت غوندې شو، وې ويل:

وبښئ دا پوښتنه مې له چا ونه کړه. بيا يې زياته کړه:

ريښتيا دا مې واورېدل چې خسروخان غواړي خپل وروستی زور و ازمويي.

بلال د خسرو پړاو ته تر ټولو د نژدې کلي اوسيدونکی و، د کورنۍ غړي يې پخوا ټول د ګرجيانو په يوه بريد کې شهيدان شوي وو، ده صفوي پوځ ته ځان د يوه کاروباري کليوال په نوم ور پېژندلی و، هغوی ته به يې يو دوه باره غله، يو څو څاروي او نور اړين شيان د پيسو په بدل کې رسول، خو اصلي دنده يې دا وه چې د خسرو د پوځيانو له کړو وړو او پلانونو خبرونه راټول کړي.

ميرويس خان ورته وويل:

بلال جانه! تر اوسه څوک دربانده بدګومانه شوي نه دي؟

هغه په موسکا ځواب ورکړ:

مشره خدای مې پرده کوي، يوه ورځ مې له يوه ايراني انډيوال سره د دوی په پړاو کې قدم واهه يوه پوځي ډېر په ځير راته کتل بيا يې راته وويل چې څېره دې راته

اشنا ښکاري. زه چې ورته څیر شوم د دروازې له پخوانیو پهره دارانو څخه راته ښکاره شو، ما ورته وویل؛ کیدای شي چېرته دې لیدلی وم، زه کاروباري سړی یم، دامې کار دی.

خو هغه شکمن و ما داسې ګڼله چې نور دا کار رانه پاتې دی. خو د خدای کړه وو څو ورځې وروسته په یوه شواخون کې تر اتیا تنو زیات ګرجیان ووژل شول، یو پکې همدغه پوځي و، بیا یې پر شونډو خوږه موسکا وغوړېده زیاته یې کړه:
مشره بس خدای مې مرستندوی دی، یوه لاره را ته پرانیزي.
میرویس خان په موسکا وویل:
بیشکه چې الله تر ټولو لوی چاره ساز دی. بیا یې نورو مشرانو ته مخ واړاوه زیاته یې کړه:

که خدای کول نور دښمن پخپله کلابند شوی دی، د تېښتې لاره پرې تړل شوې ده، د زبردست خان او سیدعلی خان هزاره درې زره تنه د کندهار شمال څنډو، د هوتکو او ناصرو جنګیالي سهیل لوري او د کاکړو او بلوڅو وسله وال د کندهار ختیځ اړخ ته را رسیدلي دي.
نور انتظار ختم دی او پر دښمن به پرېکنده برید کوو.
د نارنج مانۍ د تکبیر غږونو ولړزوله، د میاجي له سترګو اوښکې روانې وې وې ویل:
خدایه! هغه ورځ را وویني چې زموږ مظلوم ولس د ارامۍ ساه واخلي او پر یرغلګرو او اردلیانو یې خاورې اوښتې وي.
وروسته میرویس خان وویل:
تر لوی برید مخکې باید هغه کلې چې نارینه څوک نه لري له ښاره وباسو.
بابو جان بابي وویل:
خانه! دا کار مه کوه، د ښاریانو روحیه خرابوي او د پاتې خلکو زړونه غورځوي.
میرویس خان وخندل:

نه، اوس هغه وخت نه دی چې د ښار د خالي کیدو وېره وه. دې ته اړتیا ده چې بې سرپرسته کورنۍ نور زیان ونه ویني، که نورې کډې ووزي هم باک نه لري، ان شا الله اوس ولس د دښمن مخې ته ولاړ دی. بیا یې زیاته کړه:

سیدال خان، بهادرخان، داوودخان هوتک، مولوي صاحب میاجي، او بابوجان بابی به خپل خپل ځوانان چمتو کوي، له څو اړخونو به پر یوه وخت پر دښمن غورځی کوو.

دویم سهار میرویس خان غوښتل چې د بهادرخان او بابوجان بابي تر قوماندې لاندې جنګیالي له کلا ووزی او له دوو لوریو پر دښمن برید وکړي، دوی لا په مشورو بوخت وو چې د سیدالخان ناصري دوه تنه نارنج مانۍ ته ور ننوتل، همدغه مهال د ختیځې دروازې له برجه ډزې وشوې، لږ وروسته د کندهار د پوځي کلا اوه واړه برجونه د توپونو تر درنو ډزو لاندې راغلل.

راغلیو کسانو په بیړه وویل:

د خسرو پوځ د یرغل په نیت را روان دی. د بابو جان او بهادرخان اندړ وسله وال تیار وو، میرویس خان هغوی ته اشاره وکړه:

ورځئ زمریانو! انشا الله چې سرلوړي او بریمن به را ستانه شئ.

بهادرخان او بابوجان سمدستي اوچت شول او له تالاره ووتل، میرویس خان سیدال خان او میاجي ته اشاره وکړه، دوی هم را پاڅېدل، د قیتول د برج په لور روان شول، قیتول پر ښار او شاوخوا حاکم غر و، خان غوښتل د جګړې وضعیت له همدې ځایه وڅاري، په لاره کې یې یحیی خان ته وویل:

داوودخان او نور مشران خبر کړه چې خپل ځوانان تیار کړي، که د بابوجان دوی مرستې ته اړتیا شي، موږ باید تیار وو، بیا سیده د قیتول برج ته راځه!

یحیی خان په بیړه د پوځي چونۍ په لور روان شو، میرویس خان لا په لاره کې و چې توپونه وغړمبېدل، یوه مرمۍ د قیتول پر برج ولګېدله، بله مرمۍ راغله دوی ته نږدې وچاودله چې خاورې او ډبرې یې د دوی تر سرونو تېرې شوې، د ښار د ننه

ځو چاودنې وشوې، لنبې او لوخړې یې د ښار پر سر ودرېدې، میاجي میرویس خان ته وویل:

خانه! قیتول تر ګواښ لاندې دی، هلته مه ځه!

هغه ځواب ورکړ:

مولوي صاحب، نور تر ځو خسرو خان شته هر ځای به خطر وي، بس ځانونه به خدای ته سپارو. د توپونو ددرنو چاودنو په بدرګه دوی د قیتول په لور ګړندي شول، لږ ځنډ وروسته د توپونو ډزې کرارې شوې خو د ټوپکو غږونه اورېدل کېدل، میرویس خان چې د قیتول کلا د برج سر ته وخوت وړاندې یې د جګړې لومړۍ کرښې ته وکتل، د دښمن په پړاو کې تور دودونه اوچتېدل، د جګړې لومړۍ کرښه نور تشه شوې وه داسې ښکارېدل چې دښمن تښتېدلی دی. له لرې دوی د تکبیر غږونه واورېدل، خان په موسکا میاجي ته وویل:

مولوي صاحب! مبارکه دې شه. د خسرو په پړاو کې لوخړې اوچتې دي، د ځوانانو د تکبیر نارې ښیي چې دښمن نور د ټینګې نه دی. بیا یې میاجي ته مخ ور واړاوه:

مولوي صاحب! دلته مو پاتې کېدل بې ګټې دي. ځه چې بېرته ښکته شو.

دواړه په راغلې لاره بېرته ښکته شول، د سهیل لویې دروازې په لور یې مخه کړه، هلته زېرى پرې وشو، د بهادرخان اندړ یو تن په همدې شیبه د جګړې له کرښې را ستون شو، راغی مشر ته یې له سلام وروسته وویل:

ښاغلیه! بریا مو مبارکه شه، الکساندر میرزا له خپلو نژدې قوماندانانو سره ووژل شو. پړاو یې زموږ ځوانانو ونیو، اوه توپونه او په سلګونو نورې وسلې، اوښان او اسونه مو ترې ونیول.

میاجي الله اکبر چیغه وکړه د میرویس خان تندی وځلېد، په خوښۍ یې وویل:

اوس نو د خسرو چاره بلکل اسانه ده. الکساندر دده د کاکا زوی او د گرجي ځواکونو قوماندان و، د دوی ټوله تکیه پر همدې ځواکونو وه، تاسو به وګورئ عباس قلي خان به اوس له میدانه وتښتي. بیا یې له هغه سرتیري وپوښتل:

زموږ ملګریو ته خو به ډېر زیان نه وي اوښتئ؟

زما تر راتلو پورې مو د څلوېښت ـ پنځوسو شاوخوا شهیدان درلودل، د دښمن مرمۍ راتلې امکان لري یو څه زیات شي. یوې ګولۍ د بهادرخان مټ لږ څټلی و پر دسمال یې وتاړه، نور ښه په دم کې و.

میرویس خان ته د خپلو پوځیانو د راستنېدو انتظار ډېر سخت شو، یحیی خان یې را وغوښت ورته وې ویل:

په تراټ ځان تر بابو جان دوی پورې ورسوه، احوال راوړه چې ولې دومره وځنډېدل؟

یحیی خان چمتو و پر اس یې پښه واړوله، او له دروازې ووت. لږ ځنډ وروسته د باندې د اسونو د پښو ترپهار اوچت شو، میرویس خان چې لږ وړاندې له میاجي او څو تنو نورو سره قدم واهه د دروازې په لور راغلل، پاس په برج کې د تکبیر نارې او د ټوپکو ډزې پیل شوې. دروازه خلاصه شوه، د بریمن پوځ کتار د الله اکبر نارو په بدرګه ښار ته ننوت. دوی تر سلو تنو پورې شهیدان او ټپیان درلودل، بابوجان بابې خان ته د بریا مبارکي ورکړه وې ویل:

تر درې نیم سوو زیات کسان یې وژل شوي او ټپیان دي.

له اوږدو ستومانیو او رنځونو وروسته دغه بریا یو د خیر زیری شو، ښاریان چې یو کال یې هره شیبه له مرګونو او ماتمونو سره تېره کړې وه، په خوښیو را ووتل، ډولونه وغربېدل.

د میرویس خان تندی تریو شو:

سیدال خانه!

ورشه دا ډمامې غلې کړه!

میاجي وویل:

پرېږده مشره له اوږدو ماتمونو وروسته خلکو یو د خوښۍ خبر اورېدلی دی، زړونه بې مه ماتوه!

نورو مشرانو هم د هغه خبره تایید کړه:

پرېږده مشره دا د ټولو پر زخمونو پټۍ ږدي.

میرویس خان په غوسه وویل:

دا خپل نني شهیدان مو هېر شول، ډېره د شرم خبره نه ده چې زموږ په لسګونو کورنۍ د خپلو عزیزانو په ویر ډوبې دي او موږ ډولونو ته ځنې غورځوو.

له دې سره ټول چوپ شول، میرویس خان سیدال خان ناصري ته بیا اشاره وکړه، هغه لاړ لږ ځنډه وروسته د ډولونو غږ چوپ شو.

مازدیگر مهال پر دوی یو بل زیری وشو، بلال راغی او میرویس خان ته یې په ټیټ غږ وویل:

مشره! د عبدالله خان کسانو خسرړ خان ته خواب ورکړی چې نور درسره نشو پاتې کېدای، نن چې الکساندر له خپل پوځ سره جګړې ته را وخوځېد، هغوی د هرات په لور روان شوي دي.

د میرویس خان په تندي کې رڼا وځلېده بلال ته یې وویل:

دا رښتیا ده؟

-هوکې مشره!

میرویس خان په لوړ غږ وویل:

الحمد لله! دا خو تر ټولو ښه زیری دی.

میاجي وپوښتل:

د څه شي زیری؟

-د عبدالله خان کسان د خسرو له پوځه تللي او هرات ته روان شوي دي.

حاجي عثمان وویل:

دریغه دوی څه موده مخکې دغه کار کړې وای.

میرویس خان په موسکا ورته کړل:

وراره، کب چې هر وخت له اوبو را وباسې تازه دی. چې اوس یې سد سر ته ورغلل هم غنیمت دی. نورو مشرانو وویل:

شکر دی، شکر دی.

والقلم وما یسطرون
رفیع الدین لودین کتابتون
د کتاب پر پښتې سنبهر.

*****

سهارد لمر وړانګې د غرونو پر سرونو نوې پرېوتلې وې، د خسرو په پوځي پړاو کې نا اعلان شوی ویر او ماتم حاکم و، فضا د انسانانو او څارویو د خوسا شویو مړیو پر بویونو ډکه وه، وبا ښه په زور کې وه، په سلګونو پوځیان یې په خیمو کې د مرګ په انتظار پراته وو، خسرو خان د معمول پر خلاف په پوځي جامه کې په خپله خیمه کې قدم واهه، شونډې یې برېسې او څېره یې ترینګلې وه، د ژورغم نښې یې پر تندي له ورایه ښکارېدلې، د کاکا د زوی الکساندر میرزا او څو تنو نورو نژدې عزیزانو د مرګ ټپونه یې لا تازه وو، د خیمې پرده یې اوچته شوه، خاص نوکر یې د ننه راغی پر ملا مات شو، له درناوي وروسته یې په ادب وویل:

عالیمقامه! عبدالله خان غواړي په حضور مشرف شي.

خسروخان لکه چې هېڅ نه وي اورېدلي تر ځنډه یې هماغسې قدم واهه، نوکر د بیا ویلو جرئت نشو کولای، چوپ ولاړ و، له ښه ځنډ وروسته یې سر را پورته کړ نوکر ته یې وویل:

ورته ووایه که د خیر کومه خبره لرې راشه که نه نور دې مخ مه را وینه، نور په تا کې څه پاتې دي!

نوکر سلامي شو او بېرته ووت، څو شېبې وروسته د خیمې پرده اوچته شوه، یو په وربښمینه چپنه کې جګ سړی چې لویه هراتۍ لونګۍ یې پر سر وه ور ننوت. ورغی سلام یې وکړ او لاس په نامه ودرېد.

خسروخان ورته وویل:

عبدالله خانه! لنډه خبره دې کوه.

هغه غاړه تازه کړه:

والامقامه د الکساندر میرزا په مرگ ډېر خپه شوم، الله دې د زړه صبر درکړي....

ښاغلیه! زما کسان د میرویس خان ځریو تېر ایستلي دي، زه به پسې لاړ شم بېرته به یې راولم!

د خسرو مازغه وخوټېدل:

عبدالله خانه! چې بېرته یې راولې څه توره به وکړې؟

ما خو ستا له کسانو د ډوډۍ او لگښت له غوښتلو پرته څه خیر نه دی لیدلی، خوري څښي حساب نه مني، دوی د میرویس خان پر ملگریو یو ډز هم نه دی کړی نو چې راشي، زما به څه درد پرې دوا شي؟

بیا یې بیله دې چې هغه ته وگوري د لاس له اشارې سره په جدي لهجه وویل:

ورځه ته هم پسې ورځه، نور مې ستا له مرستې توبه ده. دغه جگړه یوازې گرجیانو ته پاتې ده.

عبدالله خان خپ او چوپ له خیمې ووت، خپلې خیمې ته راغی کسانو ته یې وویل:

یا الله ځانونه باسی بیړه کوئ!

ورغی اس یې تیار زین کړی ولاړ و، پښه یې پرې واړوله، درې څلور سوه پاتې کسانو یې هم پر اسونو پښې واړولې او د هرات په لور یې په دښته کې گردونه اوچت شول.

خسروخان لا په خپله خیمه کې هماغسې قدم واهه چې د عبدالله خان ابدالي او د هغه د پاتې کسانو د تلو خبر یې نوکر ورته راوړ.

خسروخان له ځانه سره وویل:

چرگ کم مرداري یې کمه. بلا پسې کړه!...زه احمق وم چې د صفوي دربار مشورې مې منلې، احمق وم چې د گرگین د کسات لاپې مې وهلې....خسرو احمقه اوس یې گاله! بیا یې لاسونه وپړکول، نوکر یې پرده پورته کړه لاس په نامه ودرېد:

والامقامه حکم!

ـ عباس قلي خان او نور قوماندانان را حاضر کړه:

- په سترگو صاحبه! او بیا له خیمې ووت.

ښه ځنډ وروسته عباس قلي خان او نور قوماندانان راغلل، له کش او فشه لوېدلي خسروخان ورته وویل:

د صفوي ټولواکۍ ښاغلیو ساتونکیو! موږ باید پر خپلو غلطیو اعتراف وکړو، فرصتونه مو ضایع کړل، د کندهار کلابندي مو اوږده کړه، دښمن مو کمزوری گاڼه، دا هرڅه سرچپه را وختل، میرویس خان داسې دښمن و چې عقل او فکر یې زمو د ټولواکۍ له چارواکیو زیات و، وبا او ناروغي هم د یوه افت په څېر پر موږ راغله، کندهار مو کلابند کړ، خو اوس موږ پخپله په وچه دښته کې کلابند شوو. الکساندرمیرزا او نور زړور قوماندانان مو له نیمایی زیات پوځ سره تر خاورو لاندې شول. اوس یوازې دوې لارې لرو، یا به په دې توده دښته کې زموږ مړي هم خوسا کیږي او یا به خپله ماته منو او بېرته به ستنیږو. نور انتخاب ستاسو دی سلا پرې وکړئ چې څه وکړو؟

د ایراني پوځ قوماندان عباس قلي خان وویل:

- جنابه! تاسو تر اوسه له خپلو قوماندانانو سره نه سلا کوله او نه دې د دوی رایې او نظر ته درناوی درلود. اوس چې هرڅه سرچپه شول، موږ در په یاد شوو، په هر صورت د کندهار د نیولو خوب غلط ثابت شو، اوس یوازې د ځان ایستلو مساله ده.

نورو قوماندانانو هم توندې خبرې وکړې، ناندرۍ ووهل شوې خو پر دې سره جوړ نه شول چې پر کومه لاره بېرته ځانونه وباسي. هر چا له ځانه سره ډنگوله، د زړونو او خولو خبرې یې بیلې وې، هېچا پر بل باور نه درلود، ځکه خو هر قوماندان له دې مرگوني چاپېریال نه د وتلو پر لارو چارو بېل فکر کاوه.

*****

سهار د لمر لومړۍ وړانگې د قیتول او شاوخوا نورو غرونو پر څوکو ولوېدې، میرویس خان په نارنج ماڼې کې د خسروخان پر پوځ د وروستي گوزار لپاره ترتیبات نیول، چې د دروازې پهره دار احوال ورکړ:

مشره! د دښمن له پړاوه کوم پنځوس ـ شپېته تنه له سپینو بیرغونو سره د دروازې په لور را روان دي.

سیدال خان وویل:

لکه چې خسروخان اوس غواړي په تسلیمۍ ځان وژغوري.

میرویس خان وویل:

نه، ماته دا د خسرو استازي نه ښکاري، گومان نه کوم چې هغه دې دا کار وکړي، بیا يې د دروازې پهره دار ته وویل:

ورشه وگوره چې څه غواړي که يې زموږ سره لیدل غوښتل دلته يې راوله.

بیا يې بابو جان بابي ، میاجي، سیدال خان، بهادرخان او نورو قومي مشرانو ته وویل:

ورځئ کسان مو تیار کړئ، نور ان شا الله همدا نن د برخلیک ټاکلو ورځ ده.

دوی لا په دروازه کې وو چې د دروازې پهره دار له څو تنو سره چې پوځي جامې يې اغوستې وې شاهي تالار ته ور ننوتل.

هغوی پینځه تنه کتار ودرېدل، تر مخ يې یو جگ مټور د پنځوسو کلونو شاوخوا په عمر سړی و چې مې وریژې، کونډې ژیرې يې نسبتاً اوږد مخ پوښلی و، نري چنگ بریتونه يې له سرې جگې خولۍ او څېرې سره موزون ښکارېدل. ظاهري جامه يې ماته خوړلي قوماندان ته نه پاتې کېده. خو له مخ او تندي نه يې بیا له ورایه ښکارېدل چې هرڅه يې بایللي دي او اوس د میرویس خان رحم او کرم ته اړ دی.

هغوی ټول په ملا مات شول، له سلام وروسته لاس په نامه ودرېدل، مشر يې وویل:

د کندهار د ولس لوی مشره! زه عباس قلي خان د ایراني شپږ زره کسیز پوځ قوماندان یم. تاسو ته مې پناه راوړې ده او د سر امان غواړم.

میرویس خان ور جگ شو لاس يې ورکړل:

په خیر راغلې، تاسو بشپړ په امن کې یاست.

وروسته عباس قلي خان وويل چې خسروخان نور ځپل شوی تر نیمایي زیات پوځ یې له منځه تللی او اوس یې پرېکړه کړې چې وتښتي. میرویس خان خپلو یارانو ته له ښاره د وتلو او د خسرو خان پر پوځ د پراخ برید امر وکړ. له دې سره سم یې درې پینځه کسیز گروپونه د هوتکو، کاکړواو بلوڅو او هزاره و مشرانو ته چې د خسروخان د پوځ شاته پراته وو واستول، هغوی ته یې پټ هدایات واستول.

د میرویس خان له حکم سره سم زنبورک توپونه پر اوښانو بار شول، اته سوه تنه د بهادرخان اندړ په قومانده ضربتي گروپ مخامخ د خسروخان پر پړاو برید پیل کړ، خسروخان لا خیمې نه وې ټولې کړې، هغه له اصفهانه له درنې توپخانې او د مرمیو او باروتو له کارخونې سره راغلی و، اوس یې هماغه دروند پېټی د غاړې زندی شو، چې کله یې پر پړاو برید پیل شو وپوهېدو چې د تېښتې لار پرې تړلې ده، خپل پوځ ته یې د جگړې امر وکړ، مورچل یې ونیول، توپونه یې پخوانیو موچلونو ته وخېژول، درنه جگړه پیل شوه دواړو لوریو ته توپونه وغړمبېدل، د خسرو خان په پوځي پړاو کې د توپونو د مرمیو له غړمبا سره د دوي د پوځیانو او اسونو ټوک ټوک غوښې او هډوکې هواته اوچت شول، خیمو یې اور واخیست، پر جبه خانې یې یوه د توپ گولۍ برابره شوه چې د باروتو او لویو او وړو گولیو چاودنو یې قیامت راکوز کړ، سیدال خان ناصري، بابو جان او نورو مشرانو چې دغه حالت ولید د تکبیر نارې یې اوچتې کړې، دې حالت د خسرو په پوځ کې گډوډي راوستله، پوځي نظم او قومانده یې له منځه لاړه، ځینو پوځیانو یې په خپل سر شاته د تېښتې لاره ونیوه، خو کوم زر یو نیم زر متره لرې هغوی د قومي جنگیالیو تر برید لاندې راغلل، له دې بریده چې څوک روغ ووتل بېرته د خپل پړاو په لور شاته راغلل.

میرویس خان په یوه نسبتاً جگه غونډۍ د جگړې وضعه څارله، د وخت په تېرېدو د خسرو د پوځونو ډزې کمېدلې، جگړې تر ماسپښین پورې دوام وکړ، ماسپښین مهال میرویس خان خپلو قوماندانانو ته هدایت وکړ چې ډزې ودروي نور د دښمن ځواک ختم شوی دی. دواړو لوریو ته مرگ ژوبله واوښته خو د خسروخان ځاني زیانونه د

بهادرخان، سیدال خان، او نورو قومي مشرانو له زیانونو څو چنده زیات وو، خسرو ته یې نژدې کسان ورغلل د زرغاني په نوم یوه تن چې د نوموړي لرې تربور و په عذر ورته وویل:

والامقامه! نور د جګړې توان نه لرو، ته په یوه لاره ځان وباسه! په پوځ کې نور څه پاتې نه دي.

د خسرو پر شونډو غمجنه موسکا راغله، وې ویل:

یاره نور د ابرومنې تېښتې لاره هم را باندې تړلې ده، شاته مې دوه ځله کسان واستول چې لاره وګوري، لومړی ځل تري تم شول، دویم ځلي له شلو کسانو یوازې اوه تنه بېرته راستانه شول. میرویس خان پخه ګرګه ده، موږ هسې پر خپل زور نازېدو. هغوی پر موږ ټولې لارې تړلې دي.

زرغاني په نهیلۍ وویل:

نو څه وکړو؟

-میرویس خان ځوانمرده مېړه دی، زما باور دی چې که سپین بیرغ اوچت کړو، ټول به وبښي یو به هم ونه وژني، خو ماته مرګ تر داسې ژوند ډېر غوره دی. بیا یې یو دوربین را واخیست لږ لوړ ځای ته لاړ او شاوخواته یې په ځیر وکتل، پر یوه غونډۍ یې څو کسان ولیدل، نور یې هرلورته تیت او پرک کسان لیدل، یوه نوکر ته یې غږ وکړ:

کوم توپ فعال پاتې دی؟

هغه ځواب ورکړ:

والامقامه! د عباس قلي خان توپونه خوندي پاتي دي، خو...

خسروخان د هغه خبره په خول کې ور وچه کړه، د پړاو شمال لوري ته چټک شو، لږ ځنډ وروسته د خسروخان له پړاوه د توپونو څو پرله پسې ډزې وشوې، مرمۍ یې هماغه لوري ته لاړې چې خسروخان پرغونډۍ څو کسان لیدلي وو، خو له هدف نه لرې یوه او بل اړخ ته پرېوتلې، توري دوړې بیا اوچتې شوې، لږ ځنډ وروسته له

هغه لوري هم د توپونو له ډزو سره د تکبیرونو غږونه اوچت شول، دښته گردونو او فضا د اسونو د پښو ترپهار او د ټوپکو کړسهار ډکه کړه، دغه غږونه هره شېبه د پړاو په لور ور نږدې کېدل، مازدیگر مهال، د میرویس خان بریمن یاران د خسروخان په پړاو کې گرځېدل، د پینځو سوو تنو په شاوخوا کې کسان له پړاوه د لویدیځ په لور لاړل، داوود خان هوتک خپلو کسانو ته امر وکړ چې ور پسې شي، خو میرویس خان د لاس په اشاره هغوی را وگرځول وې ویل:

پرېږدی چې لاړ شي.

خان د لویې بریا په ویاړ په همدې پړاو کې پر سجده پرېوت او د خدای شکر یې ادا کړ، د پوځي پړاو وضعه د زغم وړ نه وه، فضا د خوسا شویو مړیو بویونو پر سر اخیستې وه، شاوخواته د گرجیانو او ایرانیانو مړي پراته و، یو نیم ټپي او نیم ژواندي ناروغان هم وو چې د یوې لپې اوبو سوال یې کاوه، میرویس خان خپلو ملگریو ته وویل:

ټپیان او ناروغان په بیړه له پړاوه ټول کړئ، اوبه ورکړئ پام کوئ ټپونه یې وتړئ...له ناروغو کسانو سره پام کوئ چې ناروغي یې تاسو ته در نشي، خو له دوی سره د انساني خواخوږی له مخې مرسته وکړئ.

میرویس خان د یو چا په لټه کې و خو په دښته او مورچلونو کې یې ونه موند، د جگړې ساحه ډېره پراخه وه له دښتې تر وړاندې پټیو پورې مړي او ټپیان پراته وو، یو ځای یې د ویالې پر غاړه له لرې یوه تن ته پام شو، چې نژدې ورغی پر یوه اشنا څېره یې سترگې ولگېدې، ورغی د هغه سترگې رڼې وې خو اروا ترې الوتې وه، میرویس خان یې پر سترگو لاس را تېر کړ، سر یې په حسرت وخوځاوه، میاجي او بابوجان بابی یې تر څنگ ولاړ وو، میاجي وپوښتل:

له جامو ښکاري چې خسرو به همدی وي.

ـمیرویس خان په تایید سر وخوځاوه:

هوکې مولوي صاحب، ما ډېر په دبدبه کې لیدلی و ددغه حالت تصور مې یې نشو کولای. کبریا ذات یوازې الله دی، انسان څه شی دی، چې غرور وکړي خدای یې داسې د عبرت درس وګرځوي.

میرویس خان بیا میاجي ته وویل:

میاجي په شرعي لحاظ موږ له دې مړیو سره څه وکړو؟

ـ هغه وپوښتل څه دې مطلب دی؟

ـ په دې کې عیسویان هم شته او مسلمانان هم، ټول یو ځای ښخ شي؟

ـ یرغلګر او قاتلان دواړه دي. خو که ډېر پام ور سره کوئ، که یې بیلولای شئ نو بیل بیل یې ښخ کړئ!

ګرجي پوځیان ځانګړې درېشۍ او سرې خولۍ لري خو له قزلباشو سره یې زموږ کسانو ته توپیر ګران دی، بیا یې یحیی خان ته مخ واړاوه:

وروره! تر سهاره یې مړي همدلته تر خاورو لاندې کړئ، د کومو چې په غاړه او یا جیب کې صلیب و هغوی له نورو بیل ښخ کړئ نور یې عاقبت الله ته سپارو. یحیی خان، او سیدال خان له سلګونو کسانو سره پاتې شول چې پر مړیو خاورې واړوي او وسلې، اسونه او نور ترې پاتې شیان راټول کړي. مشر له خپلو نورو ملګریو سره پر اسونو پښې واړولې او د ښار په لور را روان شول.

کړی شپه په کندهار او شاوخوا کې د ښادیو ډزې او د ځوانانو اتڼونه روان وو. داسې ښکارېدله چې کاینات ټول له خوښیو ټالونه خوري. یوه لرغوني ولس له نژدې دوونیمو پېړیو وروسته د خپل برخلیک واک تر لاسه کړی و.

تاریخ د مذهب تر پوښ لاندې د یوې بې رحمه او بې جلبه ټولواکۍ د ځنکدن شېبې خوندي کولې چې د کندهار تاریخي ښار ته څېرمه دښته کې یې وروستۍ سلګۍ وهلې.

*****

لمر له تندر را وتلی و، سپینې وړانگې یې پر وطن خپرې وې، د ازادۍ ، سولې او سوکالۍ یو نوی پړاو پیل شو، د ډیلي او اصفهان زور اوبه شوی و، خو د پټو دسیسو بهیر یې لا روان و، په لکونو کلدارې او مشهدۍ یې اوس هم لگولې چې د ولس په منځ کې نفاق او دښمنی ته لمن ووهي، خو نور ولس د یوه داسې مشر خاوند و چې دغه توطیې یې پر خلاف نشوای چلېدای.

میرویس خان ته خپل ولس د نیکه او ملي مشر ویاړ ورکړ، د پاچاهۍ له نامه یې پخپله کرکه راتله، له خپلو پخوانیو ملگریو سره یې له غزني تر فراه پورې د ولس مشرتابه ته غاړه کېښوده.

اووه کاله د سترگو په رپ کې تېر شول. هغه ورځ راغله چې میرویس خان نیکه د ناروغۍ پر بستر پرېووت چې بیا ترې را اوچت نه شو. مشران او د ولس خلک به یې ډله ډله پوښتنې ته راتلل. ناروغي یې اوږده شوه، ورونه او عزیزان یې چې وپوهېدل چې نیکه ترې د تل لپاره روان دی، د هېواد د مشرتابه او راتلونکې په باب یې وصیت ترې وغوښت، مشر خپلو صادقو ملگریو ته اشاره وکړه:

دوی چې پر چا امین کړه هغه به مو مشر وي. خپل یو والی وساتی هېڅکله به ذلیل نشئ، بیا یې خپل زوی محمود او خپلو ملگریو ته وویل:

که غواړئ تل له فتنو په امن شئ اصفهان ونیسئ!

دا د ملي مشر وروستی وصیت و، پر شونډو یې موسکا غوړېدلې وه، خپلو ملگریو ته یې کتل، پوهېدو چې د میراث ساتونکي یې شته، ډاډه و چې پر خپل وطن او هېواد یې چې د ازادۍ او وقار کوم موسم راغلی د وخت مغل او صفویان به یې خزان نکړای شي. ډاډه و چې د خوشال خان او پیر روښان په څېر له نیمه خوا ارمانونو سره ډک زړه نه رخصتیږي، مبارکه کلیمه یې وویله او سترگې یې پټې کړې.

...اووه کاله وروسته محمود هوتک د اصفهان پر شاهي ماڼۍ د بریا بیرغ ورپاوه، سترګو ته یې لرې د کوکران په غېږ کې پروت د لویو ارمانونو خاوند ولاړ و په زړه کې یې ویل:

درنه پلاره! وصیت مې دې ترسره کړ، ارواډې ښاده اوسه!

پـــای

ددې اثر په لیکلو کې له لاندې اثارو ګټه اخیستل شوې ده:

- د افغانستان لنډ تاریخ ـ لیکوال لوی استاذ پوهاند عبدالحی حبیبي
- افغانستان در مسیر تاریخ ـ لیکوال میر غلام محمد غبار
- هوتکي غورځنګ ـ لیکوال استاذ حبیب الله رفیع
- د خپلواکۍ لمر ځرک ـ لیکوال الحاج امان الله هوتک
- تاریخ فرشته ـ لیکوال ، محمدقاسم فرشته
- شاهجهان نامه ـ لیکوال ملا محمد صالح ، د شاهجهان منشي (په اردو ژبه کې)
- اورنګزېب ریښتیا بنسټپال و؟ او ځو نورې څېړنیزې لیکنې، لیکوال میرزا اې بي بیګ، بي بي سي اردو ډټ کام.
- سفرنامهٔ کروسینسکي (پولنډی کشیش)ژباړه: عبدالرزاق (دنبلي ، مفتون).
- مجمع التواریخ ـ لیکوال میرزا محمدخلیل مرعشي صفوي.
- سلسلهٔ صفوي از ابتدا تا انتهاـ لیکوال (....)
- انقراض سلسلهٔ صفویه ـ لیکوال لارنس لیکارت
- صفویان در ګذرګاه تاریخ ـ داکتر حمید رضا صفا کیش
- فواید الصفویه ـ ابوالحسن قزویني

د لیکوال یو شمېر ادبي اثار

لومړي لیکلي اثار

۱ـ د تیارو په تل کې (د لنډو کیسو ټولګه) چاپ پېښور
۲ـ مېړونه ګړنګونه (منځنی داستان) په امید مجله کې پرلپسې خپور شوی.
۳ـ له تکبیره تر فریاده (ادبي کالمونه) چاپ پېښور
۴ـ د قلم ثار // // // //
۵ـ ښار ناپرسان (ادبي کالمونه) // // کابل
۶ ـ د قدرت لارې // // // //
۷ـ د افسانوي سراندیپ په لور (یونلیک) چاپ کابل
۸ـ د تاریخي کاشغر یادونه (// //) // //
۹ـ د فاتح تر درشله (// //) // //
۱۰ـ پر پخوانیو پلونو یو څو ګامه // // // //
۱۱ـ د مرګ لارویان (جهادي یونلیک) چاپ پېښور
۱۲ـ نه هېرېږي وطن (یادښتونه) // //
۱۳ـ تېرې شېبې اوبه یادونه // // چاپ کابل
۱۴ـ میرویس خان نیکه (تاریخي ناول) همدغه اثر

ژباړې:

۱۵ـ شاهین (تاریخي ناول) د ارواښاد نسیم حجازي اثر، چاپ پېښور
۱۶ـ د غازي داستان // // // // // //
۱۷ـ وروستی جګړه (تاریخي ناول) د نسیم حجازي اثر، چاپ پېښور
۱۸ـ وروستی مورچل // // // // // //
۱۹ـ محمد بن قاسم // // // // // // //

۲۰- د حجازکاروان // // // // // // //

۲۱- قیصر او کسرا // // // // // // //

۲۲- کلیسا او اور // // // // // // //

۲۳- د تروږمۍ مسافر // // // // // // //

۲۴- توره ماته شوه // // // // چاپ ، کابل

۲۵- یوسف بن تاشفین // // // // // //

۲۶- خاورې او وینې // // // چاپ کابل

۲۷- انسان او دیوتا // // // // چاپ پېښور

۲۸ - معظم علي // // // // // //

۲۹ - جنګي کلا (د مستنصر حسین تارړ ناول) // //

۳۰ - مات وزر او ژېړې پاڼې (د خلیل جبران دوه ناولونه) // //

۳۱ - جرمي دوسیه (محی الدین نواب) پولیسي داستان، چاپ کابل

۳۲ - سپین ټاپو (د نسیم حجازي طنزیه شهکار) چاپ کابل

۳۳ - د حرم تر دیاره (د نسیم حجازي د حرمینو د سفر یونلیک) چاپ کابل.

راتلونکي:

۱- خواره واره یادونه (د لیکوال د ژورنالیستیک ژوندانه ځینې یادونه)

۲ - شېرشاه سوري (تاریخي ناول) لیکنه یې تر لاس لاندې ده.

[illegible] لودین کتابتون
کتاب پر [illegible]

د کتاب له متن څخه

(...د ښار له منځه دودونه اوچتېدل، ډېر ځایه کنډوالې له مړیو ډکې وې، د ښار په کوڅو کې یو ملنګ ګرځېدو، هرې کوڅې ته به تم شو، سترګې به یې سرې شوې، ....چیغه به یې کړه:

دا کوڅې او پکې پراته مړي د چادي؟

دې پوښتنې ځواب نه درلود. درنه چوپتیا حاکمه وه، ملنګ به چې ځواب وانه ورېد، په کړس کړس به یې بیا وخندل بیا به چوپ شو، په چوپتیا کې یې یو فریاد و چې بې سره او بې شملې ولس به خود د هر زورور تر پښو لاندې وي.

د شاهجهان سپېره ارمان او هوس تر سره نه شو، خو یو ولس په ویر ډوب شو، پر خپل زور مغرور پوځ لاړ خو په ویر ډوب ولس په کنډواله جونګړو کې له خپلو مړیو او ماتمونو سره پاتې شو...)

****

(...ولي جان اکا میرویس خان تر لاس ونیو ورته وې ویل:

ته راځه!...د یوه نیم لوېدلي دیوال تر خنګ تېر شول، د لویې کلا د څلوردیوالی نښې پاتې وې، د ننه د خونو پر ځای هم د خاورو او لوټو انبارونه پراته وو، شاوخواته ځوز او نور ازغن بوټي ولاړ وو، ښي اړخ دیوال ته لوی او وړوکي قبرونه کتار ووچې بیرغونه پرې رپېدل؛ ځینې ډېر پخواني او څلور پینځه نوي وو، چې لا یې د شناختو ریتاړې نه وې شلېدلې. اکا میرویس خان ته مخ ور واړاوه:

دغه اوولس قبرونه ټول زما خیلخانه وه چې اوس دا څلور ماشومان او دوې مېرمنې ترې پاتې دي... هغه د کتار په سر کې درې واړه مې ورونه دي، تر څنګ یې دهغوی مېرمنې دي. په هغو پسې مې درې زامن او دوې لوڼې دي، دا نور مې لمسیان دي.

چې له هر لوري کوم ناتار راغلی ماته یې په زړه یو سوری او ناسور ټپ راکړی دی... په کلا پسې بلا شه، خو زه مې دغه ځوانیمرګان بیا له کومه کړم؟ ....

کیناست، د زاړه څادر پیڅکه یې سترګو ته ونیوله، اوږې یې خوځېدلې.....)

Aksos

ISBN 978-9936-653-55-9
بیه
۲۵۰ ؋
Price
3.99$
9789936653559